مکمل او مدلل

دلمانځه مسئلي

دقرآن او احادیثو په رڼا کي

مؤلف

مولنا محمد رفعت قاسمي

د دیوبند د دار العلم اوستاذ

پښتو ترجمه

مولوی میرزا محمد شکیب

مکتبه رحمانیه

ارگ بازار کندهار افغانستان



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

مکمل او مدلل

دلمانځه مسئلې

دقرآن او احادیثو په رڼاکي

مؤلف

مولنا محمد رفعت قاسمي

ددیوبند د دارالعلوم استاذ

پښتو ترجمه

مولوی میرزا محمد شکیب

خپروونکی

رشیدیه کتابخانه سرکی روډ کوټه

دکتاب پېژندنه :-

دکتاب نوم	دلمانځه مسئلې
مؤلف	مولانامحمدرفعت قاسمی
پښتوترجمه	مولوی میرزامحمدشکیب
دکمپوزاوترجمې چاري	دنورالقرآن ادارې دکمپوزځانګه
خپرونکی	رشیدیه کتابخانه سرکی روډ کوټه
تصحیح اودیزاین	ابوخالدمولوی عبدالاحد «مجروح»
دوهم چاپ	۲۰۰۰توکه
چاپ ځای	لاهور
دچاپ کال	۲۰۰۸ دجولايي میاشت
خپرونکی	محمدساجد

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

دعامحتاج «ابوخالد»

د مؤلف خبري

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله و اصحابه اجمعین

امابعد: د الله تعالی عظیم احسان او مهرباني ده چې د مسائلو د انتخاب دا سلسله په عوامو او خواصو کې نه یوازی دا چې مقبوله گرزیدلي بلکی د دوی گټورو مشورو موږ ته هم ښه حوصله او توانمندي رابخښلي ده. فجزاهم الله خیرالجزاء.

د لوی خدای ﷻ په مرسته د دې لړۍ دغه دیارلسم کتاب دی چې ستاسو محترمو لوستونکو په وړاندې یې ږدو. په دې کتاب کې د لمانځه په اړه له تکبیر تحریمه څخه نیولي تر دعاء پورې ټول ضروري مسائل راغونډ کړل شوي دي چې مجموعي شمېر یې تقریبا ۱۵ سوه مسائلو ته رسیږي.

دا ټول د الله تعالی فضل وکرم او د محترمو استاذانو پاملرنه او د هغوی د دعاء گانو برکت دی خصوصا د فقیه الامت حضرت مولانامفتی محمودحسن صاحب دامت برکاتهم: زیات شفقت اولازښوونو نتیجه ده. الله تعالی دې د دوی ټولو د عاطفت سایه تر ډېره زموږ پر سرونو ولری. آمین څرنگه چې هیڅ بشر له هیری او خطا څخه معصوم نه دی، خو ما تر ډېره حده پوره زیار ایستلی چې غلطۍ ونلری؛ ولی بیا هم کیدای شی څه غلطي تاسی ته په مخه درشی، نو که له هغی څخه مو خبر کړئ عندالله به ماجور یاست. ان شاء الله

محمدرفعت قاسمی

خادم التدریس دارالعلوم دیوبند نیتهه ۲۷/ رمضان المبارک / ۱۴۱۶ھ

مطابق ۱۷/ فروري / ۱۹۹۶ میلادي

د کتاب په اړه د مترجم څو خبرې

حامدا ومصليا -------- وبعد :

قال رسول الله ﷺ : ان أول مايحاسب به العبد يوم القيامة من عمله صلوته فان صلحت فقد أفلح وأنجح و ان فسدت فقد خاب وخسر »

بې له شکه چې د قيامت په ورځ به له بنده سره ترهرڅه لومړی د لمانځه حساب کتاب کيږي ، که چيری هغه په دې خپل عمل کې کامياب وی نو د نجات يوه نيکمرغه لاره يې موندله او که داسی نه وی نو يوه لويه بدمرغي يې په برخه شوه .

حقيقت دا دی چې لمونځ ام الاعمال بلل شوی ، د دين بنيادی ستن بلل شوی ، د الله تعالی د ټولو عباداتو يوه بهترينه مجموعه ګڼله شوي . او د مؤمن معراج بلل شوی دی . لمونځ د الله تعالی د محبت او رحمت يوه عظيمه وسيله ده . د ګناهونو کفاره ده . لمونځ انسان د اخروی تجلياتو قابل ګرځوی . لکه چې رسول کريم ﷺ فرمايی : نژدې ده ، تاسو به خپل خالق ووينئ ، پس که پر تاسو باندی (دنياوی) مشاغل غلبه ونه مومی نو له لمرختو او لمر لويدو مخکې ټول لمونځونه په ښه توګه اداء کړئ »

که څوك د دې ستر عبادة په حقيقت پوه شی او هغه له خپلو ټولو حقوقو سره په ښه توګه اداء کړي نو هغه بنده به د الله تعالی په ذمه کې وی ، په دنيا کې به يې رزق ور زياتوی ، د قبر له عذابه به نجات مومی ، جنت ته به يې الله تعالی داخلوی او بالاخره د دنيا او آخرت نيکمرغي به يې په برخه وی . خو د لمانځه په سبب به د دې ټولو انعاماتو مستحق هغه څوك وی چې د لمانځه په ټول حقيقت او مسائلو باندی پوه وی او هغه له خپلو ټولو حقوقو سره اداء کوی .

کله خو داسې هم وي چې ځينې خلکو ته دا خپل لمونځ د غاړې طوق وي ، هغه له دې کبله چې دوی لمونځ په ښه توګه نه وي اداء کړی او نه يې د هغه په ضروري مسائلو خان پوهـ کړی وي . او په دې توګه يې د ټول عمر کړی عبادة عبث شي .

په هر حال د لمانځه په اړه فضائل او حکمتونه په کتابونو کې ډېر زيات بيان شوی دی چې دلته د ټولو ذکر کول ناشونی کار دی . خو موږ به صرف د دې کتاب په اړه څو لنډې خبرې وکړو :

دغه ستاسو په لاس کې کتاب «د لمانځه مسائل» دا د حضرت مولانا محمدرفعت قاسمي صاحب تأليف دی .نوموړی چې د هندوستان د «دارالعلوم ديوبند» مدرس دی . د خپل عصر يو جيد نامتو محدث او فقيه عالم دی ؛ ده پر هره ديني موضوع باندی مستقل کتاب ليکلی چې په دې يوه (فقهي) سلسله کې يې د تأليفاتو شمېر اوس ۱۸ ته رسيږي .

پر دې کتاب باندی چونکه ډېرو زياتو جيدوعلماء کرامو جدا جدا تقريظونه کړيدی لکه : حضرت مولانا مفتی محمودحسن صاحب مفتی اعظم دارالعلوم ديوبند ، مولانا مفتی نظام الدين صاحب بانی ومفتی دارالعلوم ديوبند ، حضرت مولانا مفتی محمد ظفيرالدين صاحب مرتب فتاوی دارالعلوم ديوبند ، مفتی محمد سعيد احمد صاحب محدث دارالعلوم ديوبند او داسې نور... چې د داسې جيدو علماؤ له نظره هم دا کتاب د ډېر اهميت درلودونکی دی . خو موږ د هغوی تقريظونه ځکه ټول رانقل نکړل چې د کتاب حجم زياتوی . او دلته يوازې د هغوږ پر يادونه اکتفاء کوو.

نو د دې لپاره چې دغه ګټور کتابونه له اردو ژبې څخه پښتو ته وژباړل شي او زموږ مسلمانان ورونه ورڅخه استفاده وکړي ؛ د « نورالقرآن اداري » د تأليف او ترجمې څانګې دې کار ته ملا تړلې ترڅو لومړی دغه اتلس فقهي کتابونه او بيا وروسته نور ګڼ مختلف کتابونه په پښتو ژبه ترجمه ، کمپوز او چاپ ته تيار کړي . چې د چاپ لګښت او د هغوی خپرول به د « رشيديې کتابخانې » لخوا ترسره کيږي .

نو « د لمانځه مسائل » د دې سلسلې لومړنی کتاب دی چې دا دی اوس له چاپه راوتلی دی او وروسته يې نور کتابونه لکه «د زکوة مسائل» ، « د روژې مسائل » ،«د امامت مسائل» او داسې نور ... » چاپ ته چمتو دي .

له لوی خدای ﷻ څخه مو ارزو دا ده چې زموږ مسلمانان ورونه له دې کتاب څخه اعظمي استفاده وکړي ترڅو د لمانځه او دغه رنګه د دين په نورو فريضه او وجيبه مسائلو څان پوه کړي او په هغوی باندې عمل وکړي . آمين .

په اخير کې مو له درنو لوستونکو څخه هيله ده چې د مؤلف ، ژباړونکي ، خپروونکي او نورو ټولو هغو ورونو په حق کې چې په دې کار کې يې خواري کښلې ؛ د اجر او مغفرت دعاګانې وکړي .

والسلام

ژباړونکی

تاريخ //..... /۱۳۸۵/ حمل/ هـش

۱۴۲۷/ ربيع الأول/ هـق

۲۰۰۶/ مارچ / ميلادي



دنورالقرآن اداري يادښت

دلمانځه مسئلې دوهم چاپ

لوی خدای ﷻ لره دی حمدوي چي دنورالقرآن اداره په خپل هوډ کی دلوی خدای ﷻ په پوره مرسته کامیابه اوسوبمنه شوه همدادمسائلو کتابونه یادوو چي دلمانځه مسائل ددې لړی اولنی کتاب وو چي يو چاپ ئي ختم اواوس ددوهم ځل لپاره چاپيږي ،اوداهم په داسی وخت کی چي ددې کتاب په سربېره کي موږ يادونه کړي وه چي دنورالقرآن اداره هوډ لري چي درفعت قاسمی صاحب اتلس کتابونه ټول په پښتو ترجمه کړي نودلوی خدای ﷻ په مرسته داکاروشو چي دحج اوعمرې مسائل ئي اخيرنی کتاب دی چي تر چاپ لاندی دی.

محترمو الوستونکو څرنګه چي دالړۍ پای ته ورسيده لله الحمد ددې کتابونودومره محبوبيت پيداکړچي موږ ئي اتکل نشوکولای نوموږ هم اراده لروچي ددې کتابونوبه تصحيح اوچاپيې کي نورزيات زيارو باسو چي تردې مخکې د(قربانی مسئلې) هم دوهم ځل تصحيح اوچاپ شوي اودادي اوس دلمانځه مسئلې ددوهم ځل لپاره تصحيح اوچاپيږي نه تاسو محترمو مخکې هم خواست کړی وو: چي که تاسوته غلطي په نظر درځي موږ تري خبر کړي ځکه داکتابونه زموږ په کمپيوټري کتابتون کي تروخته وخته انشاء الله پراته وي چي ددوهم چاپ له مخې ئی نوي اصلاح کولای شو. په همدې پسی به انشاء الله ټول کتابونه ورو ورو ددوهم چاپ لپاره نوي اصلاح اوتصحيح کيږي داکارزموږ په توان نه بلکه دلوی خدای ﷻ په مرسته اوستاسو ددعاګانو په برکت.

دنورالقرآن اداري خادم
ابوخالد مولوی عبدالاحد «مجروح»
دهجرت مينه پښتون آباد کوټه
۲۰۰۸ ميلادی کال / دجولائي مياشت

د لمانځه پیژندنه

أَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِين

(لمونځ قائم کړئ او له مشرکینو څخه مه کیږئ)

لمونځ یوداسې عبادت دی چې د ټولو انبیاؤ په .. یعتونو کې موجود وو ، له حضرت آدم علیه السلام څخه نیولي تردې وخته پورې د هر نبي پر امت باندې لمونځ فرض دی البته په کیفیت او د اداء کولو په طریقه کې یې تغیر شته.

د نبي کریم ﷺ پر امت باندې په لومړي سر کې دوه وخته لمونځ فرض و ، یو د لمر ختلو نه مخکې . او بل یې د لویدلو نه مخکې ادا کیده. خو د هجرت څخه یو تیم کال وړاندې د نبي کریم ﷺ معراج ته د تللو پر مهال بیا لمونځ پنځه وخته فرض کړی شو .

سهار ، ماپښین ، مازیګر ، ماښام او ماخستن. چې دا پنځه وخته لمونځونه یوازې په همدې امت پورې خاص دی. ولې پر نورو امتونو ، پر چا باندې صرف د سهار لمونځ فرض و ، پر چا د ماپښین او پر چا د مازیګر. (علم الفقه ص۱ ج۲)

لمونځ د اسلام یو ستر رکن دی. حتی چې د اسلام دارمدار پر لمانځه باندې دی پر هر بالغ ، عاقل مسلمان باندې په هره ورځ کې ۵ خله لمونځ فرض عین دی. که امیر وی ، که فقیر وی ، روغ وی یا ناروغ ، مسافر وی که مقیم. تردې چې کله د دښمن سره جګړه روانه وی ، هغه مهال هم د لمانځه پرېښودل جائز نه دی. ښځی ته د ولادت پر وخت چې یو سخت مصیبت دی ؛ هم لمونځ پرېښودل روا نه دی. او

کوم څوک چې د لمانځه له فرضیت نه منکر شي ، نو یقینا هغه کافر دی ، د لمانځه د تاکید او د هغه د فضائلو په اړه په قرآنکریم او احادیثو کې ډېر زیات آثار موجود دي. چې د لمانځه په پرتله د بل عبادت دومره تاکید نه دی شوی.

د نبی کریم ﷺ عظیم صحابي ، امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د لمانځه پرېښودونکي ته کافر ویلی. د نورو صحابه کرامو او امام احمد رحمه الله هم همدا مسلک دی. دا راز امام شافعي رحمه الله د هغه د قتل (وژلو) فتوی ورکړې ، د امام اعظم أبوحنیفه رحمه الله په نزد که څه هم لمونځ پرېښودونکی کافر نه دی ، مګر د سخت تعزیر قول ورځینې رانقل شویدی.

کوم احادیث چې د لمانځه تاکید او فضیلت په کې بیان شوی ؛ که سره یو ځای کړل شي ؛ نو هرو مرو دا نتیجه ورځخه راوځي چې لمونځ پرېښودونکی د خدای او رسول سترد بسمن ډېر ګناهکار او نافرمانه بنده دی. (علم الفقه ص۳ ج۲ ، درمختار ص۹ ج۱ کتاب الصلوة)

د صلوة معني: صلوة په لغت کې دعا ته وایي او په شریعت کې د هغه ځانګړې عبادت نوم دی چې له یو شمېر ارکانو او شرایطو سره د څو مخصوصو اقوالو او افعالو په صورت کې ادا کېږي. چې په تکبیر سره پیل او په سلام سره پای ته رسیږي. چې په پښتو کې ورته لمونځ ویل کیږي. (مظاهر حق ص۱۰۵ ج۱)

د پنځو لمونځونو ثبوت :

الله ﷻ فرمایي: «اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا»

(بیشکه، لمونځ پر مؤمنانو فرض کړل شوی دي، چې وختونه یې ټاکلي شویدی)

په دې آیة کې کتابا په معنی د مکتوب یعنی مفروض دی. یعنی هرهغه امر چې فرض کړل شوی وی. او د موقوت د لفظ معنی دا ده چې گویا په دی کې د هر یوه لپاره د وخت حد مقرر شوی دی. په دی آیة کریمه کې ویل شوی چې لمونځ پر مسلمانانو فرض کړل شوی او په وختونو یې رسول کریم ﷺ خبر او عالم دی. او الله ﷻ هغه ته حکم کړی چې په دې اړه چې د الله تعالی له لوری هر څه ورباندی نازل شی، هغه دی خلکو ته ورسوی.

کیدای شی له ځینی خلکو سره دا پوښتنه وی چې په قرآنکریم کې خو یوازی د لمانځه فرضیت ثابت دی. خو د رکعتونو او وختونو د شمیر او په خاصه طریقه سره یې د ادا کولو په باره کې قرآنکریم هیڅ نه دی ویلی؟

د دې لپاره جواب دا دی چې نبی کریم ﷺ ته حکم دا دی چې څه شی د الله له لوری رانازلیږی، هغه خلکو ته ووایی او ورسره خلکو ته هم دا حکم شوی چې د رسول کریم ﷺ په هرڅه کې پیروی وکړی. الله ﷻ فرمایی: «وما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا» (پ۲۸ سورة الحشر)

(هغه څه چې د رسول الله ﷺ فرمان وی، پر هغه عمل وکړئ او له کومې خبرې چې منع راغلې وی، له هغه نه ځان وساتئ.

له همدی کبله ده چې هرڅه رسول کریم ﷺ د الله تعالی له خوا بیان کړی، گویا هغه عینا له قرآن څخه ثابت دی. له ډېرو صحیح احادیثو

نه دا ثابته ده چې د لمونځونو وختونه پنځه دي؟ او دا احاديث تول د متواتر په درجه کې دي. چې دا ورځينى ثابتيږى چې لمونځونه پنځه ۵ دي.

(كتاب الفقه على المذاهب الأربعة ص ۱۸۶، درمختار ص ۶ ج ۱، فتاوى دار العلوم ص ۳۲ ج ۲)

لمونځ ترټولو لومړى چا اداء کړ؟

د هدايې په شرح «عينى» کې راغلى چې د سهار لمونځ ترټولو لومړي حضرت آدم عليه السلام هغه مهال ادا، کړ چې له جنت څخه رادباندې شو او د شپې د تيارې نه وروسته سهار شو. او د ماپښين لمونځ ترټولو لومړى ابراهيم عليه السلام هغه وخت ادا کړ چې کله ورته د خپل ګران زوى حضرت اسماعيل عليه السلام د ذبح کولو حکم راغى. او د مازيګر لمونځ ترټولو اول حضرت يونس عليه السلام هغه مهال ادا کړ چې کله نوموړى د ماهى له ګيډې څخه روغ رمټ راووتى. او د دوهم خل لپاره يې ژوند په برخه شو.

او د ماښام لمونځ ترټولو له مخه حضرت عيسى عليه السلام د شکريې په توګه ادا کړ او د ماخوستن لمونځ حضرت موسى عليه السلام هغه وخت ادا کړ کله چې له مدين څخه بهر ووتى. نو اوس پرموږ ټولو مسلمانانو باندې دا پنځه وخته لمونځونه فرض دي.

(درمختار ص ۷ ج ۱ - کتاب الصلوة)

د لمانځه فضيلت: نبى کريم ﷺ فرمايلي چې د اسلام بنياد پر پنځو شيانو دی: ۱- د توحيد او رسالت اقرار کول ۲- لمونځ ادا کول ۳ زکوة ورکول ۴- د رمضان المبارک روژې نيول ۵- (د قدرت لرلو په شرط) حج کول. (بخاري او مسلم)

نبی کریم ﷺ فرمایلی چې د ایمان او کفر ترمنځ حدفاصل یوازې لمونځ دی.
(مسلم)
همداراز نبی کریم ﷺ فرمایی: چاچې لمونځ په قصدی توګه پرېښود ، هغه کافر سو. (مشکوة)
حضرت أبوذر رضی الله عنه فرمایی: یوه ورځ نبی کریم ﷺ د خزان په موسم کې چې د یخنی شپې ورځې وې؛ دباندې راووت او د یوې ونې دوې ښاخلې (څانګې) یې ونیوې او یې ښورولې چې د هرې پاڼې ورځینې راتوې شوې بیا هغه ﷺ وفرمایل: ای ابوذره! څوک چې د زړه له اخلاصه لمونځ ادا کوی نو د هغه ګناهونه به دا ډول توئیرې لکه د دې ونې پاڼې چې توئیږې. (مسند امام احمد)
حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمایی چې ما یوځل له نبی کریم ﷺ څخه وپوښتل چې الله تعالی ته ترټولو غوره عبادت کوم یو دی؟ هغه ﷺ وفرمایل: لمونځ. (بخاری ومسلم، علم الفقه ص۵ ج۲)
د الله ﷻ په نزد ترټولو ستر عبادت لمونځ دی. پرخپلو بندګانو یې پنځه وخته فرض کړی؛ په اداکولو یې زیات ثوابونه او په پرېښودلو سره یې د سخت عذاب وعده ورکړې.
په حدیث شریف کې راځی: څوک چې په ښه طریقه سره اودس تازه کړی، او په ښه اخلاص سره لمونځ ادا کړی، د قیامت په ورځ به الله تعالی د هغه سترې او وړې ګناوې ټولې وبخښی. او په بدل کې به یې جنت ورپه برخه کړی. او آنحضرت ﷺ فرمایی چې لمونځ د دین ستن ده. نو چاچې هغه په ښه توګه ادا کړ، ګویا دین یې ښه ثابت کړ

، او چاچې دا ستن ړنګه کړه (یعنی لمونځ یې ونکړ) ګویا هغه دین برباد کړی. دا راز آنحضرت ﷺ وفرمایل: چې د قیامت په ورځ به ترهرڅه وړاندې د لمانځه پوښتنه کیږی او په هغه ورځ به د لمونځ کوونکو ، لاس ، مخ او پښې د لمر په څیر ځلیږی. چې بې لمانځه به له دې نعمت څخه محروم او بې برخې وی. همدارنګه لمونځ کوونکې به د قیامت په ورځ د انبیاؤو ، شهیدانو او وولیانو په ډله کې راپاڅیږی. او بې لمانځه به له قارون ، فرعون ، هامان او نورو غټو کافرانو سره راپورته کیږی. نو څکه لمونځ کول ډیر ضروری امر دی ، چې په نه کولوئې د دنیا او آخرت نقصان دی. (بهشتی زیور ص ۹ ج ۲ بحواله مسلم)

د لمانځه اصلی هدف

د لمانځه اصلی مقصد دادی چې د کائناتو د خالق د عظمت او لوئي نقشه یکې رسم شي ، تردی چې د الهی عذاب څخه د ویرې له امله د هغه په ټولو احکامو تعمیل او له موانعو څخه ئې پرهیز وکړای شی ، په دې کې د ټولو انسانانو ګټه ده ، څکه چې کوم سړی چې په نیکیوباندی عمل کوونکي وی اوله بدونه ئی ځان ساتلی وی ، له هغه نه بد کاری هیڅکله نه صادریږی ، او کوم سړی چې لمونځ اداکوی ، خوزړه ئی له الله ﷻ څخه غافل ، یعنی پوره توجه ئي برابره نه وی ، په نفسی خواهشاتو او جسمانی لذتونو کي را ایساروی ، نو دهغه لمونځ د ځینو آئمه وو په قول ، تنها فرض اداء شول ، ولی د لمانځه هغه اصلی موخه او هدف حاصل نه شو ، په اصل کې کامل لمونځ هغه ده چې الله ﷻ فرمایي: « قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي

صَلاتِهِمْ خاشِعُونَ ، یعنی هغه مسلمان چې لمونځ په خشوع (عاجزی) سره اداء کوی ، هغه بریالی او کامیاب دی .

مطلب دا چې د لمانځه حقیقی هدف ، په رښتینی توګه د الله ﷻ د عظمت اعتراف کول دی ، همدا وجه ده چې په رښتیا سره هیڅوک لمونځ کوونکې نشی جوړیدای ترڅوئي په پوره ډول توجه خدای ﷻ ته نه وی ، د هغه تعالی ویره ئي په زړه کې قایمه وی ، له باطلو خیالاتو نې ځان ساتلی وی ، د رحمت په امید وی ، د دنیا او نورو فکرونو څخه ئي ذهن خالی وي ، یوازی او یوازی خداوند متعال ته متوجه وی ، نو هغه مهال چې کله دا تول کیفیت موجود وی ، نو بیا د لمانځه په وجه د هغه د باطنی او ظاهري اعمالو اصلاح او جوړښت کیدلای شی ، په همدی حالت کې به ئي له الله ﷻ سره رابطه وي او له هغه ناوړه کارونو څخه به ئي الله ﷻ د لمانځه په وجه وساتی چې الله ﷻ ورځینی منع کړی وی لکه چې الله ﷻ فرمایی: «إِنَّ الصَّلاةَ تَنْهَى عَنِ الفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ» یعنی بیشکه لمونځ سړی له منکر او فحشاء څخه راګرځوي. لنډه دا چې کوم لمونځ چې سړی له ناوړه کارونو څخه ساتی ، هغه هغه لمونځ دی چې سړی پکې د خپل رب د عظمت اعتراف وکړی ، د هغه له عذاب څخه په زړه کې ویره ولري او د هغه تعالی د رحمت امیدوار واوسی ، له داسی لمانځه نه هرسړی د دومره فیض احساس کوی چې خود بخوده ئي زړه د الله تعالی طرفته مائل کیږی ، او د الله ویره ئي په زړه کې ځای نیسی ، ځکه چې الله د خپلو بندګانو په زړونو عالم او خبر وی. الله پاک فرمایی: «واقم الصلوة لذکري» (یعنی لمونځ په داسی ډول اداکول پکاردی چې د الله

پاک په ذکر کې مستغرق وی) او هغه څوک چې د لمانځه پرمهال ئي زړه له الله تعالی څخه غافل وی ، نو هغه ته عبادت کوونکی نشی ویل کیدی ، په حقیقت کې داسړی لمونځ کوونکی نه دی ، لکه چې رسول کریم ﷺ فرمایي: «لاینظرالله الی صلوة لایحضر الرجل فیها قلبه مع بدنه » (یعنی الله تعالی دهغه چا لمانځه ته نه گوري ترڅوئي زړه اوبدن په پوره توګه الله ته متوجه کړی نه وی.) د دین له نظره لمونځ همدادي. او همدا لمونځ دی چې انسانی نفوس او د هغوی اخلاق جوړوی ، ځکه چې د لمانځه په هرجزء کې د بشري فطري فضائلو د برترۍ دستورالعمل او د انسانی غوره اخلاقو دیو نه یو خصلت تمرین اومشق پکی موجود وی. اوس مونږ د لمانځه د څه اندازې اعمالو یادونه کوو ، چې د بشری نفسونو په جوړولو کې د هغوی څومره اغیز دی.

د لمانځه اجزاوې

په دې اجزاؤ کې یوهم نیت دی ، چې مطلب ئي د الله ﷻ د حکم د ادایني (لمانځه) په پوره ډول د پرخای کولو اداره کول دی ، یعنی داسی لکه الله تعالی چې ئي حکم کړی دی. نو که هغه تنها د الله تعالی د خوښي لپاره وی. اوس که یو سړی دا ډول عمل په شپه او ورځ کې پنځه ځله انجام کړی نو هرو مرو دا کیفیت د هغه په طبیعت کې ځای نیسی او له نیکو صفتونو څخه ئي ګرځی ، چې ډیر ښه اغیز ئي په انفرادی او ټولنیز ژوند کې پریږدی.
د بشري ټولنی لپاره تر ډی بل ستر او ګټور شئ نشته چې په خپل قول او عمل کې ئي د نیت خلوص د تل لپاره پروت وی ، که جبری دا.

شئ وجود ولري ، يقينا چې ټولنه به ډېر نيکمرغه او هوسا ژوند څخه برخمنه وي ، او د دنيا او آخرت خوښې به ئي په برخه وي ،

د لمانځه دوهم جزء قيام (د الله په وړاندې دريدل دي)

لمونځ کوونکی قلبا او جسما د خپل پروردګار په حضور کې په عاجزانه ډول درېږي او د خپل نجات غوښتنه له الله ﷻ څخه کوي ، الله ﷻ بنده ته د هغه ترښا رګ ډېر ورنژدې دی ، نو هرڅه چې بنده وايي الله پاک ئي ډېر ښه اوري ، څه چې ئي په زړه کې وګرځي په هغه باندې الله پاک خبر وي. نو هيڅ شک نشته ، کوم بنده چې دا عمل (لمونځ) په شپه او ورځ کې پنځه ځله تکراروي الله پاک به د هغه په زړه کې ځای ولري. د الله تعالی د حکم تعميل به کوي ، او له منهياتو څخه به ئي ځان ساتي ، نتيجه به ئي داوي چې له دې شخص څخه به د بشريت پر ضد هيڅ ډول جنايي عمل نه صادريږي ، نه د هغه پر ځان ، او نه ئي پر مال ، نه به ئي د چا دين او عقيدې ته زيان رسيږي ، او نه به ئي عزت او ابروته.

دريم جزء قرائت دی

يعنی په لمانځه کې قرآن پاک لوستل ، د آئمه کرامو په نزد. د لمانځه اړوند مسائل او احکام به مخکې راشي ، اوس به دا ووايو چې تلاوت کوونکي ته نه ښايي چې پرژبه قرآن وايي او زړه ئي غافل وي ، بلکې لازمه دا ده چې څه په خوله وايي بايد د هغه په حقيقت او مطلب کې غور او فکر وکړي ، او پند ورڅخه واخلي ، او دا چې د کوم چا پر ژبه د الله پاک ذکر جريان لري ، پکار ده چې د هغه په زړه او دماغ کې د خدای پاک د عظمت او قدرت ، هيبت پروت وي ، لکه

چې الله پاک فرمایي: « إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا » یعنی ، د مؤمنانو نښه دا ده چې کله د الله ﷻ ذکر کیږي نو د دوی پرزړه دهغه تأثیر او هیبت پروت وي او کله چې د قرآن ایاتونه د دوی په وړاندې تلاوت کیږي نو ایمان ئې نور هم قوي کیږي.

همدا راز کله چې د الله ﷻ د رحمت او احسان د صفتونو یادونه کیږي ، نو واجب دا ده چې انسان په زړه کې دا فکر وکړي چې هغه څنګه کولای شي خپل ځان اصلاح کړي آنحضرتﷺ فرمایي: «تخلقوا باخلاق الله فهو سبحانه کریم عفو غفور عادل لایظلم الناس شیئا » یعنی ای خلګو ! تاسو پخپلو ځانونو کې الهي اخلاق پیدا کړئ هغه پاک ذات بخښښ کوونکی ، معافي کوونکی ، مغفرت کوونکی ، عادل دی ، او هیڅکله پرهیچا ظلم نه کوي.

له همدې امله انسان مکلف دی چې پخپل ځان کې همدا اخلاق پیدا کړي اوس که کوم سړی د قرآنکریم هغه آیاتونه تلاوت کوي چې د الله ﷻ کریمه صفتونه پکښې ذکر وي ، او دی دهغوپه مطلب او حقیقت ځان پوه کړي او دا عمل شپه او ورځ ډیرځله تکرار کړي نو هرومرو ئې هغه پرطبیعت اثر غورځوي او چې کله پرطبیعت دغه جمیله صفتونه اغیز وکړي ، نو سمدلاسه دی پخپله پرهمدې ښائسته صفتونو سره متصف ګرځي ، خلاصه دا چې د نفس او اخلاقو د تهذیب او ښایست لپاره ترټولو غوره او لنډه لاره همدا ده.

څلورم جزء رکوع او سجده ده

يعني د الله تعالى په وړاندې سر ټيټول او پرڅمکه ايښودل دي. د غه ډول عمل د خالق تعالى د تعظيم نښه ده. مګر د لمونځ کوونکي لپاره بوازې دا کافي نه ده چې صرف د عادت په ډول دا عمل اجراء کړي ، بلکې د هغه زړه بايد له دې څخه پوره واقف وي چې دی ئي يوادنی عاجز بنده دی او د عظيم خدای په وړاندې د تعظيم سر ټيټوي. لمونځ کوونکی ته چې دا تصور په شپه او ورځ کې څوځله پيداشي نو د هغه زړه د تل لپاره د الله تعالى له عذاب څخه په ويره کي وي او هيڅکله به داسې کار چې الله پاک ته ناخوښه وي ؛څيني صادرنه شي. لمونځ کوونکی چې کله د خپل خالق په وړاند ې سر پرسجده او تندی پرڅمکه ږدي ؛ نو دا د خپلې بندګۍ اظهارکوي ، په داسې حال کې نو هغه ته پکار ده چې د بندګۍ په نهايت عجزاو د پروردګار چې معبود برحق دی ؛ له عظمت څخه اګاه او خبروي. پکار ده چې الهي خوف او ويره به ئې په زړه کې موجوده وي او له ناوړه کارونو نه به ئې ځان ژغورلی وي.

له دې پورتنيو اجزاؤ نه پرته په لمانځه کې نورهم ډېر عظيم الشانه او ګټوري خبرې شته ، چې يو ئې هم په جماعت سره لمونځ اداکول دي ، اسلام په جماعت سره د لمانځه د اداکولو حکم کوي ، او نبي کريم ﷺ د هغه ترغيب (هڅونه) داسې فرمايي: « صلوة الجماعة افضل من الصلوة الفذ بسبع وعشرين درجة » (يعنې په جماعت سره لمونځ اداکول تر جدا جدا کولو ٢٧ اوه ويشت درجې بهتردی.) په ... کې د سيده او برابر دريدلو باندې تأکيد د دې خبرې ؛

بـکارندوي کوي چې پـه ليري والی او چپه و راسته دريدلو کې زړونه يود بل سره ليری کيږی او کينه پکښې ځای نيسی ؛ نوپه صف کې برابر دريدل د اتحاد (يووالی) او اتفاق وسيله ګرځي ، زړونه يوبـل تـه نـژدی کيږی. چې دا ډيرګټور عمـل دی اوالله ﷻ پـه دی اړه داسی فرمايي:

«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا » يعنی ای خلګو د الله ﷻ رسی محکمه ونيسئ او پخپل منځ کي تفرقه (بيل والی) مه کوئ. داراز په جماعت سره لمونځ کول هغه اخوت او ورورولی مسلمانانو ته يادوي چې الله پاک ئي داسی يادونه کوی: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ» يعنی ټول مؤمنان پخپلو کې سره وروڼه دی. نو بس هغه مسلمانان خودي هرومرو داخبره له ياده نه باسی چې دوی دخالق تعالی عبادت تـه يو ځای راټوليږی ؛ چې دوی پخپـل منځ کې سره وروڼه دی. نو هغوی ته لازمه ده چې مشران پرکشرانو شفقت ولري او کشران دی بيا دخپلو مشرانو د احترام خيال وساتی ، څوک چې امير وی ، هغه دی د غريبانو ستونزی ورحل کړی او چې څوک غښتلی وی ، هغه دی دکمزوری او بيچاره مرسته وکړی. او صحت مند دی د ناروغانو پوښتنه او لاس نيوی وکړی ، ترڅو د رسول الله ﷺ په دي ارشاد عمـل وشی چې فرمايي: «المسلم اخو المسلم لايظلمه ولايثلمه من كان فی حاجة أخيه كان الله فی حاجته ومن فرج عن مسلم كربة من كرب الدنيا فرج الله بماعنه كربة من كرب يوم القيامة و من ستر مسلما ستره الله يوم القيامة » ژباړه: يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی . بس هغه ته پکار ده چې نه پربل ظلم وکړی اونه کوم نقصان و

ورسوي ، څوک چې د ضرورت او اړتيا بروخت دخپل وررور پکار ورشی الله پاک به د قيامت په ورځ دهغه ستونزی ورحل کړی ، چاچې د کوم مسلمان پرده خوندی کړه ، الله پاک به د قيامت په ورځ دهغه پرده خوندي کړی.

لنډ: داچې كه موږ هڅه وكړو چې دلمانځه ټولی ښيګنی بيان كړو نو امكان لري چې په څوڅو داډول كتابونو كې هغه راټولی نكړای شو. نو له همدی كبله موږ اوس په همدی اكتفاء كوو ، او الله ﷻ ته دا دعاء كوو چې موږ ټولو ته پر دين حنيف باندې دعمل كولو وس او توان راپه برخه كړی.

آمين يارب العالمين. (كتاب الفقه ص ۲۷۵ تر ص ۲۷۸ پورې لومړی ټوک).

لمونځ ولی يو جامع عبادت دی؟

كه څه هم له ايمان بالله څخه وروسته د اسلام مدار پردغو پنځو عباداتو قائم دی ، لكه: لمونځ ، روژه ، حج ، زكوة ، جهاد فی سبيل الله. مګر داچې دلته زموږ موضوع دا نه بلكې يوازی د لمانځه بحث او څيړنه ده نو ځكه له هغی موضوع څخه صرف نظر كوو او دلمانځه پرمسائلو او فضائلو رغيږو.

لكه مخكې مو چې وويل: لمونځ دځو مخصوصو اقوالو او افعالو مجموعه ده چې د خدای ﷻ د عظمت اظهار پكې مقصد وی. دغه مجموعه چې د تكبير تحريمه په ويلو سره پيل او د سلام په ګرځولو پای ته رسيږي ؛ بنده د خپل خالق په وړاندی دخپلی عاجزی او نيازمندی او دخدای ﷻ دعظمت او د هغه د انعامود اعتراف څرګندونه كوي ، او د خپلو ټولو مشكلاتو حل له الله ﷻ غواړی دغه

ډول عبادت اسلامی شریعت پرهر عاقل بالغ مسلمان ، که نر وی او یا ښځه آزاد وی که غلام ، پرتولو فرض ګرځولی دی ، هرسړی د خپل وس مطابق له همغه نه ګټه پورته کوی. دا هغه عظیم الشان عبادت دی چې پریښوونکی ته ئی امام احمد بن حنبل رحمه الله کافر ویلی دی. او امام شافعی رحمه الله ئي د قتل خبره کړی ده. او امام اعظم أبو حنیفه رحمه الله ئي ترتوبې ایستلو د حبس او بندی کولو فتوا ورکړیده.

دا د اسلامی ملت هغه شعار دې چې که سړی ئي په له منځه تللو سره د اسلام له منځه تلل وګڼی نو هم پرځای خبره ده. دا هغه عبادت دی چې د تهذیب نفس او اخلاق ترټولو ګټوره نسخه ده. چې زړو نه له هر ډول ن ـ کیو څخه ساتی او د اخروی تجلیلاتو لپاره ئي اراسته کوی. د بدی ـ د ی ښکی رامنځ ته کوی. لکه چې په حدیث شریف کې راځي: د ـحضرت: په زمانه کې یو سړی یوه اجنبی ښځه پرمخ مچ کړه ، وروسته ئي : یوې ډیري لویې خطا او ګناه احساس وکړ . او په خپل پاک زړ: کې ئي یو بد ډول ظلمت محسوس کړ ، نو د نبی کریم ﷺ په خدمت کې په داسی حال کې چې سخته پښیماني او شرمندګي ئي څرګندوله ؛ حاضر شو او خپله کړی غلطی ئي ورته بیان کړه ، پخپل فکر ئي داسی انګیرله چې دا له ما څخه صادره شوی ګناه د ښښلو قابل نه ده ، نو ئي په بیړ د بیړ د ویل ؛ «هلکت هلکت» تباه شوم هلاک شوم آنحضرت ﷺ پرته له دی چې ځواب ورکړی ، د لمانځه تر اداکولو پوری ئي سکوت غوره کړ ، چې په لمانځه کې د غه سائل هم شامل شو . د ده : ډیري عاجزۍ او :

خجالت د احساس په وجه الله پاک پر نبی کریمﷺ دا آیة رانازل کړ: «وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ» د ورځي په داوړو اړخونو کې او د شپې په یو څه برخه کې لمونځ قائم ساته ځکه چې نیکی، بدی له مینځه وړی. نو رسول کریمﷺ سمد ستی هغه سائل ته دازیری واوراوه، او وئي فرمایل: «ان الله قد غفر لک ذنبک» یعنی بیشکه چې الله پاک ستاګناه وبخښله بیا دې سائل وپوښتل چې آیا داحکم یوازی زمالپاره دی؟ آنحضرتﷺ وویل: نه. دا حکم زما د ټول امت لپاره ده. او بیا آنحضرتﷺ د دې خبري په ترڅ کې وفرمایل: «لوان نهرا بباب أحدکم یغتسل فیه کل یوم خمسا هل یبقی من درنه شئ قالوا الاقال فذلک مثل الصلوة الخمسة یمحوا الله بها الخطایا» که چیری په تاسو کې د کوم سړي د کور ترمخ د اوبو نهر (ویاله) جاری وی او سړی د ورځي پنځه ځله ورکې غسل کوی، نو آیا د هغه پربدن به کوم خیری پاتی شی؟ صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم عرض وکړ: نه! هغهﷺ وفرمایل: همداسی پنځه وخته لمونځونه هم دی چې خدای تعالی په لمانځه سره د سړی ټولی بدی لیری کوی او بیائي همدارنګه وفرمایل:

«الصلوات الخمسة والجمعة الی الجمعة ورمضان الی رمضان مکفرات لما بینهن اذا اجتنبت الکبائر».

یعنی که چیري له ګناه کبیره څخه سړی پرهیز وکړی، نو پنځه لمونځونه او جمعه تربلي جمعی او روژه تربلي روژي پوری په منځ کې د ټولو ګناهونو لیري کوونکی دی.

چې همداراز الله تعالی پخپل مقدس کتاب کې فرمايي: «ان الصلوة تنهی... » بيشکه چې لمونځ سړی له بې حيائی او بدو خبروځخه ژغوري
د خپل امت ټولو ګناهکارانو ته پوره ډاډ ورکوی چې کوم شخص چې لمونځ په پاک نيت، په ښه توجه قلبی او په کامله خشوع او خضوع سره هروخت اداء کړی، نو يقينا چې داسړی د الله تعالی د رحمت غير متناهی درياب ته ورسيد، چې له امله به ئي د ده واړه واړه ګناهونه د خس او خاشاک په څير سوځول کيږی او د زړه له پردی څخه ئي ګناهونه داسی توئيږی، لکه د خزان دموسم دونو پاڼي چې توئيږی.
پردې برسيره لمونځ يوداسی عبادت دی چې د اسلام نور ارکان هم په ضمن کې ورسره ئيسی، د مثال په توګه په روژه کې روژه دار ته حکم دا دی چې له سهاره ترماښامه پوری له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان وژغوري، نو همداراز په لمانځه کې هم عينا د همدې شيانو خيال ساتل ضروري حکم دی. څرنګه چې په دغه ذکر شويو شيانو سره روژه ماتيږی، داراز لمونځ هم له مينځه ځی، حتی چې په لمانځه کې ئي تاکيد ډير زيات دی. تردې چې په لمانځه کې به سړی د سترګو ترځنګ هم چاته نظر نه کوی داځکه چې توجه ئی غيرالله ته نشی او صرف الله تعالی ته متوجه واوسي پرژبه به ئي ذکر او تلاوت وی او د بدن هرغړی به له بيځايه حرکته ساتی، چې لمونځ ئی فاسديږی، په داسی حال کې چې داټول امور داسی دی چې روژې ته مخل نه واقع کيږی. همدارنګه د حج افعال هم په لمانځه کې

موندل کیږی، که په حج کې احرام تړلی دی. نو په لمانځه کې تکبیر تحریمه دی. که هلته د کعبې طواف او پر عرفات دریدل دی، نو په لمانځه کې استقبال القبلة او قیام ده، که په حج کې د صفا او مروه ترمنځ سعی ده نو په لمانځه کې د رکوع او سجدې حرکات دی.

همدا راز څرنګه چې په زکوة کې له ټول نصابی مال څخه یوه معلومه اندازه د خدای ﷻ په لاره کې صرف کول ضروری دی؛ دا راز لمونځ کوونکی ته هم دا حکم دی چې د خپلې شپې ورځې له وختونو څخه دی یوه اندازه معین وخت د خدای ﷻ د رضاء لپاره د خدای په عبادت کې تیر کړی. مطلب دا چې لمونځ هغه عبادت دی چې ټولو عباداتو ته جامع او شامل دی. د قرآن تلاوت، شهادت، ذکر، دعاء او تسبیح ټول په لمانځه کې شته نو مطلب تر لمانځه افضل عبادت نشته. لکه چې له رسول الله نه همدا وپوښتل شول: «أي الأعمال أفضل؟» (په ټولو اعمالو کې کوم یو عمل بهتر دی؟) نو هغه ﷺ وفرمایل: «الصلوة لوقتها» یعنی لمونځ پر وخت اداکول.

او کله چې د محشر په ورځ د مخلوقاتو د راغونډولو په غرض د صور شپیلی پوک کړله شی، او ټول خلک د حساب کتاب لپاره راټول شی، نو تر هر څه وړاندې به د لمانځه محاسبه کیږی، له همدې کبله ده چې د ایمان او عقیدې تر صحت او اصلاح وروسته لوړی مقام د لمانځه دی. آنحضرت ﷺ د دې ارشاد فرمایلی چې د عمر په ابتداء کې باید په همدې عبادة سړی عادت کړای شی چې والدینو (مور او پلار) ته دا سې فرمایی: «مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع سنین واضربوهم علیها وهم ابناء عشر سنین» یعنی ستاسو اولاد ونه

چې د ۷ کالو عمر ته ورسيږي نو تاسو ئي په لمانځه امر کوئ او چې کله بيا لسو کالو ته ورسيږي، نو د لمانځه پخاطر وهل ورکوئ.

غرض دا چې په قرآن او حديث کې د لمانځه ډېر زيات فضائل ذکر شوي او شارع عليه السلام د هغه د وختونو، ارکانو، شرائطو او آدابو په بيانولو کې ترټولو عباداتو ډېر اهتمام کړي دی، پس رښتيني او کامل انسان هغه دی چې له شرک او مخلوق پرستۍ ځخه ځان بيزاره ښيئ او د خپل حقيقي پروردګار عبادت په اکمله او احسنه طريقه سره اداکړي. همدارنګه د خپل هوا او هوس په فکر کې نشي، بلکې د خپل خدای ﷻ د شکر په ادا ينه کې تيار او مستعد واوسي، او د الله تعالی اوامر او نواهيو ته متوجه واوسي.

حضرت شاه عبدالعزيز محدث دهلوی رحمه الله د «فصل لربک» د تفسير کولو په ترځ کې فرمايلي چې لمونځ يو داسې عبادة دی چې په دنياکې د کوثر نمونه ده. (له «الرشيد» رسالې ځخه اخيستنه شوال المکرم کال ۱۳۳۲ه)

د لمانځه د صحت شرطونه

ځرنګه چې لمونځ ترټولو اهم عبادت دی. له همدی امله ئي شرائط هم ډېر زيات دي. خودلته مونږ صرف هغه شرطونه بيانوو چې په هرلمانځه کې ئي اړتياوی، ځينی هغه شرائط چې له خاصو لمونځونو سره تعلق لري، لکه د جمعې لمونځ هغوی به پرخپل ځای ذکرکړو، او هغه شرائط د مرتب په يوه بل کتاب «مسائل نماز جمعه وعيدين» کې هم مطالعه کولای شئ.

لومړی شرط: طهارت (پاکي) د لمونځ کوونکي بدن بايد له سپکي او درنې ليدونکي اوناليدونکي مردارۍ ځخه پاک وی، خوکه دا

نجاست دومره کم وی چې د بخښنې قابل وی؛ بیا پروا نلری. مګر بنه دا ده چې له ډیر وړوکي نجاست څخه هم باید سړی ځان وساتی. همدارنګه د نجاست حکمي له دواړو فردونو (حدث اکبر او حدث اصغر) څخه هم باید سړی پاک وی، د بدن دپاکۍ ترڅنګ باید سړی دخپلو جامو د صفائي خیال هم وساتی. همدارنګه هغه ځای چې لمونځ ورباندی کیږی؛ هم باید پاک وی. خو که کم وي بیا څه حرج نشته د لمانځه دځای څخه مطلب هغه ځای دی چې پښې ورباندی ږدی د سجدې په حالت کې دځنګنو د اینبودلو او په سجده کې د تندی او پوزی د اینبودلو ځای مراد دی. (درمختار)

مسئله: که چېرې پرېو ناپاک ځای باندی ځادر اویابل ټوکر د لمانځه لپاره وغوړول شی نو په هغه کې شرط دا دی چې دا ټوکر به دومره نرئ نه وی چې لاندی ځمکه اویابل شی ترلاندی ښکاره شی.

(بحرالرائق شرح الوقایه، علم الفقه ص ۲۲ ج ۲ هدایه ص ۵۸ ج ۱ شرح وقایه ص ۶۲ ج ۱ وکبیری ص ۱۷۷ اونماز مسنون ص ۲۶۵)

دوهم شرط: سترالعورة (د فرجو پټول) یعنی د لمانځه په حالت کې به سړی د بدن هغه برخه پټوی چې ښکاره کول ئي شرعا حرام دی. دا که یوازی لمونځ کوی اویائي دچاپه وړاندی اداکوی. که چیری یو سړی په توره شپه کې اویا په یو ډیر تنها مکان کې لمونځ اداء کوی په داسې حال کې هم پرده (سترالعورة) فرض دی که څه هم د بل چا دلیدلو احتمال ئي نه وی. خو که پخپله ئي نظر پرخپلو فرجو دلمانځه په حالت کې ولګیږی، نو څه باک نشته. (بحرالرائق، درمختار، مراقی الفلاح، علم الفقه ص ۲۶ ج ۱، کبیری ص ۲۱۰ کتاب الفقه ص ۲۸۲ ج ۱)

مسئله: د نارینه لپاره له نامه څخه کښته، د ځنګانه ترسترګیو پوری پټول فرض دی، ولی د ښځي بیا له مخ، لاس او پښو نه پرته ټول بدن پټول فرض دی. (هدایه ص۵۸ ج۱، شرح نقایه ص۶۴ ج۱ وکبیری ص۲۱۰ کتاب الفقه ص۲۸۳ ج۱)

دریم شرط: استقبال القبلة: (قبلی ته مخ کول) یعنی په لمانځه کي داشرط دی چي مخ او سینه به د کعبې شریفی پرلوری سیده کوی، هغه که حقیقتا وی، که حکما او کعبې ته مخ بالکل برابرول سنت دی مګر شرط نه دی، که چېری یو سړی صرف مخ کعبې څخه وګرځوی، او نور سیده وی، هم لمونځ وکړی، لمونځ ئی اداء کیږي، مګر د خلاف سنت په وجه مکروه تحریمی ګرځي. او هغه چاته چي کعبه ښکاری؛ یعنی کعبې ته نژدې وی، په منځ کي بل کوم حایل نه وی نوپر هغه فرض دی. چي خاص به وکعبې ته مخ ګرځوی او لمونځ به اداء کوی، یعنی بالکل کعبې ته سیده دریدل وریاندی فرض دی. (علم الفقه ص۲۸ ج۲ هدایه ص۶۱ ج۱، شرح نقایه ص۶۱ کبیری ص۲۱۲، کتاب الفقه ص۲۰۹ ج۱)

مسئله: قبلي ته مخ ګرځول او لمونځ کول واجب دی خو په دوه شرطه، یو داچي قدرت به ئی وی او بل داچي د امن خطر به ورته نه وی. (کتاب الفقه ص۲۲۴ ج۱)

څلورم شرط: نیت. یعنی په زړه کي دلمانځه د اداء کولو قصد ته نیت وائي، په ژبه سره هم ویل افضل کار دی، (نیت خو فقط د ارادې نوم دی چي محل ئي زړه دی، نه ژبه.) که چیری فرض لمونځ اداکیده، نو د هغه وخت د فرض تعین کول هم په نیت کي ضروری دی. مثلا که د ماپښین لمونځ اداء کوی نو په زړه کي داقصه کول چي ماپښین لمونځ اداکوم، او داسی نور...) او که واجب لمونځ ... نو هم ئي د تعین نیت

ضروري دی ، چې داکوم واجب دی ، وتردی ، د اختر لمونځ دی ، که د نذر لمونځ ؟!

همداراز مقتدی ته د امام د اقتداء نیت کول هم شرط دی ، او امام ته صرف د خپل لمانځه نیت کوی ، د امامت نیت ورته شرط نه دی. مګر که چیری له شا ښځه د نارینه وو سره برابره په صف کې پسی ودریږی ، او دا لمونځ د جنازې یا اخترانو اوجمعې نه وی ؛ نو د هغې د اقتداء د صحت لپاره امام ته د هغې د امامت د صحت لپاره نیت پکار دی او که له نارینه وو سره په صف کې برابره نه وي ولاړه یا دا جنازي ،اخترانو او جمعي لمونځ وي، نو بیا امام ته دهغې د امامت نیت کول شرط نه دی. د جنازې په لمانځه کې دا نیت کول ارین دی چې ووایی زه دا لمونځ د الله تعالی د خوښي پخاطر اودې مړي ته د دعاء په نیت اداء کوم که چیری مقتدی ته دا معلومه نه وی چې دا مړی نارینه دی که ښځینه ،نوبیا دا ورته کافی ده چې ووایی: زما امام چې د چا د لمانځه نیت کړی وی زما هم هغه نیت دی. (علم الفقه ص۲۰ ج۲)

مسئله: نیت له تکبیر تحریمه سره یو ځای ترل کیږی ، خو که تر تکبیر وراندی شی بیا هم صحیح دی. په دې شرط چې د نیت او تکبیر منځ بل کوم داسی فاصل نه وی چې د لمانځه سره منافی وی. مثلا خوراک څښاک خبری اتری. او که چیری همدا شرط پرځای شی ؛ بیا که نیت تروخت هم لمخه وتړل شی پروا نلری صحیح دی. خو تر تکبیر تحریمه وروسته نیت کول صحت نلری ، دغه نیت ته هیڅ اعتبار نشته .(علم الفقه ص۲۱ ج۱ کتاب الفقه ص۲۲۵ ج اول).

که چېرې لمونځ کوونکي په زړه کې دلمانځه اراده وکړي او په ژبه څه ونه وايي . نو لمونځ يې درست دی ، البته د عامه خلکو لپاره دزړه دنيت ترڅنګ په ژبه هم ويل بهتر او ښه کار دی. ځينې خلک داسې وي چې د نيت اوږده او لنډ الفاظ سره کتار کړي ، دا ښه نه دی ، څکه چې امام قرائت شروع کړي ، دی لا په نيت لګيا وي. (رفعت قاسمی)

نيت دې ته وائي ، چې سړی د خدای لپاره د لمانځه د اداکولو اراده وکړي ، په داسې طوز سره چې له دنيوی امورو څخه هيڅ شئ پکې شامل نه وي. (کتاب الفقه ص۳۲۳ ج۱ ، بحر ص۲۸۲ ج۱)

پنځم شرط: تکبير تحريمه: يعنی د لمانځه د شروع په وقت کې الله اکبر ويل يا ذې ته په معنی کې ورته لفظ ويل ، څرنګه چې له دې تکبيره وروسته لمونځ

پيل کيږي ، دلته خوراک ، څښاک ، تلل راتلل ، خبرې کول ، ډيرې داسې شيان چې له لمانځه بهر جايز وي او س هغه حراميږي ، نو څکه دې تکبير ته تکبير تحريمه وائي.

د تکبير تحريمه لپاره اته شرطونه : (۱) دغه تکبير به له نيت سره يوځای وي ، که حقيقتا وي ، يعنی په يوه وخت کې نيت او تحريمه به دواړه وي . که حکماوي ، يعنی د نيت او تحريمې ترمنځ کوم د لمانځه منافی شي فاصل نه وي ، خودوی دوه وی سره بيل ، بايد وويل شي چې د نيت څخه وروسته د لمانځه لپاره کښيناستل پورته کيدل ، تلل راتلل ، اودس کول اوداسې نور بايد دلمانځه سره منافی ونه ګڼل شي ، په داسې ډول فاصل سره نيت صحت ته هيڅ خلل نه پيښيږي ، مګر بهتره داده چې نيت او تحريمه حقيقتا سره يوځای

وشی. (مراقي الفلاح) (۲) په کومو لمونځونو کې چې قيام يعنی دريدل فرض وی، نو د هغوی تکبيرتحريمه هم په ولاړی ويل فرض دی، او په نورو لمونځونو کې چې ئي ځنګه زړه وي. مګر ددې خبري بايد حتمی خيال وساتل شی چې په هرلمانځه کې ضروری ده چې تکبير تحريمه د رکوع په حالت کې او يارکوع ته نژدی د انحناء په حالت کې ونه ويل شي، که چېری ئي څوک په همدې حالت کې چې رکوع ته تر ولاړی نژدی وي او وئي وايی نو تحريمه ئي قطعا نه صحی کيږی اوکه ولاړي ته نژدي وي نو تحريمه صحيح کيږي. (مراقی الفلاح)

مسئله: ځينی ناخبره خلګ چې کله مسجد ته راشی امام د رکوع په حال کې ووينی، نو په ډيره بيړه (تلوار) سره راځغلی، په امام پسی تيتيږی، په همدی حالت کې تحريمه هم وائي، نود دي سړی لمونځ نه صحی کيږی، ځکه چې تکبيرتحريمه د لمانځه د صحت لپاره شرط دی، چې کله داشرط درست نه وی، نو لمونځ به ځنګه صحی شی، يعنی لمونځ ئي ونشو

۳-تحريمه به ترنيت له مخه نه وی، يعنی لمړی به نيت تړل کيږی بيابه تحريمه وی که تحريمه له نيت څخه مخکي کړي نوتحريمه نه صحيح کيږي. (مراقی الفلاح)

۴-تکبير تحريمه به په دومره اوچت آواز لوستل کيږی چې پخپله ئي واوری، په دې شرط که کوڼ نه وی. د ګونګي لپاره د ژبی خوځول ضروری نه دی، په ژبه د هغه تکبير ويل معاف دی.

۵-تکبير تحريمه په داسی اندازکې اداکول، چې د خدای ﷻ د عظمت څرګند ونه ورځني کيږی.

۶- د الله اکبر همزه یا «با» به نه لوړه وی، که چیری کوم څوک «الله اکبر الله اکبار» ووایی نو تکبیر ئي درست نه دی.
۷- په الله کې له «لام» څخه وروسته به «الف» وایی. که چیری ئي څوک ونه وایی تکبیریی نه دی صحیح.
۸- د تکبیر تحریمه لپاره بسم الله او یانور الفاظ نه لوستل کیږی. که چیري څوک د تحریمه پرځای بسم الله الرحمن الرحیم اویا بل څه ووایی، نو تکبیر ئي صحت نلری. (درمختار، مراقی الفلاح) او تکبیر تحریمه به قبلی ته مخامخ وائي، که عذر ئي نه درلود. (علم الفقه ص۳۲ ج۲)

په رکوع کې د شاملیدلو پر مهال د تکبیر تحریمه حکم

مسئله: که چیری امام په رکوع کې وی، او یو سړی غواړی چې په رکوع کې ورسره شامل سی، نو مسنونه طریقه دا ده چې د تکبیر تحریمه د ویلو وروسته بل تکبیر ولولی اوبیا رکوع ته ولاړ شی او که فرضاً دا سړی دویم تکبیر ونه ویلای شی، خو رکوع ئي له امام سره پیدا کړه، نو د ده لمونځ صحیح شو او رکعت ئي وموند. (اګرچه سنت طریقه ورځینی پاتی شوه).

(درمختار بر حاشیه شامی ص۴۴۳ توک اول)

د غلیظه او خفیفه نجاست تعریف

نجاست غلیظه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد هر هغه نجاست ته ویل کیږی چې په مردارولی کې ئي دلائل متفق وی. د علماؤو که اختلاف وی پکښی او که نه وی. دا راز که بلوی عامه وی

، يانه وى ، او نجاست خفيفه هرهغه مرداري ته ويل كيږى چې دلائل پکښي متعارض وى.

«ان الامام قال توافقت على نجاسته الادلة فمغلظ سواء اختلف فيه العلماء وكان فيه بلوى أم لا والا فمخفف .

(طحطاوى على العراقى ص ٨٢ هكذا فى فتح القدير ص ٢٠٢ ج ١ وبحرالرائق ص ٢٢٩ ج ١ والشامى ص ٢١١ ج ١)

د صاحبينو په نزد غليظ نجاست هرهغه مردلري ته ويل كيږى چې په مردارو الى كې ئي اتفاق وى د علماؤو ، او پکښي بلوى عامه نه وى ، كه چيرى د علماؤو اختلاف وى او يا عمومى بلوا وي ، نو بيا دې نجاست ته خفيفه ويل كيږي. «وقالا مااتفق العلماء على نجاسته ولم يكن فيه بلوى فمغلظ و الا فمخفف ولا نظر للادلة.»

(طحطاوى على العراقى ص ٨٢ فتح ص ٢٠٢ ج ١ بحرالرائق ص ٢٢٩ ج ١ ش ص ٢١١ ج ١)

د نجاست غليظه حكم

كه چيرى داسي نرعه او يا بهيدونكې غوندي مرداري پربدن يا جامه ولګيږى ، نو كه ديوه درهم په اندازه يا ترهغه كم وى ؛ نو څه باک نلرى معاف دئ له پريمنځلو پرته لمونځ صحى كيږى ليكن نه پريمنځل او داشان لمونځونه كول مكروه دى. پريمنځل ئي ښه كار دى او كه له يوه درهم څخه زيات ځاى خراب كړى نو بيا معاف نه دى. پريمنځل ئي ضرورى دى له پريمنځلو پرته لمونځ نه دى روا او كه چيري غليظ نجاست يو څه سخته لند مرداري پربدن يا جامه ولګيږى لكه د چرګ يا بل دغسى شئ مرداري، نو كه وزن ئي څلورنيم ماشه او يا له هغه څخه كم وي نو بيا له پريمنځلو پرته لمونځ كامل درست دى او كه

چيرې ئې وزن له دې اندازې څخه زيات وی؛ نوله پريمنځلو بغير ئې لمونځ هيڅ صحت نلري.

(کمافی الطحطاوی الکبیری والشامی وایضا فی البحر)

د خفيفه نجاست (سپکې مرداري) حکم

دغه نجاست که چېرې پربدن ياجامه ولګيږي، نو پرکومه برخه چې لګيدلی وی؛ که له څلورمې برخې څخه کم وو، بيامعاف دی. پاک نلري، اوکه پوره څلورمه حصه اوياترهغه زياته وه. نو بيانه بخښل کيږي، پريمنځل ئی ضروري دی، مثلا پرلستوڼي ولګيده، نو د لستوڼي څلورمه حصه شميرله کيږي، داسی نه چې ټول کميس حسابيږي.

(کمافی الطحطاوی ص۸۴ شامی ص۲۱۲ کبیری ص۱۲۵ بحرالرائق ص ۲۳۰ ج۱ تبیین الحقائق ص۷۵ ج۱) محمد طاهر عفاالله عنه مفتی دار العلوم دیوبند)

د لمانځه وختونه: څرنګه چې لمونځ د الله ﷻ د هغو نعمتونو په بدل کې د شکرادا ينه ده چې هره شېبه د بنده په خدمت کې وي، نوله همدې امله د هغه مقتضاء دا ده چې هيڅ کله بايد انسان له دې عبادة څخه وخت خالي تيرنکړي، مګر داچې شرعی ضروري حوائج پوره کړي په هغه کښې حرج راځي. همدا وجه ده چې لږلږ شيبه وروسته په ورځ کې داغه پنځه وخته لمونځونه فرض کړل شويدی: (۱) سهار، ماپښين، مازديګر، ماښام، ماخستن.

د سهار وخت: له صبح صادق (رښتينی سهار) څخه پيل کيږي بياتر لمرختلو پوري دی. (بحرالرائق، درمختار، هدایه، ص۵۰ ج۱، شرح نقایه ص۵۴ ج۱ کبیری ص۲۲۶)

د شپې په وروستنۍ برخه کې د اسمان په څنډه کې یوډول سپینه روښنائي راپورته کیږی ، او بیالږ شیبه وروسته بیرته تیاره جوړیږی سپین والی ورک شی . نودي ته صبح کاذب (دروغجن سهار) ویل کیږی. له دې نه وروسته بیاد اسمان په څنډوکې یو سپین والی راڅرګند یږی ، چې واربه وار زیاتیږی ، هغه ته صبح صادق (رښتینی سهار) ویل کیږی ، له همدې سهاره څخه د لمانځه وخت پیل کیږی بیاتر لمر ختلو پوری.

د نارینه وو لپاره د سهار لمونځ په داسی وخت کې اداکول مستحب دی چې روښنی ښه زیاته شی اوپه لمانځه کې څلویښت ، پنځوس آیتونه تلاوت کړی ، اوله لمانځه نه فارغ سی ، بیاهم دومره وخت لمرختو ته پلتې وی چې که بیرته لمونځ راګرځول وغواړی ، نوبیرته ئې د څلویښت پنځوس ایتونو په تلاوت سره راوګرځولای شی.

مګر د ښځو لپاره همیشه په تیاره کې د لمانځه اداکول مستحب دی او دنارینه وو لپاره یوازی په حج کې په مزدلفه کې د سهار لمونځ په تیاره کې اداکول مستحب دی. (علم الفقه ص۸ ج۲ ، درمختار، مراقی الفلاح ، وشرح وقایه ، ص۱۲۰ ج۱ شرح نقایه ، ج۱ ص۵۲ نسائی شریف ص۵۰ ج۱)

د ماپښین وخت : د غه وخت د لمر د زوال نه پیل کیږی بیاترهغه وخته پوری چې د هرشی سایه د خپلی اصلي سایې نه پرته دوه چنده شی؛ دوام لری. مګر احتیاط دا دی چې د یوه مثل په دننه دننه کې د ماپښین لمونځ اداء کړی شی.

داراز د جمعې د لمانځه وخت هم همدادی. ولی یوازی فرق دا دی چې دماپښین لمونځ د ګرمیو په موسم کې باید په لږ تاخیر سره اداء

شي ، که ګرمي وي کنه ا او ديخني په موسم کې بيا په بيړه او پروخت اداء کول مستحب دي. (شامي، بح، علم الفقه ص۹ ج۱)

مسئله : د هرشئ له اصلي سايې نه پرته که دهغه سايه تردوه مثله ورسيږي نو نور د ماپښين وخت پای ته رسيږي. (هدايه ص۴۹ ج۱، کبيری ص۲۲۷)

د مازيګر وخت : د مازيګر وخت د ماپښين له ختميدلو څخه سمدستي پيل کيږي بياتر لمرلويدلو پوري دوام کوي. دمازيګر د لمونځ اداء کولو لپاره مستحب وخت هغه دي چې په لمر کې دژړوالي نښه نه وي پيداشوي ، خو روښنايي ئي دومره کمه شوي وي چې که ورته وکتل شي ، سترګې دغرمې په څير نه پري سوځي. يعني سړي ورته کتلای شي. له دي وروسته اداء کول ئي مکروه دي ، خود مازيګر لمونځ که په ګرمي کې وي او که په يخني کې په تاخيرسره اداء کول ئي ښه دي ، خودومره ناوخته نه چې په لمر کې ژړوالي څرګندشي ، اوپه کومه ورځ چې وريځ وي ، په دغه ورځ بيابيړه او تلواريکاردي چې وختي اداشي. (درمختار) چې د ساعت ياپه بله وسيله د وخت تعين ممکن نه وي. (علم الفقه ص۹ ج۲، هدايه ص۴۹ ج۱، کبيری ص۲۴۷، کتاب الفقه ص۲۹۱ ج۱)

د ماښام وخت : دماښام وخت له لمر لويدلو څخه پيل بياترهغه پوري چې د اسمان په څنډوکې د شفق سپين والي وي. (بحرالرائق، طحطاوي، حاشيه مراقي الفلاح)

دماښام لمونځ د وخت له پيل کيدلو سره سم اداءکول مستحب دي. هغه وخت چې ستوري په ښه توګه پرآسمان راښکاره شي. د لمانځهٔ

اداء کول مکروه دی. مګر په کومه ورځ چې وریځ وی، که تاخیر وشی ترځو د وخت دننه داخلیدو احتمال ختم شی، او یقین شی چې ماښام داخل دی، نو بیا تاخیر (ځنډول) مستحب کار دی.

د ماښام وخت بالکل د سهار بالعکس دی، هغه داچې په سهار کې لومړی سپیدې (سپین والی) راښکاره کیږی، بیا وروسته سوروالی راځی. خو په ماښام کې اول سرخی بیا سپین والی راځی. (علم الفقه ص۱۰ ج۲)

مسئله: د ماښام دلمانځه وخت له لمرلویدو څخه بیا د شفق ترلویدو پوری دی. (کتاب الفقه ص ۲۹۲ ج۱ و هدایه ص۴۹ ج۱، شرح نقایه ص ۵۲ ج۱ کبیری ص۲۲۸)

مسئله: له لمرلویدو څخه د شفق ترلویدو پوری وخت، د شفق د سپین والی لویدل مراد دی، چې اندازه ئې پاو بالا یوساعت یاله یو څو دقیقو نورهم زیات کیږی. (هدایه ص۷۸ باب المواقیت، تفصیل امداد الاحکام له ص۲۰۱ څخه ترص۲۱۶ ج۱)

مسئله: ماښام له لمانځه نه پرته په څلور رکعتیز لمونځونو کې د آذان او تکبیر ترمنځ دومره فاصله مستحب ده چې یوڅوک خوراک څښاک اویابل دارنګه کوم ضرورت پوره کړای شی. (الجواب المتین ص۱۱۰، میان اصغر حسین رحمة الله تعالی علیه)

د ماښام دلمانځه لپاره که څه وخت وی، خو مناسب نه ده چې سړی تاخیر (ځنډ) کوي. مګرپه روژه مبارکه کې د افطار (روژه ماتی) په وجه تاخیر جائزدی، هیڅ حرج په کې نشته څکه چې وخت هم وی، نو د یو ضروری کارپه وجه که څه هم تاخیر وشی، هیڅ باک نلری.

(ماخوذ، فتاوی دارالعلوم ص۴۵ ج۲، بحواله عالمګیری ص۱۶ ج۱) - (رفعت قاسمی)

دماخستن وخت: دماخستن وخت د شفق ترلرې کېدلو وروسته پيل کېږي، بياترڅو چې صبح صادق نه وي راختلی. (بحرالرائق، فتح القدير)

مسئله: دماخستن لمونځ د شپې د دريمې برخې نه وروسته او يا نيمې شپې تيريدلو نه مخکې اداء کول مستحب دي. له هغه نه وروسته مکروه دي. (شامي)

په کومه ورځ کې چې وريځ وي نو په هغه ورځ دماخستن لمونځ وختی اداکول مستحب دي. (درمختار، علم الفقه، ص١٠ ج٢، هدايه ص٥١ ج١، شرح نقايه ص٥٥ وكتاب الفقه ص٢٩٣ ج١)

مسئله: د ماخستن ترلمانځه وړاندې ويده کېدل، او ترلمانځه وروسته غير ضروري خبرې او مجلسونه مکروه دي. (شرح نقايه ص٥٥ ج١)

ځکه چې په همدې وجه د ماخستن او د سهار پرلمانځه اثر غورځول کېږي. (رفعت قاسمي)

د وترو وخت: وتر د ماخستن ترلمانځه وروسته اداء کېږي، څوک چې د شپې په اخير کې راپاڅېدلای شي، نو مستحب داده چې د شپې په آخيرکې وتر اداء کړي، او که ئې يقين نه وو. چې راپورته کېدای شي نو بياپکارده چې د ماخستن ترلمانځه وروسته ئې سمدستي اداء کړي.

(مراقي الفلاح، درمختار، علم الفقه ص١٠ ج٢، هدايه ص٥٠ ج١، شرح نقايه ص٥٢ ج١ كبيرى ص٢٢٩).

د وترو وخت د ماخستن دلمانځه وروسته ترصبح صادق پورې شته

د اخترونو وخت:

داختر دلمانځه وخت له هغه وخته څخه پيل کېږي چې لمر نبه راپورته شي، او بيادلمر ترزوال پورې دوام لري، د لمر دنبه راپورته

کیدا مطلب دادی چې د لمر هغه ژړوالی پرختمیدوشی ، او د لمر سترګي ته سرې کتلای نشی ، ددې اندازی لپاره فقهاؤو لیکلی چې لمر دیوې نیزې په اندازه راپورته شی.
د اخترلمونځ ژراداکول مستحب دی.
(مراقی الفلاح شامی ، علم الفقه ص ۱۰ ج ۲ هدایه ص ۱۱۹ ج ۱ ، شرح نقایه ص ۱۲۸ ج ۱)

د جمعی دلمانځه وخت: د جمعی دلمانځه وخت همغه د ماپښین وخت دی. (نماز مسنون ص ۵۰۲)

مسئله: د احنافو په نزد د جمعی او اخترونو په لمانځه کې جماعت شرط دی ، په تراویح او د جنازی په لمانځه کې کفایی سنت دی. او په نفل لمونځونو کې مطلقا مکروه دی ، او د رمضان المبارک د میاشتی نه پرته وتر لمونځ په جماعت سره مکروه دی او داشان که په نفلي لمونځوکي تردرې کسان زیات وی نو جماعت مکروه دي. (کتاب الفقه ص ۶۵۰ ج ۱ فتاوی دارالعلوم ص ۳۲ ج ۲)

د تفصیل لپارد داحقر مرتب کرده «مسائل تراویح» او مسائل نماز جمعه » وګوری) رفعت.

مکروه وختونه: «۱» د لمر د راختلو مهال ، ترهغه وخته پوری چې د لمرژړوالی زائلیږی او سرې ورته کتلای نشی. اوداحالت دلمردیوې نیزې په مقدارپورته کیدوسره حاصلیږي
۲ – تیک د غرمی وخت چې لمر زوال نه وی کړی.
۳ – په لمر کې د ژړوالی د راپیداکیدو څخه ترلمر لویدو پوري.
۴ ـ د سهار دلمانځه له اداکولووروسته ترلمرختوپوري
۵ – د مازیګرله لمانځه وروسته ترلمرلویدوپوري
۶ ـ د سهار وخت ، پرته له خپلو دوو سنتو د نور لمانځه لپاره مکروه ده

۷-د ماښام وخت او د ماښام تر لمانځه وړاندې.
۸-کله چې امام خطبې ته پورته شي، که د جمعې خطبه وي، که د اختر وي، د نکاح، حج او یا هم د بل شي خطبه وي.
۹-کله چې د فرض لمانځه تکبیر وویل شي، مګر یوازې د سهار سنت که چانه وو اداء کړي او یقین ئي وو چې د جماعت یو رکعت نیولای شي نو بیا سنت کول مکروه نه دي.
۱۰- د اختر تر لمانځه وړاندې وخت مکروه دي، که په کور کې وي او که په عیدګاه کې.
۱۱-د اختر د لمونځونو وروسته په عیدګاه کې لمونځ اداء کول مکروه دي.
۱۲-په عرفه کې د مازیګر او ماپښین ترمنځ او یا له هغوی وروسته وخت.
۱۳-په مزدلفه کې د ماښام او ماخستن ترمنځ او یا له هغوی وروسته.
۱۴-کله چې د لمانځه وخت ډیر لنډ او تنګ شي، پرته د خپل وخت له فرضو نه، نور لمونځونه مکروه دي. که څه هم قضاء ئي واجب الترتیب وي.
۱۵-د غټو یا وړو بولو او یا خروج ریح د ضرورت په وخت کې لمونځ مکروه دي.
۱۶-د ډوډۍ تر تیاریدلو وروسته، که د هغه طبیعت ډوډۍ ته کیده او ګمان ئي داوو چې که ترمخه لمونځ اداء کړي، بیائي ډوډۍ ته زړه نه کیږي. او دا حکم په ټولو هغو شیانو کې چې صورت ئي داوي؛

يعنى دلمانځه تر ادا ينى وروسته ئې او طبيعت ځينى ماتيږى ، مګر که وخت کم وى نو بيا لمونځ مکروه نه ، بلکه ضرورى دى. (طحطاوى)

۱۷ - له نيمى شپى وروسته دماخستن لمونځ کول.

۱۸ - کله چې ستورى په اسمان کې ډير راڅرګند شى ، بياد ماښام لمونځ کول مکروه دى.

په دغو پورتنيو ټولو وختونو کې لمونځ مکروه دى ، مګر د نومره خبره ده چې په لومړى ، دوهم ، دريم ، پنځلسم شپاړسم وختونو کې ټول لمونځونه مکروه دى. فرض وى که نفل. که واجب ، سجده تلاوت يا سجده سهو هر ډول لمونځ پکې کراهيت لري.

په او دريو وختونو کې که لمونځ شروع هم شى ؛ باطل دى. شروع ئې ناسمه ده. که چيرى سرى لمونځ پيل کړى وى. له دى وختونو يو ورباندى را ورسيږى ، لمونځ ئې باطليږى. ليکن شپږشيان داسى دى چې د هغوى شروع په دى وختونو کې هم صحيح ده.

۱ - دجنازى لمونځ ، په دى شرط چې جنازه په همدې دريو وختونو کې راوړله شوى وى.

۲ - دتلاوت سجده : په دى شرط چې دسجدى آية په همدى دريو وختونو کې تلاوت شوى وى.

۳ - د هغى ورځى دمازيګر لمونځ.

۴ - نفل لمونځ.

۵ - هغه لمونځ چې نذر کړل شوى وى ، خونذرئې په همدى دريو وختونو کې يو وخت شوى وى.

۲ ـ د هغه لمانځه قضاء چې په دغو دريو وختونو کې فاسد شوي وي . يعنى شروع ئې مخکې شوي وي بيا دا وخت ورباندې رارسيدلى وى د جنازې دلمانځه شروع بې له کراهته صحي بلکه افضل ده.
او دتلاوت د سجدې شروع دتنزيهي کراهت سره سره صحت لرى.
او د نورو پاتى دريو شروع کول له کراهت تحريمى سره صحى ده.
مګر داچې هغوى باطل کړل شى بيايې په صحيح وخت کې راګرځول ، واجب دى ، په دوو وختونو کې صرف د لمونځو اداء کول مکروه دى. اوپه پاتى نوروکې يوازې نوافل اداء کول مکروه دى ، فرض او واجب اداء کيدلاى شى. د دوو وختونو لمونځ پريوه ځاى اداء کول صحي نه دى. مګر په دوو وختو کې: يوپه عرفات کې د ماپښين او مازيګر لمونځ د ماپښين په وخت کې. (۲) په مزدلفه کې د ماښام او ماخستن لمونځ په ماخستن کې. (شامى، علم الفقه ص۱۲ ج۲، هدايه ص۵۳ج۱، شرح نقايه ص۵۷ ج۱، کبيرى ص۲۲۸، کتاب الفقه ص۲۹۶ ج۱)

مسئله : که پرچاباندې د سهار په لمانځه کې لمر راوخيژى ، لمونځ ئې فاسد شو او قضا بې هغه وخت راوړى چې لمرښه يعنى يوه نيزه راپورته شى ، ژړوالى ئې ورک شى. (فتاوى دارالعلوم ص۴۷ ج۲، ردالمحتار ص۲۴۶ ج۱ کتاب الصلوٰة)

مسئله : د مازيګرلمونځ که چېرى پوره آدا نشى ، يعنى د لمانځه په شروع کې پرسرې لمر ولويږى ، نو لمونځ دى پسى پوره کړې ، صحت لرى. مګر قصدا به داسى نه کوى. چې داګناه ده.
(فتاوى دارالعلوم ص۲۲ ج۲ بحواله هدايه ص۲۸ ج۱ کتاب الصلوٰة)

داخکه چې په حدیث شریف کې راغلی چې دطلوع او غروب (لمرختو اولویدو) په وخت کې کافران د لمرعبادة کوی ، نو په دې وختونو کې باید لمونځ اداء نشی (مشکوة ص۹۲ ج۱)

د څو مصطلحو الفاظو معنی

(۱) د لمر زوال ، یعنی لمر چې کله د آسمان بلکل پرنیمایی ودریږی ؛ چې هغی ته استواء الشمس ویل کیږی ، اوس که له دی ځایه یعنی د آسمان له نیمائي څخه د غروب پرلوری لږ وخوځیږی ؛ نودې ته زوال افتاب ویل کیږی.

۲-اصلی سایه. دا د شئ هغه سایه ده چې د زوال په وخت کې ئې ولری. دا سایه د هر ښار په اعتبار مختلفه وی ، په یوځای کې لږ زیاته په بل کې کمه او په ځینو کې خو بیخی اصلی سایه وجود نلری. لکه په مکه مکرمه اومدینه منوره کې. د زوال او اصلی سایې د پیژندلو لپاره اسانه تدبیر او لاره چاره دا ده چې یوه سیده لکړه په هواره ځمکه کې ووهله سی ،بیاچې ترکومه ځایه د هغې لکړي سایه ورسیده ؛ پرهغه ځای باندی یوه نښه ودروله شی. بیا وکتل شی چې دا سایه نوره کمیږی او که زیاتیږی ،که چیری پرځای ولاړه وی نو پوهه شه چې غرمه یعنی د استواء وخت دی. اوکه چیری د دانښی سایه له خپلی اصلي سایې څخه د لویدیز پرلور روانه ده نو زوال شوی دی او که دختیځ طرفته میلان لری نو پوه شه چې زوال نه دی سوی.

۳-یومثل ، د هرشئ له اصلي سایې څخه علاوه کدئې نوره سایه د دغې خپلی سایې په اندازه برابره شود ، نو دې ته مثل وائي.

۴-دوه چنده: هغه زیاته سایه چې د اصلی سایې څخه علاوه دوه برابره شی.
۵-مدرک: هغه سړی ته ویل کیږی چې په امام پسی په ټولو رکعتونو کې شریک وی. چې دې ته مقتدی او مؤتم هم ویل کیږی.
۶-مسبوق: هغه چاته ویل کیږی چې یو رکعت یازیات جماعت ورځینی تیرشوی وي له هغه وروسته په جماعت کې شریک شی.
۷-لاحق: هغه چاته ویل کیږی چې له امام سره په لمانځه کې شریک شوی وی له شرکته وروسته بیاټول رکعتونه او یایو څو رکعتونه د څه عذر په وجه ورځینی تیرشی.
عمل کثیر: په لمانځه کې هغه فعل (کار) ته ویل کیږي چې یوبل سړی په دې نه پوهیږی چې د غه کس لمونځ کوی که بل څه، او نور لمونځ کوونکي ئي ټول ځان ته متوجه کړی وی، هغه که په دواړو لاسونو عمل کوی او یاهم بل اندام. یو تعریف ئې داهم دی: چې په لمانځه کې هغه کار چې په دواړو لاسونو ترسره شی لکه لنګوټه تړل او یاداسی بل شی، دې ته عمل کثیر ویل کیږی.
۹-عمل قلیل: هغه فعل چې لمونځ کوونکی ئې پخپل ذهن دیرونه ګنی
۱۰-اداء: هغه لمونځ چې پرخپل وخت اداء شی.
۱۱-قضاء: هغه لمونځ چې پروخت ونشی، بیاوروسته اداء شي، مثلا د ماپښین لمونځ، مازیګر راوګرځول شی. (علم الفقه ص۶ تر۸ پوری ج دویم).

د جماعت (جمع) بیان

څرنګه چې په جماعت سره لمونځ اداء کول واجب یاسنت مؤکد دی، نوله همدې وجی د هغه ذکر د لمانځه د واجباتو او سنتو څخه وروسته اوله مکروهاتو اونورو څخه وړاندی مناسب دی.

جماعت لږ ترلږه دوو سړیو څخه جوړیږي یعني دا چي کم ترکمه دوه سړي یو ځای په یوه امام پسې لمونځ اداء کړي. همدا راز که دوه تنه وي، یو متبوع یعني امام او بل تابع یعني مقتدي شي، لمونځ اداء کړي، د دوی لمونځ هم صحیح او جماعت ورته ویل کیږي، دغه تابع یعني مقتدي که نروي، یا ښځه، غلام وي یا آزاد. او که نابالغ ماشوم وي، مګر د جمعې او نورو لمونځونو کې له امام نه پرته دوه سړي ضروري دي، تردې کم جماعت نه صحي کیږي. (بحرالرائق، درمختار، شامي، د تحصیل لپاره - مکمل او مدلل مسائل نماز جمعه وګوري)

د جماعت د صحت لپاره دا هم ضروري نه ده چې فرض لمونځ به وي، بلکې که نفل وي هم دوه نفره په همدې شکل چې یو تابع او بل متبوع شي، اداء کړي، نو جماعت کیږي، نو رکه دوی دواړه (امام مقتدی) نفل کوي او که یوازې مقتدي نفل کوي. (شامي، علم الفقه ص۶۳ ج۲ کتاب الفقه ص۶۴۹ ج۱)

مګر د احنافو په نزد نفل لمونځ په جماعت سره د دوو درو افرادو جائز دي، خو که تردرې تنه زیات وي بیا مکروه تحریمي دي. (رفعت قاسمي غفرله)

د جماعت لنډ فضائل

د جماعت د فضیلت په باره کې دومره شمېر صحیح احادیث وارد شوي چې که سره یو ځای کړل شي نو ډیر ستر کتاب تري جوړیدای شي، نو دومره احادیثو ته په پام سره دا نتیجه ترلاسه کیږي چې یقینا جماعت د لمانځه د تکمیل لپاره یو اهم شرط دي، نبي کریم ﷺ هیڅکله جماعت پرې ایښی نه دي، ان تردې چې د ناروغۍ په حالت

کې چې مسجد ته د تګ توان يې نه درلود ؛ نو د دوو تنو په مرسته ئي ترمسجده ځان رساوو او په جماعت ئي لمونځ اداء کړ. تارک الجماعة دنبی کریم ﷺ ډیر بد ایسیده حتی چې زړه ئي غوښتل تارک الجماعة سړی ته ډیره سختزینه سزاورکړی. په دی کې شک نشته چي په محمدی شریعت کې دجماعت ډیر زیات اهتمام شویدی چې پکار هم همدادی ، ځکه چې دلمانځه غوندی عظیم الشان عبادت همدا تقاضاده چې ذمکمل ئې هم په همغه شان اهتمام وشی (یعنی هغه چې لمونځ ورباندی کامليږی) جماعة.

۱-نبی کریم ﷺ فرمایی چې : دجماعة لمونځ ترتنها لمانځه ۲۷ درجې زيات ثواب او اجر لری ، (صحیح بخاری ، مسلم)

۲-آنحضرت ﷺ فرمایی چې : تريوازی لمانځه له يوه سړی سره لمونځ کول بهتردی ، اوله دوو سړيو سره يو ځای اداء کول بيانور بهتر دی ، او څومره چې جماعت زياتيږی هغومره د الله تعالی په نزد قدر پيداکوی. (ابوداؤد)

۳-نبی کریم ﷺ فرمایی: څومره وخت چې د لمانځه په انتظارکې تيريږی ، هغه ټول په لمانځه کې شميرل کيږی. (صحیح بخاری)

د ډيرو احنافو په نزد جماعت مؤکد سنت دی. خو د واجب په حکم کې ده. حقيقت دادی چې دا دواړه قولونه درست دی.

(علم الفقه ص ۷۴ ج ۲ مظاهر حق ص ۵۲ ج ۲ ، حجة الله البالغة ص ۲۹۲)

۴-نبی کریم ﷺ فرمایی : جماعت پريښودل ترک کړئ (یعنی دجماعة لمونځ مه پريږدئ) کنه نو الله ﷻ پرزړونو مهر لګوی او تاسی

به له هغوی څخه وګرځي چې خدای پاک غافل ګرځولی دی. (ابن ماجه مىرى ص ٢٦٠ ج١)

٥-آنحضرت ﷺ په يو حديث کې فرمايي: زما زړه غواړي چې ځوانانو ته حکم وکړم چې لرګي راټول کړئ، بيا زه هلته ورشم، هغه خوک چې له عذره پرته په کورکې لمونځ اداء کوي؛ هغوی سره د کورني له خلکو وسوځم. (ابوداؤد شريف ص٨٨ ج١)

تاسو فکر وکړئ، دهغه چالپاره چې لمونځ کوي خومسجد ته نه حاضريږي؛ نبي کريم ﷺ په اورکې د سوځولو خبره کړې، نو دهغه سړي چې بيخي لمونځ نه کوي؛ سزابه ئې څه وي؟ او څومره ستر ګناهکار به وي

(فتاوی رحيميه ص٢١٢ ج١)

په مخکينيو زمانوکې يو ستر بزرګ عالم د جماعة په تيريدلو دومره غمجن کيده چې تر ٧ اوه ورځوپورې به ئې ماتم او غمرازی کوله، اوکه تکبير اولی به څيني فوت شو، نودرې ورځې به ئې غم او ماتم کاوه.

(احياء العلوم ص١٥١ ج١)

له همدې کبله پرمسلمانانو لازمه ده چې پنځه وخته لمونځ په جماعة سره اداء کړي او د تکبير اولی ثواب ترک نکړي. (فتاوی رحيميه ص٢١٢ ج١)

د جماعة نظام ولی مينځ ته راغلی؟

رسول کريم ﷺ پر هر مسلمان چې ناروغی او يا يو بل شرعي عذر ونلري؛ دا لازمه کړي چې په جماعة سره لمونځ اداء کړي. په دې کې

يو خاص حکمت او راز پروت دی. هغه دا چې په دې توګه د امت وګړي هره ورځ بلکه په ورځ کې پنځه ځله د هغوی احتساب وی. مشاهده ،تجربه او پوهه يې زياتيږي. د جماعت د دې نظام په وجه ډېر هغه خلګ چې پخپلو انفرادی کارونو کې پابندي نشی کولای. د پنځه وخته لمانځه پابندي په هغه کې دا کمزوري له مينځه وړي. پردې برسيره د امت د وګړو لپاره دا جماعت يو داسې نظام دی چې د هغوی ډېرې ګټې او فائدې پکې نغښتې دي او د بل په حال احوال خبريدلای شی د روغ ناروغ پوښتنه کولای شی ، ترمنځ ئې اتحاد او اتفاق ټينګيږي. همدا رنګه جماعت يوه هغه وسيله ده چې بندګان تر بل هرځای د الله تعالى قربت حاصلولای شی. او توجه الی الله هلته ډېره زياته وی ،چې په نتيجه کې الله تعالى رحمتونه وربانډی نازلوی او زړونه ئې د خدای په عبادة سره ژوندی کيږی ، او داسې نوری ډېرې بې شميره ګټې پکښې خوندي دي. چې شمېرل ئی ګران کاردی. همدا رنګه د جماعت په برکت سړی له فرښتو سره يوځای کيدای شی چې نبی کريم ﷺ په ډېرو احاديثو کې فرمايلی چې په جماعت کې د خلکو ترڅنګ فرښتې هم برخه اخلی نو دا نيکمرغي صرف د همدې نظام برکت دی.

پردې برسيره د جماعت د نظام په برکت په امت کې يو اجتماعيت تولنيز ژوند پيدا کيدلای شی. د سيمی (محلې) د چم او ګاونډ خلک په ورځ کې پنځه ځله سره يوځای کيږی په هر د جمعه کې يوځل ډېر خلک د جمعې لمانځه لپاره سره يوځای کيږی ، او په کال کې دوه ځله د اخترونو په لمونځونو کې غټې اجتماعګانې جوړيږی او تر

ټولو یا ستره اجتماع د حج ده چې په دې ټولو کې مسلمان یو د بل سره د اخوت او ورورولۍ اظهار کوي او ترمنځ ئې دیري معاملې سره حل او فصل کیږي، یو د بل په حال سره خبریږي، یو له بل سره د خوښۍ او خپګان ټولې پیښې شریکوي. ترمنځ ئې دیني محبت او ایماني اخوة راپیدا کیږي، چې دا د اسلامي شریعت ستر هدف دی او په قرآنکریم او احادیثو کې ئې ځای پرځای تاکید او فضیلت ذکر شوی. (مظاهر حق ص۵۲ ج۲)

د جماعة د وجوب شرطونه

۱- اسلام. پر کافرانو باندې جماعة واجب نه دی.
۲- نارینه به وي. پر ښځو باندې جماعة واجب نه دی. (بحرالرائق درمختار)
۳- بلوغ. پر نابالغو ماشومانو جماعة واجب نه دی. (بحرالرائق)
۴- عقل. پر لیوني، بیهوښه، مست باندې جماعة واجب نه دی. (بحرالرائق، درمختار)
۵- آزاد. پر غلام باندې جماعة نشته.
۶- بې عذره. د شرعي عذر په حالت کې پر سړي جماعة واجب نه دی. خو که ئې اداء کړي؛ بهتر کار دی. په نه اداء کولو سره د جماعة له ثوابه محروم ګرځي. (شامي)

د جماعة د پرېښودلو ۱۵ عذرونه دي.

۱- د لمانځه د صحت له شرطونو څخه د یوه نه موجودیت، لکه طهارت، یا ستر العورة...

۲-تیزباران. (که څه هم په دې وخت کې مسجد ته نه تلل جائز دی؛ مګر بهتره داده چې مسجد ته ولاړشي لمونځ په جماعة سره اداء کړي -- رفعت قاسمی)
۳-ډېره زیاته یخنی. په لاره کې ختمې او یابل دغسی مانع چې د غورځیدلو، یا ناروغ کیدلو او یائي د اضافه کیدلو ویره وي.
۴-مسجد ته په تللو کې د مال او سامان د غلا کیدلو خوف موجود وی.
۵-مسجد ته په لاره کې د دښمن د مخامخ کیدلو خطره وي.
۶-مسجد ته په تلو کې دا احتمال وي چې کوم قرضدار (پوروړی) به درسره مخ شي په داسی حال کې چې پرقرض ورکولو قدرت نلري، که ئي قدرت وو نو بیا ظالم بلل کیږي.
۷-ډیره تیاره وي. لاره نشي لیدل کیدای.
۸-شپه وي او سخت باد او طوفان وي.
۹-د مریض په حفاظت او خدمت مصروف وي، په تګ سره ئي ناروغ ته تکلیف رسیږی، (بل څوک هم غمخوار نه وي)
۱۰- خواړه تیار وي، سږي وږي وي و لمانځه ته په تللو سره ئي اشتها ختمیږی یا یې په لمانځه کي د طبیعت د نه لګیدو ویره وی.
۱۱-د پیشاب اثرات راښکاره شي.
۱۲-د سفر اراده ئي وي، او په جماعة سره وربانديي ناوخته کیږی او قافله ورځینی روانیږی. (د اورګاډي او موټر مسئله باید پر دي قیاس نکړل شي ولی که ډیره مجبوري نه وي، نو په بل کي هم تلای شي)

۱۳-د فقه او دین د نورو کتابونو په لوستلو او تدریس کې مصروف وي، ترڅو چې هیڅ فرصت ورته نه پیداکیږي. په دې شرط چې کله ناکله بې له قصد د جماعة ورځینې پاتې کیږي.
۱۴-یره داسې ناروغې وي چې له امله ئې سړی تګ راتګ نشي کولای، اویا ړوند وي. (علم الفقه ص۸۲ج۲، کتاب الفقه ص۶۸۲ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۸۵ج۳، درمختار ص۲۸۸ج۱)

مسئله: پرهرعاقل بالغ غیرمعذور باندې جماعت واجب دې که یو سړی معذوروي یعنې داسې عذر ورته پیښ وي چې دهغه له وجې مسجدته ولاړې شي اوپه جماعت کې ګډون نشي کولای پرده باندې جماعت واجب نه دې فقهاء کرامو دجماعت پرېښودلو داعذرونه بیان کړي دي. (مظاهرحق ص۵۲ج۲)

د جماعة احکام

جماعة د جمعې او اخترانو په لمونځونو کې شرط دی. (بحر، درمختار)
جماعة د پنځه وخته لمونځونو لپاره واجب دی، که په کوزکې اداء شي، اویاپه مسجد کې، په دې شرط چې کوم عذرونلري، او د جماعة دپرېښودلو ۱۵ عذرونه دي چې مخکې ذکرشول.
جماعة په تراویح کې سنت مؤکد دی که څه هم یو قرآنکریم له جماعة سره پوره شو. او دکسوف د لمانځه لپاره هم جماعة مستحب دی. (بحرالرائق)
د روژې مبارکې په میاشت کې د وترو لمونځ په جماعة سره مستحب دی. له روژې پرته په جماعة سره وتر کول مکروه دی، خوشرط پکې داده چې په مواظبت (پابندۍ) سره وشي، که

مواظبت نه وی ، بلکې کله ناکله ، دوه درې تنه سره یوځای شی ، په جماعة سره وتر اداء کړی ، نو دامکروه نه دی. (د تفصیل لپاره مکمل و مدلل مسائل تراویح باب الوتر وګورئ)

دخسوف په لمانځه کې جماعة

(یعنی چې سپوږمۍ تندر ونیسی) او په نورو نوافلو کې جماعة کول مکروه تحریمی دی.

په دې شرط چې د فرض لمانځه غوندی اهتمام ئې وشی. یعنی آذان و اقامت ورته وشی او خلک په څه ترتیب سره راغونډ کړل شی ، او که دغسی په ناڅاپی ډول دوه درې تنه یازیات سره رایوځای شی دخوف لمونځ یانور نوافل په جماعت سره اداء شی نو څه حرج نشته.

په مسجد کې دوهمه جمع (جماعة)

کله چې په مسجد کې جماعة اداء شی ، بیاد هغه فرض د اداء کولو لپاره دویم جماعة تحریمی مکروه دی ، مګر په دې لاندینو څلورو شرطونو:

۱-مسجد د کلی یامحلې وی. پرعامه لویه لاره نه وی. ۲-اول جماعة د آذان او اقامة په لوړ آواز سره اداشوی وی. ۳-لومړی جماعة هغو خلکو کړی وی چې ددغی سیمی او محلې اوسیدونکې وی. او د مسجد واک او اختیار ئې په ولکه کې وی.

۴-دوهم جماعة هم په همغه شکل چې اول جماعة شوی وی ؛ اداء شی. یعنی آذان اقامت وشی ، امام بیاهم په محراب کې ودریږی ، او داسی نور که چیری په دې څلورو شرطونو کې یو ونه موندلای شی مثلا مسجد د محلې او یاکلی نه وی پرلویه لاره وی ، نو دویم جماعة

نه بلکې دریم ځلورم جماعة هم مکروه نه دی. داراز دانور شرطونه د روا خله. (ردالمختار، علم الفقه ص۹۰-۹۱ ج۲)

مسئله : د کعبې شریفې په دننه او دباندې خواوشاکې اوپرنورو لوړوځایونو او یاخپله د کعبې پرسطح لمونځ صحیح دی. البته د کعبې پربام باندې لمونځ د بې ادبۍ په وجه مکروه دی. (کتاب الفقه ص۲۲۶ ج۱)

مسئله : که چیرې یو مقتدي له امام سره د لمانځه په هره برخه کې شریک شي. جماعة ئي پیدا کړ ، که څه هم په اخیره قعده (ناسته) کې وي ، یعنې ترسلام ګرځولو مخکې ئي په امام پسې تحریمه وویله. که څه هم دولاړې موقع پیدانکړي ، مګر هغه ثواب چې په تکبیر اولی کې ورته وي ؛ هغه نشي موندلای ، د مطلق جماعة ثواب ئي پیدا کړ. (کتاب الفقه ص۲۹۸ ج۱)

مسئله : دغه سړی چې تراول سلام مخکې له امام سره ګډ شوی وي ، جماعة خوئي پیدا کړ. مګر که تکبیراولی ووائي ، بیاتیت شي په امام پسې د رکوع تکبیرهم ووائي ، امام لاله رکوع پورته شوی نه وي ، دي په رکوع کې ورسره شریک شي. نو دغه سړی بیارکعت هم پیدا کړ ، خو که دی تکبیروائي امام راپورته شي له ده څخه رکعت تیر دی. (کتاب الفقه ص۲۰۹ ج۱)

جماعة د لاس ته راوړلو طریقه

۱- که د یو سړي کور مسجد ته نژدې وي ، دی مسجد ته داسې وخت ورسیږي چې جماعة تیرشوی وي ؛ نو کوشش دې وکړي چې بل مسجد ته د جمع په نیت ولاړ شي چې دامستحب کار دی. اودائې هم

خوښه ده چې بیرته کورته راشي. د کور خلک سره راټول کړي، په جماعة لمونځ اداء کړي. (شامي وغیره)

۲ - که یوسړی په خپل کورکې فرض لمونځ اداء کړي، بیاوروسته پوه شي چې همدا فرض هاغه دی په جماعة سره اداء کیږي؛ نودي دی ورسره شریک شي. په دې شرط چې د سهار، مازیګر، ماښام لمونځ نه وي، ځکه چې سهار او مازیګر کې ترفرضو وروسته نفل نشته. او د ده داپه جماعة کې شریک لمونځ نفل ګرځي. خپل فرض ئې تنها اداء شویدی. او د ماښام له فرضو وروسته که څه هم نفل کیدای شي خوفرض ئې بیادرې رکعته دی، چې نفل خودرې رکعته نشته. (شرح وقایه وغیره)

۳ - که چېرې یوسړی خپل فرض لمونځ شروع کړي اوپرځنګ ئې جماعة ودریږي نودی به سمدستي خپل لمونځ پریږدي اوپه جماعة کې به ګډیږي، په دې شرط که چیرې د سهار لمونځ وو، اوده د دوهم رکعت سجده نه وه کړې، اویاد بل وخت لمونځ وو، اوده د دریم رکعت سجده نه وه کړې، که ئې داکړې وو نو بیا پکار دا ده چې لمونځ پوره کړي، سلام وګرځوي. له دې ورسته که جماعة پاتې وو او د ماپښین یاماخستن وخت و، نوپه جماعت کې دې ورسره شریک شي. که د مازیګر، ماښام، یاماخستن لمونځ و، نوموړی صرف د اول یادوهم رکعت سجده هم کړي وه نولمونځ به باطله وي نه، دوه رکعته به پوره کوي بیابه سلام ګرځوي. (علم الفقه ص۹۸ ج۲)

مسئله: که څه هم په هغه مسجد کې چې خلک ډیر جمع کیږي، لمونځ زیات ثواب لري. خو دکلي یامحلې مسجد د سړي لپاره ترهغه

مسجد چې خلک په کې ډیروی ؛ افضل دی ، ځکه چې دغه مسجد پرسړي حق لري یعنی پرهغه ځا چې ددې ځای اوسیدونکې وی. نوپکار ده چې د مسجد حق اداء کړي یعنی لمونځ په بل مسجد کې نه بلکې پخپل مسجد کې وکړي . (فتاوی محمودیه ص١٠٥ ج١٢)

په پابندۍ سره د لمانځه د اداء کولو طریقه

سړی دی په دی خبروکې فکروکړي چې د تارک الصلوة لپاره څومره وعیدونه ذکرشویدی. رسول الله چې دغه سړی ته چې لمونځ نه کوي ؛ کافر ویلی دی (که څه هم په تأویل سره وی) او د دغه سړي به ځای دوزخ وی، له فرعون ، قارون ، هامان اونورو کافرانو سره به راپاڅیږي ، د قیامت په ورځ به لومړی پوښتنه د لمانځه کیږي. د دوزخ د حالاتو په باره کې دی لوستل او اوریدل پیل کړي نو انشاء الله د لمانځه سره د بی پروایی عادت به ختم سی ، او له دی بد مرغی ناروغی څخه به وژغورل شی.

٢-د لمانځه د قضاء کیدلو په وجه دی پرځان یوه اندازه چې نه ډیرکم وی او نه ډیر زیات (مالی جرمانه) مقرره کړي. چې کله لمونځ ورځینی پاتی شی ، نو هغه جرمانه دی پرغریبانو ویشی ، او د اصورت له سنت سره بالکل موافق دی ، او یادی پرځان بدنی جرمانه وټاکې ، چې که لمونځ ورځینی پاتی شی نو دی به نور شل رکعاته نفل اداء کوی. یاداچې د یوه لمانځه په قضاء کیدلو سره به د یوه وخت خوراک څنباک پریږدی ، د دوو وختونو پروخت به دوه وخته خوراک پریږدی ،او داسی نور ... څرنګه چې دایوګران کاردی پرنفس

باندی. نو ان شاء الله چې په همدی توګه به ئي ناروغی ورکه شی.
(اغلاط العوام ص ۶۶)

لمونځ بايد په څنګه خولۍ کې اداء شی؟

مسئله : کومه خولۍ چې يو سړی پرسرکوی اوله هغی خولۍ سره دمشرانو خلکو په غونډواو مجلسوکې ګډون کوی ، نو له همغی خولۍ سره لمونځ اداء کول او جماعة ورکول جائز دی.

مسئله : د څرمنی خولۍ پرسرکول او د څرمنی شی اغوستل مباح دی او لمونځ پکښی روادی.

مسئله : په مساجدو کې چې کومی خولۍ پرتې وي ، هغه که ښه صفا او سپیځلي وي ، نو لمونځ ورسره کول جائز دی. خو که زړې ، خیري اوخیرني وي نو بیادرست کارنه دی. څکه چې يو سړی په نورو وختونو کې دا ډول خولۍ پرسر د ځان عیب ګڼي او پری شرمیږی ، نود احکم الحاکمین ذات په دربارکې په همدې خولۍ او لباس کې دریدل لويه بی ادبي ده.

مسئله: له موزو سره لمونځ اداء کول صحیح دی. (آپ کی مسائل ص۲۱۱ ج۲)
که په موزو کې پونډۍ پټی وی نو هیڅ حرج نشته. (رفعت قاسمی)

مسئله: د کاغذ څخه جوړه شوی خولۍ باندی لمونځ اداء کول صحیح دی خو په دې شرط لکه مخکې چې وويل شول. په همدې خولۍ کې په بازار اونورو ځایونو کې له پرسر کولو څخه د شرم احتمال نه وی. کنه بیا مکروه دی. (فتاوی دارالعلوم قدیم ص۵۷ ج۱)

مسئله : دستمال ، روی مال او دې ورته بل شی پرخولۍ باندی ترل مکروه نه ، بلکې د بګړۍ حکم لری. تړونکی یې مستحق ثواب دی. (فتاوی دارالعلوم ص۹۸ ج۲)

مسئله : په خولۍ باندې امامت ورکول هیڅ ډول کراهت نلري. البته لنګوټه تړل ، بیالمونځ ورکول افضل او بهتر کار دی. مګر په خولۍ هم صحت لري. (فتاوی دارالعلوم ص ۹۷ ج ۴ غنية المستملی ص ۳۳۷)

مسئله : که د پګړۍ ول د سجدې په حالت کې پر تندي راشي او تندی بیاهم پر ځمکه لګیدلای شي ، نو باک نلري سجده صحی ده. که چیری تندی ځمکې ته نه پریږدي نو بیا سجده نه اداء کیږي ، (یعنی په داسې ډول چې له ځمکې سره تندي هیڅ ډول تماس نشي پیدا کولای. هسې خو هاغه دی پړیل کالي هم تندي لګیږي ، خو تماس ئې ځمکې ته رسیږي) . (کبیری ص ۲۸۷)

مسئله: جالۍ لرونکې خولۍ وي یعنې په خولۍ کې داسې سوري وي چې سرترې ښکاره کیږي ؛ نو داکراهت نلري ، لمونځ صحی دی. (فتاوی محمودیه ص ۲۵۹ ج ۱۰)

مسئله : که څوک پوځی خولۍ پرسرکړي لمونځ ورسره صحي دی ، په جامه او خولۍ کې کوم خاص طرز شرط نه دی. بلکې د هرملک او سیمې د خلکو چې کوم ډول عادت او رواج وي ، دهغوی مطابق لباس اغوستل او لمونځ کول درست دی. په حدیث شریف کې راځي: څه چې دی زړه غواړي ، خوره او اغونده مګر له حرامو ځان ساته او تکبر او اسراف مه کوه. (البته پرفوجی خولۍ یانور لباس که دژوندي شي تصویر وي ؛ بیاجواز نلري. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۰۲ ج ۴.)

مسئله : له جالۍ دارې خولۍ سره لمونځ مکروه نه دی ، د نارینه وو هغه جامه چې سوری لري هم صحیح دی ، خو په دې شرط چې د کشف العورة احتمال ئي نه وي.

يعنى هغه حصه (سترالعورة په هرصورت ضروري دى) بايد پټه وى.
مطلب نو له جالى داري جامې سره لمونځ كول جائز دى.
فتاوى دارالعلوم ص١٢٨ ج٢)
مسئله: د عاجزى پخاطر لڅ سرلمونځ كول هيڅ كراهت نلرى.
(فتاوى دارالعلوم ص٩٢ ج٢ ردالمحتار ص ٥٩٩)
مسئله: له خولى پرته لڅ سر كه دسستى په وجه وي، نو لمونځ مكروه تنزيهى دى. كه خولى نلري او يائي عجز اوانكسارى مطلب وى، نوهيڅ حرج نشته. (نماز مسنون ص٢٢٩، بهشتى زيور ص٦۶ ج١، عالمگيرى ص١٠٥ ج١)
مسئله: كه په لمانځه كې له سرى څخه خولى وغورځى څه به كوى؟
د ركوع او قيام په حالت كې غورځيدلى خولى راپورته كول بيا پرسر كول جائز نه دى. عمل كثير كنل كيږى. چې هغه لمونځ فاسده وى.
البته د سجدې په حالت كې كه له سر سره نژدى لويدلي وي اوپه دې حالت كې پرسرشى نو دا عمل قليل بلل كيږى. مثلا په يوه لاس خولى را اوچته شى، دا صحيح ده بلكې افضل ده. لمونځ نه خرابيږى. (فتاوى رحيميه ص٣٧٨ ج٢، شامى ص ٦٠٠ ج١، كبيرى ص٢١٩)
مسئله: له كرتي يا قميص پرته يوازى بنيان، صدرى اوداسى بل شي سره د نارينه وو لپاره لمونځ صحت لري، په دې شرط چې له نامه ترځنګنو پورى برخه ئي لڅه نه وى. (نماز مسنون ص ١٦٨)
مسئله: دلمانځه په وخت كې كه چا جبه (چپنه) اغوستي وى، لاسونه به له لستوڼو څخه باسى د ننه به ئي په چپنه كې نه نغاړى چې دامكروه دى. (فتاوى دارالعلوم ص١٢٢ ج٢ بحواله رد المحتار ص٥٩٨ ج١)

مسئله: که چاغلا شوي جامې په قیمت واخیستې ، لمونځ پکښې درست دی خو قصدا به د غلا جامې نه اخلی ، مناسب نه دی چې سړی لمونځ پکښې اداکړی خو که بیاهم لمونځ ورسره وشی ؛ څه حرج نشته (فتاوی دارالعلوم ص۳۶ ج۴ ، ردالمحتار ص۱۸۰ ج۱)

مسئله: د رشوت په جامو کې لمونځ اداکیدلای شی ، خو له کراهت سره. یعنی هغه سړی ګناه کار دی چې په حرام شی کې لمونځ کوی. (فتاوی دارالعلوم ص۴۸ ج۴ ، بحواله ردالمحتار ص۲۹۲ ج۱)

مسئله: که په لمانځه کې د نارینه ګریوان خلاص وی ، لمونځ نه مکروه کیږی. (فتاوی محمودیه ص۲۷۸ ج۱۰ شامی ص۴۳۰ ج۱ ، امداد الفتاوی ص۲۳۲ ج۱)

مسئله: د نصاراوو کارول شوی (مستعمل شوی) جامې سره لمونځ جائز بلل شوی دی. پرته له ازار او پرتوګ څخه چې په غالب ګمان هغه اکثرا مردار وی. نو د ټولو جامو پریمنځل ښه احتیاط دی ، ولی د ازار اوپرتوګ پریوللل اشد ضروری دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۲۶ ج۴ ،شامی ۲۲۴ ج۱)

مسئله: په هغه جامه کې چې تصویر (انځور) وی ، که د ذی روح (ژوندی) شی وی ، بیالمونځ نه صحیح کیږی اوکه د غیرذی روح وی ، بیالمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۷ ج۱ ردالمحتار ص۶۰۵ ج۱)

مسئله: په خیرنو جامو کې لمونځ صحیح دی ،په دې شرط چې پاکي وي. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۹ ج ۴ ردمحتار ص۵۹۹ ج۱)

مسئله: روپۍ ، نوټ اوپوستی کارډ باندی اکثرا تصویروی ؛ له هغه سره لمونځ اداکیدای شی ، صحت لری ، چې په جیب کې وی اولمونځ ورسره وشی. (فتاوی رحیمیه ص۱۸۲ ج۴ ،بخواله ردمحتار ص۶۰۷ ج۱)

مسئله: ترځنګلو پورته لستوڼي پورته کول، یاداسې کمیس او دریشې اغوستل چې لستوڼي ئې لنډ وي یعنی ترځنګلو پورته وي، لمونځ ورسره مکروه دی، که د اوداسه په وخت کې لستوڼي پورته شوي وي، دی په بیړه په جماعة کې شرکت وکړي. لستوڼي ئې هیرشي، نو ورو ورو دې په لمانځه کې په یوه لاس راکښته کړي. په دواړولاسونو،نه، چې بیاعمل کثیر ګرځي اولمونځ فاسدیږي. اوداهم باید په یاد ولرو چې دګرمۍ په موسم کې ځینې خلک د ګرمۍ په وجه لستوڼي پورته کوي او دا عمل کثیر دی، لمونځ فاسدیږي، له دې څخه اجتناب او پرهیز پکاردی.

مسئله: د پیسو نوټ، پاسپورټ، تذکره، ویزه اوداسې نور- پردی باندی تصویرونه شته، دمجبورۍ او اضطراري حالت په وجه، ګناه یوازې پرهغه چا ده چې دا کارئې کړی، استعمالوونکي ته څه باک نلري. (شرح نقایه ص۱۹۶ ج۱، کبیری ص۳۵۲)

مسئله: که ځنګلی خلاصي وی، لمونځ له کراهته سره اداء کیږي که چیرې د پټیدلو لپاره جامه موجوده وی. که نه وی، بیابې له کراهته صحت لري. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۰ ج۴، عالمګیری ص۱۰ ج۱)

مسئله: که په جیب کې د رشوت پیسي وي، لمونځ ورسره صحي دی. او کراهت هم څکه نه لري چې درشوت ګناه جدا ده، اوکه چیرې د رشوت (حرام مال) په پیسو د بدن لپاره جامې جوړې شوي وي. نوپه دې سره لمونځ مکروه دی. لکه څرنګه چې په مغصوبه ځمکه کې لمونځ مکروه دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۲ ج۴، ردالمحتار ص۲۸۴ ج۱)

مسئله: په کوټ، کورتۍ، دریشۍ کې لمونځ صحي دی، که پاک وی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۴ ج۴ بحواله ردالمحتار ص۲۷۲ ج۱)

مسئله: د وریښمو جامه اوسره په دې خاطر چې استعمال ئې د نارینه وو لپاره په هرحالت کې حرام دی؛ نولمونځ ورسره صحی نه دی. مګر داچې هغوی ناپاک نه دی، نو که لمونځ ورسره وشی؛ اداکیږی.
(فتاوی دارالعلوم ص۱۲۷، ج۴، الاشباه ص۱۹۷ ج۱)

مسئله: په نویو جامو کې چې له بازاره راوړلي شی؛ لمونځ پکښې جائز دی، بی له پریمنځلو هم. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۲ ج۲ بحواله الاشباه والنظائرص۷۵)

مسئله: تمباکو که چیری پخپله ناپاک نه وی اویاناپاک شی پکښې کې نه وی. لمونځ ورسره صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۷ ج۱)

مسئله: مذی، نجس دی، پرکوم کالی یابدن چې ولګیږی، هغه نجس دی، لمونځ ورسره صحت نلری. اود یوه درهم یاکم په دوی کې هم معاف دي، خو پریمنځل ئي په هر صورت بهتر کار دی.
(فتاوي دارالعلوم ص۱۳۲ ج۲ بحواله ردالمحتار ص۱۹۱ ج۱)

مسئله: په لمانځه کې که پایڅې یانوره جامه ترپوندیو لاندی وځړیږی، نو لمونځ ورسره مکروه دی، اوله ثواب څخه محروم ګرځي، له لمانځه پرته هم پوندیو لوځول ضروري دی، په حدیث کې د داسی سړي لپاره سخت وعید ذکر شویدی. فتاوی دارالعلوم ص۱۰۵ ج۴ ردالمحتارص۵۹۸، فتاوی رحیمیه ص۲۸۲ ج۲)

مسئله: په لمانځه کې په وار وار پرتوګ پورته کول ښه کارنه دی، لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۸ ج۴، هدایه ۱۲۴ ج۱)

مسئله: ځینی خلک په لمانځه کې سجدې ته دتګ پروخت، پرتوګ پورته کشوی، اوله سجدې څخه چې راپورته شی، د خپل قمیص د شالمن کښته کشوی، دا ډول حرکت یقیناچې مکروه دی. خودا هم

لیری نه ده چې فعل کثیر وګرځی او لمونځ فاسد شی. نو پرهیز ورځینی لازم دی. (فتاوی رحیمیه ص۳۷۹ ج۴)

اتفاقا که کله داسی وشی، څه باک نلری، خو عادت ګرځول غلط کار دی. (رفعت قاسمی)

مسئله: د لمانځه په حالت کې کرته (قمیص) دریشي، خولۍ اوداسی بل شئ ... که په لمانځه کې وایستل شی او بیا بیرته په لمانځه کې واغوستل شی؛ که په عمل قلیل سره وی یعنی ډیرکار ونه غواړي په یوه لاس ترسره شی او څوک دا ګمان ونکړی چې دی په لمانځه کې دی، کنه؟ نو بیاصحت لری. او که په عمل کثیر سره وشی، نو مکروه ده. او ښکاره خبره ده، چې دغه شیان په عمل قلیل سره نه اغوستل کیږی، نو ځان ساتل ځینی پکاردی.

(فتاوی دارالعلوم ص۱۰۰ ج۴، ردالمحتار ص۵۸۳)

مسئله: که په یوه لاس باندی نه کیږی، نو په لمانځه دي سلام وګرځوي، دغه شیان دي واغوندی او بیادې په لمانځه کې شریک شی. (فتاوی دارالعلوم ص۲ ج۴)

مسئله: که په لمانځه کې د چا پای زار په پښو وی؛ لمونځ یې صحیح دی، خو په دې شرط چې نجاست وربانډی نه وي لګیدلی، که پرلګیدلی هم وی، نو صاف کړل شوی وی، په دې دواړو صورتو کې لمونځ ورسره صحیح دی، مګر داچې په اوس زمانو کې په جماتونو کې فرشونه، قالینی، او کمپلی هواري وی، له پای زار سره ورتلل د هغه د خرابیدو احتمال زیات وی او په عین حال کې بی ادبي هم ښکاری. نو ښه دا ده چې لمونځ ورسره ادا نه کړی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۱ ج۴ ردالمحتار ص۶۱۵ ج۱ باب احکام المساجد)

که پای زار پاک هم وی، بیاهم د مسجد د احترام په وجه بنا

مسئله: که پروبنو اوشګو لمونځ کیږی، نو هلته ...
کارنه دی په عیدګاه کې که پروبنو اوشګو لمونځ کیږی، نو هلته نر
سع ده کیدای شی، مګر احتیاطا دفتنې د مخنیوي په خاطر که هلته
هم په پښه نشی؛ ښه به وی. (فتاوی محمودیه ص۶۷ ج۱۲)

په لمانځه کې پرېږه او جامه لاس تیرول ؟

پوښتنه: امام صاحب دلمانځه له شروع کیدلو وروسته پرخپله ږیره
، مخ او کالیو باندی لاس تیروی؛ د دې حکم څه دي ؟

جواب: امام ته پکاردی چې له دا ډول ناکاره حرکتونو ځځه ځان
وساتی، دا پر کراهت برسیره عمل کثیر ته هم نژدی کیږی چې لمونځ
فاسدوی، او خپل او د مقتدیانو لمونځونه ورخرابوی..

(فتاوی رحیمیه ص۲۷۴ ج۴ کبیری ص۲۳۷).

مسئله: لمونځ په خشوع او خضوع سره اداء کول پکاردی، غلط
حرکات کول مکروه تحریمی دی، بلکه فسادته نژدی کیږی.

(فتاوی رحیمیه ص۲۹۰ ج۷، اغلاط العلوم ص

په لمانځه کې د سرو او سپینو استعمال

مسئله: دنارینه وو لپاره په لمانځه او هربل وخت کې د سرو او سپینو
استعمال ناجائز دی، یوازی د څلورماشو په اندازه د سپینو ګوتمۍ
ګوته کول جائز دی. خوسره په هرصورت حرام دي، له سرو او سپینو
ځخه جوړشوي زیورات او سیکې که په جیب کې وی، او لمونځ
ورسره وشی، څه باک نلری، روادی. همدارنګه که د لاس په ساعت
(ګړۍ) کې یو دیادوې پرزې د سپینو وی او نوره وسپنه وی، نو
حرج نشته. (فتاوی رحیمیه ص۱۸۴ ج۱، آپ کی مسائل ص۲۱۰ ج۳)

سوال: که یو سړی پخپل کورکې لمونځ کوی او ترځنګ ئې نژدی ناپاک کالی پروت وی، د رکوع او سجدې په حالت کې که ئې دا ناپاکه جامه د بدن له یوې برخې سره ولګیږی، نو لمونځ صحت لري کنه؟

جواب: که چیری دغه ناپاک کالی تردومره وخته د ده له بدن سره نښتی وي، چې یو رکن اداء کیږی، نو لمونځ نه صحیح کیږی، خو که له بدن سره ولګیږی او فورا جلاشی، بیا لمونځ صحت لري.
(فتاوی محمودیه ص۲۰۵ ج۲)

مسئله: پای زار که د لمونځ کوونکې په مخ کې پراته وی، لمونځ صحیح دی، خوپکار داده چې پای زار دباندی له نجاست او خاورو څخه پاک شی او بیا مسجد ته راوړل شی. (آپ کی مسائل ص۱۸۳ ج۳)

مسئله: هغه څوک چې په روغتون کې ملازمت یاوظیفه لری، د کارپروخت چې ئې کومی جامې اغوستي وي، پرهغوی طبعا ناپاکي لګیږی، د لمانځه لپاره به هغه جامې بدلوی، نوری به اغوندی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۴۱ ج۲ ردالمحتار ص۲۷۲ ج۱)

دمقتدی او امام په اړه مسائل

۱- مقتدیانو ته پکار ده چې په ټولو حاضرو خلکو کې چې د امامت لپاره څوک ښه مناسب وی، هغه د لمانځه لپاره مخته کړی. که چېری ډیرداسی وګړي حاضر وی چې هغوی د امامت لپاره مناسب وي؛ نو دې بیاهغه سړی چې د ډیرو رایه ورته متوجه وی؛ امام کړی. که داسی ونکړی یعنی مناسب سړی موجود وی خو دوی نالائق مخکې کړی، نودائې سنت ترک کړل چې دا ګناه ده.

ترټولو وړاو مناسب سړی دامامت لپاره هغه څوک دی چې د لمانځه په مسائلو ښه پوهيږي او مسنون قرائت وریادوی په دې شرط چې ظاهرا کوم فسق یافساد پکښې نه وی.
۲- بیا هغه سړی چې قرآن کریم ښه تلاوت کولای شی، یعنی په ښه آواز او د تجوید د قواعدوسره سم.
۳- بیا هغه تن چې ښه پرهیزګار او متقی وی.
۴- بیا هغه شخص چې ښه اخلاق ولری.
۵- بیا هغه شخص چې عمر ئي لوړ وی.
۶- بیا هغه نفر چې ښه جوړ، روغ او ښائسته وي.
۷- بیا هغه سړی چې ښه جامه ئي په تن وی.
۸- بیا هغه سړی چې سر ئي غټ وی.
۹- بیا هغه تن چې د سفرکوونکو په نسبت زیات مقیم وی.
۱۰- بیا هغه شخص چې له اصله آزاد وی.
۱۱- بیا هغه څوک چې له حدث اصغر څخه ئي تیمم کړی وی. د هغه چاپه پرتله چې له حدث اکبر څخه ئي تیمم وهلی وی. په کوم سړی کې چې دوه صفته پیدا شی؛ هغه زیات مستحق دی. ترهغه چي یو وصف پکښې وی. مثلا هغه سړی چې د لمانځه په مسائلو هم ښه پوهیږي او قرآن هم تلاوت کولاشی زیات مستحق دی ترهغه چې د لمانځه په مسائلو پوهیږي خو قرآن نشی سم لوستلای.
۱۲- که د چاپه کورکې جماعت کیږی نو مستحق دامامت کور والاوی، وروسته بیا هغه څوک چې دوی ټول ئي خوښ کړي، په دې

شرط چې کوروالا بیخي جاهل نه وي، یعنی دلمانځه په یوه مسئله هم نه پوهیږي. (درمختار، شامي اونور...)

په کوم جوماتکې چې د مسجد امام موجود وي، بل چاته د امامت حق نشته، خو که خپله دغه امام بل څوک مخکې کړي. بیا څه باک نشته.

۱۳- دخلکو له خوښې پرته هغوی ته امامت ورکول، مکروه تحریمي دي، مګر که د امامت د استحقاق او صاف پکښې ډېر وي، په بل چاکې نه وي. نو بیا څه کراهت نلري. د قاضي او باچا په حضورکې بل څوک د امامت مستحق نه دي (درمختار وغیره...)

۱۴- د فاسق او بدعتي امامت مکروه تحریمي دي، خو که چېرې خدانخواسته له دوی پرته بل داسې څوک پیدا نشي چې امامت وکړای شي، نو بیا څه باک نلري. (درمختار، شامي او نور...)

فاسق هغه څوک دي چې د مناهیو مرتکب شي، یعنی هغه اعمال ترسره کوي چې په شریعت کې منع وي. لکه شراب، چغلي، غیبت او داسې نور... بدعتي هغه چاته ویل کیږي چې یو داسې فعل چې په قرآن، حدیث، اجماع او قیاس کې ئي هیڅ اصل وجود نلري؛ خودی دغه فعل عبادت ګڼي او عمل په کوي. د فاسق او بدعتي ترمنځ توپیر صرف دا دی چې فاسق ګناه، ګناه بولي او ترسره کوي ئي. خو بدعتي بیا ګناه عبادت بولي او عملي کوي ئي. نوځکه بدعتي ترفاسق بد تردی. او دغه په امامت کې لمونځ کول زیات کراهت لري

(محمد رفعت قاسمي غفرله)

١٥- سارايی (صحرائي) ، غلام (که څه هم آزاد شده وی) ، ړوند ، شبکوز (چې په تیاره کې لیدل نشی کولای) او ولد الزنا (حرامی) د دغو اشخاصو امامت مکروه تنزیهی دی ، مګر که چیری دغه خلکو علم او پوهه درلوده ، د خلکو نفرت نه ځینی راته ، نو بیا کراهت نلری . همدارنګه د یو حسین ځوان چې ږیره ئي نه وی راغلی ، او د بی عقل ناپوه امامت مکروه تنزیهی دی. او په هغه چاکې چې یوډول مرض وی او د خلکو کرکه ځینی کیږی لکه په بدن کې سپین داغونه ، فیس او داسی نور.. د هغوی امامت هم مکروه تنزیهی دی.

(درمختار ،علم الفقه ص٩٣ ج٢ هدایه ص٧٧ ج١ ، کبیری ص٣٦٥ ، شرح نقایه ص٨٦)

د دې ډول خلکو امامت ځکه مکروه دی ، چې زیاتره غلام ، سارائي ، او حرامي ته د علم دین د تربیت فرصت نه وی ، غلام (مریی) د خپل بادار په خدمت کې مصروف وی ، سارایی ته کوم استاذ په صحرا کې نه پیدا کیږی ، ولد الزنا د روزني او تربیت څوک نلری ، پردې برسېره له دې خلکو څخه خلک یو ډول کرکه او نفرت هم کوی. (والله اعلم - رفعت قاسمی غفرله)

١٦- د لمانځه فرائضو او واجباتو کې مقتدي ته د امام موافقت کول واجب دی ، مګر په سنتو کې موافقت واجب نه دی. او س که چیری امام شافعی المذهب وی او رکوع ته د تګ په وخت کې لاسونه پورته کوی ، نو حنفي مقتدي ته لاس پورته کول ضروری نه دی ، ځکه چې د لاسونو پورته کول د هغوی په نزد هم سنت کار دی. همدارازد سهار په لمانځه کې شافعی امام قنوت وائي نو حنفی مقتدی ته نه ده ضرور چې متابعت ئي وکړی مګر په وترو کې دعایي قنوت واجب

دي، له دي کبله که شافعي له رکوع څخه وروسته دعايي قنوت ووايي د خپل مذهب موافق نو د حنفي مقتديانو لپاره له رکوع څخه وروسته ويل پکار دي

۱۷ـ د امام لپاره په لمانځه کې غټ غټ سورتونه چې تر مقدار سنت هم ورزيات وي، يا په رکوع او سجده کې ډير ځنډ کول مکروه تحريمي دي، له دې نه ځان وژغورئ، بلکې د مقتديانو د ضرورت او اړتيا خيال وساتئ، په دوی کې چې څومره ضعيف وی د هغه مراعت دی وکړئ.

حتی چې د ډېرضرورت په وخت کې تر مسنون مقدار هم کم قرائت ولولی؛ بهتره ده. ترڅو پر خلکو بوج نشي او د جماعة د لږوالی باعث ونه ګرځي. (علم الفقه ص۹۳ ج۱، بخاری ص۹۷، مسلم ص۱۸۸ ج۱)

په حديث شريف کې راځي چې امام ته ډير تخفيف او آسانی کول پکار ده. حضرت معاذ بن جبل رض يو ځل نبی کريم ﷺ ډير تهديد کړ ځکه چې په لمانځه کې ئي غټ غټ سورتونه ويل او د خلکو خيال ئی نه ساته، يو ځل نبی کريم ﷺ د يوه ماشوم چيغی واوريدلی، سمدستی ئي د سهار په لمانځه کې صرف معوذتين (قل أعوذ برب الفلق او قل أعوذ برب الناس) باندی اکتفاء وکړه. چې د هغه ماشوم مور په لمانځه کې وه. (حاشيه علم الفقه ص۹۲ ج۲)

آيا په امامت کې د نسب خيال ساتل ضروری دی؟

مسئله: په امامت کې د نسب او ذات خيال ساتل ضروری نه دی. افضليت مهم دی. د دې لپاره چې په جماعة کې کمی رانشی او خلک ونه شيندل شی؛ لمونځ کوونکو ته پکار ده چې څوک په دوی

کې افضل وی هغه د امامت مستحق دی ، امام دي کړي ، ترڅو لمونځ په ښه طریقه سره اداء شي ، نو که د داسي یو قوم عالم چې خلک د اقوم ذلیل ګڼي او دا علم د علم او تقوا په لحاظ ترټولو ښه او لوړ وی ، په همدې خاطر ئې خلک ادب او احترام کوی ، نو بیشکه هغه د امامت مستحق دی ، باید امام ئې کړی. هیڅ ډول کراهت د قوم او نسب په وجه نلری ، مګر که خپله د ده اخلاق ناسم وی بیا لمونځ ورپسی مکروه دی.

د سم سړي په امامت کې بله ګټه دا ده چې خلک ورسره رغبت کوی او په جماعة کې زیات ګډون کوی. او افضل امام هغه دی چې په شرعي احکامو تر هرچا ښه خبر وی ، قرآن مجید په قرائت او تجوید لوستلای شي ، متقي وی ، صحیح العقیده وی ، د ښه نسب او کورنی غړی وی. ښکلی او ښائسته وی ، ښه اخلاق ولری ، بدن او جامی ئې ښه سپیځلی وی ، د ده په وجه خلک جماعة کې د ګډون لپاره زړه ښه کوی. (فتاوی رحیمیه ص۲۸ ج۳ بحواله شرح نقایه ص۸۶ ج۱) تکمیل الایمان ص۷۸)

مسئله : که چیري په یوه جوماتت کې دوه امامان مقرر وی ، ترځو یو نیمی خلکو ته لمونځ ورکړی او دا بل امام بیا نورو پاتی خلکو ته لمونځ ورکړی ، نو دا صحیح نه دی. مکروه عمل دی. او که د دې په خاطر وی چې کله دا یو امام ضرورت ولری ، نو دا بل لمونځ ورکړی بیا هیڅ باک نلری. (فتاوی دارالعلوم ص۳۶۹ ج۳ ، عالمګیری ص۵۱ ج۱)

مسئله: ځینی وخت په ځینو جماتونو کې امامان داسی وی چې په خپل لمونځ هم نه پوهیږی ، خو خلکو امام کړی وی او لمونځونه همیشه د ټولو فاسد وی ، نو په دې ګناه کې نه یوازی امام صاحب

بلکې د مسجد هغه خلک هم راګډ دي چې د امام په انتخابولو کې اختیار لري ، صرف یاد څه خپلوۍ او یاد لږو پیسو او یا بله ناجائزه وجه باندې یې هغه مخته کړې وي. (اغلاط العوام ص۶۹)

په داسې حال کې چې د خپلو دنیوي کارونو لپاره خوداسې سړی تلاش کوي چې ډیر تکړه او بااستعداده وي او په هرکار پوهیږي ، خود خدای په وړاندې چې د دوې ټولو په ضمانت الله تعالی ته رسیږي ، هغه داسې سړی ګوري چې په څه نه پوهیږي ، چې دا یوه لویه ګناه او د خدای په وړاندې ستره بې ادبي ده . (محمد رفعت قاسمي غفرله)

مسبوق امام کیدلای نشي

مسئله: د امامت د صحت له شرطونو څخه یو دا ده چې یو سړی په امام پسې په اخیري رکعت یا ناسته کې شریک شي ، د امام له سلام ګرځولو وروسته دې خپل پاتې رکعتونه یا لمونځ پوره کوي ، بل سړی له دباندې راشي په دغه سړي پسې اقتداء وکړي نو دا اقتداء او لمونځ ئې صحت نلري. ځکه یو سړی په یوه لمانځه کې امام او مقتدي نشي کیدلای. دغه دریم سړی به خپل لمونځ جدا کوي.

مطلب دا چې په مسبوق پسې اقتداء قطعا نه صحیح کیږي که د یوه رکعت مسبوق وي ، که د ډیرو. مګر دومره کیدلای شي ، چې یو سړی وروسته راشي ، د ډیر ازدحام په وجه په اخیري صف کې ودریږي او د امام په هیڅ حرکت او آواز نه خبریږي ، نو دې د بل کوم څنګ لوري مقتدي حرکت ته ګوري او خپل لمونځ ته دوام ورکوي ، خو دا داسې نه ده چې دا اقتداء په نیت ده. که د اقتداء په نیت وي لمونځ ئي خراب دی. (کتاب الفقه ص۶۵۹ ج۱).

سوال :...: که چیرې په کوم ښارکې جماتونه ډیر خو لمونځ کوونکي کم وي ؛ په هر مسجد کې خلک د امام د مقررولو توان نلري ، نوکه د دغو مساجد وټول یایو ځه خلک سره یو ځای شي ، نور مساجد بند کړي او یو مسجد آباد کړي دا به څنګه وي ؟

جواب :...: بهتره خو داده چې ترخپله وسه ټول جوماتونه آباد وساتل شي ، که څه هم خلک پکې لږلږ وي ، خو د مجبورۍ په صورت کې داسي کولای شي ، څه باک نشته .(فتاوی دارالعلوم ص۶۷ ج ۲ بحواله ردمحتار ص۶۱۲ ج ۱ باب المساجد)

مسئله : که چیرې مقتدي پروخت مسجد ته راونه رسیږي نو امام ته پکار دي چې ترآذان او اقامت وروسته تنها خپل لمونځ اداء کړي ، د جماعة ثواب ده ته رسیږي او د هغه مسجد حق اداء کیږي ، د ترک جماعة ګناه د مقتدي ده.

مسئله : په کوم مسجد کې چې آذان وشي ، نو په همغه مسجد کې لمونځ اداء کول پکار دي ، بل مسجد ته به نه ځي. (فتاوی دارالعلوم ص۴۳ ج ۳)

مسجد ته د داخلیدلو پروخت سلام اچول

مسئله : که په مسجد کې خلک په لمانځه ، وظیفه ، تلاوت او نورڅه مشغول نه وو ، نو سلام واچوئ ، اوکه مصروف وو یا څوک بیخي موجود نه وو ، نو چې کله داخلیږئ مسجد ته په دې ټکو سلام ووایاست: «السلام علینا من ربنا وعلی عبادالله الصالحین» (فتاوی عالمگیری ج۵)

اوکه څیني فارغ ناست وو اوله هغو مشغولو خلکوځخه دومره لیرې وو ، چې په سلام اچولو یا د هغوی په ځوابولو سره نوروته کوم تکلیف نه رسیدی ، نو د سلام اچولو اجازه شته ، کنه نو نشته.
(فتاوی رحیمیه ص۴۱۳ ج ۲)

مسجد ته د ننوتلو او وتلو پروخت دعاء

آنحضرت ﷺ فرمايي: له تاسو نه چې کوم يو مسجد ته ننوزي نو دا دعاء دې لولی «اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِکَ مِنْ فَضْلِکَ»
او چې کله له جمات څخه راوزئ نو دا دعاء وایاست: «اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ» (مظاهر حق ص۶۰۲ ج ۱)

مسئله: په حديث شريف کې راغلی چې نبی کريم ﷺ تهديدا وفرمايل چې: ماداسی اراده کړی، کوم خلک چې جمات ته دلمانځه لپاره نه راځي دهغوی کورونو ته اور واچوم، ولی د ښځو او ماشومانو په وجه مې داسی ونکړل. له دې نه معلوميږی چې اوس اور وراچول روانه دی، ځکه چې نبی کريم ﷺ ذاکار کړی نه دی.
نو د جماعة پر پريښودلو که قصدا مواظبت کوی بلاعذر، داګناه کبيره او د فسق موجب ګرځي. مګر که يو يادوه ځله داسی وشی، ګناه کبيره نه ده. (فتاوی دارالعلوم ص۵۸ ج ۲، بحواله مشکوة ص۹۵ ج ۱، ردالمحتار ص۵۱۵ ج ۱ باب الامامت)

مسئله: له يو شرعي عذره پرته پر کور لمونځ کول او مسجد ته نه تلل ډيره ستره محرومي او د اسلام د ستر شعار پريښودل دی. په حديث شريف کې د دې لپاره سخت وعيد ذکر شويدی. په يو حديث کې د هغه لمونځ ناقابل اعتبار بلل سوی دی.
(فتاوی محموديه ص۱۸۶ ج ۲ بحواله ابوداؤد شريف ص۸۱ ج ۱)

له امام سره د دښمنۍ په وجه جماعة پريښودل

پوښتنه: يو مؤذن چې له امام سره څه دښمنی او خفګان لری، له همدې وجي ئې په هغه پسی لمونځ پري ايښی. نو د ده خپل لمونځ جدا صحت لری کنه او آذان ئي مکروه دی که څنګه؟

جواب :ـ : د غه د جماعة د پريښودلو لپاره قطعا غلط او بي بنياده ده. د جماعة پريښودل عادت گرځول يو فسق دی ، او د فاسق آذان مکروه دی. اعاده (راگرځول) ئې مستحب ده . (فتاوى دارالعلوم ص۴۵ ج۲ بحواله شلعی ص۲۶۵ ج۱)

(که څه هم د ده هغه لمونځ چې جدائي کوي، بې له جماعة جائز دی ، مگر د جماعة له ثواب څخه محروم گرځي ، او د جماعة د پريښودلو گناه بيله ده. (رفعت)

مسئله : د فقهې په کتابونو کې راځي ، که چيری امام کوم قصور ونلری ، نو د مقتديانو ناخوښی کوم اغيزنلری ، د امام لمونځ بی له شکه صحت لری ، گناه صرف پر مقتدي ده ، او که امام قصور او نقصان ولری ، او مقتدی په همدې وجه ځينی ناراضه وی ، نو بيامواخذه پر امام ده ، او د ده امامت مکروه دی. او د حديث مورد هم (من تقدم قوما....) که چيری د غه امام وی چې خلل او نقصان پکښی وی ، کنه نو مقتدی گناهکار دی چې ناحقه ناراضه دی. (فتاوى دارالعلوم ص۱۰۲ ج۳ بحواله ردالمحتار ص۵۲۲ ج۱.)

لمونځ ماتول په کوم وخت کې جائزدی ؟

د لمانځه ماتول کله حرام ، کله مستحب ، کله واجب او کله بيا مباح وی. که داسی کوم عذرنه وی ، نو بيائي ماتول حرام دی. او په جماعت کې د گډون پخاطر مستحب دی. او که کله مال دضائع کيدو په حال کې وی ؛ نو د لمانځه ماتول مباح دی ،او د ځان دژغورلو په وجه واجب دی. (درمختار ص۶۴۹ ج۱)

پوښتنه:...: دمحلی په مسجد کې که دلمانځه پوره نظم او ترتیب نه وی نوپه بل لیری مسجد کې د جماعة لمونځ اداءکول څنګه دی ؟

جواب : د خپل مسجد حق د نورو په پرتله زیات دی نوښېري ته پکارنه ده چې خپل مسجد پرېږدی او بل مسجد ته ولاړشی ، په شامی کې راغلی چې که سړی تنها هم شی ، نودغه سړی دې آذان وکړی او پخپل مسجد کې دې لمونځ اداء کړي ،بل مسجد ته دې نه ځی.

«لان له حقا علیه فهو یؤدیه » . (فتاوی دارالعلوم ص۳۲ ج۳ بحواله ردمحتار ص۶۱۷ ج۱)

که چیري ئي دخپل مسجد د ورانیدلو خطره نه وی ، بیابل مسجد ته په تګ کې څه حرج نشته. (رفعت)

مسئله: که دوه مسجدونه یوځای وو ، نوپه دانږدې مسجد کې لمونځ اداء کول پکاردی. چې دانږدی جمات پرده حق لري. او ثواب هم په دې کې زیات دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۱ ج۴ ، بحواله ردالمحتار ص۶۱۷ ج۱ ، کتاب الفقه ص۴۶۲ ج۱)

که پخپل مسجدکې له یو سړي نه جماعة تیر شی؛څه به کوی ؟

مسئله : که په یوه مسجد کې له سړی څخه جماعة تیرشوی وی ، او امید لري چې په بل جماعة کې ئي موندلای شی ، نو پکارده چې هغه بل جماعة ته ولاړشی ،او جماعة اداء کړی ، چې داموجب دثواب ګرځی ، د امت مخکنیو بزرګانو به همداسی کول چې په یوه جومات کې به جماعة ځینی تیر شوی و ، نو په بل جوماټ کې به ئي تلاش کاوه . (فتاوی دارالعلوم ص۶۵ ج۳ بحواله ردالمحتار ص۵۱۸ ج۱، علم الفقه ص۹۸ ج۲ امداد الاحکام ص۵۰۰ ج۱)

مسئله: سړی که مسجد ته ورسيد هلته ورته معلوم سو چې جماعة شوی دی. نو واجب نه ده چې بل مسجد ته به سمدستی روانيږی، (مګر که غواړی چې ولاړشی؛ تللای سی. منع نه ده.)
(فتاوی رحيميه ص۲۲۲ ج۲، بحواله مسائل ارکان ص۵۵ آپ کی مسائل ص۲۲۲ ج۳)

مسئله: که يو شيعه مذهب سړی دسني مسلمانانو په جماعة کې ګډون وکړی؛ او خلکو ته په لمانځه کې کوم خلل او نقصان نه راځي، نو باک نلری، خو په راتلونکې کې به هغه پوه کوی چې ياخو توبه وباسی رافضی به نه وی، سنی کيږی به اويابه دسنيانو په جماعة کې شرکت نه کوی، اوهغه به پخپل قبرستان او هديره کې نه دفن کوئ، (فتاوی دارالعلوم ص۶۲ ج۳)

مسئله: شيعه د سني په مسجد کې او سنی د شيعه په جومات کې لمونځ اداء کولای شی، لمونځ ئي صحت لري.
(فتاوی دارالعلوم ص۹۸ ج۲، مشکوة ص۵۱۲ ج۱)

مسئله: د لوبو په ميدان کې (لکه فتبال، کرکټ، واليبال او نور...) عامه لاره کوځه، دلمبيدلو ځای، د اوښانو اونوروعامو ژويو (حيواناتو) دحلاليدلو (مذبح) په ځاي کې لمونځ مطلقا مکروه دی. که څه هم له نجاسته پاک وی. (کتاب الفقه ص۲۲۰ ج۱)

په مسجد کې به په جماعة کې څنګه خلک اشتراک نه کوی؟

مسئله: کوم سړی چې په راتګ سره ئي دخلګو امن ته تاوان رسيږی، د شر او فساد موجب ګرځی، لمونځ کوونکو ته تکليف او ايذاء رسان وی، او په جماعة کې راپارونکې اعمال ترسره کوی، نو د اډول سړی له مسجد څخه منع کول د شريعت د قانون سره سم عمل

دی. پـه دې اړه ډېر آثـار او احادیث او دفقهاؤو اقـوال موجـود دي. رسول کریم ﷺ هغه څوک چې خامه اوږه او خام پیازبه ئي خوړلي وو ؛ له مسجد څخـه منع کړیدی ، بلکـه ایستلي دی ، دا راز نبی کریم ﷺ هغه ښځي چې خوشبوبه ئي لګولي وه ؛ د فتنې د رامنځ تـه کیدو د وېري له امله؛ له مسجد څخه منع کړیدي ، همدارنګه نبی کریم ﷺ هغـه چاتـه چې د لمـونځ کـوونکي پـه مـخ کـې تیریـدی اود هغـه پـه خشوع او خضوع کې نقصان رساوه ، ویلی دی چې و «دریږه» دغـه رنګه آنحضرت ﷺ هغه سړی چې په مسجد کې ئي د قبلې پـه لـوری ناړې تو کړي وي ؛ لـه امامت څخـه معزول کړ او هغـه ئې د خدای او رسول مؤذی وګانه ، فقهاؤو هم داځرګنده کړی چې د خامو پیازو او خامي وږی خوړونکې اوهغه څوک چې لـه خولې بـوی ځي ، او فیث سړی جذام ، او مـاهی خرڅوونکی. لنده داچې هر هغـه څوک چې مؤذی (ضرر رسونکی) وی کـه څـه هـم پـه ژبـه دغـه زیـان رسوی ؛ لـه جوماته بندول ئي ضروری دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۵۵ ج۳ بحواله مسلم شریف ص۲۰۹ ج۱ مشکوة شریف ص۹۶ ج۱)

مسئله: هغه څوک چې د خولې مرض لري یعنی د خولې ئې بوی ځی ؛ په جماعة کې دي شرکت نه کوی ، جدا دي لمونځ وکړی.

(فتاوی دارالعلوم ث۳۲ ج۳ ردالمحتار ۶۱۹ ج۱)

مسئله: د جذامی لپاره حکم دادی چې مسجد ته رانشی او په جماعة کې ګډون ونکړی ، پـه کـور کـې دي یـوازی لمونځ وکړی د جماعـة د پرینښودلو ګناه هم پرده باندی نشته ، بلکی په جماعة کې ګډون ئي

مکروه دی. یعنی له ده څخه جماعة او جمعه ساقط دي. او هغه خلک چې له جذامي څخه ځان ساتی هیڅ ملامتی او ګناه ورباندی نشته.
(فتاوی دار العلوم ص۱۴ ج۳ بحواله ردالمحتار ص۶۱۹ ج۱)

مسئله: مجذوم ته پر کور باندی لمونځ کولو کې هم د جماعة ثواب رسیږی، چې هغه په زړه کې د جماعة سره شوق او مینه لري.
(امداد الاحکام ص۵۰۲ ج۱)

مسئله: مسلمان حلال خوربنګي، په مسجد کې په جماعة سره لمونځ اداء کولای شی او د مسجد د حوض په اوبو هم اودس کولای شی. (فتاوی دار العلوم ص۲۸ ج۲)

ولی مسجدته د راتلو پروخت به دومره خیال ساتی چې پاکې جامی به اغوندی، جسم به پاکوی بدبویي او ناپاکې به ئي نه پرجسم وی او نه پر کالیو، چې د دیولو خلکو لپاره ضروری ده. (رفعت)

له چاڅخه چې د جماعة لمونځ تیر شی لمونځ به چیرته کوی؟

پوښتنه: له کوم سړي چې جماعة تیرشوی وي، دی به خپل لمونځ په مسجد کې اداء کوی. که په کورکې، کوم یو بهتردی؟

جواب: که د باندی چیری جماعة کیندلای شی، خو هغه بهتره ده. او کنه نو د فرضو لپاره مسجد تر هرځای افضل دی.

(فتاوی دار العلوم ص۵۴ ج۳، بحواله ردالمحتار ص۳۶۷ ج۱)

مسئله: که کله اتفاقا جماعة په مسجد کې له سړي څخه تیرشی، نوبیادې په کور کې ماشومان او ښځینه راټول کړی، جماعة دې وکړی، لکه چې په حدیث کې راغلی نارینه وو ته په کورکې نه دی پکار چې جماعة وکړی، بلکی مسجد ته به راځي او په جماعة کې به

شرکت کوی ، خوکه کله ناڅاپه جماعة ورڅخه تیرشی نوبیاکولای شی ، کورئي اداکړی په هغه صورت چې ذکرشو ، داسی نه چې د مسجد جومات پرېږدی او په کورکې جماعةوکړی ، داد سنت خلاف دی. (فتاوی دارالعلوم ص۴۲ ج۳ بحواله ردالمحتار ص۵۱۸)

مسئله : د هغه چالپاره چې تنهاپه کوریامکان کې لمونځ کوی ، د نژدی مسجد آذان او اقامة ورته کافی دی ، مګر کول ئي ورته بهتردی .او د ښځو لپاره مکروه دی. (فتاوی رحیمیه ص۱۶ ج۲ ، نورالایضاح ص۶۱)

مسئله : که یوسړی له امام سره د مخاصمت(دښمنی) په وجه جلا لمونځ کوی په داسی حال کې چې جماعة هم شروع وی ؛ نو د دې سړي لمونځ کیږی ، خوګناهکار او فاسق دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۵۷ ج۳ بحواله ردمحتار ص۵۱۶ ج۱ باب الامامة)

یوازی سړی به لمونځ په کور کې کوی که په مسجد کې ؟

پوښتنه : زید په مسجد کې یوازی لمونځ کوي او بکرپه کورکې یوازی لمونځ کوي. د دوی دوو ترمنځ په ثواب کې څه فرق شته کنه؟

جواب : هغه سړی چې د جماعة لمونځ پرېږدی ، په کورکې ئي لمونځ عادت وی ، او د جماعة پر پرېښودلو باندی مصرهم وي ، نو د غه سړی فاسق دی. آنحضرت ﷺ فرمایی: که چیری د ماشومانو او ښځو خیال نه وای زا سره نو مابه د هغه چا کورته اوراچولی وو ، چې مسجدته راشی خولمونځ په جماعة نه کوی ، نو دغه سړی چې په مسجد کې تنها لمونځ کوی او د جماعة پروا نه کوی ، او یاپه کورکې د لمانځه عادي وی.

دغه دواړه فاسق او د حرام کار مرتکب دي. په دوی کې یوه ته دا نشته چې دا د زیات ثواب مستحق دی، یادا، دواړه ګناهکار دي.
دواړو ته لازمه ده چې د جماعة پابندي وکړی، نه په کورکې یوازې لمونځ وکړی او نه په مسجد کې، او که د مجبوری په وجه اتفاقا کله جماعة فوت شی نو دا بیا جدا خبره ده.
(فتاوی دارالعلوم) ص۷۱ ج۳ بحواله مشکوة ص۹۷ ج۱ باب الجماعة وغنیته ص۲۷۴)

په کورکې مستقل جماعة کول

مسئله : د همیشه لپاره مسجد پریښودل او په کورکې جماعة کول جائزنه دی، بلکې معصیت دی، او پردی ترک جماعة باندی اصرار کول بیا فسق دی. د داسی سړي شهادة هم بیا نه قبلیږی.
(فتاوی دارالعلوم ص۳۷ ج۳ بحواله ردمحتار ص۵۱۸ ج۱)

په حرامو پیسو جوړشوي مسجد کې لمونځ څه حکم لري؟

مسئله : د زانیې ښځي جوړشوی مسجد، د مسجد حکم لري، تردې چې بیا په هغه کې د وارثانو حق منقطع کیږی، د هرچا تصرف پکښې ناجائز او خلاف وقف دی، نه هغه نړولای شی، اونه داسی چې خرچ ئي کړي اوقیمت ئې په بل مسجد کې ولګوی لیکن دومره خبره چې په دغه مسجد کې د لمانځه پوره ثواب نه مونډل کیږی، صرف فرض له ذمې څخه ساقطیږی. (امدادالاحکام ص۲۴۱ ج۱)
مسئله : په دغه مسجدکې لمونځ کیږی، په کورکې تریوازی لمانځه دلته په جماعت سره لمونځ کول بهترکار دی. (فتاوی دارالعلوم ص۷۵ ج۳)
مسئله : په غصب کړی شوې ځمکه کې لمونځ کیږی، مګر که سړی پوهیږی هم چې دامغصوبه ده او مجبوري هم نه وي نو لمونځ پکې

اداء کول له کراهت څخه خالی نه دی. که له خپل (اصلی مالک څخه اجازه وغوښتله شی ، ښه به وی.)

(فتاوی رحیمیه ص۳۷۵ ج۲، عالمگیری ص۶۹ ج۱، طحطاوی ص۲۰۹ ج۱)

که مسجد لری وي ، د جماعة حکم څه دی ؟

مسئله : که چیری یوبازار د یو میل په اندازه پراخ وی او په دې کې صرف یو مسجد وي نو پرتولو باندی د جماعت لمونځ سنت مؤکد دی . خو که څوک یوعذر ولری مثلا ، ناروغ وي ،باران ، ختمي ، یخنی او داسی نور... څه وي ؛ بیاد جماعة پرینبودل درست دی ، څه باک نلری.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۶ ج۲ بحواله عالمگیری ص۷۷ ج۱)

دافطار (روژه ماتی) په وجه جماعة ځنډول څنګه دی ؟

پوښتنه : د روژه ماتی پروخت ځینی خلک ژرخان فارغ کړي او جمع ودروی ، خوځینی بیاپرخوراک څښاک نورهم وځنډیږی ، بیابل جماعة کوي ، د اجماعة څنګه دی ؟

ځواب : بهتره دا ده چې په لمړي جماعة کې ورسره شریک شی ، هلته جمع تیریږی اوهلته دوی په خوراک څښاک بوخت وي ، داسم کارنه دی «الابضرورة شدیدة» او دا نورو خلکو ته هم پکار ده چې لږنوره وقفه اوانتظار وکړی ، جماعة ترهغوپوری ونه دروي ،ترڅودانوز فارغ شی ، اوپه ګډه جماعة وکړي او دا انتظار به دومره هم نه کويٓ چې وخت مکروه ته ورسیږی. (فتاوی دارالعلوم ص۴۷ ج۲ ، بحواله عالمګیری ص۵۳ ج۱)

مسئله: فقهاء کرامو لیکلي چې کله ناکله دي امام د یو شریر سړي مراعت هم کوی ، چې کله د یو فساد او شرارت اندیښنه ځینی وینی.

(فتاوی دارالعلوم ص۶۸ ج۲ بحواله رد المحتار ص۳۷۲ ج۱)

په کوم مسجد کې چې امام او مؤذن معلوم نه وی

مسئله : په داسې مسجد کې چې امام ، مؤذن او جماعة معلوم نه وی ، دویم جماعة پکښې جائز دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۵۱ ج ۳ بحواله ، ردالمحتار ص۵۱۶ج ۱ ، فتاوی محمودیه ص۱۰۵ ج۱۲)

مسئله : په جومات کې د جماعة له کیدلو وروسته ، په کور ، ځنګل یاصحراء کې په جماعة لمونځ بهتردی. هلته آذان او تکبیر ویل افضل دی. خویوازی تکبیر هم کافی دی، که څوک په کور کې لمونځ کوی نو دغه له کورسره د محلی د مسجد آذان ورته کافی دی. که جماعة کوي نویوازی تکبیر کفایت کوی ، د مسجد په منځ کې حوض ، او یا د جومات بام دا ټول د مسجد په حکم کې دي داوداسې او داسې نور ځایونه چې له مسجده خارج ګڼل کیږی ؛ په هغوی کې دویم جومات درست دی.

(فتاوی دارالعلوم ، ص۵۲ ج ۳ بحواله عالمګیری ص۵۲ج۱ امدادالفتاوی ص۲۶۲ ج۱ امداد الاحکام ص۹۹۷ج۱)

مسجد ته د ښځو تلل

مسئله : په اوسنی زمانه کې ، بلکی له ډیرپخوا څخه د ښځو ګډون په جماعة کې ، په جومات او یاعیدګاه کې ممنوع او مکروه ګڼل شویدی ، د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په زمانه کې منع کړل شوې وو . (فتاوی دارالعلوم ص۴۹ ج۳ بحواله مسلم شریف ص۱۸۳ ج۱ باب خروج النساء الی المساجد)

په کورکې له ښځینه وو سره جماعة کول څنګه دی ؟

مسئله : د ښځو جماعة تنها مکروه تحریمي دی ، یعنی داسی چې امام او مقتدی دواړه ښځینه وی ، هغوی دې جماعة نه کوی ، بلکی سړی دې لمونځ ورکوی خو هغه هم پدې صورت کې چې کله اتفاقا

په مسجد کې جماعة تیرشوی وی ، نو په کورکې دې ماشومان او ښځې سره راټول کړي او جمع دې وکړي ، داسې نه چې د مخه جماعة ورته پریږدی ، او پرکورونو ئې شروع کړی ، داسنت طریقه نه ، بلکه ناوړه طریقه ده ، لکه چې علامه شامی رحمه الله یوه قصه نقل کړی چې یو خل آنحضرت ﷺ یو قوم ته د هغوی د جوړې روغې لپاره ورغلی وو ، چې بیرته راته ؛ جماعة ځینی تیرشوی وو ، نو هغه خپل کورته راغی او اهل وعیال ئې راجمع کړل په جماعة سره ئې لمونځ اداء کی ، له دې نه ثابته شوه چې په کورکې جماعة په داسې حالت کې کیدلای شی چې د مسجددا ځینی تیرشوی وی ؛ د څه عذر له امله. (فتاوی دارالعلوم ص۴۲ ج۱ بحواله مشکوة ص۹۵ ج۱ ردالمحتار ص۵۱۸ ج۱)

مسئله : میړه او ښځه که پخپل کورکې جدا جدا لمونځ کوي ، هیڅ کراهت نلري، په دې کې دا شرط هم نه دی چې یوه یادوې لویشتې ځمکه فاصله به ئې ترمنځ وی. (آپ کی مسائل ص۲۲۲ ج۳)

مسئله : له خپلی میرمنې او محرمی ښځې سره په جماعة لمونځ جائز دی هغوی دی شاته و دریږی او محرمی ښځی ته د پردی اړتیا هم نشته ، که چیري ئی جماعة کاوه ، نو ښځه دې برابره نه ورسره دریږي بلکې په یوبل جدا صف کې دی شاته ودریږی . (آپ کی مسائل ص۲۲۸ ج۳) .

پرهغه مصلی لمونځ کول چې تصویر لری ؟

مسئله : پرمصلی که د کعبې مکرمې تصویر وی ، نوپرهغه باندی د لمونځ کولو شرعا هیڅ حرج نشته ، نه پرهغه باندی د کالی اچولو اړتیاشته ، نه د هغه د خرڅولو ضرورت شته ، او په دې سره د کعبې شریفې بی عزتي هم نه راځي ، ځکه چې تصویر د عین شئ حکم نلری

،بل داچې په خانه کعبه کې چې لمونځ کيږی ، نو هلته هم د ځمکې ځندی کيدل له پښو څخه د تعظيم منافی نه ده . (فتاوی محمودیه ص۱۱۱ ج۲ بحواله [illegible] ص۳۱۲)

په جماعة کې صف بندی ضروري ده ، د لمانځه لپاره چې د جمع نظام په دی شکل خاص کړل شوی ؛ د دې لپاره رسول کريم ﷺ دا طريقه ښودلي چې خلک دې صفونه جوړ کړي او يودې له بل سره برابر او سيده ودريږی ، ښکاره خبره ده چې د لمانځه غوندی ټولنيز عبادة لپاره ، دا ډيره زړه پوری او سنجيده صورت غوره کړل شوی دی. بيائي د هغه د تکميل لپاره آنحضرت ﷺ پردې ډيرتاکيد کړی ، چې صفونه بلکل سيده ودروئ ، نه يو شاته وی او نه مخته ، لومړی دې اول صف پوره کړي او بيادې دوهم صف شروع کړي.

مشران ،او أهل علم کسان دی په مخکنی صف کې د امام ترڅنګ د دريدلو کوشش کوی ، کشران او ماشومان دې په دوهم او دريم صف کې دريږی ، او که چيری ښځې په جماعة کې وي ، نو د هغوی صف دې ترټولو وروستنی وی ، امام بـه د ټولـو خلکو نـه مخکې او د صفونو پرمنځنی محاذاة دريږی .

حقيقت دادی چې د دې ټولو خبرو هدف د جماعة تکميل او ښه په مؤثره او ګټوره طريقه سره د هغه ترتيبول دی.

انحضرت ﷺ به پخپله هم د دغو شيانو خورازيات اهتمام کاوه او امت ته به ئي هم د هغه تلقين کاوه ، وخت پروخت به ئي د هغه اهتمام ثوابونه ورته بيانول ، او دغه چاته به ئي دعذاب خبره کوله چې د دې خيال نه ساتی . (معارف الحديث صفحه ۲۰۲ جلد۳)

د رکعت د تیریدلو د ویرې په وجه جدا نیت تړل او دریدل

پوښتنه: که امام د رکوع په حالت کې وی، یو سړی وره سته راشی نو اوس که هغه صف ته ځان رسوی، رکعت ورځینی تیریږی، نو دی جلا نیت وتړی او ودریږی، په دې کې څه حرج شته کنه؟

جواب: په صف کې د خالی ځای سره سره، که هغه بل ځای دریږی نو لمونځ ئي مکروه دی. نو صف ته به ځان رسوی که څه هم رکعت ځینی تیرشی، ځکه د فضیلت د ترلاسه کولو په نسبت له مکروه څخه ځان ساتل بهتر او اولی کار دی. (فتاوی رحیمیه ص۲۰۶ ج۱ کبیری ص۵۷۵)

مسئله: په ځینو مساجدو کې کړکی او یا دروازې اکثرا د ښیښو وي او د لمانځه پرمهال د سړي عکس پکې ښکاری، نو که چیری داعکس د لمونځ کوونکي توجه اړوي، بیامکروه دی، او که ئي په توجه کې د عکس په وجه څه تغیر نه راته بیا پروا نلری. (آپ کی مسائل ص۳۱۲ ج۳)

که په صف کې ځای نه وی وروسته به چیری دریږی؟

پوښتنه: که په صف کې ځای نه وی نو شاته به پرکوم ځای دریږی، په منځ کې او که ښي یا کیڼ اړخ ته؟

جواب: که په صف کې ځای نه وی نو د امام تر رکوع دې انتظار وکړی که بل څوک راپیدا شی، نو دې په ګډه په امام پسی سیده شاته بل صف جوړ کړی او که څوک رانشی، نو پخپله دې پرهمدې ځای تنها ودریږي، صف دی بنا کړی. (فتاوی رحیمیه ص۲۰۶ ج بحواله شامی ص۵۲۱ ج۱. امداد الاحکام ص۵۲۲ ج۱)

مسئله: ځیني وخت د ځای د تنګی په وجه یو سړی له دیوال سره دیرنږدې دریږی، رکوع او سجدې ته د تللو او یا راپورته کیدلو په

وخت کې له دیوال سره لګیږي ؛ نو مجبورا شا و مخ ته لږغوندي حرکت کوي ، چې په دې سره لمونځ نه فاسد یږي. (فتاوی محمودیه ص۲۵۸ ج۱)

د تجارت یا کاروبار په وجه د جماعة پریښودل

پوښتنه : یو سړی ، تاجر او یا دوکاندار دی ، د جماعة وخت را رسیږي دې خپل کاروبار یوازې پرېښودلای نشي او پرشریک یا ملګري ئې اعتماد نه وي ، که لمانځه ته ولاړشي ، فکر ئې په کاروبارکې بندوي ، تو جه ئې خرابه وي ، نو د دې سړي لپاره څه حکم دی ؟

جواب : که د نقصان اندیښنه وي او دوکان یا کاروبار ورته بندول ګران کاروي ، نو بیا دې دا سړی پرخپل دوکان لمونځ وکړي.

(فتاوی دارالعلوم ص۶۳ ج۴ بحواله ردالمحتار ص۵۱۹ ج۱)

د تمرین لپاره په ماشومانو جماعة کول

مسئله : که ماشومان د تعلیم لپاره مسجد ته له ځان سره بیول کیږي ، او جماعة باندې وشي ، نو د امام د مصلی او محراب څخه دې لیرې دروي او تکبیر ویل دې ورښیي. (فتاوی محمودیه ص۶۱ ج۲)

لومړی صف کوم یو دی ؟

پوښتنه : که چیرې د تنګی په وجه یو صف لږ وروړاندې کړي ، تر دې چې منبرته ورسیږي ، د منبر په وجه سره پرې شي ، امام ئې ترمنځ شي ، مقتدیان ئې پریوه او بل څنګ شي ، نو دا اول صف دی . که له دې وروسته صف اول بلل کیږي ، او د ځای د تنګی په وجه دا دول طریقه جوړول سمه ده کنه ؟

جواب : صف اول دا دې چې امام ته نژدې وي ، مؤذن د اقامت لپاره د امام ترشا ودریږي ، له هغه سره چې یو بل اړخ ته کوم مقتدیان ولاړوي

، هغه ته اول صف ویّل کیږي ، نو که د مسجد په خوا وشا صحن (انګړ) کې او یا پرچت (بام) باندې ځای ختم شي ، او یو څه خلک امام ته ډیر نژدې ودرول شي ، نو بلا کراهت درست دي ، په دې شرط چې د ګوتو سرونه ئې د امام له پوندو څخه شاته وي ، دا په هغه صورت کې چې ځای نه وي ، که د ځای باوجود څوک داسې کوي ، نو مکروه تحریمي دي ، ځکه چې مسئله داسې ده چې که مقتدیان تر یوه زیات وي ، نو هرومرو به د امام شاته دریږي ، نو که ۲ مقتدیان وي او امام ئې په منځ کې ولاړ وي ، دا مکروه تنزیهي دي. او که مقتدیان تر ۲ زیات وي او امام ئې په منځ کې ودریږي ، دا مکروه تحریمي دي. (درمختار مع شامی ص۵۳۱ ج ۱)

همدارنګه د کراهت یوه بله وجه ئې داده چې دا ډول جماعة چې امام د مقتدیانو په منځ کې ولاړ وي ، له ښځو سره مشابهت راځي.
(فتاوی رحیمیه ص۳۲۶ ج۲)

په زور سره په لومړي صف کې ځان ځایول

مسئله: کله چې لمونځ کوونکي د لمانځه اراده وکړي او مسجد ته راشي ، نو کوشش دې وکړي چې په اول صف کې چې ځای خالي وي ؛ هلته کښیني ، او دا چې سړي په اول وار شاته کښیني او بیا وروسته د جماعة د ریدو پروخت په زور سره په ټیلو او ټمبو اول صف ته ځان ننباسي دا ډیر ناوړه او مکروه حرکت دي ، د خلکو د کرکې او نفرت سبب ګرځي له دې څخه هرومرو ځان ساتل پکار دي.
(فتاوی رحیمیه ص۳۲۲ ج۲)

مسئله: کوم بالغ هلک یاسړی چې معتوه یاکم عقل وی ، لیوني ته ورته وی د لمانځه اوخلکو په احترام نه پوهیږي ، بیځایه حرکات ځینی صادریږی او لمونځ کوونکو ته د ده په وجه تکلیف رسیږي نودغه سړی دې د لویانو په صف کې له دریدلو څخه منع کړای شی ، که بیاهم ودریږی نو شاته دې کړی .فقهاء کرامو داسی شخص د ماشومانو په حکم کې داخل کړیدی.(فتاوی رحیمیه ص۲۲۵ ج۲، بحواله شامی ص۵۴۱ج۱باب الامامت)

دتکبیراولی ثواب ترڅه وخته پوری دی ؟

مسئله: د لومړي رکعت ترکوع پوری که سړی په جماعة کې شامل شی نو د تکبیر اولی ثواب موندلای شي.

(فتاوی دارالعلوم ص۵۰ ج۲بحواله شامی ص۳۵۲ ج۱، امداد الفتاوی ص۱۸۵ ج۱)

مسئله: د تکبیر اولی فضیلت د هغه چا لپاره ده چې له امام سره د تحریمه په وخت کې موجود وی ، ځینو بیاویلی چې کوم سړی د قرائت د شروع کیدلو څخه مخکې په جماعة شریک شي. او ځینو بیا ترهغه هم ورزیات کړی چې وائي د قرائت ترختمیدلو وړاندی شریک شی ؛ هغه هم فضیلت پیداکولای شی. (آپ کی مسائل ص۱۹۲ ج۲)

د صفونو په اړه مسائل

مسئله: سنت طریقه دا ده چې مقتدیان په لمانځه کې بالکل جوخت سره ودریږی ، د قدمونو د نښلولو څخه هدف دادی چې ګویا ټول په صف کې یو برابر او سیده سره ودریږی ، یوتر بل یوه ذره هم مخکې یاوروسته نه وی.

مسئله: پونډۍ به د یو بل له پونډیو سره او اوږې به ئي سره برابري وی.چې په دې توګه صف ښه سیده کیږی.

مسئله : پوندي اوپونډۍ چې سره برابري شي ، نو د مخکې ګوتو برابرول ډير ضروري نه دی د چاپښي غټې او د چا کوچنۍ وی.

(فتاوی محمودیه ص۹۶ج۷، فتاوی دارالعلوم ص۳۲۷ج بحواله ردمحتار ص۵۳۱ج باب الامامة)

مسئله : امام دی مقتديانوته لارښوونه کوی چې صفونه سره برابر کړئ او پخپلو منځوکې خالي ځای مه پرېږدئ ، اوږې او پونډۍ سره برابري کړئ ، که په اول صف کې ځای وی ، لومړی هغه پوره کړئ ، بیا دوهم صف جوړ کړئ ، که په اول صف کې ځای تنګ وی ، نو نورو لمونځ کوونکو ته د تکلیف نه ورکوی له دی کراهته دی ځان وساتی ، په وروستی صف کې دی ودریږی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۲۰ج۳بحواله ردالمحتار ص۵۳۲ج۱باب الامامة)

مسئله : نابالغ هلکان که ډیر وي نو په دوهم او دریم صف کې باید ودریږی او که یو وی ، نوله لویانو سره دریدل ئي درست دی. مګر فقهاء کرامو ، امرد صبیح الوجه (لږغټ ، ښائسته نابالغ هلک) له غټانو سره په صف کې برابر دریدل د لمانځه د فاسدیدلو حکم ورکړی. که څه هم صحیح حکم دا دی چې لمونځ فاسدیږی نه ، خود شهوت په نظر ورته کتل ئي حرام بللی دی. ښه او افضل کاردا دی چې په صف کې یو ځای له غټانو سره ونه دریږی.

په هرصورت دامعلومه شوه ، که چیری یو نابالغ هلک د بالغینو په منځ کې ودریږی نود دي بالغینو په لمونځونو کې څه کراهت اوفساد نه راځي.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۲۲ج۳بحواله ردمحتار ص۵۳۹ج۱ باب الامامة ، فتاوی رحیمیه ص۱۹۰ج۱شامی ص۲۵۳ج۱)

مسئله : که د غبانو اول صف پوره شوی نه وی او شاته ماشومان (نابالغان) بل صف جوړ کړی، نو بل څوک چې اوس له بهره راشی، هغه به هم لومړی صف ته تیریږی، په دې شرط چې د هلکانو صف څخه د تیریدو لاره وی او هغه صف ته خلل ونه رسیږی، که چیری د دپه تیریدلو سره اول صف ته، د هلکانو په صف کې خرابي راتله او د هغوی د تکلیف او د توجه د ګډوډولو سبب ګرځي، نو بیا دې په همدغه صف کې ودریږی، لمونځ ئې صحت لري که څه هم د ماشومانو په صف کې وی او په اول صف کې هم ځای وی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۵۴ج۳)

مسئله : ښځي که څه هم له محرماتو څخه وي، په جماعة کې به هغوی له نارینه سره برابری نه دریږی، چې په دې سره د نارینه لمونځ فاسدیږی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۶۲ج۳، بحواله ردالمحتار ص۵۳۵ج۱)

مسئله : میړه او ښځه که یوازی جماعة کوي او د واړه سره برابر و دریږی لکه د یوه مقتدی په صورت کې چې حکم دی، دا صحت نلری، په دې صورت کې د دواړو لمونځ فاسد ګرځی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۴۲ج۲، فتاوی رحیمیه ص۱۹۱ج۱، شامی ص۵۳۵ جفتاوی محمودیه ص۲۱۱ج۱۴)

(او که چیری د ښځي قدم له نارینه څخه ښه وروسته وی، بیاصحت لري (محمد رفعت قاسمی غفرله)

مسئله : په صف کې د لمونځ کوونکو ترمنځ که ځای خالی پریښودل شی، لمونځ کیدلای شی، صحت لري مګر دا د سنت خلاف عمل دی، باید خلک اوږی او پوندی سره برابری کړی

ترڅو صف کوږ نشي او بالکل نژدې نژدې سره ودریږي ، چې خالي ځای پاتې نشي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۳۸ ج۳ بحواله ردالمحتار ص۵۳۳ ج۱)

مسئله : له ضرورته پرته دستنو په منځ کې دریدل مکروه دي ، مګر لمونځ صحت لري او د جماعة ثواب هم موندلای شي ، او که چیرې یو څو خلک د دووستنو په منځ کې په خالي ځای کې ودریږي ، داسې چې ، کوچنې جماعة ورځینې جوړشي ، او ضرورة ئې هم وي ، نو بیاظاهرا کوم کراهت نلري. (فتاوی دارالعلوم ص۲۴۴ ج۳ بحواله مبسوط ۳۵ ص ج۲)

مسئله : که یو مقتدي په مسجد کې د خپل ځان لپاره ځانګړې مصلی هواره کړي وي ، په دې کې څه حرج هم نشته ، او څه ضرورة ئې هم نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۲۴۴ ج۳)

په داجدا مصلی هوارولو کې د انسان لوئي محسوسیږي ، نو که ضرورة نه وي ، مثلا یو قسم ناروغي ونلري ، بیائي ارتیانشته ، نه دې غوړوي (محمدرفعت قاسمی غفوله).

مسئله : که چیرې یوسړی مسجد ته مخکې راسي په اول صف کې یابل ځای چیرې کښیني ، بیاد ضرورة په خاطر اوداسه اویا بل څه ته ولاړشي او پرخپل ځای یوشي کښیږدي لکه د ستمال ، څادر یابل شی ، اوبیا بل سړی راشي پردې ځای ودریږي ، هغه اول سړی د دې ځای مستحق دی ، کولای شي چې دا دویم سړی له ځایه پاڅوي او پخپله پر ودریږي ، اوکه چیرې ئې خپل یوشی وربانده ایښې نه وو ، نو بیاحق نلري ، ښه کارنه دي چې هغه ولاړه وي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۵۱ ج۳)

کوم سړی چې اول راشي د خالي ځای هغه مستحق دی ، نوکه بیاد اوداسه او بل داسې ضرورت په وجه ووزي ، نو د ځای بندول ورته

جائز دی ، او که د ی ځای په دستمال یا بل شی بند کړی ، پرخپله مخه کوز یا بلی خواته ولاړ شی ، دا ناجائز دی. (رفعت قاسمی غزله)

مسئله : په اول صف کې هم په اعتبار د دې چې کوم طرف یا کومې خواته نږدې ده ، په ثواب کې زیاتوالی او کموالی وی ، کوم سړی چې په امام پسې بلکل متصل ولاړ وی د هغه ثواب د نورو په پرتله زیات دی ، او بیا چې ښي اړخ ته وی او نږدې وی ، او که چیری دغه سړی د نورو د تکلیف باعث شی ، په صف کې ، بیا ثواب نلری ، نو پکار ده چې نور په زحمت نکړی او دا ځای پریږدی ، او بل هغه څوک د زیات ثواب مستحق دی چې ترټولو لومړی مسجد ته راشی.

(فتاوی دار العلوم ص ۳۵۰ ج ۳)

مسئله : د صف په ښی اړخ کې ثواب زیات دی ، خو دا هم ضروري ده چې د صف په چپ (کیڼ) اړخ کې به هم خلک دریږي ، ترڅو د صف توازن وساتل شی او هر یو طرف ته خلک ډیر نشی. (آپ کی مسائل ص۲۱۸ ج۲)

مسئله : که د باران یا ګرمۍ داسی ضرورت له امله مقتدی په امام پسی دومره نږدی دریدلای شی چې صرف ۴ ګوتی راشاته وی ، یعنی لکه د یوه مقتدی په صورت کې چې دریږی ، لمونځ ئي صحیح دی

(فتاوی دار العلوم ص۳۵۱ ج۳)

مسئله : په امام پسی که اهل علم او پوه خلک نږدی ودریږی ، دا بهتر ده مګر که نور خلک مخکې دریدلي وو ، نو بیا د هغوی د لیری کولو اړتیا نشته ځکه چې لمونځ هرډول صحت لری.

(فتاوی دار العلوم ص۳۷۵ ج۳، فتاوی رحیمیه ص۲۶۲ ج۲)

مسئله : مخنث (نربنځی) د خلکو په جماعت کې شاملیدلای شی ، مګر داچې د صفونو په شاکې به دریږی ، د دوی په شاملیدلو سره د خلکو لمانځه ته کوم نقصان نه رسیږی ، او په مسجد کې د هغوی پیسې خرچ کول درست دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۵۲ج۳بحواله درمختار ص۴۱۲ج۱)

مسئله : که چیری یو نابالغ وی ، د بالغانو په صف کې دریدلای شی.
(فتاوی مخمودیه ص۷۵ج۹)

مسئله : که د مصلی او صف سوز (پراخوالی) کم وی ، چې سجده نشی وراباندی کیدلای ، نو بیادی یامخکې کړی یاوروسته ، دواړه صورته درست دی ، که پښې پر مصلی ږدی او سجده پرفرش لګوی اویاپښې پرفرش ږدی ، سجده پرمصلی لګوی.
(فتاوی دارالعلوم ص۳۵۲ج۳، فتاوی محمودیه ص۲۲۰ج۲، کبیری ص۳۲۲)

مګر د ځای پاکوالی ضروری دی ، د مصلی غټوالی ، کوچنیوالی مهم نه دی.— رفعت قاسمی)

مسئله : د کوم سړی په مخکې چې ځای خالی وی ، که دی خپل ځای پریږدی هلته ولاړشی ، نو څه ګناه نشته باندی ، خوکه د خالی ځای د شته والی باوجود ږدی شاته ناسته اختیار کړی ، نو دا خلاف اولی کارکوی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲۵ج۳، ردالمحتار ص۵۳۲ج۱، فتاوی رحیمیه ص۲۶۲ج۷)

مسئله : چې جماعة شروع وی او یو سړی وروسته راشی ، په مخکنی صف کې څه خالی ځای وويني او د صفونو په ځنګ کې په یو ترتیب ځان ورتیرکړی ، نو څه ګناه نشته باندی ، په دې شرط چې چاته په لمانځه کې مخل واقع نشی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۵۴ج۳)

مسئله : که په مخکني صف کې ، د کوم چا اودس مات شي ، یا بل عذر ورته پېښ شي ، نو کولای شي چې د وروستیو صفونو په منځ کې په یوړول ځان وباسي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۲ج۳)

معذورسړی به په صف کې چیرې دریږي؟

پوښتنه : زموږ په مسجد کې دوه تنه معیوب دي چې په ولاړې لمونځ نشي أداء کولای ، که په لمړي صف کې د مؤذن په خواکې کښیني ، نو ډیر زیات ځاي نیسي ، اوپه صف کې ډیره خلاهم پاتې کیږي ، دا راز نورو لمونځ کوونکو ته هم تکلیف رسیږي ، د داسې خلکو لپاره حکم څه دی ؟

جواب :ـ: په دغه مسئوله صورت کې د داسې خلکو لپاره بهتره دا ده چې په اخیري صف کې او یا چیرې په څنډه کې چې ځای وي ؛ لمونځ اداء کړي ، ان شاء الله د جماعة او لومړي صف دواړو کامل ثواب به ورته رسیږي ، په شامي کې راځي ، که چاته د دې اندیښنه وه چې بل چاته تکلیف ورځینې رسیږي نو هغه ته بهتره داده چې په وروستی صف کې ودریږي ، څکه چې نبی کریم ﷺ فرمایي: که څوک د دې اندیښنې له امله چې څوک مسلمان ورځینې په تکلیف نشي ، اول صف پریږدي ، نو هغه ته د اول صف دوه چنده اجر ورکول کیږي. (فتاوی رحیمیه ص۳۶۴ج۷، شامی ۵۳۲ج۱)

مسئله : د ډیرې عوامو خلکو معمول دا وی چې ناروغ په جماعة کې شرکت وکړي نو د ټول صف په څنډه کې پرچپ طرف کښیني ، ګویا په منځ کې د مریض کښیناستل ، بدګڼي او کرکه ځینې کوی ، چې دا سراسر یو غلط عمل دی. (اغلاط العوام ۶۷ص)

یعنې په مینځ کې هم کنبیناستلای شی، په لمانځه کې هیڅ خرابی نه راځي. (رفعت)

مسئله : که چیرې له امام سره یو مقتدي وی، بیا بل سړی راشی نو بهتره داده چې اول مقتدي راشاته شی او دواړه یو ځای برابر په امام پسی ودریږی

خو په دې شرط چې د دې مقتدي د لمانځه د فساد احتمال نه وی، که دا احتمال وو چې په راشاته کیدلو سره به ئې لمونځ فاسد شی، نو بیا دې نه شاته کیږی. له دې نه څرګنده شوه چې د شاته کیدلو ضرورت هغه وخت وی چې دا معلومه وی، چې لومړی مقتدي شاته کیږی او هغه ته مسئله معلومه وی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۵۸ج۳).

منسئله : په دې حالت کې که امام لږ مخکې شی او یا مقتدي راشاته شی دواړه جائزدی، مګر که مقتدي راشاته شی دا بهتره ده تردې چې امام مخکې کیږی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۵۲ج۲بحواله ردالمحتار ص۵۳۱ج۱)

مسئله : د امام لپاره سنت په محراب کې او یا د قوم په منځ کې دریدل دی، نو که چیرې دباندې په انګړ کې دریږی نو هم د محراب پرمحاذاة به دریږی، که څه هم لمونځ په هرترتیب کیدلای شی، خو سنت طریقه همداده چې ذکر شوه.

مسئله : که چیرې د مسجد صحن یوې یابلې خواته پراخ شی، نو امام ته د صحن په اعتبار بیاهم په منځ کې دریدل پکاردی، یعنی که د باندې ولاړوی، نو د صحن (انګړ) خیال دې وساتی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۱ج۲بحواله ردمحتار ص۵۳۱ج۱)

مسئله : امام که د صف په منځ کې ودرېږي ، نو داسنت دي ، او که مقتديان ټول يوه اړخ ته ودرېږي نو لمونځ صحت لري خو سره له کراهته. (فتاوی دارالعلوم ص۲۶۴ج۲، ردالمحتار ص۵۳۱ج اول)

مسئله : که امام په درکې ودرېږي (يعنی د دوسنتو منځ) په داسې توګه چې پښې ئي هم د ننه وي ، او مقتديان پر فرش وي ، نو دامکروه دي ، لکه څنګه چې په محراب کې د ننه امام ته درېدل مکروه دي ،خو که پښې دباندې پر فرش وي ، بيا څه خبره نه ده کراهت نلري.

مسئله : امام ته په منځ کې درېدل پکاردي ، دواړو طرفونو ته برابر مقتديان درول پکاردي. چپ طرف ته زيات مقتديان درول د سنت خلاف دي.

سنت طريقه دا ده چې څه وخت جماعت ودرېږي ، دواړو طرفونو ته دې برابر مقتديان درېږي. بيا چې څوک وروسته راځي او په جماعة کې شرکت کوي ، هغوی ته هم پکار ده چې حتی الوسع د دواړو طرفونو د توازن خيال وساتي. (فتاوی دارالعلوم ص۳۴۷ج۳، عالمګيری ص۸۳ج۱)

مسئله : د مقتدی د سجدې ځای او د امام د ولاړيدو ځای (يعنی د مقتدی او امام) ترمنځ بايد دومره فاصله وي چې سره نژدې وي او نور کوم خاص تحديد نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۳۴۷ج۳ بحواله ردالمحتار ص۵۳۰ج۱)

(يعنی د امام او مقتدی ترمنځ به دومره فاصله وي چې د مقتدي سر د رکوع او سجدې ته د تللو پرمهال له امام سره ونه لګيږي – محمد رفعت قاسمی غفرله).

مسئله: که چیري د امام لمونځ ونه شو، (یعنی فاسد شو) نو د مقتدیانو لمونځ هم نه کیږي. پرتولو یې راګرځول لازم دي. پوازې د امام په راګرځولو سره د مقتدیانو لمونځ نه کیږي.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۲ج۲، ردالمحتار ص۲۵۳ج۱)

(که چیري مقتدي تللي وي، نو امام به ټولو ته خبر ورکوي چې بیا پرهغوی د لمانځه راګرځیدل لازمي دي. که چیري خبر یا اطلاع ورته ونه رسیده، نو مقتدي معذور دی، هیڅ مواخذه نشته باندی

.محمدرفعت قاسمي غفرله)

مسئله: دا خبره په غلطه مشهوره شوي چې وايي که څوک پرچارپايي لمونځ وکړي، بیزو کیږي. دا محض یو بی اصل او بی بنیاده خبره ده.

(اغلاط العوام ص۵۲)

مسئله: پرچارپائي (پلنګ) باندی که یو څوک د صحت په حالت کې لمونځ وکړي، فرض یا نفل، نو لمونځ صحت لري. –

(فتاوی دارالعلوم ص۱۲۲ج۴،بحواله ردمحتار ص۴۶۸ج۱، باب صفة الصلاة، امداد الاحکام ص۵۶۳ج۱)

(مګر پلنګ که ښه سخت وی د دی لپاره چې په سجده اونورو کې د ملا (کمر) توازن صحیح واوسی، په اوس وخت کې د اوسپنی یوډول پلنګونه دی چې دا بلکل درست دی. لکن که د کومی ناروغی په وجه پرداسی عام پلنګ باندی لمونځ ادا کړي، نو صحت لري، چې په کوم کې دی استراحت کوي. (محمدرفعت قاسمي)

مسئله: هغه مصلی چې د ښایست لپاره انځورونه او نقشونه وربانډی جوړ شوي وي، لمونځ باندی صحیح دی. په دې شرط چې د

ذي روح تصوير نه وي ، كه ذي روح تصوير وي بيا لمونځ جائز نه دي. او بل داچې دا نقش داسې وي چې د سړي توجه اړوي نو بيا هم لمونځ مكروه دي. (فتاوى دارالعلوم ص١٢٧ج٤، ردالمحتار ص٢٠٧ج١)

مسئله : د تصوير حكم د اصل نه دي. نو پر هغه مصلى باندې لمونځ كول چې د بيت الله تصوير پرې نقش شوي وي. داسې نه ده لكه چې سړى ګواكې پر بيت الله لمونځ كوي ، لهذا په دې سره د بيت الله اهانت او سپكاوى نه كيږي. (فتاوى محموديه ص٢٠٣ج١٤)

مسئله : پركمه مصلى يا جاى نمازكې چې د مرغه تصوير وي ؛ نو چې پر هغه باندې برسيره بل كالى هوار شي ، بيا لمونځ وربانډې جائز دي ، بلاكراهت. (فتاوى دارالعلوم ص١٢٩ج٤، ردالمحتار ص٦٠٦ج١)

مسئله : هغه پوست چې پوخ كړل شوي وي ؛ مصلى ځينې جوړول او لمونځ پر كول روا دي. بلاكراهت.

(فتاوى دارالعلوم ص١٠٠ج٢، فتاوى عالمگيرى ص٢٢ج١، باب المياه)

مسئله : د مسجد بندول مكروه دي ، مګر كه د سامان د غلاكيدلو ويره وي ، بيا د لمانځه د وختونو څخه پرته مسجد بندول درست دي.

(فتاوى دارالعلوم ص١٤٩ج٢، ردالمحتار ص٦١٢ج١ باب احكام المسجد)

(او دا د كلي يا د محلې خلكو پورې اړه لري ، څه وخت چې دوى مناسب ګني ؛ د لمانځه له وختونه پرته ؛ بندوي دي) ــ رفعت قاسمى غفرله)

مسئله : كه له اجازې پرته د بل سړي په ځمكه كې څوك لمونځ وكړي ، لمونځ ئې كيږي. (فتاوى دارالعلوم ص٩٢ج٢، ردالمحتار ص٣٥٢ج١)

كه چاد بل چاځمكه غصب كړه او لمونځ ئې پكې اداء كړ ، لمونځ ئې وشو ، خو د غصب كولو سزاء ئې لاپرځاى ده ــ محمد رفعت قاسمى غفرله)

مسئله : پروښو باندې لمونځ کول درست دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۲ ج۲)
مسئله : که په لومړي صف کې ځای وی، بیا په دویم صف کې لمونځ کول مکروه دی. (کتاب الفقه ص۲۴۰ ج۱)
مسئله : د زکوة په پیسو اخیستل شوی صف (فرش) کې لمونځ صحیح دی، لیکن زکوة ئي اداء شوی نه دی.
(فتاوی دارالعلوم ص۵۱ ج۲ بحواله ردمحتار ص۸۵ ج۱) (ملاحظه ۹۲ مخ)
(دزکوة ورکوونکې زکوة ځکه اداء نشو چې په زکوة کې تملیک شرط دی، او په مسجد کې دا ورتیا نشته چې څوک دې د مسجد مالک شی.)
د تفصیل لپاره (مکمل او مدلل مسائل زکوة وګورئ محمد رفعت قاسمی غفرله)
مسئله : د مسلمان یا غیر مسلمان په کورکې که د چارپایانو د امبار ځخه پرپاک شوی وچ ځای باندې پاک کالی هوار کړل شی، او لمونځ پرې وشی، نو په دې کې هیڅ حرج نشته، لمونځ صحیح او جائز دی.
(فتاوی رحیمیه ص۲۲۱ ج۱)

جماعة باید په مسجد کې دننه اداء شی، که د باندې په انګړ کې ؟

پوښتنه : په مسجد کې دننه او یا د باندې په صحن کې لمونځ کول سره برابر دی؛ په ثواب کې ئي څه فرق شته کنه؟ ځکه چې د ګرمی په موسم کې لمونځ اکثرا د باندې په صحن کې اداء کیږی ؟
جواب :ـ : ترکومه ځایه چې ځمکه د مسجد لپاره یعنی د لمونځ کولو لپاره وقف کړی شوی وی؛ هغه ټوله په ثواب کې سره برابره ده، کله چې په مسجد کې دننه صف بندی وشی او ځای پاتی نشی، نو رخلک د باندې صفونه جوړ کړی په جماعة کې شریک شی، نو هغوی

ته هم د مسجد د داخل خلکو په څیر پوره اجرورکول کیږی ، مطلب داچې د مسجد د دننی او د باندی هیڅ فرق نشته مګر فقهاء کرامو د مسجد د بام فرق ذکرکړی دی. چې وائي پرچت باندی هغه ثواب چې په مسجدکې دننه شته ، هلته نشته ، ګویاد اعتکاف په حکم کې هغه هم مسجد دی. (امدادالاحکام ص۴۲۳ج۱)

مسئله: مسجد هغه بولی چې وقف کړل شوی وی ، او هغه چې وقف نه وی مسجد نشی بلل کیدای ، په هغه کې د جمع ثواب خو موندل کیږی مګر د مسجد ثواب نشته پکښی. مکان صرف د لمانځه په اجازسره مسجد نشی ګرځیدای. او که چیری له مسجد پرته په کور یابل ځای کې جماعة وشی ، د ۲۷ لمونځونو اجرلری ، او د مسجد ثواب بیاپرهغه برسیره دی. (امدادالاحکام ص۴۲۶ج۱)

مسئله : پرمسجد باندی پورته لمونځ جائزدی ، په دې شرط چې لاندی ډک شوی وی. (امدادالاحکام) ص۴۲۹)

مسئله : که دباندی په صحن (انګړ) کې جماعة وديږی نود جماعت په وخت کې د مسجددننه دروازې بندول ضروری دی. (فتاوی محموديه ص۲۶۱ج۴)

مسئله : که چیری شاوخوا نژدی ډیر مساجد وی ، اودسړي په محله کې وي نو په دی ټولو کې چې هریو ډیر پخوانی وی ، هغه بهتردی لمونځ پکې افضلیت لری ، او که په دې کې ټول سره برابر وو او یادا معلومه نه وه چې کوم یو ډیر پخوانی دی؟ نوبیاچې کوم یوډېر سړي ته نژدی وی ؛ هغه افضل دی. (امداد لاحکام ص۲۵۹ج۲)

په مسجد کې پای زار ایښودل څنګه دی؟

مسئله : که چیری پر پایزار باندی نجاست (ناپاکی) نه وی ، نو بیائي په مسجد کې ایښودل جائزدی ، مګر که د غلا یاورک کیدلو ویره نه وی ، بهتره داده چې له مسجد څخه دباندی کیښودل شی ، او که چیری نجاست وی باندی ، بیاخوئي په جومات کې ایښودل جواز نلري. (امدادالاحکام ص۲۲۲ج۱)

لمونځ باید پر خالی ځمکه اداشی او که پر پوزی یابل شئ؟

له آنحضرت ﷺ څخه د دواړو ثبوت راغلی دی ، د لیلة القدر له حدیث څخه ثابتیږی چې آنحضرت ﷺ پرځمکه لمونځ اداء کړ ، تردی چې د هغه ﷺ تندی مبارک په خاورو سپیره شو. او په شرح المنیه کې بیا راغی چې د آنحضرت ﷺ لپاره د لمانځه پروخت د خرما یو پوزی وغوړول شو. (کبیری ص۲۸۲ج۱)

له دې نه څرګنده شوه چې دواړي طریقې سنت دی ، هره یوه چې غوره کړی ؛ سمه ده مګر د یخنی یاګرمی په وجه که له خالی ځمکې څخه د تکلیف تشویش وي نو بیا پوزی یافرش غوړول افضل دی ، همداراز که پر خالی ځمکه د کالیو د خرابیدلو احتمال وو ، بیاهم پوزی یافرش هوارول افضل دی ، ځکه په دی کې د مال تحفظ دی او شرعا د مال د ساتنی اجازه شته ، په لمانځه کې. او داچې تندی یاپوزه ، لاس ئي په خاورو ککړشی ، له دی څخه ئي په طبیعت کې کرکه نلرله ، نو بیاپر ځمکه لمونځ ځکه افضل دی چې تواضع او انکساری پکښی شته. (فتاوی دارالعلوم ص۵۸ج۱، مع امداد المفتیین)

د حضرت ابو سعيد خدري رضی الله تعالی عنه روایت دی چې وایی : یوه ورځ نبی کریم ﷺ ته ورغلم ومی لیدل چې هغه ﷺ پرپوزی لمونځ کوی او پرهغه سجده لګوی.

تشریح: له دې حدیث شریف نه دا معلومیږی چې کوم شئ ، د لمونځ کوونکی او د ځمکې ترمنځ حائل وی پرهغه باندی لمونځ کول جائز دی. نور که هغه د نباتاتو څخه وی لکه جامې ، وړی او داسی نور ... په حدیث کې که څه هم حصیر یعنی پوزی ذکر راغلی دی. لکن علماء د ځینو نورو دلائلو په آساس د پوزی څخه علاوه پرجامه او نورو داسی شیانو لمونځ جائز بللی دی. په دې شرط چې پاک وی او نجاست نه وی پرې لګیدلی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۹ ج۲)

د نامسلمان په لاس جوړشوي فرش باندی لمونځ

سوال : ـ: آیا هغه صفونه (فرشونه) چې د هندو یابل نامسلمان په لاس جوړشوی وی پرېمنځل یې پکاردی ، کنه ؟ ځکه چې هغوی زیاتره وخت ناپاکي او به باندی اچوی ولی چې هغوی په کوم لوښي کې او به ږدی او بیا دافرش ورباندی پرېمنځی ، په هغه کې اکثرا سپي هم او به څښي ، مطلب دا چې هغوی احتیاط نه کوی ؟

جواب :که په یقین سره دا معلومه وی چې په ناپاکو او بو جوړشوی او یابل ناپاکي ورباندی لګیدلی وی ، نوبیائي پرېولل ضروری دی ، که شبه پکښی وی ، بیا احتیاط نبه ده چې پرېمنځله شی ، او ځینی وخت په ځینو ځایونو کې عام یقین او ګمان داسی وی ، چې د ناپاکۍ احتمال نه وی ، نو بیا ضروری نه ده چې پرېمنځلی شی ، لمونځ ورباندی صحیح دی.

(امدادالاحکام ص۲۹۹ ج۱ فتاوی دارالعلوم ص۱۳۲ ج۲)

مسئله : په زندان کې د يو بندي په لاس جوړشوی جای نماز باندی لمونځ صحيح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۸ج۲، درمختار ص۲۶۳ج۱)

سوال : که په مسجد کې ايرکنډيشن نصب شوی وی، او د ايرکنډيشن لپاره ضروری داده چې دروازې به تړلی شوی وی، په داسی حال کې چې په مسجد کې څو کله ناکله خلک زيات شی او د باندی ودريږی نو د دې لپاره بيا بايد دروازې خلاصی وی، نودلته حکم څه دی. ؟

جواب : که دروازې بندی وی، ليکن د باندی خلکو ته د امام د انتقالاتو (تکبيرونو) پته لگيږی نو اقتداء درست ده، همدارنگه که دروازې د ښيښو څخه جوړی شوی وی، نو بيا هم اقتداء صحيح دد، په دې چې د امام د تکبير آواز مقتديان اوريدلای شی. (آپ کی مسائل ص۲۲۸ج۲)

د جماعة د صحت لپاره شرطونه

مسئله : مقتدی ته پکارده چې د خپل نيت د تړلو په ترڅ کې په امام پسی د اقتداء نيت هم وکړی، يعنی په زړه کې دا اراده وکړی چې زه په دې امام پسی د فلانی وخت لمونځ اداکوم.

مسئله : د امام او مقتدی د مکان (ځای) يو والی ضروری دی، هغه که حقيقتا وی، که حکما، حقيقتا لکه په يوه مسجد يا يوه کورکې دريدل، حکما لکه داسی چې امام د سيند په يوه غاړه وی او مقتدی پربله غاړه، خو په دې منځ کې پرپل باندی نورصفونه وی چې د امام او دغه مقتدی پوری وسيدلی وی، نو د ده اقتداء او لمونځ صحيح دی او دی ته حکما د مکان يووالی ويل کيږی، حقيقتا که څه هم سره متحد نه دی ځای ئي.

مسئله : که چیرې د امام او مقتدي ترمنځ دومره فاصله خالي پاتې وي چې دوه صفه پکې راتلای شي، او څوک هم پکښې نه وي، نو دا اقتداء او لمونځ صحت نلري، د دې خیال ساتل ضرور پکار دی، داسې نه چې څوک چیرې اساني او سهولت ویني، هلته نیت تړي، نو چې کله اقتداء درست نه وي. لمونځ هم نه صحیح کیږي. (رد المحتار)

مسئله : د مقتدي او امام لمونځ به سره بیل نه وي، مثلا امام د ماپښین لمونځ کوي او مقتدي د مازیګر اقتداء وکړي، یا امام د پرون ماپښین قضائي راګرځوي او مقتدي د نن ماپښین خپل لمونځ ادا کوي او یا داسې بل صورت. مګر که دواړه د یوه بل تیر وخت قضائي راګرځوي بیا درست ده. مطلب دا چې په لمانځه کې به ئې مغایرت نه وي. (مراقی الفلاح، شامی)

مسئله : که امام فرض لمونځ کوي او مقتدي د نفل نیت پسې وتړي (څکه چې مقتدي فرض مخکې اداء کړی وي) نو اقتداء صحیح ده. څکه چې دا لمونځونه سره مغایر نه دي. (نقل له هر فرض لمانځه سره کیدلای شي) (په سهار او مازیګر کې به شرکت نه کوي).

مسئله : د امام لمونځ به صحیح وي، که چیرې د امام لمونځ له څه وجې څخه فاسد شي، نو د ټولو مقتدیانو لمونځ فاسد ګرځي، نو که دغه فساد د لمانځه تر ختمیدلو مخکې معلوم شي او که وروسته.

مسئله : که چیرې د امام لمونځ د څه وجې څخه فاسد شوی وي، او خلکو ته دا معلومه نشي چې لمونځ فاسد دی، نو پر امام صاحب دا ضرور دی چې خلک به خبروي تر خپله وسه پورې، تر څو هغوی خپل لمونځونه راوګرځوي که په هره وسیله ئې خبرولای شي. د مخامخ

وینا په ذریعه یادبل چاپه واسطه او یاد خط او یاتلیفون یابله ذریعی سره ، حتی الوسع به کوښښ کوي. داپه هغه صورت کې چې مقتدیان چیری لیری تللی وی. (درمختار)

مسئله : که چیری د امام او مقتدی مسلک (مذهب) یو نه وی ، مثلاً امام شافعی ، یا مالکي مسلکه وی او مقتدی حنفی وی نو په دې صورت کې دا کافی ده چې د امام لمونځ د هغه د خپل مذهب سره موافق صحت ولری. د مقتدی له مذهب سره موافق که صحیح وی که نه وی. په هر حال اقتداء بلاکراهت صحیح ده مګر که د امام لمونځ د خپل مذهب له نظره صحت ونلری ، یعنی داچې د ده په مذهب کې دا د ده لمونځ فاسد وبلل شی ، نو بیا د مقتدی لمونځ هم نه صحیح کیږی ، که څه هم د مقتدی د مذهب موافق د ده په لمانځه کې کومه خرابی رانشی.

او داحکم په دې کې هم ده چې د غیر مقلدینو ترشا لمونځ کول څنګه دی ؟ یعنی د مقلد لمونځ په غیر مقلد پسی بلاکراهت صحیح دی. هغه که د مقتدی د مذهب خیال وساتی ، که یې ونه ساتی. (علم الفقه ص۸۵ج۲، کتاب الفقه ص۴۶۶تر۴۸۲ج۱)

مسئله : مقتدی به له امام څخه وړاندی نه دریږی ، که مخکې شی نو اقتداء صحت نلری. د مقتدی مخکې دریدل هغه وخت معلومیږی چې د مقتدی د پښو پوندی د امام تر پوندو مخکې نه وی. نو ره پښه یا ګوتی که یې د غټوالي په وجه تیری وی څه باک نلري. اقتداء درسته ده. مطلب داچې پوندی به یې د امام له پوندو څخه وروسته وی. -- (درمختار)

مسئله : مقتدی ته ضروری ده چې د امام له انتقالی حرکاتو څخه به خبریږی ، مثلاً له رکوع څخه سجدی ته او یا داسی نورو ... څخه په خپله به مستقیماً امام وینی ، آواز به یې اوری او یا به د بل مکبر په واسطه یې تکبیر اوری او یا بل کوم څنګلوری مقتدی ته په نظر کولو سره معلومات ورته کیږی ، په هر صورت دا ضروری ده. که چیري مقتدی ته د امام له حرکاتو هیڅ معلومات نه کیږی ، نه یې آواز اوری ، نو اقتداء قطعاً صحی نه ده. (درمختار)

مسئله : مقتدی ته دا هم ضروری ده چې د امام له حالت نه به خبر وی چې مقیم دی که مسافر ؟ که له لمانځه نه مخکې ورته معلومه شی او که له لمانځه ن[illegible] وروسته څرګنده شی. (درمختار)

مسئله : مقتد[illegible] کې شرکت کوی پرته له قرائت نه. که امام سره یو ځای یې اد[illegible] کوی که وروسته وی ، که مخکې. په دی شرط چې د هغه رکن تر اخیره پوری امام له ده سره شریک پاتی شی.

دلومړی صورت مثال: له امام سره به یو ځای رکوع ، سجده وغیره کوی.

د دوهم صورت مثال: امام چې رکوع پوره کړی او راپورته شی ، له هغه وروسته مقتدی ورپسی راپورته شی.

د دریم صورت مثال: له امام څخه مخکې رکوع ته ولاړ شی خو په رکوع کې دومره وځنډیږی چې د امام رکوع ورسره مکمله شی. (ردالمحتار)

که چیری په یو رکن کې له امام سره شرکت ونشي مثلاً امام رکوع وکړي او مقتدي يې ونکړي یا امام دوې سجده پوره کړي، مقتدي یوه سجده وکړي یا مقتدي په یو رکن کې مخته سي او له مخه ورځینې راپورته سي، مثلاً مقتدي تر امام مخکې رکوع ته ولاړ شي بیا د امام د رکوع تر پوره کیدلو مخکې راپورته شي. په دې دواړو صورتونو کې اقتداء صحت لري.

مسئله: مقتدي به له امام سره برابر یا کم وي ورځینې زیات به نه وي. مثلاً

۱ - هغه څوک چې قیام کولای شي اقتداء يې په هغه چا پسې درست ده چې له قیام څخه عاجز وي.

۲ - هغه څوک چې تیمم يې وهلی وي، په هغه پسې د اودس لرونکي اقتداء صحیح ده ځکه چې د تیمم، اوداسه او غسل حکم د طهارت (پاکی) په برخه کې یو ډول دی. یو له بل څخه زیات نه دی.

۳ - په مسح کوونکي پسې د پريمنځونکي اقتداء درست ده. هغه که پر موزه يې کړي وي، که پر زخم پټی باندی. ځکه چې دا هم یعنې مسح او پریولل دواړه یوه درجه او مرتبه لري په طهارت کې یو پر بل فوقیت نلري.

۴ - د معذور اقتداء په معذور پسې صحیح ده، په دې شرط چې دواړه په یوه عذر مبتلا وي.

۵ - د أمي (نالوستي) اقتداء په بل أمي پسې درست ده. په دې شرط چې په دوي کې بل کوم قاري یا تعلیم لرونکي نه وي.

۶ - د ښځي یا نابالغ کس اقتداء په بالغ سړي پسې صحیح ده.

۷ - د ښځي اقتداء په ښځه یا مخنث (نرښځي) پسې سمه ده.

۸ - د نابالغې ښځې یا نابالغ نارینه اقتداء په نابالغ سړي پسې صحي ده.
۹ - د نفل کوونکې اقتداء په هغه چا پسې درست ده چې واجب لمونځ کوي.
۱۰ - د نفل کوونکې اقتداء په نفل کوونکې پسې صحت لري.
حاصل دا شو چې کله مقتدي تر امام کښته او یا ورسره برابر وي نو اقتداء یې ورپسې صحي ده. (علم الفقه ص۸۷ج ۲)

مسئله : د امام یوه یا بل جانب ته د ډېر و مقتدیانو دریدل مکروه تنزیهي دي. (فتاوی محمودیه ص۲۲۵ ج۲)

مسئله : که چیرې له امام سره صرف یو سړی او یا باشعوره هلک وي ؛ نو مستحب دا ده چې د امام په ښي اړخ کې لږ شاته ودریږي ، برابر ورسره دریدل مکروه دي او د غه راز په کیڼ اړخ کې ئي دریدل او یا شاته یوازې دریدل مکروه دي. او که چیرې دوه تنه وي نو بیا مستحب دا ده چې دواړه د امام شاته ودریږي.
همدارنګه د یوه سړي او یوه هلک په صورت کې هم همدا سې کول پکار دي. او که چیرې یو نارینه او یوه ښځه وي نو نارینه دې د امام ښي اړخ ته لږ شاته ودریږي او ښځه دې د هغه شاته پسې ودریږي. همدا مسئله د هلک هم ده. که چیرې دلته نارینه ، هلک ، مخنث ، ښځه وي نو دې مخکې سړي ودریږي بیا دې په هغه پسې هلک ، بیا دې مخنث او له هغه وروسته دې ښځې ودریږي. (کتاب الفقه ۶۹۱ ج۱)

مسئله : که یو مقتدي وي ، هغه کیڼ اړخ ته او یا شاته ودریږي لمونځ صحي دي مګر خلاف سنت په وجه د اسائت مرتکب ګرځي.
(فتاوی رحیمیه ص۲۲۵ ج۲، عیني شرح کنز ص۳۹ ج۱)

مسئله : امام ته پکار ده چې د صف په مخکې په داسې ځای کې ودریږي چې هغه د صف مینځ وی نه دا چې یوه یا بل طرف ته، چې دا طریقه د سنت خلاف دی. او کوم خلک چې په جماعة کې افضل وی، هغه باید په اول صف کې او د امام پسې نژدې ودریږي. د دې لپاره چې امام ته د حدث او یا بل ضرورت د وریپښیدو په صورت کې د امامت ورتیا ولري.

مسئله : لمړی صف پر دویم، دویم پر دریم او داسې نور هر یو مخې ته پر وروسته أفضلیت لري.

مسئله : له امام سره که یو مقتدي وی، هم جماعة کیږي او د جماعة پوره ثواب ورکول کیږي. (فتاوی دارالعلوم ص۳۷ ج۳ بحواله درمختار ص۵۱۸ ج۱)

مسئله : که بالغ مقتدیان نه وی، نو ماشومانو ته هم جماعة ورکولای شي، او د جماعة کامل أجر او ثواب لري. (فتاوی دارالعلوم ص۴۲ ج۳ بحواله الاشباه ص۲۸۰)

مسئله : که چیري یو سړی په داسې وخت کې راشي چې امام پر رکوع وی، او په وروستي یا بل صف کې ځای خالي وی، نو ده ته پکار ده چې هغه خالي ځای ته ځان ورسوي نیت دې وتړي او تکبیر تحریمه دې ووایي، تر هغه پوري چې صف ته نه وی رسیدلی د باندې وی؛ تکبیر به نه وایي، که څه هم رکعت ځیني تیریږي. (کتاب الفقه ص۶۱۲ ج۱)

مسئله : که د لمانځه د شروع پر مهال یو مقتدي وی او هغه د امام په ښي اړخ کې ودریږي له دې وروسته نور مقتدیان راشي؛ نو لمړي مقتدي ته پکار ده چې راشاته شي ترڅو په ټولو برابر یو صف جوړ کړي، که هغه خپله راشاته نشي نو دا نور مقتدیان دې په لږ حرکت

سره هغه راشاته کړي، که بیاهم راشاته نشي، په ناپوهۍ. سره څو یابل څنګ ته دریدلی وي، نو بیاامام ته پکارده چې مخکې شي، تر څو خلک له هغه مقتدي سره برابرودریږي او صف جوړ کړي.
همدارنګه که د مقتدي د راشاته کیدلو زمینه نه وي؛ نو په دغه صورت کې به هم امام مخته کیږي.

مسئله : که مقتدي ښځه وي او یا نابالغه نجلۍ، نو هغوی ته پکارده چې د امام پسې له شا ودریږي، که یوه وي او که ډیرې. (یعنې پر څنګ به نه ودریږي)

مسئله : که چیرې په جماعة کې بیلابیل خلک وي، څه نارینه وي، څوک ښځې، څوک مخنث او څوک نابالغ وي. نو امام ته پکارده چې په همدې ترتیب د هغوی صفونه برابر کړي و لمړی د نارینه وو صف، بیا د نابالغ هلکانو، بیا د مخنثو، بیا د نابالغ مخنثو، بیا د بالغو ښځو، او بیا د نابالغو نجونو.

مسئله : امام ته پکارده چې د صفونو په برابر ولو کې پوره اهتمام وکړي یعنې چې خلک سره شاومخ ته نه وي، اوږې او پونډۍ سره برابرې وي، په منځ کې د هریوه خالي ځای پاتې نه وي، یو بل سره ډیر نژدې ودریږي. مګر د مخنثانو (نرښځیانو) په صف کې به داسې نه وي چې یوله بل سره ډیر نژدې اوښتي وي، بلکې داسې به وي چې د دوو په منځ یو بل کس هم ځائیدلای شي. داځکه چې په هرمخنث کې د نراوښځې دواړو احتمال وي نو داسې چې ډیر نژدې یوله بل سره ودریږي، نو لمونځ ئې فاسدیږي.

مسئله : تنهاد يوه سړي شاته دريدل مکروه دي، نوپه داسی وخت کې که اول صف پوره شی، يوازی يو سړی پاتی شی، هغه به له اول صف نه يو سړی راشاته کړي او دويم صف به په ګډه سره بنا کړی، (په داسی حال کې په اول صف کې ځای وی) په دوهم صف کې دريدل مکروه دی، مګرداچې هغه خالی ځای ډک شی.

مسئله : که چيری جماعة يوازی د ښځو وی، يعنی امام هم ښځه وی، نو امام به ذ مقتديانو په منځ کې دريږی د نارينه وو د جماعة غوندی به مخکې نه دريږی. که يو مقتدی وی او که زيات وی، امام به ئې . . . . .نځ کې وی. (او صحيح خبره داده چې صرف د ښځو جماعة مکروه نه، بلکې جائزدی.)

مسئله : که ټول جماعة يوازی د مخنثو وی، نو امام به ئی ترمقتديانو مخکې دريږی په منځ کې به ئي نه وی، او نه ورسره برابر دريږی، که څه هم يو مقتدی وی، که امام له مقتديانو سره برابرو دريږی نو لمونځ فاسديږی، چې وجه ئی لږ مخکې تيره شوه.

مسئله : نارينه ته د ښځو امامت کول هغه وخت مکروه تحريمی ده چيری چې نه بل نارينه وی او نه کومه محرمه ښځه، لکه د ده مور، خور، ښځه او يا داسی بله. مګر که چيری يو نارينه موجود وو او يا محرمه ښځه وه نو بيا مکروه نه بلکې صحت لري: (درمختار وغيره)

مسئله : که چيری يو سړی تنها د سهار، ماښام ياماخستن فرض لمونځ په ټيټ (خفيه) آواز سره وايه، په دی وخت کې بل سړی ورپسی اقتداء وکړه نو پرده باندی واجب ده، چې په لوړآواز سره به قرائت وايی، که ئي سورة فاتحه او بل سورة په خفيه آواز سره ويلی

وو ، نو دوهم ځل به ئي بیا په لوړ آواز وایی ، ځکه چې په دغو دریو وختونو کې په جهر قرائت کول واجب دی ، لیکن د سورة فاتحی د تکرار له امله سجده سهو ورباندی لازمه گرځی. (درمختار، علم الفقه ص۹۲ تر ۹۵ج ۲، فتاوی رحیمیه ص۴۵ج ۳)

د اقامت پر وخت به مقتدی کله دریږی ؟

مسئله : د «قدقامت الصلوة» پر وخت امام او مقتدی دواړو ته په لمانځه شروع کول مستحب او له آدابو څخه ده. لیکن دا چې دغه اقامت کوونکی (مؤذن) له امام سره لمونځ نشي پیل کولای ؛ نو ځکه نبه دا ده چې کله اقامت ختم شي ټول دی لمونځ شروع کړی چې دی ته اصح ویل شوی دی. همدا راز د صفونو د برابرولو چې ډېر تاکید راغلی او په نه رعایت کولو یې ډېر وعیدونه دی ، د هغوی په نظر کې نیولو سره باید چې د اقامت د شروع سره سم خلک د صف په برابریدلو پیل وکړی ، نه دا چې د «حی علی الفلاح» څخه وروسته ولاړ شی ، ځکه چې هغه وخت بیا صفونه نشی برابریدلای صفونه همغسی کاږه واږه پاتی کیږی په داسی حال کې چې په احادیثو کې یې پر سمیدلو ډېر زیات تاکیدات راغلی دی.

په یو حدیث کې راځی چې : صفونه سیده کړئ ، خپلی اوږې سره سره برابری کړئ او په خپل منځ کې جوخت ودریږئ ، په مابین کې خالی ځای مه پریږدئ. (الحدیث-مشکوة ص۹۹ج ۱)

خلاصه دا چې د «حی علی الفلاح» څخه وروسته ولاړیدل له آدابو څخه دی ، مگر په پرینبودلو کې یې هیڅ کراهت نشته ولی چې د صفونو د برابرولو ډېر ټینګار شوی دی. پر نه رعایت باندی یې ډېر

وعيدونه ذكر شويدى. نو له همدې امله له كراهت څخه او له هغو وعيدونو څخه د خلاصون پخاطر ، پكار ده چې د اقامت له پيل سره سم بايد جماعة ته خلك ودريږي او دا افضل دى. څكه چې له صحابه كرامو رضى الله تعالى عنه څخه هم په دغه مهال دريدل ثابت دى. نو بيا ولى دى ته مكروه ويل كيداى شى.

(مصنف عبدالرزاق ص٥٠٧ ج١ ، فتح البارى ص٩٩ ج٢)

په بحرالرائق (ص٣٠۴ج١) كې د «حى على الفلاح» پر وخت د ولاړيدلو علت دا بيان شوى چې په - حى على الفلاح - كې حكم دا دى چې (راشئ كاميابۍ) ته نو څكه دا افضل ده چې د - حى على الفلاح - پر مهال خلك ودريږي.

له دى نه معلوميږي چې پر حى- على الفلاح - باندى ولاړيدل مستحب دى. مطلب يې دا دى چې له دې امر وروسته كښيناستل خلاف أدب دى. دا نه چې تر دى مخكې ولاړيدل بى ادبى ده. ولى چې مخكې ولاړيدل بيا نور هم افضل ګڼل كيداى شى. يعنى مقصد دا شو چې په ولاړى كې تر هغه پورى چې - حى على الفلاح - ويل كيږي تاخير كول څه باك نلرى. په همدى اساس علامه طحطاوى رح له دى وروسته فرمايى كه د اقامت له شروع سره سم سړى ودريږي نو په دى كې هيڅ حرج نشته.

(طحطاوى على الدر المختار ص٢٢١ ج١، فتاوى رحيميه ص٣٢٢ ج٢، ص٢١٧ ج٢ ، امداد الفتاوى ص١٨٥ ج١)

مسئله : دا ضرورى نه ده چې امام به خپلى مصلى ته راځى ، هغه وخت به د اقامت تكبيرات شروع كيږي ، بلكې امام چې په جومات

کې هرچیری موجود وی تکبیر ویل درست دی. امام چې تکبیر واوری پخپله مصلی ته راځی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۱۲ ج۲)

مسئله : که چیری د امام آواز ترټولو خلکو پوری نه رسیږی نو بیا مؤذن چې اقامت یې کړی وی او یا هم بل څوک کولای شی، تکبیرله امام سره په لوړ آواز ووایی ترڅو یې نور خلک واوری، په دې شرط چې دغه مکبر د تکبیر تحریمه پرمهال دا نیت هم کړی وی چې تکبیر به په لوړ آواز وایی ترڅو یې خلک واوری او د لمانځه نیت به یې هم کړی وی او که یې د لمانځه نیت نه وي کړی صرف د تکبیر لوړولو نیت یې کړی وی، نو د ده لمونځ هم باطل دی او د هغو خلکو هم چې د ده په تکبیر انتقالات کوی. خو په دې شرط چې که لمونځ کوونکو ته دا معلومه وه چې مکبر د لمانځه نیت نه دی کړی. (کتاب الفقه ص۲۰۲ج۱)

هغه صورتونه چې اقتداء پکښې صحی نه ده

دلته به لاندې هغه صورتونه بیان شی چې تر امام مقتدی زیات وی او اقتداء په دی صورت کې صحت ونلری:

۱ - د بالغ اقتداء (که نارینه وی او که ښځه) په نابالغ پسې درست نه دی.

۲ - د روغ سړي اقتداء په لیوني، مست، بی هوښه او بی عقل پسې.

۳ - د مخنث اقتداء په مخنث پسې. (کیدای شی څوک چې امام دی ښځه وی او څوک چې مقتدی دی نر وي. ځکه چې په مخنث کې دواړه احتماله وی.)

۴ - د هغې ښځې چې د خپل حیض موده ورته معلومه نه وی؛ په همدغسې ښځې پسې صحیح نه ده. (دا ځکه چې کیدای شی، د هغه

امام د حیض همدا شېې وی او وروسته د مقتدی د طهارت شپې وی ، لکه څنګه چې د بالعکس امکان لري.)
۵-د مخنث اقتداء په ښځه پسې ، په دې خیال چې کیدای شی مخنث وي.
۶-د جوړ ، پاک سړي اقتداء په ناپاک ناروغ پسې ، مثلا په هغه چاپسې چې د سلسل البول او یا داډول بله ناروغی لرونکې وی.
۷-د یوه عذرلرونکې اقتداء په دوه عذره والا پسی.
۸-د قاري اقتداء په نالوستی پسی.
۹-دنالوستی اقتداء په نالوستي پسي ،په دي شرط چي هلته کوم قاري هم موجود وي درسته نه ده.
۱۰-د نالوستی (امی) اقتداء په ګونګي پسی ، ځکه چې أمی که څه هم بالفعل قرائت نشی لوستلای ، قادرخودی پرلوستلو ، ولی په ګونګی کې خو دا احتمال له سره نشته.
۱۱-د هغه سړي چې بدن ئي پټ وی په جامه ؛ اقتداء ئي په هغه چاپسی چې لڅ وی ، صحیح نه دی.
۱۲-رکوع او سجده کوونکې اقتداء په هغه چاپسی چې دادواړه نشی کولای که چیری یو سړی رکوع کولای شی خو یوازی سجده نشی کولای ؛ په هغه پسی بیاهم اقتداء درست نه ده.
۱۳-د فرض لمونځ کوونکی اقتداء په نفل کوونکی پسی.
۱۴-د نذر د لمونځ کوونکی اقتداء په نفل کوونکی پسی صحت نلری ، ځکه چې د نذر لمونځ واجب وي.

۱۵- د نذر د لمونځ کوونکي اقتداء په هغه چاپسی چې د قسم لمونځ اداء کوي. صحیح نه ده. ځکه چې د نذر لمونځ اداء کول واجب دی. او د قسم اخیستونکی اختیار لری، که لمونځ اداء کوی له قسم ځخه ځان خلاصوی، او که په فدیه ورکولو سره د قسم کفاره اداء کوی.

۱۲ - هغه ځوک چې په لمانځه کې پوره واضح حروف نشی اداء کولای یا یو د بل پرځای اداء کوی مثلاد (ث) پرځای (س) وایی او یا داسی نور- حروف سره ردا و بدل وایی، په داسی سړي پسی د هغه چا اقتداء صحیح نه ده چې حروف ښه سم اداء کولای شی. (مګر که په ټول قرائت کې یو یا نیم حرف سم اداء نشی نو بیاهم اقتداء صحت لری.)

۱۷- امام به د چامقتدي نه وی (د امامت کولو په وخت کې) ځکه چې یو سړی چې هم امام وی، هم مقتدی، دانشی کیدلای. (یعنی که یو ځوک په بل چاپسی مقتدی وی، بیابل سړی په هغه مقتدی پسی اقتداء پیل کړی، صحت نلري.) (علم الفقه ص۸۷تر۸۹پوری ج۲)

مسئله : د نارینه اقتداء په ښځینه او نابالغ پسی نه صحیح کیږی.

مسئله : د نابالغ ماشوم پسی، فرض، تراویح، وتر، نفل او بل هیڅ ډول لمونځ صحیح نه دی. (هدایه ص۷۸ج۱، شرح وقایه ص۸۷، کبیری ص۵۱۶، کتاب الفقه ص۶۵۲)

مسئله : که چیری یو مقتدی د «الله» لفظ له امام سره اداء کړی او «اکبر» تر امام وړاندی ختم کړی، یا مقتدی امام د رکوع په حالت کې پیدا کړی، نیت پسی وتړی، لفظ الله د قیام په حالت کې ووایی او اکبر په رکوع کې ووایی، نو په دې دواړو صورتونو کې اقتداء

درست نه ده ، لکه څرنګه چې د هغه سړي اقتداء صحت نلري چې د «الله» لفظ له امام سره ووايي او «اکبر» ترامام مخکې ختم کړي.
(درمختار ص۲۷ ج ۱ کتاب الصلوٰة)

(په اول صورت کې د نه صحت وجه داده چې ترڅو پورې امام پوره جمله اداء کړي نه وي د لمانځه شروع کوونکي نه ګڼل کيږي. او مقتدي خو مخکې له دې چې امام په لمانځه پوره شروع وکړي ، ده د «اکبر» تکې پوره کړي ؛ چې دا درست نه ده.) او په دوهم صورت کې د نه صحت علت دادی ، چې مقتدي تحريمه (الله اکبر) د قيام په حالت کې نه ده ويلې چې يو ضروري شرط دی ، بلکې صرف «الله» ئي ويلې ، او اکبر ئي په رکوع کې اداء کړی ، او داچې هغه د اقتداء په نيت داخل شوی وو ، لهذا په دې دواړو صورتو کې تنها هم شروع کوونکی نه ګڼل کيږي ، (رفعت)

مسئله : که چا له نيت پرته لمونځ پيل کړ ، بيا ورته ياد شوه چې نيت ئي نه وو کړی او يا ئي غلط نيت کړی ، مثلاد ماپښين پرځای ئي د مازديګر نيت تړلی وو. نو اوس د نيت وخت تيرشوی ، د لمانځه له شروع کيدلو وروسته نيت څه اعتبار نلري ، له سره به نيت تړي او تکبير تحريمه به وايي بيا به لمونځ پيل کړي . (فتوی رحيميه ص۲۰۲ ج۲، شامی ص۵۸۷ ج۱)

له امام څخه مخکې د رکن اداء کول

مسئله : که چيري يو مقتدي کوم رکن د خپل امام تر ادا ينې له مخه اداء کړي ، مثلامقتدي ترامام مخکې رکوع ته ولاړشي ، ترڅو چې امام ورځي دی بيرته راپورته سي ، يعنې مقتدي نه د هغه رکوع له امام سره اداء کړه او نه ئي ترهغه وروسته اداء کړه ، له امام سره ئی يو

ځای سلام وګرځاوه نوپه دی صورت کې د مقتدی لمونځ ونه شو.
(درمختار ص۵۷۶ج۱)

مسئله : امام لاتراوسه په اوله سجده کې ده ، مقتدی بیا دواړه سجدې پوره کړي ، نو دده دغه دوهمه سجده اعتبار نلري ، بلکه سجده راګرځول ورباندې واجب ده ، کنه نو لمونځ ئي فاسد دی. (درمختار ص۶۶۲ج۱)

معذور سړي پخپل کور کې په امام پسې اقتداء کولای شي ؟

پوښتنه : زه یو معذور یم د جمعې د لمانځه لپاره مسجد ته نشم تللی ، جومات می کورته ډیر نژدې دی ، د جماعة لمونځ پوره اوریدلای شم ، نو آیا زه کولای شم چې له کوره په امام پسې اقتداء وکړم ؟

جواب : ــ : د اقتداء لپاره صرف داشرط نه دی چې د امام آوازبه اوریدل کیږي. بلکه دا هم ضروري ده چې صفونه به ترهغه ځایه پورې رسیږي چیرې چې دی ولاړ وی ؛ په منځ کې به کوم حائل نه وی ، که چیرې ئي په منځ کې نهر ، یا سړک یادیوال وی ، نود مقتدی اقتداء نه صحيح کیږي ، نوله همدي کبله ستا اقتداء په امام پسې چې هغه په جومات کې وی ، صحت نلري. خوداچې ته مسجد ته نشې تللی دعذر له امله ، نو خپل د ماپښين لمونځ په کورکې اداء کړه.
(آپ کی مسائل ص۲۶۳ج۲)

که چیرې تر کوره اويا تر هغه ځایه پورې چې ته لمونځ کوی ، صفونه د ورسیږي په منځ کې موکومه خلا پاتې نشی ، نو په دی صورت کې دا اقتداء صحيح ده ، -- محمدرفعت)

ایا له تلویزون نه اقتداء کیدای شی ؟

سوال : کله ناکله پرتلویزون باندی مستقیما د حرم شریف څخه جماعة ښکاره کوی ، نو که سړی تلویزون نهام کنبیږدی آوازئې لوړ شی ، اقتداء پسی صحي ده کنه ؟ لمونځ کیدلای شی ؟

جواب : داکومه طریقه چې تا ذکر کړه په دې توګه نه اقتداء صحیح ده او نه ستا لمونځ اداء کیږی. (آپ کی مسائل ص۲۶۲ج۳)

مسئله : جماعة د مسجد په دننه کې کیږی او پردروباندي پردې خړیږي (یعنی د دووستنو ترمنځ) تردې د باندی دخلکو جماعة صحت لري. (فتاوی دارالعلوم ص۳۲۸ج ۱، بحواله ردالمحتار ص۵۲۸ج۱)

(یعنی د پردې ترشا لمونځ صحیح دی په داسی حال کې چې دننه ځای نه وي ، ــ محمدرفعت)

مسئله : که امام پرمصلی باندی وی او مقتدی پرفرش ولاړ وی ، صحت لری

مسئله : که امام پرچوکی باندی او مقتدیان پرفرش وی ، نو که چوکی د یو لویشتې په اندازه لوړه وی نومکروه ده او که تردې کمه وی ، بیاصحیح ده. (فتاوی دارالعلوم ص۳۴۳ج ۳بحواله ردالمحتار ص۶۰۲ج۱)

مسئله : که نورخلک د لمر په ګرمی کې پرلمانځه ولاړوی اویوتن له ګرمی څخه د ځان ساتلو په غرض سایی ته ودریږی ، لمونځ ئي درست دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۶۱ج۳)

مګرداسی کارکول نامناسب دی ، ځکه په دې سره به هرومرو دی له صفونو څخه لرِ بیلیږی ، چې دا ښه عمل نه دی ، ولی د ګرمی لپاره

هم باید نوري لارې چارې ولټولې شي، ترڅو لمونځ کوونکو ته تکلیف نه وي. (محمد رفعت)

مسئله : که ئي په زړه کې مازيګر وي او ترخوله ئي ماپښين ووزي، نو په دې کې څه حرج نشته، لمونځ وشو.

(فتاوی رحیمیه ص۲۰۳ ج۴ بحواله ردالمحتار ص۳۷۵ ج۱)

په لمانځه کې د امام پیروي په څه وخت کې ضروري ده؟

مسئله : په لمانځه کې د امام پوره متابعت کول د مقتدي لپاره د امامت له شرائطو څخه دی. د احنافو په نزد له امام څخه د مقتدي پیروی، ۳ قسمه لري. یو داچې د مقتدی عمل به د امام له عمل سره بلکل متصل وی، (یعنی کوم وخت چې امام نیت وتړی، مقتدی به هم سمدستي نیت ورسره تړی) د امام له رکوع سره به سمدستي رکوع کوی او چې هغه سلام ګرځوی، نو دی به هم سلام ورسره ګرځوی، که کله داسې پیښه سی چې مقتدی له امام نه مخکې رکوع ته ولاړشي، ترهغوپوری وځنډیږی، ترڅو امام هم رکوع ته ورشي. رکوع ورسره پوره کړی دواړه راپورته شي، نو دا صورت هم د امام په پیروي کې حساب دی.

دوهم داچې مقتدی د امام له عمل څخه ورسته عمل پیل کړی، په دې توګه چې په هر رکن باندی شروع اول د امام وی، خو چې هغه لا پوره شوی نه وی په پاتې حصه کې مقتدی ورسره پوره شرکت وکړی.

دریم داچې مقتدی د امام پیروی کوی خو په تاخیر او ځنډ سره، دا رنګه چې کله امام یو عمل انجام کړی نو مخکې له دې چې امام په

بل رکن پیل کړي وي مقتدي هم هغه عمل انجام کړي، په دې ټولو صورتونو کې دا تسلیمېږي چې مقتدي د امام پیروي کړې ده.
مطلب دا چې امام رکوع وکړه، او ورسره ورسره مقتدي هم رکوع پوره کړه. یائي له هغه نه وروسته وکړه چې له امام سره په رکوع کې شامل شوی و.
او یا دا چې له رکوع څخه د امام د پورته کیدلو نه بعد وي، لیکن مخکې له دې چې امام سجدې ته د تیتید و میلان وکړي، نو مقتدي د امام پیروي وکړه، په دغو دریو صورتو نو کې په هریوه کې متابعت ترسره شو. (کتاب الفقه ص۶۶۸ج۱)

په فرضي اعمالو کې پیروي کول

مسئله: په لمانځه کې چې کوم شیان فرض دي، په هغوی کې د امام پیروی کول فرض دی، او چې کوم واجب دي په هغوی کې متابعت کول واجب دي، او کوم چې سنت دي په هغوی کې متابعت سنت دی مثلاً اوس که په رکوع کې د امام پیروي پرېښودله شی، په دې توګه چې له امام سره رکوع ته ولاړ شي، خو تر امام مخکې راپورته شی، نو په دې رکوع او د راتلونکې رکعت په رکوع کې هم همداسې شمولیت وکړي، نو لمونځ باطل شو، ځکه چې په فرض عمل کې ئي متابعت ونکړ چې فرض و، دا راز تر امام وړاندې ئي رکوع او سجده وکړه نو دغه رکعت چې دا ډول عمل پکې وشو، رایګان (بیکاره) ولاړ، فرض ادا نشو.

د دویم رکعت افعال لومړي ته، د دریم رکعت افعال دویم ته، د څلورم دا دریم ته منتقل کیږي او د ده پر ذمه یو رکعت پاتی کیږي چې

د امام له سلام ګرځولو نه وروسته ئي ورباندې اعاده واجب ده. که ئي داسې ونکړل (یعنې وروسته ئي دغه یو رکعت اداء نکړ، نو لمونځ باطل ګرځي)
همدارازکه ئي په قنوت (د وترودوعا) کې د امام متابعت ونکړ، نو ګناه ئي وکړه، ځکه چې واجب ئي ترک کړ، او که د رکوع په تسبیح کې ئی متابعت ونکړ، نو سنت ئي ترک کړ. (کتاب الفقه ص۶۶۹ج۱)
مسئله: په اوله ناسته کې که چیرې امام د مقتدي د تشهد (التحیات) پوره ویلو نه مخکې ولاړشي، نو مقتدي به خپل تشهد پوره ولولي اوبیابه ولاړشي، او د وترو په قنوت کې که چیرې امام د مقتدي د قنوت ختمیدلو نه وړاندې رکوع ته ولاړشي، نو متابعت به ئي کوي، د دې دواړوصورتو ترمنځ فرق دادې چې دعاء قنوث چې څومره اندازه وویلې شي واجب پرې اداء کیږي مګر تشهد پوره ویل واجب دي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۷۰ج۳، شامی ص۶۸ج۱)
مسئله: په اخیرناسته کې چې کله امام سلام وګرځوي، مقتدي به هم سلام ګرځوي، البته که کوم مقتدي تشهد پوره ویلی نه وي، نو هغه دې پوره کړي بیادې سلام وګرځوي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۶۸ج۳)

په کومو ځایونوکې چې امام پیروي بایدونشي

مسئله: څلورخبرې داسې دي چې په هغوی کې متابعت لازمي نه دی
۱- داچې امام عمداً یوه سجده زیاته وکړي نو په هغه کې به متابعت نه کیږي.

۲-د اخترونو په لمانځه کې که چیری امام تکبیرونه له شپږو نه زيات ووايي ، کوم چې له صحابه کرامو څخه مروي وي نه دي ، متابعت ئي نه کيږي.
۳-که امام د جنازې په لمانځه کې تکبيرونه زيات کړي، متابعت به ئي نه کيږي.
۴-څلورم کله چې امام د فرضو له مکمل کولو او اخيره ناستی له پوره کولو نه وروسته په هربل رکعت ته ولاړشي دغه مهال دې هم د امام پيروي نه کيږي. که امام بيا هم داسې وکړي او هغه زيات رکعت پسې پوره کړي سجده وکړي ، نو مقتدي دې پرخپل سر سلام وگرځوی له لمانځه څخه دې جدا سي ، او که چيری بيا امام سجده ونکړي بيرته اخيری ناستی ته راوگرځي او بيا سلام وگرځوی ، نو مقتدی ته هم پکارده چې دلته ځينی جدانشی ، له امام سره يو ځای سلام وگرځوی، مگر که امام له اخيری قعدی (ناستی) پرته سيده ، بل فاضل (زيات) رکعت ته او چت شواو سجده ئي هم وکړه نو د ټولو لمونځ باطل شو . دا لاندينی نه خبری داسې دي چې که چيری امام هغه پريږدی ، نو مقتدي ته پکار ده چې په هغه کې د امام پيروي ونکړي (يعنی پري يې نږدی. چې هغه نه (۹) خبري دا دي:
په تکبيرتحريمه کې دواړه لاسونه پورته کول ، ثناء (سبحانک اللهم) ويل ، د رکوع لپاره تکبير ويل ، د سجدې تکبيرويل ، په رکوع او سجده کې تسبيح ويل ، سمع الله لمن حمده» ويل ، التحيات ويل: السلام عليکم ورحمة الله ويل ، په عيدالاضحی کې تکبيرات التشريق ويل، دا نه ۹ امور هغه شيان دي ، چې که امام ئي کله

پريږدي ، نو مقتدي ته پکار ده چې د امام پيروي ونکړي ،بلکې اداء يې کړي ، پخپل سر. (کتاب الفقه ص۴۷۱ج۱)

همدارنګه ځونوري خبري داسی شته چې که امام هغه پريږدي ، نو مقتدي ته ئې هم پرېښودل پکار دی ، هغه پنځه خبری دا دي: د اختر تکبيرونه ، لمړی ناسته ، سجده تلاوت ، سجده سهو او دعاء قنوت. دا په هغه صورت کې که چيری د رکوع د تيريدلو احتمال وی . که دا انديښنه نه وی نو بيا قنوت لوستل پکار دی. وړاندی ويل شوی چې په امام پسی قرآن ويل مکروه تحريمي دی. له همدې وجی په دي کې د هغه پيروي جواز نلری

مسئله : که مقتدي تشهد (التحيات) پوره کړی وی ، نو په سلام کې به د امام پيروي کوی.

مسئله : په سلام ګرځولو کې د امام د متابعت ترټولو بهترينه طريقه داده چې مقتدی له امام سره جوخت يو ځای سلام ونرځوی ، نه وړاندی وی ، نه وروسته.

مسئله : که چاتر امام وروسته سلام وګرځاوه ، نو ګويا أفضله طريقه ئي پرېښودله. مګر که چا تکبير تحريمه له امام نه وړاندی ووايه ، نو لمونځ ئی صحيح نه دی ، او که ئي بلکل جوخت ورسره ووايه: بياهم درست نه دی ، او که ئي ورسته په تأخير او ځنډ سره ووايه نو بيائي د تکبير تحريمه د ويلو افضل وخت فوت او نظرانداز کړ. (کتاب الفقه ص۴۷۱ج۱)

مسئله : ځينی خلک داسی عادت لری چې د سلام ګرځولو په وخت کې غاړه ښه کږه کړی او بدن ټول ورسره وګرځوی ، چې دا يوه بي بنياده خبره ده ، هيڅ اصل نلری. (اغلاط العوام ص۶۳)

د لمانځه په مخکې تیریدل

د لمونځ کوونکي په وړاندې تیریدل حرام دي. که څه هم لمونځ کوونکی له څه عذره پرته ستره هم درولې نه وي په مخکې، همدارنګه لمونځ کوونکی ته هم دا حرام دي چې د خپل لمانځه په وجه د خلکو د تیریدو راتیریدو په لاره کې خنډ جوړکړي، په دې توګه چې په داسې یو ځای کې ودریږي چې په مخکې ئې د خلکو ګڼه ګونه زیاته وي او دې خپلې مخې ته څه ستره هم ونه دروي، په داسې صورت کې که څوک دهغه په مخکې تیرشي نو ګناه ئې پرده باندې په دې وجه ده چې په داسې نامناسب ځای کې پرلمانځه دریدلی دی. او که په همداسې ځای کې بیاهم دی ودریږي خو څوک یې ترمخ تیرنشي نو څه ګناه نشته باندې، د سترې نه نبودل ګناه نه ده ځکه چې ستره پخپله یو واجب امرنه دی.

که چیرې لمونځ کوونکی د تیریدونکي سره لپاره خنډ وي، اوتیریدونکي ته هم دا زمینه برابره وي چې له بلې لارې تیر شي، خوله دې سره سره بیاهم د لمانځه ترمخ تیرشي نو دواړه ګناهکار دي او د دې برعکس بیا پریوه ګناه نشته، هغه دا چې لمونځ کوونکی د چا لپاره د تیریدلو خنډنه وي او تیریدونکي ته هم بله هیڅ لاره د تیریدلو نه وي نو بیا تیریدل صحیح دي او ګناه نشته پریوه باندې.

او که په دوی دواړوکې د یوه طرفه غلطي وشوه ،نو بیاګناه پرهغه شخص ده. پردا بل نه ده. (کتاب الفقه ص ۲۳۰ ج۱، درمختار ص۵۸۱ ج۱، نظام الفتاوی ص۷۵ ج۱)

«ستره» هغه شی ته ویل کیږي چې یو لمونځ کوونکی ئې د لمانځه پرمهال مخې ته ږدي هغه که د لکړي وي، یاکومه ستن وي، یا دیوال

او یا بل داسې شئ وی، د دې سترې له درېدلو نه مطلب او مقصد دا وی چې د هغې په وسیله د سجدې ځای بېل شي، او څوک که وغواړي د لمونځ کوونکي په مخکې تېر شي، نو ګنهکار به نه وی.

د سترې درېدلو اړتیا هغه وخت او په هغه ځای کې رامنځ ته کېږی چېرې چې کوم محفوظ او بند ځای نه وی، پرېو خالی میدان څوک پرلمانځه ودرېږی، که په مسجد یا بل داسې ځای کې نه وی، پرېو خالی میدان څوک پرلمانځه ودرېږی، که په مسجد یا بل داسې ځای کې وی، نو بیا یې هیڅ ضرورت نه وی د سترې اوږدوالی به له یوه لاس څخه کم نه وی، او پنډوالی به یې لږترلږه د یوې ګوتې برابر وی، د جماعة د لمانځه پروخت د امام ستره د ټولو مقتدیانو لپاره کافي ګڼله کیږی، یعنی که چیری د امام په وړاندی ستره وی، نو د مقتدیانو په مخکې تیریدل هیڅ باک نلری، که څه هم د دوی په مخکې شئ نه وی، مګر د سترې ترشا تیریدل صحیح نه دی، څوک که په جماعة کې د ګډون لپاره کوم سړی راشی په لومړي صف کې خالی ځای وويني، نو هغه ته جائز ده چې د دویم صف ترمخ تیرشی او خالي ځای ته ځان ورسوی، په جماعة کې شریک شی، په دې صورت کې پړه د دویم صف پرغاړه کیدلای شی، چې ولی ئي په لمړی صف کې خالی ځای پرېښوده، لمړی به یې هغه صف پوره کاوه

(سلام حق ص۲۲۶ ج۱، هدایه ص۸۹ ج۱، شرح نقایه ص۹۶ ج۱، کبیری ص۳۶۸، علم الفقه ص۹۳ ج۲، کتاب الفقه ص۴۲۷ ج۱)

مسئله: ستره درول سنت دی. (هدایه ص۸۹ ج۱)

مسئله : د ستري پرځای که په مخکې څادر ، سايوان ، مصلى او يادي ته ورته بل شئ دلمونځ کوونکي په وړاندې وي ، نو هغه کافي ده ،داضروري نه ده چې لکړه به وي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲ج۲، ردالمحتار ص۵۹۵ج۱)

مسئله : دلمونځ کوونکي په مخکې تيريدل ګناه ده ، مګر لمونځ نه فاسدوي ، اوکه څوک په ناپامی اوغلطی سره تيرسي ، نو معذوربلل کيږي.

مسئله : که څوک په لويه ميداني او يالوی مسجد کې لمونځ کوی ، نوترمنځ ئي دوه درې صفه وړاندې د تيريدلو ګنجايش سته ، او په کوچنيو مسجدونو کې خو قطعا د لمونځ کوونکې ترمخ د تيريدلو اجازه نشته . (آپ کی مسائل ص۲۹۴ج۲)

مسئله : د لمونځ کوونکې ترمخ تيريدونکې سړی ته که دامعلومه شی چې دلمانځه ترمخ تيريدل څومره عظيمه ګناه ده ، نو په کلونو کلونو به پرځای ودريږی خو د تيريدلو جرأت به ونکړی.
(فتاوی رحيميه ج۲بحواله مشکوة ص۷۴ج۱)

دلمونځ کوونکې په وړاندې دتيريدلو اندازه

مسئله : چيرې چې د لمونځ کوونکې نظررسيږی ، يعنې نظرئې د سجدې پرځای لګيږی ؛ ترهغه ځايه پورې به مخ ته نه تيريږی ، بياکه چيرې يو سړی د باندې پرفرش لمونځ کوی ، نو د دنني په درجه کې مخې ته تيريدلای شی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۱ج۲)

مسئله : په غټ مسجد او ځنګل کې خو د لمونځ کوونکې څخه په دومره فاصله کې تيريدل جائز دی چې ستر ګې د سجدې پرځای

ولګیږي ، له دې وروسته چې ترکومه ځایه پورې ده ته په نظرځه نه ورځي . (امداد الاحکام ص۳۶۲ ج۱)

مسئله : که چیرې دوه لمونځ کوونکي وروسته شاته لمونځ کوي ، د مخکې تن لمړی فارغ شو ، نو دی اوس بنې ، یا چپ اړخ ته تللای شي ، دا جائز دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۴۸ ج۲)

مسئله : د بیت الحرام طواف کوونکي ته رواده چې د لمونځ کوونکي ترمخ تیرشی ، همداراز د کعبې شریفې دننه او د مقام ابراهیم شاته د لمونځ کوونکې په مخکې تیریدل جائز دی. او داهم جوازلري چې د تیریدونکی او لمونځ کوونکی ترمنځ ستره نه وي. (کتاب الفقه ص۴۳۱ ج۱)

(داځکه چې دلته مجبوري ده ، محمدرفعت قاسمی غفرله)

د لمانځه فرائض

دلته به د لمانځه فرائض ، واجبات ، سنن ، مستحبات ، مفسدات او مکروهات په لیکلې بڼه ذکرکړو ، ترڅو دا څرګنده شي چې دلمانځه د اداء کولو دا پورتنې طریقه کې کوم شئ فرض دی او کوم واجب ، کوم سنت او کوم مستحب دی ، او د کوم یو ه په نه رعایت کولوسره لمونځ ته نقصان رسیږي ، د لمانځه فرائض ۷ شپږ دي چې په دې شپږو کې پنځه د لمانځه ارکان دي ، یعنې لمونځ له هغوی څخه جوړ دی اودوی د لمانځه اجزاء دي ، اوشپږم یعنې لمونځ په خپل فعل سرد پای ته رسول ، رکن نه دی .

۱- قیام (دریدل) دومره څنډ کول فرض دی چې په هغه کې فرض قرائت وویلای شي. د دریدلو اندازه فقهاؤو په دې ډول بیان کړې .

چې که لاس وغزول شي نو د ځنګانه ترسترګیو پوری نه رسیږي.
(مراقي الفلاح)
قیام تنها په فرائض او واجب لمونځونو کې فرض ده ، له دې پرته په نوروکې فرض نه ده.
مسئله : کوم سړی چې د قیام توان نلري ، پرهغه باندی فرض نه ده.
۲-قرائت: یعنی په لمانځه کې د قرآنکریم لوستل ، د قرآنکریم دیوه آیة لوستل فرض دی ، که غټ وی ، که ووړ ، مګر شرط دا دی چې لږ ترلږه له دوو لفظونو څخه به جوړ وی ، لکه «ثم نظر» او که چیری یو لفظ وی لکه: «مدهامتان» یایو حرف وی لکه: (ص، ق ، وغیره...) یادوه حرفه وی لکه : حم ، و غیره یاڅو حروف وی لکه : الم ، حم ، عسق ، او داسی نور... نو په دې ټولو صورتونو کې د داسی یوه آیة له ویلو نه فرض نه اداء کیږي. (مراقي الفلاح، درمختار)
مسئله : په فرض لمونځوکې یوازې په دوو رکعتونو کې قرائت فرض دی ، دا هم تخصیص نلري چې په اولو دوو رکعتونو کې به وی او که په وروستیو کې او یا په منځنیو دوو کې ، لکه د مابنام په لمانځه کې که څوک په اول او دریم رکعت کې قرائت ووایی په دویم کې نه ، یایی په دویم کې ووایی په لمړی کې یی نه ووایی. نو په هرصورت فرض اداء کیږي. (کنزالدقائق، درمختار، مراقي الفلاح)
مسئله : دوتراو نفل لمونځونو په ټولو رکعتونو کې قرائت فرض دی
مسئله : په امام پسی شاته مقتدی ته د قرائت ویل ضرورت نشته . مګر مسبوق ته څوک چې یو رکعت یازیات ځینی تیرشوی وی ، په

هغو تيروشويو رکعتونو کې چونکه امام نشته نو ځکه ده ته د قرائت ضرورت شته.

۳-رکوع په هر رکعت کې يو ځل رکوع کول فرض دي، د رکوع اندازه فقهاؤو داسې بيان کړيده چې دومره اندازه سړی ټيټ شي چې دواړه لاسونه ئې ترځنګانه سترګيو پورې ښه ورسيږي او صرف دا ټيټيدل فرض دي، دانه چې ترځنګه پورې دغسې ټيټ پاتې کيدل فرض دي.

مسئله: که يو سړی د بوډاتوب او کمزوری له امله پرملا کړوپ (کږ) وي، هميشه داسې ښکاري لکه د رکوع په حالت کې، نو هغه ته په رکوع کې صرف سر ټيټيدل پکاردي. (مراقی الفلاح)

۴-سجده: په هر رکعت کې دوې سجدې کول فرض دي، يوه سجده په قرآنکريم او بله سجده په احاديث او اجماع سره ثابته ده.

مسئله: په سجده کې ديوې پښې ګوتې، يو ګونډه (د ځنګانه سترګي) او تندی پرځمکه لګول سجده بلل کيږي، که کوم چاته څه عذر او تکليف وي، تندی نشي لګولی، نو هغه ته يوازې د پوزې اېښودل کافي دي. (که ئې دهغه هم وس درلودی)

۵-آخيره ناسته: دغه ناسته چې د لمانځه په اخير کې د دواړو سجدو نه وروسته کيږي تردومره وخته پورې انتظار کول چې التحيات تر اخيره پورې وويلای شي، له دې نه زيات کښيناستل فرض نه دي. (درمختار، مراقی الفلاح)

۶-لمونځ په خپل فعل باندې پای ته رسول، يعنې د ارکانو ترختميدلو وروسته يو داسې عمل ترسره شي چې د لمانځه سره منافي

وی ، مثلا ، السلام علیکم ووایی یاله قبلی څخه مخ واړوی. یابل کوم داسی فعل انجام کړی. (علم الفقه ص۶۱ج۲، هدایه ص۹۶ج۱، شرح نقایه ص۶۸، کبیری ص۲۷۵، کتاب الفقه ص۳۲۰ج۱)

د لمانځه د فرائضو خلاصه

فرائض: ۱-قیام ۲-قرائت ۳-رکوع ۴-سجده ۵-اخیره ناسته ۷-لمونځ په خپل فعل پای ته رسول د واجب قرائت اندازه.

مسئله : د نفل او وتر لمانځه په هر رکعت کې او د فرض لمانځه په لومړیو دوو رکعتونو کې د سورة فاتحی ترڅنګ یو بل سورة لوستل واجب دی ، چې ترټولو وړوکی سورة وی لکه سورة کوثر یاد هغه برابر د قرآنکریم آیتونه ، مثلا ۳ کوچنی کوچنی آیتونه یا یو لوی آیة په لوستلو سره امر واجب آداء کیږی ، کوچنی ایات مثلا : « ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ۲۲ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ» په دې کې لس الفاظ دي ، او مشدد حروف چې په دوو شمیرکې نو دیرش حروف کیږی ، او له اوږده آیة څخه په هر رکعت کې دومره اندازه د قرآنکریم ولوستله شی نو واجب اداء کیږی. لهذا که له آیة الکرسی څخه صرف دومره وویل شی ، مثلا : «الله لااله الاهوالحی القیوم لاتأخذه سنة ولانوم »—

(کتاب الفقه ص۳۸۰ج۱، صغیری ص۱۵۰، فتاوی رحیمیه ص۳۱۰ج۲، شامی ص۴۲۷ج۱)

د لمانځه واجبات

۱- تکبیر تحریمه خاص د الله اکبر په لفظ سره ویل ، که چیری د دي له هم معنی لفظ څخه آداء شی ، مثلا «الله اعظم » او یاداسی بل لفظ... نو واجب اداء نشول.

۲-له تکبیر تحریمه وروسته دومره اندازه دریدل چې سورة فاتحه او ورسره بل کوم سورة ولوستلای شي. (درمختار، شامی)
۳- سورة فاتحه د فرض لمونځو په دوو رکعتونو کې اود نورو لمونځونو په ټولو رکعتونو کې یو ځل ویل.
۴-له سورة فاتحی نه وروسته د یو بل سورة لوستل، د فرض لمونځو په دوو رکعتو کې او د نورو ټولو لمونځونو په ټولو رکعتونو کې، او دا سورة به لږترلږه ۳ آیة وی، که پوره سورة وی او که د یو سورة جزء وی.
۵- لومړی سورة فاتحه لوستل، او بیا سورة لوستل، که چیری یو څوک تر سورة فاتحه وړاندی بل سورة ولولی او وروسته فاتحه ووایی، نو واجب نه اداء کیږی.
۶- د فرض لمانځه په دوو لمړیو رکعتونو کې قرائت کوی، که چیری په دویم، دریم او یا دریم څلورم کې وویل شی، خو په اول او دویم کې ونه شی نو واجب ادا نه شول که څه هم فرض اداء شول. (درمختار، مراقی الفلاح)
۷- له رکوع نه وروسته پورته سیده دریدل، چې فقهاء کرام دغي ولاړې ته قومه وایی.
۸-په سجدو کې دواړه لاسونه، ځنګونه، دواړی پښی او پوزه پر ځمکه اینبودل. (مراقی الفلاح)
۹-له لمړی سجدی نه ورسته فورا دویمه سجده کول، مخکې له دې چې بل رکن یا بل عمل پیل کړی، مثلا که یو سړی یوه سجده وکړی، بیا پرته له دې چې دویمه سجده وکړی؛ ولاړ شی، نو واجب

ئي آداء نشول، ځکه چې د دويمې سجدې تر اداء کولو وړاندې ولاړشو قيامي ته. (شامی)

۱۰-په رکوع او سجدو کې دومره ځنډيدل چې لږترلږه يو ځل «سبحان ربی العظيم» يا «سبحان ربی الاعلیٰ» وويلای شي. (طحاوی، مراقی الفلاح وغيره)

۱۱-د دواړو سجدو ترمنځ په ناستې کې لږځنډ کول، چې فقها ورته جلسه وايي.

۱۲-په قومه او جلسه کې دومره ځنډيدل چې يو ځل «سبحان ربی الاعلی» يا د هغې په اندازه بله داسې کلمه وويله شي. (مراقی الفلاح)

۱۳-اوله ناسته يعني په دويم رکعت کې له دواړو سجدو ورسته کښيناستل، که چيرې لمونځ څلور رکعتي وو.

۱۴-په اوله ناسته کې دومره اندازه کښيناستل چې «التحيات» په کې وويل شي.

۱۵-په دواړو ناستو کې يو ځل «التحيات» لوستل، که بيخي ونه ويل شي او يا تر يو ځل زيات ولوستل شي نو واجب ترک سول.

۱۶-په لمانځه کې له خپله ځانه داسې فعل نه کول چې د فرضو يا واجبو د تاخير سبب وګرځي. (درمختار شامی وغيره) مثلاً: د سورة فاتحې له لوستلو نه وروسته تر ډيره پورې چپ پاتې کيدل، چې دا د دوهم سورة د تأخير سبب کيږي. ۲-دوې رکوع کول، چې دا د دوهمه رکوع د سجدې د ځنډ (تاخير) سبب کيږي ۳-درې سجدې کول، چې دا دريمه سجده د قيامې او قعدې د تاخير سبب کيږي. ۴-په اول رکعت يا دريم رکعت په اخير کې زيات کښيناستل، چې دا

ـ ستي د دوهم يا څلورم رکعت د قيام د تاخير سبب کيږي. (شامي)
د يه دويم رکعت کې له «التحيات» نه وروسته ترديره کښيناستل
دومره اندازه چې په هغه وخت کې يورکن لکه رکوع اوداسې بل اداء
کيدای شي. (علم الفقه ص۶۳ ج۲، درمختار ص۹ ج۱)
۱۷- په وترلمانځه کې دوعاء قنوت لوستل، که څه هم هره دوعاوي.
۱۸- د اخترونو په لمانځه کې له خپلو معمولي تکبيرونو څخه علاوه
۶شپږ زيات تکبيرونه ويل.
۱۹ د اخترونو په دويم رکعت کې رکوع ته د تللو پروخت تکبير ويل.
۲۰- امام ته په زوره قرائت لوستل، د سهارپه دواړو رکعتونوکې، د
ماښام او ماخستن په لمړيو دوو رکعتونو کې، هغه که قضاء وي،
که اداء، او د جمعې او اخترونو او تراويحو په لمونځونو کې او د
روژې د مياشتې په وترلمانځه کې.
منفرد (تنها لمونځ کوونکي) ته اختيار ده چې په لوړآواز ئې وايي،
که په ټيټ آواز خود لوړ آواز لپاره اندازه فقهاوو داسې بيان کړي چې
کوم دوهم تن ئې واوريدلای شي، او د سوکه آواز ښودنه ئې داسې
کړي چې پخپله ئې واوريدلای شي، نه بل څوک.
۲۱ـــ د امام لپاره د ماپښين، مازيګرپه ټولو رکعتونو کې اودماښام
ماخوستن په آخوي دوه رکعتونو کې ورو (سوکه) قرأت ويل (قاضي خان)
۲۲- کوم نوافل چې په ورځ کې اداء کيږي؛ په هغوی کې په وروآواز
ـــ د قرائت کول، او چې په شپه کې اداء کيږي، په هغوی کې
اختيار لري. (مراقی الفلاح)

۲۳-منفرد (يوازی لمونځ کوونکی) که چيری د سهار، ماښام، ماخستن قضاء په ورځ کې اداء کوی، نو په هغوی کې به هم قرائت په ټيټ آواز کوی، او که په شپه دغه قضائی اداء کوی، نو اختيار او خوښه ئي دهٔ په زوره ئي وايي که ورو (سوکه)

۲۴-که چيری کوم سړي په ماښام او ماخستن لمانځه کې په لمړيو رکعتونو کې د فاتحې ورسته دويم سورة هير کړی، نو هغه دی بيا په دريم، څلورم رکعت کې له سورة فاتحې وروسته بل سورة ورضم کړی، او په لوړ آواز به په دې رکعتونو کې هم قرائت لولی، دا واجب دی.

۲۵-لمونځ د «السلام عليکم» په لفظ سره ختمول، نه په بل لفظ سره.

۲۶-دوه ځله «السلام عليکم» ويل. (علم الفقه ص۶۴ج۲، هدايه ص۷۳ج۱، شرح نقايه ص۷۰ج۱، کبيری ص۲۹۸، کتاب الفقه ص۳۸ج۱، بحر ص۳۰۲ج۱)

مسئله : د واجب په پريښودلو سره لمونځ ناقص کيږي.

مسئله : د واجب منکر فاسق وی، او د فرض منکر کافر.

مسئله : واجب که کوم يو پاتی شی نو په سجده سهوه تلافی کيدای شی چې له سلام گرځولو وروسته د سهوی سجده اداء کړی.

مسئله : که په قصدي توگه څوک واجب پريږدی نو د لمانځه اعاده او راگرځول ورباندی واجب دی.

مسئله : د واجب ترک (پريښودل) مکروه تحريمی دهٔ، او د مکروه تحريمی په ارتکاب سره انسان فاسق او گناه کار گرځی.

مسئله : کوم لمونځ چې له مکروه تحريمی سره اداء کړای شی، نو د هغهٔ اعاده راگرځول لازم دی. (نماز مسنون ص۳۰۲، کتاب الفقه ص۳۷۹ج۱)

د سنت تعریف (پیژندنه) او حکم ئي

سنت هغه عمل ته ویل کیږي چې مکلف انسان ئي په ترسره کولو سره د اجر او ثواب مستحق گرځي، خو که پریښودل شي نو څه مواخذه وربندې نشته. که یو څوک د لمانځه ټول یا یو څه سنتونه پریږدي؛ څه مواخذه د الله تعالی له لوري نشته، مگر دا چې له هغه ثواب او اجر څخه به محروم وي چې په ترسره کولو کې ئي شته.

نو له همدې امله مسلمان ته دا نه ښائي چې سنت داسې یو بې حیثیت شی تصور کړي، ځکه چې د لمانځه مقصد د الله پاک په دربار کې تقرب حاصلول دي، چې په نتیجه کې سړی د الله پاک له عذاب څخه نجات موندلای شي او د الله پاک له نعمتونو څخه برخمن کیدلای شي. په داسې صورت کې به هیڅ یو عاقل مسلمان دا مناسب ونه گڼي چې د لمانځه د سنتونو نه د کوم یوه سنت بې قدري او بې عزتي وکړي، او هغه پریږدي، ځکه چې پریښودل ئي د اجر او ثواب څخه د محرومیت سبب کیږي، چې دا په خپله یو عذاب دی. له نعمت، اجر او ثواب څخه محرومیت، خو اوس پوښتنه داده چې د دې علت او لامل څه دی چې شارع علیه السلام په لمانځه کې ځینې شیان لازمي او فرض گڼلي او ځینې ئي بیا غیرضروري بللي دي؟ د دې لپاره جواب داده چې الله تعالی پر خپلو بندگانو د آسانی په خاطر د ځینو اعمالو په ترسره کولو کې اختیار ورکړی چې په آداء کولو سره ئي په خپله خوښه اجر او ثواب ترلاسه کړي، نو اوس که څوک هغه پریږدي له ثواب څخه به محروم گرځي، خو عذاب به هم

وربانـدی نـه وی ، چـې داپخپـل ذات کـې د شـریعت اسـلامی لـه نیګنو څخه یو ه ګڼله کیږی.(کتاب الفقه ص۲۸۳ج۱)

مسئله : د لمانځه د سنتونو پريښودل نه د لمانځه د فساد سبب ګرځی او نه سجده سهولازموی ، بلکې هغه وخت د ګناه سبب کیږی چې په قصدی توګه پريښودل شی ، خو داهم په دی شرط چې سنت دسستی او کاهلی په وجه پریږدی ، نو ګناه ده ، اوکه په دی وجه ئی پریږدی چې سنت ته په حقارت او سپکه وګوری نود فتوا له مخی هغه سړی کافر کیږی.
(درمختار ص۱۹ج۱، کتاب الصلاة)

دلمانځه سنتونه

۱ - دتکبیر تحریمه د ویلو پرمهال سرنه ټیټول. (مراق الفلاح)

۲ - دتکبیرتحریمي تر ویلو وړاندي دواړه لاسونه پورته کول ، نارینه به ئي ترغوږوپورته کوي اوښځینه به ئي تراوږوپوري ؛ خو د عذر په صورت کي نارینه هم دښځینه په څیراوږوپوري پورته کولا ي شي

۳ - دتکبیرتحریمـه پـه وخـت کـي دپورتـه سویولاسـونواوږغوي اوګوتي قبلي ته سیده کوي. (درمختاروغیره)

۴ - دلاس پورته کیدلو په وخت کي به ګوتي نه ډیري پرانیستي اونه ډیري جوختي نیسي .

۵ - دتکبیرتحریمه ترویلو وروسته فورا لاسونه بندول ، نارینه به یي له نامه څخه لاندي اوښځي به یي پرسینه ږدي.

۶ - دنارینه وولپاره لاسونه داسي بندول سنت دي چه ښی لاس به پرچپ لاس کښیږدي او د ښـي لاس بټه اوکـچـنـه ګوتـه بـه د چپ لاس

پرمروند راتاو کړي. او د ښځو لپاره دا د ول ضروري او مسنون نه ده ،
هغوي به صرف ښې لاس پر چپ لاس ایږدي.
۷ - له لاسو نو بند ولو نه وروسته سمدستي «سبحانک اللهم» ترپایه
لوستل.
۸ - امام او منفرد به له «سبحانک اللهم» وروسته «اعوذبالله من الشیطن
الرجیم» وایي.
همدارنګه مسبوق به د خپلو هغو رکعتونو چه د امام له سلام
ګرځولو وروسته ئي پوره کوي په لمړي کي «أعوذبالله» وایي په دي
شرط که د غه رکعتونه د قرائت وو.
۹ - د هر رکعت په پیل کي تر «الحمدلله» وړاندي «بسم الله» ویل.
۱۰ - امام او منفرد ته د «سورة فاتحه» له ختمید لو سره آمین په کراره
ویل. که چیري قرائت په جهر (لوړ اواز) سره و. نوټول مقتدیان به په
کراره «آمین» وایي.
۱۱ - آمین په سوکه اواز سره ویل.
۱۲ - د قیام په حالت کي د دواړو پښو ترمنځ د څلورو ګوتو په اندازه
فاصله پرېښودل.
۱۳ - د سهار او ماپښین فرض لمونځونو کي له «سورة فاتحې»
وروسته د طوال مفصل سورتونه ویل ، د مازیګر او ماخستن په وخت
کي اوساط مفصل او په ماښام کي قصار مفصل په دي شرط چه
د سفر او یا ضرورت حالت نه وي. د سفر او ضرورت په وخت کي چي
کوم سورة آسانه وي ویلي سي.

۱۴ - د سهار د فرضو په لومړي رکعت کي د دويم په پرتله غټ سورة لوستل پکار دي. (شامي)

۱۵ - رکوع ته د تللو پروخت «الله اکبر» ويل په دي توګه چي تکبير او رکوع به يو ځاي سره پيل کيږي او رکوع ته په رسيدلو سره به تکبير ختميږي.
(منية ،غنية وغيره)

۱۶ - نارينه به د رکوع په حالت کي په دواړو لاسونو د ځنګانه سترګي کلکي نيسي او ښځي به صرف لاس وربانديږدي. (غنية)

۱۷ - نارينه به په رکوع کي ګوتي پرانيستي پر ځنګنو ږدی او ښځی به يې سره نښتی ږدی.

۱۸ - د رکوع په حالت کي به پنډۍ سيده ږدي.

۱۹ - نارينه به په رکوع کي په ښه ډول تيتيږی چي اوږي او ملا يې سره برابر شي او ښځي به صرف د ومره تيتيږی چي لاسونه يې ترځنګنو پوري ورسي . (مراقی)

۲۰ - په رکوع کي لږترلږه دري ځله «سبحان ربی العظيم» ويل.

۲۱ - په رکوع کي به نارينه دواړه لاسونه له ځنګو څخه بيلوی.

۲۲ - په قومه کي به امام يوازی «سمع الله لمن حمده» ، وايی اومقتدی به صرف ، «ربنا ولک الحمد» او منفرد به دواړه وايي

۲۳ - سجدې ته د تللو پروخت الله اکبر ويل.

۲۴ - سجدې ته د تګ په وخت کي لومړی ځنګنونه لګول بيا لاسونه، بيا پوزه او بيا تندی لګول. همدارنګه د بيرته راپورته کيدلو په وخت کي اول پوزه بيا تندی بيا لاسونه او بيا ځنګنونه راپورته کول. (مراقی)

۲۵ - د سجدې په حالت کې د دواړولاسونو ترمنځ د مخ ایښودل.
(شرح وقایه)
۲۶ - د سجدې په وخت کې به نارینه خپل نس له ورنونو څخه جدا کوی
او خپل څنګونه (بازوګان) به له بغلونو څخه لیری ساتی.
همدا راز څنګلی (لیچونه) به له ځمکې پورته کوی، مګر ښځی به د
دې بالعکس کار کوی یعنی ګیډه به له ورنو سره، څنګلی به له
بغلو سره او لیچونه به له ځمکې سره نښلوی.
۲۷ - د سجدې په حال کې به د دواړولاسونو ګوتی بندی ساتی.
(شرح وقایه وغیره)
۲۸ - د سجدې په حال کې به د پښو ګوتې د قبلې په لوری ګرځوی
(شرح وقایه).
۲۹ - د سجدې په حال کې به دواړه څنګنونه سره نژدی کوی.
۳۰ - په سجده کې به لږ ترلږه درې ځله «سبحان ربی الاعلی» وایی.
۳۱ - له سجدې نه د راپورته کیدلو سره جوخت به تکبیر هم وایی.
۳۲ - د دواړو سجدو په مینځ کې به په هغه خاص کیفیت سره کښینی
چې له دې حالت سره بنائی او بیان یې مخکې راتلونکی دی.
۳۳ - په اوله او دوهمه دواړه ناستو کې به نارینه دا ډول کښینی چې
ښی پښه د ګوتو پر سرو باندی جګه دروی او د ګوتو سرونه به قبلې ته
ګرځوی او کینه پښه به پر ځمکه هواره ږدي او پر کښینی به. دواړه
لاسونه به پر څنګنو ږدي داسی چې د ګوتو سرونه به یې د څنګانه تر
ستر ګیو پورې رسیدلي وی او ښځی به هم د دې برخلاف داسی
کښیني، چې پر چپ ورانه به کښیني. ښی څنګون به پر چپه کښیدي

او چپه پښه به ښي طرف ته وباسي او دواړه لاسونه به پر ځنګنو کښیږدي.

۳۴ - په تشهد (التحیات) کې د «لااله» د ویلو پر وخت به د ښي لاس د بټي او د منځ له ګوتي ځخه کړۍ جوړه کړي او نوري ګوتي رابندې کړي یعني لاس به موټ پر ځنګانه کښېږدي. یوازې د شهادت ګوته (صبابه ګوته) به غوږیدلی پریږدي او د همدې «لااله» پر الفاظو به ئې پورته کړي او د «الاالله» ویلو پر وخت به یې بیرته راکښته کړي او پاتي نوري ګوتي به همداسې پر خپل حال بندې پریږدي.

۳۵ - د فرض لمانځه د لومړیو دوو رکعتونو نه وروسته په هر رکعت کې سوره فاتحه ویل. (مراقی)

۳۶ - په اخیره ناسته کې له التحیات نه وروسته درود شریف لوستل. (مراقی الفلاح)

۳۷ - له درود شریف نه وروسته دوعا کول. داسې دعا چې د قرآن او احادیث ځخه ثابته وي که چېرې داسې دعا ولوستله سي چې له قرآن او حدیث ځخه ئې ثبوت نه وي راغلی بیا هم جائز دی، په دې شرط چې په دعاء کې د داسې شی طلب وي چې د هغه غوښتل له الله پر ته له بل چا ځخه ممکن نه وي. (بحرالرائق)

۳۸ - د السلام علیکم ویلو پر وخت مخ یوې او بلې خواته ګرځول. (مراقی الفلاح).

۳۹ - امام ته پکار ده چې په لوړ آواز سلام وګرځوي.

۴۰ - اول ښي طرف ته سلام ګرځول بیا چپ طرف ته (مراقی)

۴۱ - دویم سلام به د اول په نسبت په ټيټ آواز ګرځوي (مراقی)

۴۲ - امام ته د سلام گرځولو پروخت د ټولو مقتديانو نيت كول كه هرڅوک ئي په جماعت كي ورسره گډون ولري، حتى د فرښتو (كراماً كاتبين) نيت به هم كوي. همدارنگه مقتدي به هم هريو د نورو ټولو مقتديانو نيت كوي.

(مراقی الفلاح، علم الفقه ص۶۸ تر ۷۱ پوري ۲، كتاب الفقه ۲۷۳ تر ۲۸۵ ج۱ نمازمسنون ص۳۱۰)

د لمانځه مستحبات

۱ - د تكبير تحريمه د ويلو پر وخت به نارينه څپل لاسونه له لستوني څخه راوباسي په دې شرط كه څه عذر نه و، لكه يخني او يا بل څه، او ښځو ته مستحب دا دی چې پټ ئې كړي لاس را ونه باسي. (مراقی)

۲ - د ولاړې (قيام) په حالت كي د سجدې ځای ته كتل، په ركوع كې پښوته كتل، په سجده كې پوزې ته كتل، په ناسته كې زنگنو ته كتل. د سلام گرځولو په وخت كې اوږو ته كتل. (درمختار)

۳ - تر خپله وسه پورې، ټوخي او ارميږي بندول - (درمختار، مراقی الفلاح)

۴ - كه چاته ارميږې ورشي او د قيام په حالت كې وی نو د ښي لاس چپه طرف دې پرخوله ږدي. او كه چيري له قيام پرته په نورو اركانو كې وي بيا به هرځاى د چپه لاس چپه طرف او لستوني پرخوله ږدي. (درمختار)

۵ - امام به له «قدقامت الصلاة» څخه وروسته سمدستي تكبير تحريمه وايي

۶ - په اوله او اخيره ناسته كې به هغه خاص تشهد وايي چې بيان يې تيرسو هيڅ كمښت او يا زتوالى به نه كوي.

۷-په قنوت کې هغه خاصه دعا لوستل چې مخکې موذکر کړه يعنې:
اللهم انا نستعينک » تر پايه پورې... (شامي، علم الفقه ص ۲ ۷ نماز مسنون ص ۱۱۳)
مسئله: په هر رکعت کې ترالحمد لله وړاندې او د سورة د ويلو په وخت
کې «بسم الله الرحمن الرحيم» ويل مستحب دی. (شرح نقايه ص۷۲ ج۱، کبيری ص۲۸)
د احنافو په نزد د مندوب، ادب او مستحب معنی يوه ده، يعنې له
دې نه مراد هغه امور دي چې نبی کريم ﷺ کړي، خو هميشه ئي عملي
کړي نه دي. (کتاب الفقه ص۲۲۵ ج۱)

د لمانځه فرائض

لومړی بايد په دې وپوهيږو چې فرائض د فريضة جمع ده، او په
شرع کې فرض هر هغه فعل ته ويل کيږي چې پر ځای کول (آداء کول)
ئي په دليل قطعي سره ثابت او لازم شوي وي. هغه فعل که خپله رکن
وي او يا شرط.

كماقال فی البحر الرائق ـ فان الفرض شرعا مالزم فعله بدليل قطعی اعم من ان يكون شرطا أو ركنا ـ (ص۲۹۰ ج۱)

او دوهمه خبره د ځان پوهوني داده چې د لمانځه د فرائضو شمېر د
فقه د کتابونو په عباراتو کې مختلف راغلی، په بحرالرائق او
شامي کې ۷ اووه، په عالمگيری او هدايه کې ۲ شپږ او په کبيری
کې (۸) اته ذکر شوي دی. ولی په ټولو کي معتمده خبره دا ده چې د
لمانځه فرائض (۸) اته دي، چې په هغوی کې شپږ زموږ د آئمه
کرامو ترمنځ متفق عليها دي. او ۲ دوه مختلف فيهما دي.

كما في تكبيري اما فرائض الصلوة اى اركانها التى توجدماهيتها بموجبها ثمان فرائض، ست فرائض على الوفاق بين آئمتنا و منها ثنتان فريضتان على الخلاف بينهم. (ص۲۹۲)

متفق عليها شپږ فرائض دادي: ۱ تكبيرتحريمه ۲، قيام ۳- قرائت ۴ -ركوع ۵- سجده ۶- شپږم اخيره ناسته، د تشهد د ويلو په اندازه.

و ايضاً فى تكبيرى وهي الفرائض الست المتفق عليها تكبيرات الافتتاح (الى ان قال) والفرائض الباقيه من الست القيام والقراءة والركوع والسجو والقعدة الأخيرة مقدار قراءة التشهد (۲۹۲)

يادونه: د تكبيرتحريمه په اړه بايد داخبره په يادولرو چې هغه يو متفق عليها فرض دى. خوله دې سره سره زمونږ آئمه كرامو ترمنځ پردې تكې اختلاف نظر شته چې وايى تكبير تحريمه شرط الصلوة دى او يا ركن الصلوة. نو په دې كې اصح او معتمد قول دا دى چې تكبير تحريمه ركن صلوة نه، بلكې شرط صلوة دى چې همدا قول د بدائع الصنائع مؤلف محققينو ته او دغاية البيان مؤلف عامه مشائخو ته منسوب كړى دى او همدا اصح قول دى. كمافى بحرالرائق ـــ ثم اختلفوا اهل هى شرط او ركنه ففى الحاوي هى شرط فى اصح الروايتين وجعله فى البدائع قول المحققين من مشائخنا وفى غاية البيان قول عامة المشائخ وهو الأصح. (ص۲۹۱ج۱)

له همدې وجې ده چې د فرض لمانځه په تحريمه سره نفل كول جائزدى. نه بالعكس (هغه جواز نلري)

كما ايضاً فى البحر ـ و ثمرة الاختلاف تظهر فى بناء النفل على تحريمة الفرض فيجوز عند القائلين بالشرطية ولايجوز عندالقائلين بالركنية (ص۲۹۱ج۱)

هغه فرائض چې په هغوی کې اختلاف دی

مختلف فيها فرائض دادی: ١ - «خروج بصنع المصلی» يعنی له لمانځه څخه د وتلو لپاره به مصلی په قصدي توګه داسی عمل ترسره کوی چې له لمانځه سره منافی وی. چې داد اما اعظم رحمه الله په نزد فرض دی، بخلاف امام يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله، چې هغوی ئي بيا فرض نه ګڼي.

٢- تعديل الارکان، يعنی د رکنونو په وخت کې اطمنان حاصلول، په دې توګه چې ټول لمونځ رکنا بعد رکن بی له اضرابه په ښه آرامه توګه اداء کړی سی. چې لږترلږه مقدار ئي د يوې تسبيح په اندازه دی، چې د اد امام ابويوسف رحمه الله او آئمه ثلاثة (امام مالک رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام احمد رحمه الله) په نزد فرض دی، مګر د امام اعظم أبوحنيفه رحمه الله، امام محمد رحمه الله او غيرهما په نزد فرض نه دی.

کمافی الکبيری، اماالخروج من الصلاة لصنعه ای بالفعل الناشی من المصلی ففرض عندابی حنيفة خلافا لهما الخ وتعديل الارکان وهو الطمانينة وزوال الاضطراب من جميع الاعضاء و اقله قدر تسبيحة فرض عندابی يوسف و الائمة الثلاثة - (ص٢٥۶)

مطلب دا چې که له متفق عليهما فرائضو څخه چيری يو فرض هم قصدا يا سهوا فوت شی نو د لمانځه فرضيت بيا هم پرذمه پاتی او اداء شوی نه دی، او که چيری له مختلف فيها فرائضو خصوصا تعديل الارکان قصدا پريښودل شی نو لمونځ واجب الاعادة ګرځی، او که سهوا پاتی شی نو سجده سهو لازميږی. نو له همدې امله په لمانځه

کې ټول ارکان باید په ډیرغوراو اهتمام سره اداء شي ترڅودا ډول نقصان پکښې پيدا نشي چې دا يوه ډيره لويه بدمرغي ده.

(وتحصيل في كتب الفقه) والله اعلم بالصواب)

د رکعتونو شمیر او د لمانځه طریقه

سهار وخت دوه رکعته لمونځ فرض دی. ماپښين، مازیګر ماخستن هر ل څلور څلور رکعته. د ماښام وخت ۳ درې رکعته، د جمعې په ورځ د ماپښين ۴ رکعتونو پرځای د جمعې ۲ دوه رکعته فرض لمونځ دی. د اداء کولو طريقه ئې داسې ده چې د لمانځه د ټولو شرائطو په پرځای کولو سره به ولاړشي دواړه لاسونه به له لستوڼي، څادر اويا بل شي کې چې پټ وی د زاوباسي اوپورته به ئي غوږونو ته يوسي په دې شکل چې دواړه بټې ګوتې به د غوږونو له نرميو سره برابرې وی او د لاسونو د ورغوي خوا به قبلې ته وي ګوتې به نه ډيرې پرانيستې اونه ډيرې بندې وی، په داسې حال کې به د هغه لمونځ چې ته ئي آداء کول غواړې نيت وکړي او په ژبه که هم هاغه د زړه اراده څرګنده کړي بهتر ده او داضروری نه ده چې نیت دې په عربی ژبه وی، په هره ژبه چې ته ئي ويلو شي. د نيت له ترلونه وروسته به الله اکبر» ووايي، او دواړه لاسونه به راکښته کړي ترنامه لاندې به ئې ونیسي په دې ډول چې ښي لاس پر کيڼ برسيره وی، بټه او ګمچې ګوته د چپ لاس پرمړوند راچاپيره کړه اودرې نورې ګوتې همداسې پرمړوند خپرې پریږده. او بيا سمدستي دا دوعاء (ثناء) پيل کړه:

«سبحانک اللهم وبحمدک و تبارک اسمک وتعالي جدک ولااله غيرک»

که په امام پسی ولاړ وی نو بس ضرف همدا دوعاء ووایه ، نو رچپ پاتی شه بل څه مه وایه که امام قرائت شروع کړی وی نو بیا یو ازی الله اکبر ووایه ، نوردا دعاء لاهم مه وایه ، خاموش ودریږه. او که چیری منفرد وی او پخپله چاته امامت ورکوی نو تر «سبحان» وروسته به «اعوذبالله ...» او بسم الله .. ووایی ، بیا به سورة فاتحه پیل کړی ، کله چې دې فاتحه (الحمدلله) پای ته ورسوله بیا به په ورو آواز سره آمین ووایی. په داسی شکل سره چې د «آمین» الف به ښه کش کړی. «آمین» له دې وروسته به د قرآنکریم یو سورة ولولی ، د سهار او ماپښین په لمانځه کې به سورة حجرات یا سورة بروج او ددوي په منځ کي سورتونه نه چې کوم یوئی خوښ وی ، وایی به ئي ، او د سهار د لمانځه په اول رکعت کې د دویم په نسبت لږ غټ سورة ویل ښه دی ، په پاتی نورو وختونو کې په دواړو رکعتونو کې تقریبا دواړه سورتونه برابر ویل پکار دی ، د یو یا دوه آیتونو د زیاتوالی ، کموالي اعتبار نشته خو باید وویل چې دا په داسی حال کې ده چې سړی د سفر یا بل ضرورت په حالت کې نه وی.

که په سفر کې وی او یا په حضر کې وی خو بل ضرورت او عذرورته وی ، بیا ئي خپله خوښه او اختیار دی چې د قرآنکریم هر سورة هرڅومره اندازه چې ئی خوښه وی ، ووایی . (علم الفقه ص۳۵ ج۲)

مسئله : له فاتحی وروسته او ترسورة وړاندی بسم الله باید په سوکه آواز وویله شی. (فتاوی رحیمیه ص۱۷۶ ج۱)

مسئله : تر « سبحانک اللهم» (ثناء) وړاندی بسم الله نه ویله کیږی ، بلکې وروسته ویله کیږی. (آپ کی مسائل ص۲۰۹ ج۲)

مسئله : د مازیګر او ماخستن په لمانځه کې «والسماء والطارق» او «لم یکن» او یا د دغوی ترمنځ سورتونو نه یو سورة لوستل پکار دی. و د ماښام په لمانځه کې له «اذازلزلت» څخه نیولې تر آخیره پورې سورتونو نه یو سورة ویل مناسب دی، (که یاد وی ورته، که ئې یادنه وی، نو هرځای چې ئې له قرآن کریم څخه زړه غواړی؛ ودې لولي- رفعت قاسمی).

د سورة له لوستلو نه وروسته به د - الله اکبر- په ویلو سره رکوع ته ولاړ شی، په رکوع کې به د دواړو لاسونه پر څنګنو کښېږدی، ګوتی به ئي غوړیدلي او د څنګانه سترګې به ئي کلکې نیولی وی، سر او ملا به ئي سره برابر وی. پښې به ئي سیده وی، کږی وږی به نه وی؛ لږترلږه درې ځله به «سبحان ربی العظیم» ووایی. بیا به له رکوع راپورته شی، سیده به ودریږی، امام به صرف «سمع الله لمن حمده» ووایی او مقتدی به یوازی «ربنالک الحمد» او منفرد به دواړه ووایی، له دی نه وروسته به په داسی حال کې سجدی ته ولاړ شی چې د واړه لاسونه به پرزنګنو کښیږدی او تکبیر به ووایی، سجده او تکبیر به یو ځای سره پیل کړی، سجدی ته په رسیدو سره به سمدستی تکبیر ختم کړی. (علم الفقه ص۳۵ ج۲، کتاب الفقه ص۲۱۴ ج۱، فتاوی رحیمیه ص۲۰۲ ج۴)

د سجدې کولو طریقه: په سجده کې به لومړی څنګنونه پر ځمکه کیږدی، بیا به لاسونه، بیا به پوزه او بیا به تندی؛ خو د راپورته کیدلو په وخت کې به د دې برعکس عمل وکړی، او مخ به د دواړو لاسونه به منځ کې کیږدی، په داسی شکل چې د لاسونو ګوتی به ئي ندی قبلې ته سیده وی او د د واړو پښو ګوتی به ئي پرشاوو جګی

درولي وي ، او د ګوتو مخ به ئې قبلې ته وي ، نس به ئي له ځنګنو څخه جداوي ، ګېډه به ئي له ځمکې دومره اندازه لوړه وي چې ترمنځ ئي داوزې د ډيرورکی بچې د تيريدلو امکان وي ، په سجده کې به لږترلږه ۳ درې ځله «سبحان ربی الاعلی» ووایی بیابه له سجدې راپورته شی په ښه توګه به کښيني ، په دی توګه چې ښی پښه به ئې همداسی درولي وي ، او چپه پښه به پرځمکه پریباسی او پرهغه چپه پښه به کښيني. او دواړه لاسونه به پرځنګنو داسی کیږدی چې د ګوتو سرونه ئي د ځنګانه سترګيو ته رسيږي قبلې ته به مخامخ وي ، نه به ډيرې پرانيستی وی او نه به ډيرې بندې ، په دی حالت به څه نه وايی ، له سجدې څخه د پورته کیدلو په وخت کې به لومړی تندی ، بیا پوزه ، بیالاسونه پورته کوی او په اطمنان سره به کښيني ، وروسته به بله سجده په هغه شکل وکړی لکه اوله چې ئي وکړه. له دوهمی سجدی وروسته به د تکبير په ويلو سره فوراً ولاړشی ، په دغه دوهم رکعت کې به صرف

بسم الله الرحمن الرحيم ووايي ، سورة فاتحه به ووايي او دغه رنګه به یو بل سورت ورسره ضم کړی ، بیابه د اول رکعت په څير ، رکوع ، قومه ، دواړې سجدی پوره کړی ، له دوهمی سجدی نه وروسته به داسی کښيني لکه د دواړو سجدو ترمنځ چې کښينا ستلی وو ، دا دعاء به ولولی: «التحيات لله و الصلوة و الطيبات السلام عليک ايها النبی ورحمة الله وبركاته السلام علينا و على عبادالله الصالحين اشهدأن لااله الاالله وأشهدأن محمدا عبده ورسوله » د «لااله » ويلو پروخت به له صبابی ګوتي نه پرته نورې ګوتی بندی کړی او د شهادت ګوته به پورته کړی

او « لاإله » د ویلو پروخت به ئې بیرته کښته کړي. بیا چې څومره ناست وي ګوتي به هغسې بندې ساتي، څوکه د وه رکعته لمونځ وي نو نه التحیات وروسته به دا دعاء ووایي؛

« اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انک حمید مجید، اللهم بارک علی محمد وعلی آل محمد کما بارکت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انک حمید مجید »

او نه دې درود نه وروسته به دا دعاء ولولي: «اللهم انی ظلمت نفسی ظلما کثیرا وانه لایغفر الذنوب الاأنت فاغفرلی مغفرة من عندک وأرحمنی انک أنت الغفور الرحیم»

له دې وروسته به لمونځ پای ته ورسوي په دې توګه چې لمړی به ښي طرف ته مخ وګرځوي او «السلام علیکم ورحمة الله» به ووایي، بیا به ئې دغه رنګه چپ طرفته وګرځوي. په دغه حالت کې که دی امام وي نو په سلام کې دې د «کرام الکاتبین» فرښتو او هغو خلګو چې په جماعت کې ورسره شریک وي؛ نیت وکړي.

(علم الفقه ص۳۶ج۲، هدایه ص۶۴ج۱، کبیری ص۳۰۰، شرح نقایه ص۷۲، کتاب الفقه ص۳۱۲ج۱)

مسئله: که چیرې د یو عذر په وجه څوک په قعده کې په مسنونه طریقه کې نشي کښینستلای نو بیا څه باک نلري، چې څنګه کښیني سمه ده؛ خو کوشش به کوي چې سنت طریقې ته نژدې وي.

(فتاوی رحیمیه ص۱۸۱ج۱)

د هغه لمانځه طریقه چې تر دوه رکعته زیات وي

که چیرې لمونځ تر دوه رکعته زیات وي، درې یا څلور رکعته وي، نو صرف التحیات به تر آخیره پورې ووایي او دستې به ولاړ شي، بل

رکعت به همغه د لمړي دوو په څېر ترسره کړي خو دلته به داسې کوي چې تربسم الله وروسته به صرف سورة فاتحة (الحمد لله) ووايي او رکوع به وکړي، سورة به نه ورسره يوځاي کوي، له رکوع وروسته به سجده وکړي که يو رکعت وي يا دوه رکعته وي همغسې به يې اداء کړي لکه اول دوه سورتونه چې آداء سول، په جهريه وختونو کې به امام فاتحه، سورة، سمع الله لمن حمده، او تکبيرونه په لوړ آواز سره وايي، مقتدي به ئي په ټيټ آواز سره وايي، منفرد ته اختيار دی

مسئله: د لمانځه په حالت کې به سړی آخوا ديخوا نه ګوري، بلکې دولاړي په وخت کې به د سجدې ځاي ته ګوري، د رکوع په حالت کې به پښوته، او په سجده کې به پوزې ته، دناستې په حالت کې به زنګنوته ګوري، سترګې به ئي د لمانځه په وخت کې پرانيستې وي، مګر که ئي په دې خاطر بندې کړي چې وايي په لمانځه کې توجه نه برابريږي، بيا په سترګو پټولو کې څه حرج نشته. د لمانځه له ختميدلو ورسته به دواړه لاسونه ترسينې پورته کړي، او له الله تعالی څخه به ځان اونورو ته دوعاء وغواړي، که امام وي نو مقتديانو او نوروته به دعاء وکړي، او مقتديان به ټول آمين وايي. اوکه له کوم لمانځه وروسته نورسنت وي لکه ماپښين، ماښام، ماخستن نو دې دعاتر ډيرو پوري نه کوي بلکه لنډه دعادې وکړي او په سنتو دې پيل وکړي، اوله کوم لمونځو وروسته چې سنت نشته لکه مازيګراوسهار نو چې څومره دعاکولای شي ودې کړي، امام به په محراب کې مخ راوګرځوي. مقتديانو ته به مخامخ کښيني، دعاء به وکړي، خو په دې شرط که په مقتديانو کې مسبوق نه وو.

یعنی هغه سړی چې یو یا څو رکعتونه ځینی تیر وی او امام ته مخامخ ولاړ وی، نو تر هغو دی امام مخ نه را اړوی.

د فرض لمانځه وروسته که چیری ئې سنت نه درلودل، دا دعاء ویل دری ځله مستحب دی: «استغفر الله الذی لا اله الا هو الحی القیوم» او که ئې سنت درلودل؛ نو نه سنتو بعد دې دغه دعاء ووایی:

۳ - دري ځله، آیة الکرسی او څلور واره قل به یو یو ځل ووایی، بیا به ۳۳ واره، سبحان الله، ۳۴ واره الله اکبر، ۳۳ ځله الحمد لله ولولی.

(مراقی الفلاح، درمختار، شامی وغیره، علم الفقه ص۳۷ ج۲، کبیری ص ۳۰۰، هدایه ص۶۲ ج۱، شرح نقایه ص ۷۲ ج۱، ترمذی ص۸۰ ج۲، مستدرک، حاکم ص۶۰۵ بهشتی زیور ص۳۳ ج۱۱، مراقی الفلاح ص۱۸)

مسئله: (د سهار او مازیګر) لمانځه وروسته پرګوتو باندی د شمیرلو په صورت کې تسبیحات ویل نه یوازی دا چې جائز دی، بلکې په حدیث شریف کې ئې حکم هم همدا سې ډول راغلی.

(آپ کی مسائل ص۲۷۸ ج۳)

مسئله: د نارینه وو لپاره لاس تر نامه لاندی نیول او لوړ نیول دواړه ثابت دی خو احنافو دغه حدیث چې لاندی به لاس نیسی؛ معمول ګرځولی دی. (فتاوی دار العلوم ص۱۸۳ ج۲ بحواله غنیه المستملی ص۲۹۲)

په تشهد (التحیات) کې به د شهادة ګوته پر کوم لفظ را پورته کوی؟

په لمانځه کې به صرف د ښی لاس د شهادة ګوته پورته کوی، که چیری د چا دغه ګوته نه وی او یا بل کوم مرض لری، نو بیا دې د دغه لاس یا چپ لاس بله ګوته نه پورته کوی.

په التحيات کې د اشارې طريقه داده چې د شهادة ګوته به هغه مهال پورته کړي چې د غيرالله (د الوهيت) د نفي کولو الفاظ: «لااله» وويل شي. او کله چې «الاالله» وويل شي، نو ګوته به کښته کړي، نو ګويا د ګوتې په پورته کولو سره سړی د غيرالله د الوهيت انکار کوي او په بيرته کښته کولو سره د الله پاک د الوهيت د اقرار څرګندونه کوي. (کتب الفقه ص۲۱۸ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۱۹۲ج۲ بحواله ردالمحتار ص۳۷۲ج۱، فتاوی محموديه ص۶۸ج۱۲)

په لمانځه کې د سلام ګرځولو مسنونه طريقه

د سلام ګرځولو مسنونه طريقه داده چې لومړی ښي اړخ ته او بيا چپ طرف ته مخ وګرځوی. دومره اندازه چې د شاله لوری ئې رخسار وليدل شي، که چيری ئي په هيره چپ طرف ته اول سلام وګرځوی نو ښي طرف ته دی هم سلام وګرځوی، او دوهم ځل دی چپ طرف ته نه ګرځوی، ځکه چې هاغه اول ځل کافی دی، او سنت دادی چې «السلام عليکم ورحمة الله» وويل شي او بل دا چې د اول په نسبت دويم سلام په ټيټ آواز ولوستل شي، که چيرې امام وی، نو د مخاطب په ضمير کې چي په عليکم کې ده؛ د لمونځ کوونکو مسلمانانو، فرښتو او پيريانانو نيت هم وکړي. او که مقتدی وی، هغه دی خپل امام او نور و لمونځ کوونکو اراده وکړي. که منفرد وی نو د محافظينو فرښتو نيت دی وکړي. (کتب الفقه ص۴۱۹ج۱)

مسئله: د لمانځه په سلام کې تر «ورحمة الله» وروسته «وبرکاته» ټکی متروک العمل دی. ؍ (فتاوی رحميه ص۲۹۹ج۲، درمختار ص۴۹۸ج۱)

مسئله: که له يو شرعی عذر څخه پرته مقتدی تر امام له مخه سلام وګرځوی، نو لمونځ که څه هم صحيح دی خو مکروه دی، هغه ته

پکارده چې له امام سره لمونځ پوره کړی او دوهم ځل له امام سره سلام و ګرځوی. (فتاوی رحیمیه ص۲۴۳ ج۴)

مسئله : ځینی خلک له لمانځه وروسته په یو خاص کیفیت په لوړ آواز کلمه طیبه (لااله الاالله محمد رسول الله) وایی ، نو که څه هم له آنحضرت ﷺ څخه د لوړ آواز ثبوت شته خو هغه خلکو ته د تعلیم لپاره وو ،نو ځکه علماء کرام د نورو خلکو لپاره دامنع بولی ، ځکه په دی سره نورو لمونځ کوونکو اوذکر کوونکو ته ضرر او اذیت رسیږي. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۷ ج۴ بحواله ردالمحتار ص۶۱۸ ج۱، فتاوی محمودیه ص۱۳۹ ج۷)

مسئله : په ټیټ آواز سره له فرض لمانځه وروسته کلمه طیبه ویل جائز دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۶۹ ج۲ بحواله مشکوة شریف ص۸۸ ج۱)

ښځې به لمونځ څنګه آداء کوی ؟

ښځې به هم د نارینه وو په څیر په همدی شکل لمونځ آداء کوی خو صرف په څو ځایونو کې سره فرق لری چې هغه په لاندی توګه دی.

۱-ښځې به خپل لاسونه په پړونی کې پټ او تراوږو پوری پورته کوی د تکبیر تحریمه پرمهال په داسی حال کې چې نارینه به لاسونه له لستونی یاکالی څخه راباسی او ترغوږو به ئي رسوی.

۲-له تکبیر تحریمه وروسته نارینه وو ته پکاردی چې ترنامه لاندی لاس ونیسی خو ښځې به ئي پرسینه ږدی.

۳-نارینه به ښی لاس پرچپ لاس ږدی ، د ښی لاس کوچنۍ او بټه ګوته به د چپ لاس پر مړوند راګرځوی ، خو ښځینه به صرف ښی لاس پرچپ لاس برسیره ږدی.

۴-نارینه به په رکوع کې ښه طرح کښته کیږی ، خو ښځینه به صرف .دومره ټیټیږي چې لاسونه ئي ترځنګنو پوری ورسی.
۵-نارینه به په رکوع کې د لاسونو ګوتی پرانیستی پریږدی ، خو ښځي به ئي داسی نه کوی ، بلکې لاسی به د ځنګانه پرسترکیو دغسی ږدی هغه به ټینګ نه نیسی او ګوتی به ئی بندی وی.
۶-نارینه به په رکوع او سجده کې ګیډه له ورنو او څنګلی له بغل نه لیری ساتی ، خو ښځینه به ئي ورسره نښلوی.
۷-نارینه به په سجده کې خپلی پښي جګی دروی ، خو ښځی به ئی پریباسی ، ښی طرف ته به دواړي پښی باسی.
۸-ښځینه ته هیڅ وخت د لوړ آواز قرائت کولو اختیار نشته ، همیشه به ئي په ټیټ آواز سره وایی. (علم الفقه ص۳۸ ج۲، امداد الاحکام ص۴۶۸ ج۱، هدایه ص۷۰ ج۱، شرح نقایه ص۸۰، کبیری ص۳۳۳، فتاوی رحیمیه ص۲۲۴ ج۲)
۹-آذان او اقامت د ښځو په حق کې سنت نه دی.
(نماز مسنون ص۳۷۱، فتاوی عزیزی ص۲۲۸، آپ کی مسائل ص۲۰۵ ج۲)
مسئله : په ځینو عوامو کې داخبره مشهوره ده چې وایی ترڅوچې د جمعی لمونځ ختم شوی نه وی ښځی په کورونو کې خپل د ماپښین لمونځ نشی آداکولی ، داخبره غلطه ده هیڅ اصل نلری. (حسن العزیز ص۱۲۸ ج۲)

ښځه به د ولادت (ماشوم زیږیدنی) پروخت لمونځ څنګه آداکوی ؟

مسئله : که چیری یوه ښځه د دردپه حالت کې وی ، خو حواس او هوش ئي برابروی ، او د ماشوم د ضایع کیدلو خطره هم نه وی ، مګروینه او لندوالی جاری وی ، او د ماشوم څه حصه لاهم پوره نه وی وتلی ، په داسی حالت کې د لمانځه وخت شو ، او سمدستی دا

اندېښنه هم وه چې د لمانځه وخت بالاتېرېدونکی دی، نو دغه ښځه کولای شي اودس دې وکړي، کنه نو تیمم دې وکړي او لمونځ دې اداء کړي، د وینې او رطوبت خیال دې نه ساتي ځکه چې هغه د استحاضې وینې، مانع عن الصلوة نه دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲۱ ج۲، بحواله غنیة ص۳۶۵)

(مقصد دادی چې د نفاس د وینو د وتلو تر وخته پورې پر ښځه لمونځ فرض دی، که ئې ونکړ نو قضاء ورباندې لازمه ده، د لمانځه اهمیت او ارزښت له دې نه هم ښه څرګندېږي، چې په داسې یو سخت حالت کې چې مخکې ذکر شو، هم لمونځ معاف نه دی. (حسینؒ رفت تلمیس فقره)

له لوپ سره لمونځ کول څه حکم لري؟

لوپ هغه ورې پردې ته ویل کیږي چې زنانه ئې د (شرمګاه) د پټولو لپاره جدا استعمالوي. دغه پرده که چیرې پاکه وي، او د علاج لپاره ئې لګولې وي، نو په داسې حالت کې لمونځ کول، تلاوت کول، او داسې نور هیڅ شی منع نه دی، ټول صحت لري.

(فتاوی محمودیه ص ۵۵ ج ۱۲)

مسئله: د ناروغۍ په وخت کې چې زنانه په رحم (شرمګاه) کې کومه دوا اچوي، له هغې سره به لمونځ اداء کوي، قضاء کوي به ئې نه

(فتاوی محمودیه ص۱۸ ج ۷)

د لیکوریا په ناروغۍ اخته ښځې لمونځ څه حکم لري؟

مسئله: په دغه ناروغۍ کې چې له بدن نه کومې اوبه راوزي، هغه ناپاکې دي، پر کومه جامه چې لګیږي هغه هم ناپاکه ده، لمونځ ورسره صحت نلري، البته که دا جامه ومینځله شي نو بیا لمونځ ورسره صحیح دی.

نو هغه ښځي چې د ورځو ترتيريدلو وروسته هم د ليكوريا ناروغي په وجه ناپاكې او به د ډېره زياتي وي چې په ټول وخت كې له طهارت (پاكى) سره لمونځ نشي اداء كولاى، نو دا بيا د معذور حكم لري، يعنى د هرلمانځه په وخت كې يو ځل اودس كول ورته كفايت كوي. مگركه دومره شدت نه وي، نو بيا معذوره نه بلله كيږي، يعنى كه چيرى لمانځه ته اودس وكړي، اوترلمانځه مخكې ئي اودس مات شي او يا د لمانځه په مينځ كې مات شي نو اودس كول وربانديلازم دى. (آپ كى مسائل ص٢٢١ج٢)

مسئله : د نوكانو داسى رنگ چې بدن ته اوبه نه پريږدى ياد هغه په ډول پرشنډانو سرخي، نو اودس نه كيږي چې اودس ونه شو لمونځ هم صحت نلري. (آپ كى مسائل ص٧٥ج٢)

د ښځو د لمانځه په اړه مسائل

مسئله : كه چيرى د ښځو د بلوغ او ځوانى وخت معلوم وي نو له هغه وخت څخه وربانديلمونځ فرض دى، كه نه نو د ٩ نهو كالو په پوره كيدو لسم كال په شروع كيدو سره لمونځ وربانديفرض گڼل كيږي.

مسئله : د ښځي جامه كه چيرى داسى نرمه او باريكه وي چې ترلاندي ئي بدن او اندامونه ښكاري نو لمونځ ورسرد صحت نلري، د لرپنډي جامي د اغوستلو ترځنگ به پړونى هم د بل يعنى پنډ پرسر كوي. (آپ كى مسائل ص٢٩٧ج٢، فتاوى محموديه ص١٢٩ج٢بحواله شامى ص٢٧٢ج١)

مسئله : د لمانځه په دوران كې كه د ښځى له سره پړونى ولويږي سمدستى به ئى پرسر كوي، كه دري ځله سبحان الله ويلو په اندازه

ئي سر لوڅ پاتې سي ، لمونځ ئې باطليږي ، که سمد ستي ئې پرسر کړي ، نو بيا څه باک نلري. (آپ کی مسائل ص۲۹۸ ج۳)

مسئله : د وخت د داخليدو سره سم زنانه وو ته يکاردی چې په اول وخت کې لمونځ اداء کړي. ښځوته ضروري نه دی چې د آذان انتظار وکړي، البته که د وخت پته ورته نه لګيده ، بيا سمه ده. (آپ کی مسائل ص۲۹۹ ج۳)

مسئله : ښځه پخپل ميړه پسې په اقتداء لمونځ کولای شي ، مګر برابر به نه ورسره دريږي ، شاته به ځيني دريږي. (آپ کی مسائل ص۲۹۹ ج۳)

مسئله : ښځه که چيری په مسجد کې په جماعة سره د جمعې لمونځ کوی ، نو ددې لپاره هم دومره رکعتونه دی لکه نارينه ووته ، يعنی لومړی څلور سنت ، بيادوه فرض په جماعة سره بيا څلور مؤکد سنت ، او بيا دوه غيرمؤکد سنت ، پرښځوباندی جمعه فرض نه ده ، که په کور کې لمونځ کوی نو د نوروپه څيربه خپل لمونځ کوی. ځکه چې پر ښځوباندی د اخترونو لمونځ او جمعه فرض نه ده . (آپ کی مسائل ص۳۰۱ ج۳)

مسئله : ښځوته خاصو ورځو کې (د حيض او نفاس په جريان) کې د لمانځه کولو اجازه نشته ، ليکن تسبيحات ويلی شي.
(آپ کی مسائل ص۳۰۴ ج۳)

مسئله : ښځې د نارينه وو امامت نشی کولای.

مسئله : ښځو ته هم له عذر څخه پرته په ناسته لمونځ کول جواز نلری (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۲ ج۱)

مسئله : ښځې که پخپله په جماعة لمونځ کوی ، نو کومه ښځه چې امام ده : مخکې به نه دريږي ، بلکې د صف په مينځ کې به دريږي.

مسئله : كه د فتنې او فساد د انديښنې په وجه ، جماعت ته د ښځو حاضريدل مسجد ته مكروه دي.

مسئله : پر ښځو باندې د ايام التشريق يعنې عيد الاضحى په ورځو كې د فرضو لمونځو وروسته تكبيرات تشريق واجب نه دي ، البته كه چيرې يو ه ښځه په جماعت كې ګډون ولري ، نو د امام د متابعت په وجه پر هغې هم واجب دي ، مګر په لوړ آواز به تكبير نه وايي (ځكه چې د ښځې آواز هم ستر دى ، يعنې آواز هم پرده لري.)

مسئله : ښځو ته د هر وخت لمونځ په اول وخت كې اداء كول مستحب دي ، د سهار لمونځ دي په لړتياره كې اداء كوي.

مسئله : ښځو ته په زوره قرائت ويل جواز نلري ، كه جهري لمونځ وي كه خفيه ، دوى ته په هر حال كې په ټيټ آواز ويل پكار دي.

مسئله : ښځه آذان نشي كولاى.

مسئله : ښځه په مسجد كې اعتكاف نشي كولاى ، او كه په كور كې اعتكاف كوي نو په هغه ځاى كې دي كښيني چې د لمانځه لپاره ئي خاص كړى وي ، كه ئي د لمانځه لپاره كوم ځاى خاص كړى نه وي ، نو د اعتكاف لپاره به ئي هرومرو مخصوص كوي. (آپ كى مسائل ص٢٠٧ ج٣)

مسئله : د ښځو لپاره په سجده او جلسه كې د پښو درول مشروع نه دي. (فتاوى دار العلوم ص١٦٢ ج٢ ، شامى ص٣٧١ ج١)

مسئله : د ښځينه او نارينه و لپاره د كومو اندامونو پټول چې ضرورى دي ، په دې توګه د هغو هر اندام څلورمه برخه كه په لمانځه كې تر دومره وخته پورې لوڅه پاتې شي چې ٣ ځله تسبيح ويل

کیدای شی ، نو لمونځ باطل کیږی ، که دومره برخه لوڅه شی او سمدستي بیرته پټه شی نو څه حرج نشته. (کبیری ص۲۶۷)

مسئله : په لمانځه کې که چیری د ښځې د سر خلورمه برخه لوڅه وی ، د ا جواز نلري یعني لمونځ صحت نلری دا راز که ئي د سر د څرېدلو ویښتانو خلورمه حصه پرانیستی وی بیا هم لمونځ نه کیږی. (نماز مسنون ص ۲۶۷)

مسئله : ښځه که په لمانځه کې داسی نرمه جامه او پړونی پرسر کړی چي ویښتان ئې له ورایه تري ښکاره کیږی ، نو لمونځ ئې نه کیږی. (نماز مسنون ص ۲۶۸ بحواله بیهقی ص ۲۳۵ ج ۲)

مسئله : که د ماشوم پرېدن یا جامه باندی ناپاکی وی او هغه ماشوم د لمونځ کوونکی په غېږکې ولویږی نو لمونځ فاسد یږی. (فتح الملهم ص ۱۲۰)

مسئله : یوی ښځې که خپل ماشوم په لمانځه کې ورپورته کې ، او ماشوم ئي په دغه حالت کې تی ورودی او له هغه څخه شیدی راووتلی ؛ نو په داسی صورت کې د دغی ښځې لمونځ فاسد دی. (کبیری ص ۴۲۳ ج ۱ ، فتح الملهم ص ۱۲۱)

مسئله : د ښخو لپاره لاس ، پښی او د هغوئ ظهر او بطن ، په لمانځه کې پټول ضروری نه دی ، که خلاص پاتی وی ، په لمانځه کې کوم خلل نه راځي. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۴۳ ج ۲)

مسئله : د ښځو لپاره ضروری دی چې په سجده او نورو ارکانو کې د بدن اندامونه ښه سره ښتی وساتی د نارینه وو په څیر پرانیستی پریښودل جائز نه دی. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۹ ج ۲)

مسئله : ځینې ښځې داسې وي چې پرمصلې لمونځ اداء کړي نو وروسته د جاي نماز یو ه ګنډه ضرور راتولوي او وايي چې پردې شیطان لمونځ کوي ، نو دا بې بنیاده خبره ده هیڅ اصل نلري.
(اغلاط العوام ص۵۶)

مسئله : په ښځو کې دا مشهوره ده چې وايې ښځینه دې له نارینه و نه وړاندې لمونځ نه کوي ، دا خبره ناسمه ده هیڅ حقیقت نلري ، چې وخت پوره شو هر و مرو دې لمونځ اداء کوي. (اغلاط العوام ص۵۶)

مسئله : که ښځه پر لمانځه ولاړه وي ، نارینه ئي ښکل کړي نو د ښځې که شهوت وي ، که نه وي لمونځ ئې فاسدیږي ، او که سړي لمونځ کاوه ښځې هغه ښکل کړ د نارینه لمونځ نه دې فاسد. (او په ښځه کې د شهوت قید نشته د هغې لمونځ فاسدیږي).
(فتاوی دارالعلوم ص۵۵ج۲بحواله درمختار ص۵۸۲ج۱)

مسئله : ځیني ښځې لمونځ په ناسته کوي او یائي په ولاړه شروع کړي خو په دوهم رکعت کې بلاوجه کښیني او لمونځ په ناسته پوره کوي ، نو داخبره په یاد ساتل پکار ده چې په فرض واجب او مؤکد سنت لمانځه کې قیام فرض ده ، نو له ضرورت پرته که څوک کښیني ، لمونځ ئي نه اداء کیږي. (احسن الفتاوی ص۳۱ج۳)

په لمانځه کې که ښځه له نارینه سره برابره ودریږي ؟

هغه ښځه چې نفساني غریزه وربانديغالبه وي ، په جماعة کې له نارینه سره برابره ودریږي او یا ورځیني مخکې شي (په دې توګه چې پوندي او پوندي ئې یا ورسره برابري شي یا ورځینې مخکې شي که

ورځنی شاته وی لمونځ صحت لری.) نو لمونځ ئې باطل دی، که چیری دا شرطونه پیدا شی. (کتاب الفقه ص۴۸۲ج۱)

مسئله: له نارینه سره دښځې برابرد ریدل په دې شرطو لمونځ فاسده وی:

۱-چې ښځه بالغه وی، که ځوانه وی، که زړه، او یا نابالغه وی خو قابل جماع وی، که چیری کم عمره نابالغه انجلۍ ورسره ودریږی لمونځ نه فاسدوی.

۲- چې دواړه په لمانځه کې وی، که یو په لمانځه وی او بل نه وی، نو له دی محاذاة لمونځ نه فاسدیږي. او که ترمنځ ئې دومره ځای خالي وی چې یو سړی دریدای شی، بیا هم لمونځ نه دی فاسد ځکه چې هغه خالی ځای پرده ګڼله کیږی.

۳-او چې کومه پرده یا حائل ئې ترمنځ نه وی، که چیری داسی وو نو بیا هم لمونځ نه فاسدیږی.

۴-په ښځه کې به دلمانځه د صحت شرطونه وی، که چیری ښځه لیونی وی یا په حیض او نفاس کې وی نو له دې محاذاة ځخه هم لمونځ نه فاسدیږی، ځکه چې په دغو صورتونو کې دا په لمانځه کې نه ګڼله کیږی.

۵-د جنازی لمونځ به نه وی. ځکه چې د جنازی په لمانځه کې محاذاة مفسد نه دی.

۶-دا محاذاة به د یوه رکن په اندازه وی، یعنی که تردومره وخته پوری وی چې رکوع او داسی نور... نشی پکې کیدلای، نو په دی لږ محاذاة سره په لمانځه کې فساد نه راځی.

۷-او تحریمه د دواړو یوه وی، یعنی د غی ښځې په داسې پسې اقتداء کړی وی او یا دوی دواړو په بل چا پسې اقتداء کړی وی.
۸-اداء د دواړیو قسم وی، یعنی د اقتداء په حالت کې لمونځ اداء کوی، که یو د اقتداء په حالت کې وی، او بل دانفراد یادواړه د انفراد په حالت کې وی نو محاذاة مفسد نه ګرځي. مثلا: یو مسبوق وی، بل لاحق یادواړه مسبوق وی، ځکه چې مسبوق له سلام وروسته د خپلو تیروشویو رکعتو په اداء کولو کې د منفرد حکم لری، مګر که دواړه لاحق وی نو لمونځ فاسدیږی ځکه چې لاحق د مقتدی حکم لری.
۹-ځای به د دواړو یو وی، که د یوه مکان جدا او د بل جدا، بیا محاذاة فاسد نه دی مثلا یو په مسجد کې د ننه او بل د باندی.
۱۰-چې د دواړو طرف یو وی. که یو یو ی خواته لمونځ کاوه، بل بیا بل طرف ته بیا هم محاذاة فاسد نه دی، مثلا: توره تیاره وه، قبله نه معلومیده له هریوه پخپله تحری (غالب ګمان) عمل کاوه، او رایی بی یو له بل سره مخالف و، یوه یوی لوری ته او بل بل لوری ته لمونځ کاوه.
۱۱-امام د دغی ښځې نیت دلمانځه په شروع کې کړی وو، که ئې امام نیت نه وی کړی، نو بیا دامحاذاة مفسد نه دی، مګر د ښځې لمونځ بیا په دغه صورت کې صحت نلری، ځکه چې امام د دی د امامت نیت نه دی کړی. (علم الفقه ص۱۰۴ ج۲)

د سجدې او رکوع په اړه مسائل

مسئله : که په ټوله سجده کې دواړه پښې له ځمکې پورته وي نو سجده نه کیږي چې سجده ونه شوه نو لمونځ نه کیږي.

(فتاوی دار العلوم ص۴۵ ج۴ بحواله بحرالرائق ص۳۳۶ ج۱)

مسئله : د سجدې په وخت کې د دواړو پښو ګوتې قبلې ته مخامخ کول سنت دي ، دواړې پښې له ځمکې سره نښلول واجب دي ، او بلاعذره د یوې پښې پورته کیدل هم مکروه تحریمي دي ، له دواړو پښو نه یو څه حصه پرځمکه لګول فرض دي ، که د یوې ګوتې په اندازه وي هم ، فرض اداء کیږي ، او که د واړه پښې بې له عذره له ځمکې څخه پورته وي او د ۳ ځله سبحان الله ویلو په اندازه وخت ونیسي نو لمونځ فاسد ګرځي ، له ځمکې سره د ګوتې لګیدل ، داسې نه چې صرف یو نوک ورسره ولګیږي ، بلکې شرط داده چې د ګوتې د سر ګوښه به ورسره لګیږي.

(آپ کی مسائل ص۳۱۶ ج۲ ، فتاوی دارالعلوم ص۱۵۲ ج۲ ، فتاوی محمودیه ص۱۹۶ ج۲ ، ص۲۷۰ ج۱۰ ، جوهر نیره ص۷۲ ، غنیه ص۱۰۱ ج۱ ، شامی ص۳۳۲ ج۱)

مسئله : په سجده کې باید صرف د پښې د بټې ګوتې پرلګولو اکتفاء ونشي ، د اخلاف السنة عمل دی ، بکار داده چې ټولې ګوتې پرځمکه ولګولی شي او مخ ئې د قبلې لورې ته شي.

(فتاوی رحیمیه ص۳۰۲ ج۲ ، شامی ص۳۱۶ ج۱ ، فتاوی دارالعلوم ص۱۵۴ ج۲)

مسئله : بهتره داده چې د قیام په وخت کې د پښو ترمنځ د څلورو ګوتو په اندازه فاصله وي ، خو که زیات او کم سي ، هیڅ باک نلري لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۲ ج۲ ، ردالمحتار ص۴۱۲ ج۱)

مسئله : له رکوع نه چې راپورته سی باید سیده او برابر ودریږی ، که داسی سیده ونه دریږی نو ترک د واجب ئې وکړ ، چې په دی سرد د لمانځه اعاده ضروری ګرځي.

مسئله : همدارنګه له لمړۍ سجدې نه چې راپورته سی هم سیده به کښینی ، او بیابه دوهمه سجده کوی ، کنه نو د لمانځه راګرځیدل لازمیږی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۵ ج۲، درمختار ص۳۲۲ ج۱)

مسئله : کوم سړی چې د - سبحان ربی العظیم - الفاظ درست نسی اداء کولای ، یعنی «سبحان ربی العجیم» وایی ، نو هغه دې ترهغه وخته چې د «ظ» تلفظ درست اداء کولای شی ، «سبحان ربی الکریم» وایی صحت لری. (فتاوی دارالعلوم ص۱۷۱ ج۲)

مسئله : د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد پرتندي اوپوزه دواړه سجده فرض ده ، خو د ضرورت په وخت کې پرېوه هم اکتفاء کیدای شی.

مسئله : له عذره پرته یوازی پرپزه سجده کولو سره لمونځ نه اداء کیږی او بلاعذر یو ازی پرتندی سجده کول مکروه تحریمی دی.

مسئله : که د چاتندی او پوزه دواړه زخمي وی ، نو په اشاره سجده کولای شی. (عالمګیری ص۷۰ ج۱، کبیری ص۲۸۳، نماز مسنون ص۳۶۷)

مسئله : د سجدې په وخت کې به اووه اندامونه پرځمکه ښودل کیږی ، دواړه ځنګونه ، دواړه لاسونه دواړې پښې ، تندی سره له پوزي. (هدایه ص۷۰ ج۱، شرح نقایه ص۷۸ ج۱، کبیری ص۳۲۱)

مسئله : په سجده کې به تندی اوپوزه د دواړو لاسونو ترمنځ ږدی ،
(هدایه ص۷۰ ج۱، کبیری ص۳۲۱، نقایه ص۷۸)

مسئله : د سجدې په حالت کې به بازوګان او ورنونه پرځمکه نه لګوي (هدایه ص۷۰ج۱، نقایه ص۲۸ج۱)

مسئله : که جلسه (یعنی د دوو سجدو ترمنځ ناسته) په ښه توګه ونشی نو دوې سجدې آداء شوې نه دي ، (هدایه ص۷۰ج۱، کبیری ص۳۲۲)

مسئله : مقتدي ته پکار ده چې د تکبیراتو په وخت کې توقف وکړي ، په دې خاطر چې ترامام ئې تکبیرات اونورارکان وړاندې نشي. (فتاوی دارالعلوم ص۳۶۶ج۳بحواله مشکوة ص۹۸ج۱)

مسئله : د امام لپاره بهتره دا ده چې په رکوع او سجده کې تسبیحات پنځه پنځه ځله ولولي اویاهم درې واره ئې په ښه توګه په ارامه لهجه ووایي ، ترڅو مقتدي ته هم د درې واره تسبیح ویلو فرصت پیدا شي. (فتاوی رحیمیه ص۲۷۱ج۳بحواله شامی ص۴۶۲ج۱)

د تنها لمونځ کوونکي لپاره هم پنځه ځله تسبیح ویل افضل دي. (مسائل سجد سهو ص۸۱)

مسئله : مخکې له دې چې مقتدي ۱ ځله تسبیح پوره کړي امام سر را اوچت کړ. نو ځرنګه چې پرمقتدي د امام متابعت واجب دی ، نو له امام سره به یو ځای دی هم سر راپورته کړي ، د تسبیحاتو د پوره کولو په غرض به تأخیر نه کوي. (مسائل سجده سهو ص۸۰بحواله شامی)

مسئله : بهتره دا ده چې په نوافلو کې د رکوع ځخه د پورته کیدلو په وخت کې دا دعاء «ربنالک الحمد حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه » ولولي ، که څه هم دا دعاء په فرض لمانځه کې هم ویل کیدای شي ، مګرپه فرائضو کې چونکه تخفیف زیات مناسب کار دي(د امام لپاره) نو ځکه باید دغه دعاء په نوافلو کې ښه وګڼله شي.

(نماز مسنون ص۳۵۶ بحواله مسلم شریف ص۱۹۱ ج۱)

مسئله : په رکوع کې لږترلږه ۳ ځله «سبحان ربی العظیم» ویل د کامل سنت ادنی درجه ده. (نماز مسنون ص۳۵۲، هدایه ص۶۸، شرح نقایه ص۷۶ ج۱، کبیری ص۳۱۶)

مسئله : په رکوع کې به سر، اوږې، ملاأو شا تول سره برابروي، کښېنته پورته به نه وي. (هدایه ص۶۸ ج۱، شرح نقایه ص۷۶ ج۱، کبیری ص۳۱۶)

مسئله : په رکوع کې به سیده درېږي په اطمنان سره چې دی ته قومه وایی او دا واجب ده. (فتح القدیر ص۲۱۲ ج۱)

مسئله : هغه څوک چې په رکوع کې اشتراک وکړي، له هغه نه ثناء (سبحانک اللهم....) ساقط شوه یعنی ثناء به نه وایی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۷۱ ج۲)

مسئله : په جماعة کې که څوک هغه وخت شریک شو چې امام قرائت پیل کړی وی؛ نو هغه ته ثناء ویل نه ده پکار.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۰ ج۲، ردالمحتار ص۳۵۶ ج۱)

مسئله : که چیری له اول نه مقتدی په جماعة کې شریک وی، خو په منځ کې رکوع له یوی وجی څخه ورنه پاتی شی، او سجده وکړي، نو دی به داسی کوی چې کله امام فارغ شو دی به سلام نه گرځوی، ولاړیږي به رکوع به کوی او بیا به سجده سهو کوی، په دی صورت کې ئی لمونځ صحیح شو. (فتاوی دارالعلوم ص۶۰ ج۲)

مسئله: رکعت هغه مهال د مقتدی لپاره پوره شمیرل کیږي چې له امام سره په رکوع کې شامل سی، که رکوع ځینی فوت شوه بیا چې هرچیری ورسره شامل شی رکعت نه حسابیږي. (علم الفقه ص۱۰۰ ج۲)

مسئله : په دري ځله تسبیح ویلو سره سنت اداء کیږي، او په فرائضو کې د امام لپاره د تخفیف حکم دی د مقتدیانو د رعایت په

وجه به تطویل نه کوی ، ولی د احنافو په نزد تردری خله زیات ویل مکروه نه گنی. او له «سمع الله لمن حمده» وروسته «ربنالک الحمد» ویل هم مستحب کاردی ، همدارنګه په جلسه کې «رب اغفرلی ...» تر پایه ویل ـ هم مستحسن دی ، لکن بهتره داده چې دغه ډول دعاء ګڼي په فرائضو کې نه بلکې په نوافلوکې وویلی شی ، ځکه چې په فرائضوکې تخفیف ښه دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۷ج۲بحواله مشکوة ص۱۰۱ج۱)

مسئله : د احنافو په نزد آمین ویل سنت دی ، که چیری ئې پرځنګ یو یادوتنه واوری نو هغه هم په سنو که کې داخل دی ، په لوړ آواز نه بلل کیږی . (فتاوی دارالعلوم ص۱۶۲ج۲بحواله ردالمحتار ص۴۹۸ج۱)

مسئله : که څه عذر نه وی نو د سجدی په وخت کې لمړی ګونډې لګول بیا دواړه لاسونه ایښودل سنت طریقه ده ، له دی پرته عمل د سنت خلاف او مکروه دی ، مګر که عذر ولری لکه بوډاتوب ، یا ئې بدن پرسیدلی وی یابله ناروغی وی ، له دی امله لمړی ګونډی لګول تکلیف وی ، نو بیا هیڅ باک نلری چې لمړی لاس او بیا ګونډی ولګوی . (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص۱۵۴)

مسئله : اصل داده چې هرشئ چې ځمکې ته نژدی وی هغه باید لمړی پرځمکه کیښودل شی ، داچې له پښو وروسته ګونډې ځمکې ته نژدی دی ، نو باید چې هغه لومړی کیښودلی شی بیالاسونه او بیا پوزه او تندی. (عمدة الفقه ص۱۱۰ج۲فتاوی رحیمیه ص۲۲۰ج۷)

مسئله : د نارینه لپاره د سجدې مسنونه طریقه داسی ده چې خپل بازوګان له بغلونو څخه لیری وساتی ، خو په جماعة کې به لاسونه له بغل سره ټینګ ساتی ترڅو نورو خلکو ته تکلیف ونه رسیږی ، نس به

له ورنو څخه پورته ساتي ، پرځمکه به کښيني نه ،او دواړه لاسونه به
12 دغوړو پربرابرړدی ، نه دا چې له سيني سره ئې ايښي وی ، يعنی مخ
به د دواړو لاسو په منځ کې وی او بتې ګوتې به د غوږو نه نرميو سره
برابرې وې ، د لاسو ګوتې به ښه سره بنده وی ، د پښو ګوتې به هم
داسې ږدې چې قبلې ته به ئې سرونه مخ وی. (عمدة الفقه ص۱۱۰ج۲، فتاوی رحیمیه ص۲۲۰ج۲، عالمګیری ص۱۰۲ج۱، محمودیه ص۱۹۸ج۱)

مسئله : په التحيات کې د شهادة د ګوتې په پورته کولو سره د توحيد اشاره کيږی ، لکه چې په ژبه سره «اشهدأن لااله الاالله ....» لوستل کيږی او مطلب ئې د توحيد اقرار وی دا راز عملا هم له افعال او جوارحو څخه د هغه څرګندونه کيږی .(فتاوی دارالعلوم ص۱۷۱ج۲بحواله مشکوة شريف ص۴۲۴ج۱)

د تکبيرونو سنت طريقه

مسئله : له يو رکن څخه بل رکن ته د تللو لپاره د شرعي اذکارو بيځايه استعمال مکروه دی ، سنت دا ده چې کله له يوه رکن څخه وروسته بل رکن پيل کيږی نو په دغه وخت کې دې په شرعي طريقه په ښه توګه د الله تعالی نوم اخلی او چې کله د انتقال وخت وی نو د همدغه انتقال لپاره چې کوم ذکر خاص وی ، هغه دې په همدې وخت کې ختم کړل شی ، مثلا دا صورت مکروه دی چې يو څوک رکوع ته د تللو په وخت کې تکبير هغه وخت ووايی چې بيخی رکوع ته ورسيږی ، يا مثلا «سمع الله لمن حمده» چې ويل ئې د پورته کيدو په وخت کې مناسب دی ، خو سړی ئې هغه وخت ووايی چې بلکل سيده ودريږی په داسې حال کې چې د حکم مقصد دا دی چې تکبيرونه او نور اذکار

، له یو رکن څخه بل رکن ته د انتقال پرمهال چې کومه زمانه ده ؛ باید په دې کې وویل شي. (کتب الفقه ص۲۳۷ ج۱)

مسئله : تکبیرات په معتدل اواز سره امام اداء کوي ، نه ډیر په لوړ آواز او نه ډیر په ټیټ آواز سره ، چې دا دواړه د سنة خلاف دي. (فتاوی دار العلوم ص۱۴۷ ج۳)

مسئله : په تکبیراتو کې کامل سنت هغه وخت اداء کیږي چې له یوه رکن څخه دویم رکن ته د انتقال سره سم پیل سي ، چې څنګه دا بل رکن ته ورسیږي نو سمدستي د تکبیر آواز هم ختم شي. (کبیری ص۳۱۲)

مسئله : اصح قول دادی چې په «اکبر» کې د «ب» او «ر» ترمنځ چې الف مماله زیات کړل شي یعنی «اکبار» وویل شي نو تکبیر تحریمه صحیح نه دی او په لمانځه کې نه داخلیږي ، او که دا تکبیر سم اداء شي ، ولی نورد انتقالاتو تکبیرونه په همغه پورتنی طریقه وویل شي یعنی الف مماله کې زیات کړل شي. نو لمونځ فاسد یږي. (فتاوی رحیمیه ص۲۷۲ ج۲)

مسئله : تکبیر تحریمه چې وویل شي ، لاسونه پرته له دې چې د غسی ایله پرېښودل شي ؛ ترنامه لاندې به ئې نیسي. (امداد الاحکام ص۲۲۲ ج۱)

د قومې او جلسې مسنونه طریقه

پوښتنه : زموږ امام صاحب له رکوع نه وروسته په قومه کې سیده نه دریږي ، چې څنګه راپورته شي سمدستي سجدې ته ځي. همدارنګه له «سمع الله لمن حمده» سره تکبیر هم متصل وایي ، په منځ کې ئې د یوې ذرې برابر هم وقفه نه کوي ،نه سا داخلي. دا راز له سجدې څخه وروسته د

جلسې په حالت کې او نورو ارکانو کې په همداسې طریقه وي ، هیڅ وقفه او انتظار نه کوي ، چې اوس ده ته په کتلو سره مقتدیان هم همداسې دي ، نو له تاسو څخه په دې اړه د تفصیلي ځواب امید لرو ؟

جواب : دا ډول عادت ډیر غلط دی ، په دې سره لمونځ مکروه کیږي ، او د راګرځیدلو وړ وي. قومه او جلسه (له رکوع څخه وروسته دریدل او د دووسجدو ترمنځ کښیناستل) په اطمنان سره آداء کول ضروري دي.

(درمختار او شامي د ۴۶۴ص اول ټوک تر ۴۷۲ص لمړي ټوک پورې)

د عباراتو حاصل داسې دی چې له رکوع وروسته دې سیده ودریږي څکه چې قومه سنت ده ، چې حتی واجب او فرض هم ورته ویل شوي دي ، بیا ځمکې ته د الله اکبر په ویلو سره کښته شه ، او دواړه زنګنونه پر ځمکه ولګوه ، چې په دې عباراتو کې د «ثم» لفظ راغلی دی ، او د هغه مطلب دادی چې په دریدلو یعنې وقفې سره سجدې ته د تلو په وخت کې تکبیر وایه تر هغه پورې چې سجدې ته رسیږي. د تکبیر په ختمیدو سره تندی پر ځمکه کښیږده ، بیا د دوو سجدو په منځ کې په اطمنان سره کښینه یعنی تر دومره وخته پورې کښینه چې سبحان الله وویلای شي ، د آنحضرت ﷺ مبارکه طریقه داده چې کله بې له رکوع څخه سر مبارک راپورته کړ نو په اطمنان سره به سیده ودرید ، بیا به سجدې ته تلی له سجدې وروسته به ئې بیا چې سر مبارک راپورته کړ سیده به کښیناست ، بیا به ئې دویمه سجده کوله.

(مشکوة شریف ص۷۵ج۱)

دا ضروري ده چې د آنحضرت ﷺ د سنت طریقې مطابق خپل لمونځونه آداء کړو ، څکه چې نبی کریم ﷺ فرمایي: (تاسو دا ډول

لمونځ اداء کوئ نکه څنګه چې موزمالمونځ لیدلی) یعني د لمانځه په حال کې چې موږ ولیدلی یم په همغه شکل به تاسو هم خپل لمونځونه کوئ ، نو که فرضا موږ داکوشش ونکړو چې لمونځ مو د آنحضرت ﷺ د سنت طریقې سره سم نه دی ، نو زموږ لمونځ به هم قبول نه وی ، آنحضرت ﷺ فرمایي ترټولو بد ترغل هغه څوک دی چې په لمانځه کې غلا کوی ، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم پوښتنه وکړه ، په لمانځه کې څنګه غلاکیدای شی ؟ یارسول الله ! آنحضرت ﷺ وفرمایل: چې په لمانځه کې غلا دا ده چې رکوع او سجده په ښه توګه نه اداء کوی ، بیایې وفرمایل: د آنحضرت ﷺ یو بل ارشاد دی: په تاسو کې د هیچا لمونځ پوره کیږی نه ، ترڅو چې له رکوع د روسته قومه په صحیح توګه آداء نکړی ، (یعنی سیده ونه دریږی) په دې توګه چې هر هراندام ئي پرخپل ځای قرار ولری. همدارازکوم سړی چې د دواړو سجدو ترمنځ د کښیناستلو په وخت کې خپل ځان د رست نکړی و د هغه لمونځ نه پوره کیږی. (مشکوة شریف ص ٨١ ج ١)

ویل کیږی چې مؤمن بنده خپل لمونځ په ښه توګه اداء کوی ، رکوع او سجده سمه وکړی ، نو لمونځ ئې ښکلی او نورانی کیږی ، فرښتې هغه لمونځ آسمان ته پورته کوی ، او هغه لمونځ خپل لمونځ کوونکي ته دعاء کوی او وایي چې الله تعالی دې ستا حفاظت وکړی ، چې څرنګه دې زما حفاظت وکړ او چې څوک لمونځ په ښه توګه نه کوی ، نو هغه لمونځ تر ریږی ، فرښتې کرکه ځینې کوی ، آسمان ته ئي نه پورته کوی ، او لمونځ وایي چې الله تعالی دې تا د غه ئې ضائع او تباه

کړی لکه څنګه چې دی زه ضائع کړم. (خلاصه فتاوی، رحیمیه ص۲۵ ج ۳ بحواله مکتوب نمبر ۶۹، امام ربانی ص۱۳۸ ج ۲)

مسئله: کوم لمونځونه چې له تعدیل الارکان پرته آداء شوی وی، که څه هم صحت لری، خو راګرځول ئي بهتراو ښه کار دی، فرض او وتر دی هرومرو راګرځوی، ولی سنت که راونګرځی څه باک نلری.

(فتاوی دارالعلوم ص۱۵۶ ج ۲ بحواله ردالمحتار ص۴۲۲ ج ۱ اولغلاط العوام ص۵۹)

په قومه او جلسه کې د دعاء حکم

پوښتنه: په قومه او جلسه کې امام او مقتدی دعاء ویلی شی کنه؟

جواب: کله چې مقتدی له رکوع سر راپورته کړی، سیده به ودریږی له «ربنالک الحمد» ویلو څخه وروسته به «حمداً کثیراً طیباً مبارکاًفیه» ویلای شی، همدارنګه په جلسه کې یعنی د دوو سجدو ترمنځ «اللهم اغفرلی ورحمنی واهدنی وعافنی وأرزقنی» ویلای شی خودا په دی شرط چې وخت وی، هسی نه چې د دی دعاؤ په ویلو سره له امام څخه ورسته پاتی شی، البته د امام لپاره پکار نه ده چې وئي لولی، څکه چې د آنحضرت ﷺ هدایت او لارښونه داده چې امام دی په لمانځه کې تخفیف کوی ترڅو د معذور، مریض اونورضرورتمند کسانو لپاره د تکلیف او مشقت باعث ونه ګرځي.

(فتاوی رحیمیه ص۱۰۳ ج ۴ بحواله شامی ص۴۷۲ ج ۱)

له لمانځه وروسته دعاء

مسئله: له فرض لمانځه وروسته د امام او مقتدیانو په ګډه غوښتل په اره ډیر فضیلتونه ذکرشوي دي. او مسنونه طریقه چې امام او مقتدئ دی دواړه په ټیټ آواز سره دعاء کوی

سوکه دعاء کول قبولیت ته نژدې ، اخلاص پکې ډیر ، خشوع او خضوع پکښې وي ، او دا پرزړه باندې اغیز هم لري ، او له ریاکارۍ څخه لیرې دي ، په دعاء کې اصل اخفاء (په پټه خوله) کول دي. قرآنکریم فرمایي چې دعاء په عاجزۍ او په ژړاسره کول ښه دي ، د حضرت زکریا علیه السلام هم همدا طریقه وه: «نداءً خفیاً» همدارنګه په حدیث شریف کې راځي: «خیرالدعاء الخفی» ښه دعاء داده چې آهسته و غوښتله شي. «ادعواربکم تضرعاوخفیة» د فتح الباري ۲ هم توک ۲۲۹ صفحه کې راغلي: چې غوره طریقه داده چې مقتدي او امام به په ټیټ آواز سره دوعاء کوي ، مګرکه د دوعاء د ورزونه کولو اړتیاوه ، یاکه به زوره راوستله شي ، څه حرج نشته. خلاصه داچې محدثین ، مفسرین او فقهاؤ له له اقوالو څخه په څرګنده معلومیږي چې په ورو آواز دعاء غوښتل ، د امام ، مقتدي او منفرد هریوه لپاره افضل او مسنونه طریقه ده ، داخلاف اولی او مکروه ده. چې امام په زوره دعاء کوي ، نو پکار ده چې د سنت عظمت او اهمیت په پام کې ولرو ، او پرهغه باندې د عمل ذوښښ وکړو.

د مفتي محمد شفیع رحمه الله فتوا داده ، چې ترټولو مکروه او مفسده داده چې ځینې مسبوقین (هغه چې څورکعتونه ځینې تیر شوي وي) په لمانځه ولاړوي او امام په لوړ آواز سره دعاء کوي. داځکه چې د لمونځ کوونکو په لمانځه کې خلل راځي ، همدا وجه ده چې له رسول الله ﷺ ، صحابه کرامو رضی الله عنهم ، او آئمه وو څخه دا صورت نه دی منقول شوی چې له لمانځه وروسته دی امام دعاء وکړي او مقتدي دې آمین وایي ، لنډه دا چې په عامه حالاتو کې دی

امام او مقتدی له دې ځخه ځان وساتی او په ټیټ آواز دې دعاء کوی ، لیکن که دغه مذکوره مفاسد نه وی که په زوره دعاء وکړی ځه باک نلری ، مقتدیانو ته هم پکارنه دی چې امام په جهري دعاء ویلو مجبور کاندی ، خدای تعالی دهرچادعاء اوری که په عربي ژبه دعَاء ورته یاده نه وی ، نو په خپله ژبه او بله هره ژبه دې دعاء لوستلای شی ، خو په ورو آواز. (خلاصة الفتاوی، رحیمیه ص۲۹۶ ج۲، ص۱۰۵ ج۱)

مسئله : په هغو لمونځونو کې چې ترفرضو وروسته سنت وی ، نو په دغه وخت کښې ترسنتو مخکې لنډه دعاء ویل پکار ده . (بهشتی زیور ص۳۲ ج۱۱)

مسئله : په ټیټ آواز سره دعاء کول افضل دی ، که لمونځ کوونکو ته کوم تکلیف نه رسیږی بیا کې په لوړ آواز سره کله ناکله ووایی ، هم ځه باک نلری ، مګر همیشه په جهر سره دعاء کول مکروه دی. په آحادیثو کې چې د دعاء په اړه کوم روایات شته ، چې نبی کریم ﷺ کومه دعاء او څنګه ویله ، په هغه کې دا هم دي چې آنحضرت ﷺ په رکوع کې سبحان ربی العظیم او په سجده کې سبحان ربی الاعلی ویله ، خو دلته دا ثابته ده چې دا تسبیحات په جهر سره نه دی ، نو همدارنګه دا هم ثابته شوه چې دعاء ئې هم په جهرسره نه کړله. (فتاوی رحیمیه ص۱۸۲ ج۱)

(البته امام به اوږدې اوږدې دعاء ګاني هم دځان عادت نه ګرځوی ، ځکه چې په دی سره یو د سنت تأخیر راځی اوهل نورو لمونځ کوونکو ته ګران تمامیږی.)

مسئله : د دعاء په اول او آخير کې درود شريف لوستل د دعاء د قبوليت لپاره ښه اميد بخښونکې دی. (آپ کی مسائل ص۲۸۲ ج۲)

مسئله : له آنحضرت ﷺ څخه وپوښتل شول چې کومه دعاء ښه قبليږي ؟ آنحضرت ﷺ وفرمايل: د شپې د وروستی برخې او فرض لمونځونو وروسته دعاء ښه قبليږي. (فتاوی رحيميه ص۲۰۲ ج۱ الفتاوی حمودیه ص۲۰۰ ج۱۲)

مسئله : کله چې امام له لمانځه فارغ شی ، نو امام او مقتديان دې يو ځای په شريکه دعاء وکړی ، بيا دې نو نفلونه او سنتونه وکړی او پخپلو کارونو پسې دی ځي ، دوهم ځل درېيم ځل نوافلو يا سنتو وروسته دعاء او يا خلک دې ته اړ ايستل چې تر دعاء پوری انتظار وکړی ، دا جواز او هيڅ ثبوت نلری. (فتاوی دارالعلوم ص۱۳۰ ج۴ فتاوی رحيميه ص۱۸۲ ج۱)

مسئله : حضرت سائب رضی الله تعالی عنه له خپل پلار څخه نقل کړی ، چې رسول الله ﷺ چې به کله دعاء کوله ، نو خپل دواړه مبارک لاسونه به ئې پورته نيولي وو ، او چې دعاء به ختمه شوه نو دواړه لاسونه به ئې پر مخ مبارک راتير کړل. (مشکوة شريف ص۱۹۶ ج اسباب للدعاء)

مسئله : په دعاء کې به لاس دونه پورته نيسی چې دغوږونو پر محاذات وی ، او د څنګلو له پورته کولو سره بغلونه را څرګند شی.
(احکام دعاء مفتی محمد شفيع رح ص۱۱)

مسئله : له فرائضو وروسته دعاء کولای شی ، دا ضروری نه ده چې د امام پر دعاء به مقتدي صرف آمين وايي ، يعنی پخپله هم دعاء غوښتلای شی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۱ ج۴ بحواله درالمحتار ص۴۸۹ ج۱)

مسئله : که چيری مقتدی ته کوم ضرورت وی او د هغه ضرورت په وجه له سلام ګرځولو وروسته سمد ستی ولاړ شی ، له امام سره

شریکه دعاء پریږدي، په دې کې هیڅ حرج او ګناه شته او نه په دې کار ملامت ګڼل کیدای شي، مګر که ضرورت ونلري، لو پاتې شي له امام سره په شریکه دعاء وکړي نو دا ښه کار دی او ثواب ډیر لري. (فتاوی دارالعلوم ص۳۰۱ ج۴ بحواله درمختار ص۴۹۵ ج۱)

مسئله : له فرض لمانځه وروسته پر سرباندې لاس ایښودلای او دا دعاء لوستلای شي. «بسم الله الذی لااله هوالرحمن الرحیم اللهم أذهب عنی الهم والحزن» (امداد الاحکام ص۲۸۷ ج۱)

مسئله : له فرض لمانځه وروسته: «اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یاذالجلال والاکرام» ویل مسنون او افضل کار دی، نو ځکه دا دعاء ډېره لوستله کیږي، مګر په بله دعاء سره هم سنت اداء کیدای شي، نو بلې دعاء ته خلاف سنت ویل صحت نلري. (فتاوی رحیمیه ص۲۵ ج۳)

مسئله : له لمانځه وروسته لاس پورته کول او دعاء غوښتل شرعاً ثابت او مستحب عمل دی. ځکه اتفاقاً کله پریښودل شي لچاځخه، نو څه اعتراض نشته وربانذي. (فتاوی محمودیه ص۲۴۱ ج۱)

مسئله : د دعاء له آدابو څخه دادی چې دواړه لاسونه ترسینې پورې پورته ونیسي او د دواړو لاسو په منځ کې یو څه اندازه فاصله وي، دواړه سره بندول خلاف اولی دي. (فتاوی رحیمیه ص۲۰۲ ج۲ بحواله شلمی ص۲۷۲ ج۱)

مسئله: د دعاء په وخت کې د دواړو لاسونو به منځ کې یو څه فاصله پرېښودل افضل کار دی. (فتاوی محمودیه ص۲۶۸ ج۱)

مسئله : له لمانځه وروسته دعاء په لومړي سر او اخیر کې څوتکې په جهر سره ویل جائز دي، مګر اهتمام ئې ضروري نه دی. (فتاوی محمودیه ص۲۲۸ ج۱)
(ترڅو ئې خلک جز و نه بولي ــ محمد رفعت قاسمي غفرله)

مسئله: مقتدي خپله دعاء هم کولای شي او د امام پر دعاء هم آمين ويلی شي، دواړه صحت لری خو ولی اخفاء بنه ده. (فتاوی محموديه ص۲٦۱ ج۱۰)

مسئله: نه لمانځه وروسته بالالتزام مصافحه يا معانقه (په غيږ او په لاس يوبنتنه (روغبړ) کول درست کار نه دی، له دی نه ځان ساتل پکار دی، مګر که چيری له چاسره لومړنی ملاقات وی، هغه که څه هم د لمانځه وروسته برابرشی، په دی صورت کی جواز لری مصافحه او يا معانقه کيدلای شی. (نظام الفتاوی ص۱۰۵ ج۱)

د امام له دوهم سلام څخه وړاندی د مقتدي راګرځيدل

سوال: زموږ د مسجد امام صاحب تر ډيره پوری سلام اوږدوی، نو يو مقتدی منکی له دی چی امام دويم سلام پوره کړی، مخ راګرځوی او ځان وزګاروی، په داسی حال کی چی مقتدي ته خو د امام متابعت ضروری دی، نو آيا د نوموړی دا عمل چی تر امام مخکی ځان فارغ کوی، درست دی کنه؟

جواب: امام ته هم پکار نه دی چی سلام اوږدوی (يعنی سلام په قرائت وايی) تر دومره پوری چی د مقتدی سلام په منځ کی ختم شی، او د څه مقتدی ته هم پکار نه دی چی تر امام وړاندی د فارغ کيدلو هڅه کړی، که څه هم لمونځ ئی صحت لری، خو دا ډول عمل مکروه دی. په ټول لمانځه کی ئی چی دومره انتظار کاوه، نو د سلام په وخت کی دی هم لږ نور صبر وکړی. (آپ کی مسائل ص۲٦۲ ج۲، فتاوی دارالعلوم ص۱۹۲ ج۲)

مسئله: که چيری په السلام عليکم کی د «عليکم» پرځای «عليتم» له خولی راووزی، لمونځ کيدلای شی. (فتاوی دارالعلوم ص۵۲ ج۴، درمختار ص۴۱۸ ج۱)

مسئله : د سلام ګرځولو په وخت کې صرف د قبلې څخه مخ ګرځول کافي دي. د سينې ګرځولو ته څه اړتيانشته. (فتاوى دارالعلوم ص۲۷ ج ۲)

مسئله : که چيرې يو سړى دغه وخت په امام پسې اقتداء وکړي چې امام «السلام عليکم» کې د «السلام» تکى پوره اداء کړى ، نو د دغه سړي جماعة او اقتداء صحت نلري ، خپل لمونځ به جدا کوى دى مقتدى او امام ئي امام نه ګڼل کيږي جماعة څينى فوت دى. دا څکه چې د السلام پر «م» باندى لمونځ پاى ته ورسيد . (فتاوى دارالعلوم ص۲۸۲ ج۲، بحواله ردالمحتار ص۴۳۶ ج۱، فتاوى محموديه ص۱۲۲ ج۲، اغلاط العوام ص۶۸)

مسئله : که چيرى ئي تکبير تحريمه پوره اداء کړ مخکى تردې چې امام سلام ګرځوى ؛ نو دى په جماعة کې شريک دى ، لمونځ ئې صحت لرى ، دوهم ځل تکبيرتحريمه ويلو او لمونځ جدا کولو ته اړتيانشته . (فتاوى دارالعلوم ص۶۵ ج۲، شامى ص۴۳۶ ج۱)

مسئله : که مقتدى له امام سره شريک او امام سمدستى دغه مهال سلام وګرځاوه ، نو مقتدى ته پکار د چې تشهد پسى پوره کړى اوبيا ولاړ شى. (شامى ص۴۶۳ ج۱، فتاوى دارالعلوم ص۳۸۰ ج۳)

او داهم جائزه ده چې تشهد پوره نکړى ، ولاړ شي (فتاوى دارالعلوم ص۱۶۵ ج۲)

مسئله : د «السلام عليکم ويلو هرو - ت که ترامام وړاندى د مقتدى سا ودريږى نو د مقتدى په لمانځه کې څه خلل نه راځى (يعنى مطلب ئي دا نه شو چې ترامام وړاندى ئي ځان فارغ کړ) .

(فتاوى دارالعلوم ص۱۲۳ ج۲، ردالمحتار ص۴۹۰ ج۱ باب صفة الصلوة)

مسئله : د لمانځه د اختتام لپاره صرف د «السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته» تکي کفایت کوي، ضروري نه ده چې «وبرکاته» لفظ هم ورسره اضافه شي. (فتاوی دارالعلوم ص۱۹۶ ج۲)

مسئله : په کومو لمونځونو کې چې ترفرضو وروسته سنت نه وي، لکه د سهار، مازیگر لمونځ، په دې وختو کې امام اختیار لري چې له سلام گرځولو وروسته امام ښي طرف ته یا چپ طرف ته مخ اړوي، په حدیث شریف کې د دواړو ثبوت راغلی او فقهاؤو هم دواړو اړخونو ته د گرځیدلو اجازه کړې.

(فتاوی دارالعلوم ص۱۳۹ ج۲، ردالمحتار ص۲۹۶ ج۱، بخاري ص۱۱۸ ج۱ فتاوی محمودیه ص۱۲۶ ج۲، آپ کی مسائل ص۲۵۲ ج۲)

مسئله : جهت که بدلیږي رابدلیږي دا ښه کار دی ځکه چې عوام بیا یو طرف ضروري گڼي. (فتاوی رحیمیه ص۳۵ ج۳)

د امام په دې راگرځیدلو کې مقصد دا وي چې امام د تسبیح قاطمي ترځنگ چې له کومو خلکو څخه لچې رکعتونه تیرشوي؛ هغوي څرنگه لمونځ کوي، درست دي کنه؟ همدارنگه دا بنه هم گوري چې څوک مسجد جماعة ته نه دي حاضر شوي او سبب ئي څه دی، او بیا به دا شیان اصلاح کوي ځکه چې امام د خلکو مسئول او دیني مشر دی. (محمد رفعت قاسمي غفرله)

لمونځ ولی په سلام و یلو ختمیږي؟

څرنگه چې رسول کریم ﷺ خپل امت ته د لمانځه د پیل او آغاز لپاره ترټولو ستره او سپیځلی کلمه «الله اکبر» ښودلي ده؛ همدارنگه ئې د اختتام او پای ته رسیدلو لپاره هم په زړه پوري کلمات ښودلي دي: «السلام علیکم ورحمة الله» په دې کې فلسفه او حکمت دا دی چې

سلام هغه وخت ویل کیږي چې څوک له چاسره په لوړې ځل مخ کیږي، نو دا چې یو بنده لمونځ په تکبیر سره پیل کړي او له الله تعالی سره ئې ملاقات وشي، نو ګویا دغه بنده په کامله توګه له عالم شهود څخه غائب شو، او په دغه وخت کې هیڅ څوک ئې د زړه د سترګو په وړاندې موجود نه وي، بیا چې کله په اخیره ناسته کې له تشهد، درود او وروستي دعاء څخه فارغ شي، نو ګویا دغه بنده اوس یو ځل بیا د نیا (عالم شهود) ته سترګې راغړوي او له نویو خلکو سره مخ کیږي، نو په السلام علیکم ورحمة الله ، ویلو سره د هغوی ملاقات ته راځي، زما په نزد د دې حکم راز او فلسفه همدا ده. (معارف الحدیث ص۲۰۸ ج۳)

لمونځ چې په کومو شیانو فاسدیږي

۱-د لمانځه له معلومو شرطونو څخه دیوه شرط نه پوره کیدل مثلا طهارت نه وي. (باید وویل شي چې د طهارت د نه موجودیت ځینی صورتونه داسې دي چې لمونځ نه فاسدوي چې څوږ به ئې د مکروهاتو د بیانولو څخه وروسته په یو ځانګړي عنوان کې بیان کړو.)

۲-بې هوښي، لیونتوب او د حواسو بې ځایه کیدل.

۳-په قصدي توګه بې له عذره له قبلې څخه مخ اړول، که بې له قصده په غیر اختیاري توګه سینه له قبلې څخه وګرځي، نو اوس که د یوه رکن د اداء کولو هومره وخت همداسې پاتې شي نو لمونځ فاسدیږي، کنه نو صحیح دی، او یا د څه عذر په وجه سینه وګرځوله شي، مثلاد لمانځه په حالت کې چاته دا شبه شوه چې اودس ئې مات شو په دې خاطر ئې له قبلې څخه سینه راوګرځوله، او وروسته ورته

یاده شوه چې اودس ئې نه دی مات شوی نو اوس که دغه له مسجد
څخه تر وتلو مخکې ورته یاده شوه نو لمونځ ئې نه دی فاسد او که له
مسجد څخه تر وتلو وروسته ورته یاد شوه ، نو لمونځ ئي فاسد شو.
مسئله: د لمانځه د کوم فرض پرېښودل ، مثلا قرائت بالکل نه کوی ،
قیام ، رکوع ، سجده اوداسی نور نه کول ، که په قصد سره وی او که
په هیره سره
۴ - په قصدي توګه د لمانځه واجبات پرېښودل.
۵- واجبات په هیره پاتیدل او بیا د هغه په وجه سجده سهو نه کول.
۶- د لمانځه په حالت کې خبری کول ، په دې شرط چې لږترلږه ۲ دوه
حرفه یو او یاداسی یو حرف وی چې معنی ئې ښه فهمیدلای شی.
(درمختار ، علم الفقه ص ۱۰۰ ج ۲)

د خبرو پنځه قسمه دی: اول داچې څوک چاته خطاب کوی
داکلام په هرحال کې مفسد دی ، قصدا وی ، که سهوا ، په عربی ژبه
وی یابله ، د قرآنکریم په لفظ وی یابل لفظ. مثلا :
۱- یو سړی دا فکر وکړی چې زه په لمانځه کې نه یم او یا په بل شکل
غلط سی ، له چا سره خبری پیل کړی.
۲- د لمانځه په حالت کې چاته ووایی: «أقتل الحية» (مار ووژنه !).
۳- په لمانځه کې چاته ووایی چې : وایه !)
۴- کوم یحی نامی سړي ته ووایی : «یایحی خذالکتاب» (ای ، یحی
داکتاب ، اخله) یا د موسی په نوم سړي ته ووایی ، «یاموسی» (ای ،
موسی) یا چاته ووایی «اقرأ» (وایه) دا ټول الفاظ د قرآن مجید دي ،
همداحکم د سلام او د سلام د ځوابولو دی. او همدا حکم د یو پرچ

کوونکي د جواب «یرحمک الله» دی، او همدا راز د ښه خبر په اوریدو سره چې سړی ووایی: «الحمدلله» یا بل لفظ ووایی. لکه د الله تعالی د نوم په اوریدلو سره «ﷻ» او د رسول کریم ﷺ د نوم په اوریدو سره درود شریف ووایی دا ټول لمانځه ته مفسد ګرځی، په دې شرط چې غرض ئې د هغه سړی ځواب وی. (درمختار وغیره)

خلاصه دا چې که چیری له سړیو سره په مخاطبه کې خبری وشی، که هر ډول وی او په هر حالت کې وی، لمونځ فاسد یږی.

(علم الفقه ص۱۰۱ ج۲، نماز مسنون ص۳۷۸ شرح تنکیه ص۱۱ ج۱، هدایه ص۵۸ ج۱، کبیری ص۴۲۲، درمختار ص۴۵۵ ج۱)

دویم قسم خبري دا دي چې له ځارویو سره کلام وشی، دا هم په هرصورت مفسد دی. دریم قسم خبري دا دي چې پخپله له ځان سره څوک خبري وکړی، دا کلام هم مفسد صلوة دی خو په دې شرط چې عربی الفاظ نه وی، او په قرآنکریم کې نه وی، او که عربی لفظ وی او هم په قرآن کې وی مثلاً د خپل پرچي په جواب کې ووایی: «الحمدلله» او یا دا ډول نور الفاظ، نو دا لمونځ نه فاسده وی. او که چیری د چا یو لفظ تکیه کلام وی، مثلاً د یو سړی د «نعم» لفظ عادت وی هره شیبه ئې وایی نو په دی سره هم لمونځ فاسدیږی که څه هم عربی او د قرآنکریم لفظ وی.

څلورم قسم، ذکر او دعاء ده، چې دا هم لمونځ فاسدوی، په دې شرط که له عربی پرته په بله ژبه وی او یا په عربی وی، خو په قرآنکریم او حدیث کې نه وی وارده. او نه دا چې د هغه شی غوښتنه له الله تعالی پرته له بل چا څخه حرامه وی، یعنی له بل چا هم غوښتل کیدای شی، مثلاً په لمانځه کې ووایی: «اللهم اعطنی الملح» ای الله !

مانه مالګه راکړه . او یا داچې ووایي : « اللهم زوجني فلانة » (ای الله !
ما ته فلانۍ ښځه راپه نکاح کړه) دا ډول دعاګانې ، نه په قرآن کې
شته او نه په احادیثو کې ، نه د هغوی طلب له الله پرته له بل چا څخه
منع دد ، نو د داسې دوعاګانو په وجه لمونځ فاسدیږي ، که دا
شرطونه نه وي په دعاء سره لمونځ نه فاسدیږي . (دا دوعاګانې چې
په لمانځه کې بېځایه وویلې شي مثلاً په رکوع ، سجده او داسې یو بل
ځای کې)

پنځم قسم ، د لمانځه په حال کې بل چاته فتح ورکول : چې څوک په
لمانځه کې قرآن غلط ووایي او یا بله غلطي ورځنې صادره شي ، نو
بل فتح ورکي یعنې په هغه غلطي ئې پوه کړي ، خو دا په دې شرط چې
فتح ورکوونکی مقتدي نه وي او فتح اخیستونکی دده امام نه وي .
(علم الفقه ص۱۰۱ ج۲)

مسئله : څرنګه چې د فتح ورکولو مسئله د فقهاؤو ترمنځ اختلافي
دد ، ډیرو علماؤ خو په دې اړه مستقلې رسالې لیکلې ، نو موږ هم
دلته څو جزئي تکې ذکر کوو ، صحیح خبره داده چې که مقتدي خپل
امام ته فتح ورکړي ، لمونځ ئې نه فاسدیږي ، که امام د ضرورت سره
سم قرائت کړی وی کنه ، (یعنې هغه مسنون قرائت ئې پوره کړی وی ،
کنه ؟) (نهر الفائق ، شامي وغیره)

مسئله : که امام مسنون قرائت پوره کړی وي ، نو پکار ده چې رکوع
ته ولاړ شي ، او مقتدیان دې ته اړ نه باسي چې فتح ورکړي ،
او مقتدیان هم باید تر هغه پورې چې اشد ضرورت نه وي ، فتح
ورنکړي ، مطلب دا چې که امام په لمانځه کې غلط شي نو سکوت

وکړي، رکوع ته ولاړنشي، نو که دلته مقتدي فتح ورکړي څه باک 13
نلري، که چېرې يو سړی بل ته فتح ورکړي، دوی سره مقتدي او امام نه وي، نو د دغه فتح اخيستونکي لمونځ فاسد يږي که د هغه په فتح عمل وکړي، او که چيرې ده ته پخپله يادشي، که څه هم د فتح سره يو ځای اويا لږشاته ورروسته او د فتح ورکوونکي څه دخل پکښی نه وی، بيانه فاسد يږی. (شامی، علم الفقه ص۱۰۲ج۲)

او د دغه سړي چې فتح ئي علی غيرالامام ورکړي وي، يعنی هغه چاته ئي فتح ورکړي وی چې هغه ئي امام نه دی په هرصورت د ده لمونځ فاسد دی، (بحرالرائق وغيره)

که چيری يو سړی د بل چاڅخه واوري اويا په قرآن مجيد کې وګوري د هغه لمخي خپل امام فتح ته ورکړي، نو د ده خپله لمونځ هم فاسد دی او امام که د هغه فتح واخلی نو د هغه هم لمونځ فاسد دی.

(علم الفقه ص۱۰۲ج۲، هدايه ص۸۷ج۱، کبيری ص۳۲۰، شرح نقايه ص۹۱ج۱)

همداراز که څوک په قرآنکريم کې ګوری اوقرائت وايی، لمونځ ئی فاسد دی. (درمختار)

مقتدی ته پکارده چې دفتح په وخت کې د قرائت قرآن نيت ونکړی، صرف فتح ورکړی، ځکه چې د احنافو په نزد مقتدی ته قرائت کول نشته، (فتح القديروغيره)

په لمانځه کې غاړی تازه کول پرته له څه عذراو ياصحيح غرض، مثلاڅوک د توخی مرض لري. ياغيراختياری توخی ورشي او يائې غرض صحيح پکښی وی، نو بيالمونځ نه فاسديږی د صحيح غرض مثال:

۱-د آواز د تصفیې لپاره توخی کول، ۲-د مقتدی توخی غاړی تازه کول په دی خاطر چې امام پر خپله غلطی پوه کړی، ۳-یو سړی چې په دې خاطر غاړی تازه کوی چې نور پوه کړی چې ګویا هغه پرلمانځه ولاړ دی. (علم الفقه ص۲۰۲ ج، فتاوی رحیمیه ص۲۲۱ ج۱)

مسئله: ژړا یا آه یا اُف کول، په دې شرط چې د څه مصیبت او یا درد په وجه وی، که چیری غیر اختیاري له چا څخه دا خبرې صادري شی، او یا د خداي تعالی څخه د ویري او خوف په وجه د جنت او دوزخ په یادونه سره وژاړی نو بیا لمونځ نه فاسدوي، که د غم او درد په وجه وی، نو بیا فاسد یږی. (درمختاروغیره)

مسئله: خوراک او څښاک کول، که څه هم ډیر لږ وی، مګر که چیری د غاښونو په منځ کې کوم شی د نخود د دانی څخه کم وی او هغه دسړي تیرشي نو لمونځ نه فاسدوي، مطلب دا چې په کوم اندازه خوراک چې روژه فاسد وی، همدارنګه لمونځ هم فاسدوی. (درمختاروغیره)

مسئله: عمل کثیر لمونځ فاسدوي، په دې شرط چې د لمانځه د افعالو د جنس څخه نه وي او یا هم د لمانځه د اصلاح په غرض نه وي، که چیري دا عمل کثیر د لمانځه د افعالو له جنس څخه وي مثلا یو سړی په یوه رکعت کې دوې رکوع وکړي، یا دري سجدي وکړي، نو په دې سره لمونځ نه فاسدیږی. ځکه چې دا عمل د لمانځه له جنس څخه دی، دا راز که د لمانځه دا راز که د لمانځه د اصلاح په غرض وي، بیا هم لمونځ نه فاسدوی، مثلاد یو سړی اودس مات شی د لمانځه په حال کې، نو دی د اودا سه لپاره ولاړ شی اودس تازه کړي راشي پرلمانځه ودریږي. د دې سړی لمونځ فاسد نشو، که څه هم

ګرځیدل، راګرځیدل، اودس کول عمل کثیر دی، مګر چونکه د لمانځه د اصلاح لپاره ترسره کیږي نو په همدی وجه دامفسد نه بلکې معاف دی.

مسئله: په لمانځه کې که د کومې ښځي تی ورودل شی او له هغه نه شیدې راووزی نو د دی ښځي لمونځ فاسد دی ځکه چې شیدې ورکول عمل کثیر دی.(درمختار وغیره)

مسئله: په لمانځه کې که کوم څوک یوضرری حیوان (ژوی) د لمانځه ورلو په غرض د بره وغورځوی، نو لمونځ نه فاسدیږی او که پرکوم انسان وروغورځوله شی نو عمل کثیر ګڼل کیږی، او لمونځ فاسدوی.(علم الفقه ص۱۰۲ ج۲)

مسئله: امام که داسي یو سړی د جماعت لپاره خلیفه کړي چې صلاحیت او وړتیا ونلری. مثلا مجنون یانابالغ هلک یاکومه ښځه مخته کړی، داهم لمونځ فاسدوی. (درمختار)

مسئله: د قرآنکریم په قرائت کې غلطي کول، داغلطي که په اعراب کې وی یامشدد صرف، مخفف وویل شی، یابالعکس، او یاکوم حرف یاکلمه بدله کړلی شی یاکم آوزیات کړلی شی، لنډه داچې په قرآن کریم کې غلطی کول په دې لاندی صورتونو کې مفسد صلوة ګرځي:

۱- په دې غلطی سره معنی بدله شی، داسی چې دچا اعتقاد د کفر دی، په قرآن مجید کې که وی که نه وی.

۲- معنی ئې بدله شوه، که څه هم اعتقاد ئې د کفر نه وی مګر د قرآن په عبارت کې نه وی.

۳– په معنی کې تغیر راشي او هغه معنی ذالته مناسب نه وي که څه هم په قرآن مجید کې وي.
۴– په معنی کې ئې تغیر راغلی وي د لفظ په اوښتلو سره ، مثلاً د دسرائرو پر ځای سرائل ولوستل شي ، او که داسې غلطي وي چې لامله ئې په معنی کې ډېر تغیر نه وي راغلی او مثل ئې په قرآن مجید کې موجود وي ، نو لمونځ نه فاسدیږي.

که چیرې پر کوم لیکل شوي کاغذ باندې د چا نظر ولګیږي او د هغه معنی ئې هم په ذهن کې راشي ، نو لمونځ نه فاسدیږي ، او که د چاسترګې د چاپر عورت(فرضو) ولګیدې بیاهم لمونځ نه فاسدوي. (بحرالرائق)

که چیرې یو څوک دلمانځه په مخکې تیرشي ، لمونځ یې نه فاسدیږي ، که څه هم د لمانځه په مخکې تیریدل ستره ګناه ده. که څوک دلمانځه په حالت کې وغواړي د لمونځ کوونکی ترمخ تیر شي او هغه ئې مزاحمت وکړي ، دا عمل جائز دی ، څه باک نلري. (درمختار)

دلته چې مونږ کوم صورتونه بیان کړل ، دا د متقدمینو د قواعدو سره سم دي ، او د هغوی په مذهب کې احتیاط زیات وي. مثلاً متأخرین د اعراب په غلطي سره لمونځ فاسد نه ګڼي ، نو همدا وجه ده چې مونږ د متقدمینو مذهب غوره کړی دی. (قاضی خان، شامی وغیره....)

د لمانځه د ټولو مفسدات چې لږ مخکې بیان شول ، که چیرې تراخیره ناسته مخکې وي یا په اخیره ناسته کې تر تشهد ورانډې رامنځ ته شي ؛ نو لمونځ فاسدوي ، کنه نو مفسد نه دی. بلکې متمم

دی ، یعنی د دې مفسداتو په راپیدا کیدلو سره لمونځ متمم کیدای شی ، مګر په دې څولاندې صورتونو کې :

١- هغه څوک تیمم وهونکی چې په اخیره ناسته کې د التحیات ترلوستلو وروسته پراودس کولو قدرت پیدا کړی.

٢- هغه څوک چې پرموزوني مسح کړې وی ؛ مده ئې پوره شی او یا چې پرپټی یې مسح کړې وی او هغه زخم په دغه وخت کې جوړ سي.

٣- یا د یوه چا موزه له پښې وخیژي.

۴- یا ئې خپله وکاږی ، خو چې په عمل کثیر سره نه وی.

۵- یا کوم امی (نالوستی سړی) ته په دغه وخت کې یو سورة یادشی.

٦- یا هغه څوک چې لوڅ بدن لمونځ اداء کوی ، دغه مهال جامه پیدا کړی.

٧- یا هغه څوک چې په اشاره لمونځ کوی ، خو اوس دومره جوړ سی چې رکوع او سجده کولای شی.

٨- یا امام د بې اودسی په وجه بل څوک د جماعة لپاره خلیفه کړی ، خو په هغه کې د دې صلاحیت نه وی.

٩- یا د سهار په لمانځه کې لمر وربا ندی راوخیژي.

١٠- یا د جمعې په لمانځه کې د مازیګر وخت داخل شی.

١١- یا یو سړی داسې معذور دی چې اودس نشی کولای ، خو په دغه وخت کې ئې عذر له مینځه ولاړ شی.

١٢- یا کوم د ترتیب خاوند ته قضائي لمونځ وریاد شی ، خو وخت دومره هم وی چې هغه قضائی اداء کړای شی. نو په دې ټولو

صورتونو کې لمونځ فاسدیږي، که څه هم دغه امور هغه وخت رامنځ ته شوي وي چې د لمانځه ټول ارکان پوره شوي وي. (علم الفقه ص۱۰۶ ج۲)

دا (۱۲) صورتونه دي چې په دې ټولو کې د امام صاحب په نزد لمونځ فاسدیږي، او د صاحبینو په نزد نه فاسدیږي. بلکې پوره کیږي ځکه چې په دې صورتونو کې مفسد صلوٰة د التحیات تر ویلو وروسته په اخیره ناسته کې راپیدا شوي دي. په داسې حال کې چې د لمانځه هیڅ، رکن پاتې نه دي، نو په همدې وجه لمونځ فاسد نه بلکې پوره شو. مګر دا چې د امام صاحب په مذهب کې احتیاط ډېر زیات دي، له همدې امله هغه وایي چې څومره ممکن وي په عباراتو کې باید هغومره احتیاط وشي. دا ښه او افضل کار دي، همدا وجه ده چې د فقهي په ټولو متونو کې همدا مذهب غوره کړل شوي دي چې موږ هم همدا اختیار کړ. (والله اعلم، شامي)

د لمانځه د فساد په اړه مسائل

هغه امور چې د لمانځه په جریان کې د راپیدا کیدلو له امله لمونځ فاسدوي؛ هغه په لاندې توګه دي:

مسئله: پرچ کوونکې ته په ځواب کې «یرحمک الله» ویل لمونځ فاسدوي، دا راز که څوک د غم خبر واوري، او «اناالله و انا الیه راجعون» الفاظ ووایي، یا څوک ښه خبر واوري او «الحمدلله» ووایي یا د ډېره دلچسپه او عجیبه خبره واوري، نو «سبحان الله» یا «لااله الاالله» ووایي. یا د چا د پوښتنې په ځواب کې د قرآنکریم یو آیة ووایي. او د هغه لپاره جواب شي. دا ټول شیان لمونځ فاسدوي.

او صاحب ترتيب سړي ته د لمانځه په جريان کې قضائي لمونځ وريادشي، په داسې حال کې چې وخت هم وي. (تفصيل د قضاء په بيان کې دی)

په لمانځه کې مخکې تردې چې د تشهد په اندازه کښيني؛ تيمم وهونکي ته اوبه پيداشي او د استعمال وس ئې هم ولري، نو لمونځ ئې باطل شو. داراز که مقتدي اودس کړی وي او امام متيمم وي؛ امام ته اوبه پيداشي، نو د مقتدي لمونځ باطليږي، فرض لمونځ، او هغه لمونځ نفل ګرځي.

او مخکې له دينه چې د تشهد د لوستلو په اندازه کښيني ؛پرموزو ياپټې د مسح موده پوره شي ،داراز د موزو ختل، که څه هم په ډير معمولي حرکت سره وخيژي. (د تفصيل لپاره، مسائل خفين وګورئ) هغه څوک چې بالکل امي، نالوستی وي، دلمانځه په وخت کې ئې يوآيه نالوستی وي، دلمانځه په وخت کې ئې يوآيه ناڅاپي زده کړ لمونځ ئې باطليږي. په دې شرط چې د داسې سړي مقتدي نه وي، چې دهغه قرآن زده وي.

نو دغه سړي يا له چاڅخه په اوريدلو د قرآن آيه زده کړي، يائې هيرشوي وي، خواوس ورته ياد شي، نو لمونځ ئې باطل دی، په دې شرط چې د تشهد په مقدار ترکښيناستلو وړاندې داسې وشي چې هغه ئې چاڅخه په اوريدلو سره زده کړي.

کوم سړی چې په اشاره لمونځ کوي؛ د لمانځه په دوران کې په دې وتوانيږي چې رکوع او سجده وکړي، نو لمونځ ئې باطليږي، کوم سړی چې د لمانځه د رکولو صلاحيت نلري، [illegible] لوستی معذور.

، هغه امام خليفه وګرځوي ، نولمونځ باطليږي.د سهارلمونځ کوي لمر راوخيژي يا داخترانو په لمونځوکي لمرترسرواوړي

څوک دجمعې لمونځ اداءکوي چې د ماز يګروخت ورباندې داخل سي . نولمونځ باطل شو .که يوچاپرزخم باندې پټۍ لګولې وي او د لمانځه په دوران کې ئې زخم جوړشي ، پټۍ ځيني جداشي ،نولمونځ باطل شو . اوداراز د يو معذورعذرچې د لمانځه په حالت کې رفع شي ،لمونځ ئې باطليږي ، همدارنګه د اودس د ماتيدلو په صورت کې بې له څه عذره د يوه رکعت د آداء کولو په انداز ه انتظار وکړي ،لمونځ فاسديږي.

يعني دوهم ځل به ئې آداء کوي ، لمونځ کوونکې که له خپل ځاى نه ليرې شي بل ځاى ته لمونځ ئې باطليږي ، که څه هم له مسجد څخه دباندې ونه وزي ، مقتدي که له خپل امام نه پرته بل چاته فتح ورکړي . لمونځ يې فاسديږي يوازې خپل امام ته فتح ورکولاى شي ،لمونځ کوونکې که د بل سړي ورکړې فتح باندې عمل وکړي ،لمونځ يې باطل شو. څوک چې يولمونځ يې شروع کړي وي ، د هغه لمانځه په جريان کې بل لمانځه ته انتقال شي ، يعني د بل لمانځه لپاره تکبير ووايي نولمونځ ئې فاسد شو ،همداراز په تکبير(الله اکبر) کې لومړۍ الف کشول لکه (آلله اکبر) او همدارنګه د (اکبر)«باء کشول لکه: (اکبار) دارنګه ويل دواړه لمونځ فاسدوي ، که په لمانځه کې د بدن هغه برخه چې پټول ئې فرض دي ، که يوه حصه ئې لڅه شي ،لمونځ باطل شو .يائې پربدن ناپاکي ولګيږي ترد ومره وخته پورې پاتې شي چې په دغومره وخت کې يو رکن اداء کيداى شي .لمونځ فاسد دي.

که یو مقتدی ترخپل امام وړاندی رکن اداء کړی، په دې صورت کې هم لمونځ باطل ، دارنګه که مقتدی په جماعة کې ترخپل امام وړاندی ودریږی ، لمونځ یې باطل دی. په څلور رکعتي لمانځه کې په دې ګمان چې دوه رکعتیز دی ؛ سلام ګرځول ، لمونځ باطلوی ، مثلا د ماپښین لمونځ دی څلور رکعته د ده ګمان شی چې دجمعې لمونځ دی پردوه رکعته سلام وګرځوي. (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ص۲۹۸ ج۱، ص۲۷۲ ج۱)

خو که چې پرلمانځه ولاړ وی او یو بل ړوند سړی د هلاکت په ځای کې لویږی نو د ی په لمانځه کې ږغ ورباندی وکړی ترڅو هغه له هلاکته وژغوری ، نود ده لمونځ فاسد شو. (کتاب الفقه ص۲۷۷ ج۱)

مسئله : که ماشوم راشی د لمانځه په حالت ګې د مورتی ورو ی او شیدی ورخیښی راووزی د دی لمونځ باطل شو . البته که شیدې راونه وزی نیا لمونځ نه فاسد یږی. (بحرالرائق ص۱۲ ج۱، بهشتی زیور ص۲۲ ج۲)

مسئله : په لمانځه کې که د چاپه ستوني کې کوم خوړ شی وی ، یعنی صرف ذائقه ئي وی نو لمونځ ورسره صحت لری ، خو که دغه شی په خوله کې وزبیښل شی او ترستونی تیر شی نو لمونځ فاسد یږی.

مسئله : په لمانځه کې د نخود دانې په اندازه زیات وکم د خوراک شی په خوله کې راشی نو په لاس او یا بله جامه دی هغه له خولې نه وغورځوی ، له دی امله په لمانځه کې هیڅ ډول نقصان نه راځی.
(فتاوی دارالعلوم ص۱۲۱ ج۲، درالمختار ص۵۸۸ ج۱)

مسئله : په لمانځه کې که چاته په خوله کې نارې یا بل داسی شئ د توکلو ړرشی او تیرولای یې نشی نو په یوه کالي یاد ستمال کې دی راجوی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۱۲ ج۴، مشکوة ص۷۱ ج۱ باب المساجد)

مسئله : په لمانځه کې چې د پرچی او تیغ کوم آواز جوړیږی په هغه سره لمونځ نه خرابیږی ځکه چې له هغه نه ځان ساتل ګران کار دی.
(کتاب الفقه ص ۲۸۶ ج ۱، شرح نقایه ص ۹۲ ج ۱)

مسئله : خو که په پرچی او تیغ کې داسی کوم الفاظ ور زیات کړل شی چې قدرتي نه وي، نو په هغه صورت کې لمونځ فاسدیږی.
(کتاب الفقه ص ۲۸۶ ج ۱)

مسئله : که بل څوک دعاء کوی او دی د لمانځه په حالت کې پر هغه باندی آمین ووایی، لمونځ ئي باطل دی. (کبیری ص ۲۳۹)

مسئله : په لمانځه کې آذان ته ځواب ویل هم لمونځ فاسدوی.
(کبیری ص ۴۴۲، نماز مسنون ص ۴۸۲)

مسئله : د کوم شی په لاندی غورځیدلو سره «بسم الله» ویل هم لمونځ فاسدوی داراز که کومه ناخوښه خبر واوری او «لاحول لاقوة الابالله» ووایی هم بی لمونځ باطل وی.

مسئله : د درد او غم په وجه «آه» او «أف» ویل هم مفسد دی. مګر که د څه مرض په وجه ئي څوقابو کولای نشی، نو لمونځ نه باطلیږی.
(هدایه ص ۸۶ ج ۱، شرح نقایه ص ۹۲ ج ۱ کبیری ص ۴۳۷)

مسئله : د کوم دنیوی مصیبت یا بدنی تکلیف لامله په لوړ آواز سره ژړل هم مفسد صلوة دی. (کتاب الفقه ص ۲۷۸ ج ۱)

مسئله : که په لمانځه کې د الله تعالی له ویری د آخرت او دوزخ د یادولو په سبب سړي ته ژړا ور-شی نو دا غیراختیاري ژړا ده، لمونځ نه فاسدیږی. (هدایه ص ۸۶ ج ۱، شرح)

مسئله : په لمانځه کې که چاته پرچې ورشي نو پکار نه ده چې «الحمدلله» ووايي ، خوکه وويل شي لمونځ نه فاسديږي. (آپ کی مسائل ص۳۲ ج۲)

مسئله : که د مجبورۍ په وجه چاته ارميږه راشي ، نو کوشش دې وکړي او له خولې نه آواز پورته نکړي ، په دې صورت کې بيا ارميږه کولی لمونځ نه فاسديږي. خوکه احتياط ونشي اوورسره آواز هم جوړشي او حروف پکې پيدا کړي نو بيا لمونځ فاسديږي. (مسئة حنة ص۲۵۲)

مسئله : په لمانځه کې مصافحه کول ، سلام اچول يا د سلام ځواب ورکول لمونځ فاسدوي. (کبيری ص۴۴۱ شرح نقايه ص۹۲ ج۱، نماز مسنون ص۲۸۱)

مسئله : په لمانځه کې صرف غاړه کږول مکروه دی ، البته د سترګو ترڅنګونو يوه وبل اړخ ته کتلای شي. ليکن دا هم مناسب نه دی ، اوکه له قبلې څخه سينه يوه اړخ ته وګرځوي تردومره پورې چې يو رکن اداء کيدای شي نو په دې صورت کې لمونځ فاسديږي.

(کتاب الفقه ص۲۴۳ ج۱، هدايه ص۹۰ ج۱ کبيری ص۳۵۱، شرح نقايه ص۹۲ ج۱)

مسئله : پرناپاک ځای سجده لګول لمونځ فاسدوي.

(درمختار ص۹۰ ج۱، شرح نقايه ص۹۲ ج۱)

مسئله : په قرائت کې که فاش غلطي وشي چې له امله ئې معنی رد و بدل شي ، نو لمونځ فاسديږي ، همدا راز قرآنکريم که د موسيقی په طرز لوستل کيږي نو په دې سره هم لمونځ فاسديږي. (درمختار ص۹۰ ج اول)

مسئله : د لمانځه په دوران کې له دباندې نه د يوشي خوړل يا څښل چې تر غه ترستونی تيرشي ، که څه هم ډير وړوکی او لږ شي وي ، لمونځ فاسدوي. (نماز مسنون ص۲۸۹ شرح نقايه ص۹۲ ج۱)

په کومو شیانو لمونځ مکروه کیږي ؟

مسئله : د لمانځه په حالت کې جامه داسې اغوستل چې د دستور او عادت خلاف وي ، نو دا مکروه تحریمي دي ، مثلاً یو سړی کمیس وا غوندي خولې په لستوني کې وانه چوي یا څادر پراوږه وانه ړوي.

مسئله : رکوع او سجدې ته د تلو پرمهال خپلې جامې له خاورو څخه د ژغورلو او یا بل غرض په وجه پورته کول مکروه تحریمي دي. (ردالمختار وغیره ...)

مسئله : په لمانځه کې داسې یو عبث فعل کول چې د عمل کثیر حد ته و نه رسیږي ، مکروه تحریمي دي. مثلاً: کوم سړی د خپلې ږیرې ویښتان په لاس کې نیسي. (۲) بې ضرورته خپلې جامې پیچي او یا په بدن لوبې کوي.

مسئله : په لمانځه کې هغه جامې اغوستل مکروه دي ، چې څوک په عامو مجالسو کې وریاندې شرمیږي مګر که بله جامه ئې نه وه بیا څه باک نلري.

مسئله : که څوک د لمانځه پرمهال د سرو یا سپینو ، د بري یا بل کوم شي تو ته په خوله کې و نیسي نو دا مکروه تنزیهي ده ، په دې شرط که قرائت ته مخل نه و. که چیرې قرائت ته مخل وي ، نو بیا لمونځ فاسد وي. (درمختار ، شامي)

مسئله : په لغ سر لمونځ کول مکروه دي. مګر که د عاجزئ ، خشوع او خضوع د څرګندولو په وجه وي بیا څه حرج نشته. که په لمانځه کې د چا له سره خولۍ یا لنګوټه وغورځي ، نو بهتره دا ده چې په همدغه

حالت کې یې پر سر کړی خو که په آسانۍ سره نه بلکې عمل کثیر ته اړتیا وه، نو بیا دی نه پرسر کوی. (ردالمحتار، علم الفقه ص۱۰۶ج۲)

مسئله : په داسی حال کې چې سړي ته د پیشاب او یا هوا وتلو ضرورت وی، په دغه حالت کې لمونځ مکروه تحریمي دی. مخکې له لمانځه به ضرورت رفع کوی او بیا به لمونځ کوی. — (درمختار وغیره)

خو که چا لمونځ شروع کړ او وروسته له شروع د لمانځه په جریان کې دغه ډول ضرورت ورته پیدا شو نو پکار ده چې هغه لمونځ پرېږدی، له ضرورت نه تر فارغ کیدلو وروسته او دس تازه کړی او بیا خپل لمونځ په اطمنان سره ادا کړی، که فرض لمونځ وی، که نفل، که منفرد لمونځ کوی او که په جماعة سره. او دا ویره هم وی چې د جماعة دویم رکعت نشی موندلای. نو همدا پورتنی حکم دی. خو که چیری دا ویره وه چې د لمانځه وخت تیرېږی او یا هم د جنازې لمونځ وی چې هغه تیرېږی. نو بیا پروا نلری، په همدې حالت کې دې خپل لمونځ پوره کړی. — (شامی)

مسئله : د نارینه وو لپاره دا مکروه تنزیهي ده چې د خپلو ویښتانو څڅه کوڅۍ جوړې کړی او بیا لمونځ ورسره کوی او که عیناً د لمانځه په حالت کې دا کوڅۍ وتړی، نو لمونځ یې فاسد شو. ځکه چې دا عمل کثیر دی. (درمختار، شامی)

مسئله :د سجدې له ځایه څڅه د خس وخاشاک او یا بل داسی مضر شی لیری کول مکروه تحریمي دی. خو که بالکل سجده نه ورسره کیږی نو بیا دی لیری کړې څه باک نلری. د امکان په صورت کې یې نه لیری کول بهتر دی.

مسئله : د لمانځه په حال کې په ګوتو ټکان کول او یا یو په بل کې کښې ایستل مکروه تحریمي دي. — (بحر، شامي...)

مسئله : په لمانځه کې له [illegible] ښځه مخ ګرځول مکروه تحریمي دي. که پوره مخ واړول شي، [illegible] نیم مخ. (شامي)

مسئله : د سترګو ترکونجانو اخوا دیخوا کتل مکروه تنزیهي دي. (درمختار وغیره)

مسئله : مخامخ بل سړي ته لمونځ کول مکروه تحریمي دي. (شامي وغیره)

مسئله : د سر او یا لاس په اشاره د سلام ځواب ورکول مکروه تحریمي دي.

مسئله : سجده یوازې پر پوزه او یا پر تندي لګول مکروه تحریمي دي. (درمختار، علم الفقه ص ۱۰۷ ج ۲)

مسئله : د لنګوټې پر ولونو باندې سجده کول مکروه تحریمي دي. (درمختار وغیره)

مسئله : په لمانځه کې بې له عذره چارزانو کښیناستل مکروه تحریمي دي (درمختار وغیره)

مسئله : په لمانځه کې ارمیږې ایستل مکروه تنزیهي دي. (شامي)

مسئله : په لمانځه کې سترګې پټول مکروه تنزیهي دي، مګر که د سترګو په بندولو کې خشوع غرض وي، او په دې سره زیاتیږي نو بیا مکروه نه بلکې افضل کار دی. (درمختار)

مسئله : امام ته مکروه دي چې په محراب کې په پوره ډول دننه ودریږي، لیکن که سجده په محراب کې لګوي او پښې له دباندې ودریږي نو مکروه نه دي. (درمختار وغیره)

مسئله : يوازې چې امام پر دومره لوړ ځاى ودريږي چې لوړوالى ئې د يوه ګز يا زياته اندازه وي ، او مقتدي لاندې وي ، نو مکروه تنزيهي دي ، خو که مقتدي هم ورسره پورته ودريږي ، بيا څه باک نلري.
(درمختار وغيره)

مسئله : مقتديانو ته دا مکروه تنزيهي ده چې پر لوړ ځاى ودريږي ، مګر که ضرورت وي ، مثلا جماعة کې خلک زيات شي ، ځاى نه وي ، نو څوک لوړ پر بامونو او يا يوبل لوړ ځاى ودريږي نو څه خبره نه ده.
(درمختار وغيره ...)

مسئله : په داسې ځاى يا داسې جامه کې لمونځ کول چې د ژويو تصوير وي پکښې؛ نو لمونځ پکې مکروه ده ، د ذيروح تصوير که په خونه کې وي مخ ته ، يو يا بل څنګ ته ، نو لمونځ نه ده صحيح ، او که لاندې يا شاته وي؛ پروا نلري. (درمختار وغيره ...)

مسئله : په لمانځه کې سورتونه ، آياتونه او يا تسبيح پر ګوتو شميرل مکروه تنزيهي دي ، مګر که پر ګوتو حساب نه ، بلکې د ګوتو په تينګولو سره حساب کړل شي ، مکروه نه دي. لکه صلوة التسبيح په بيان کې چې راغلي. (شامى ، علم الفقه ص۱۰۸ ج۲)

مسئله : په لمانځه کې پوزه پاکول يا داډول بل کوم وړوکى عمل بې ضرورته مکروه تحريمي دي.

مسئله : خوله يا پوزه چې په کوم کالي وتړله شي ، د لمانځه په حالت کې ، دا عمل مکروه تحريمى دي.

مسئله : د قرائت تر ختميدلو وړاندې رکوع ته تلل او بيا په رکوع کې قرائت پوره کول مکروه تحريمى دي. (شامى)

مسئله : مخکې له دې چې په رکوع او سجده کې ۳ ځله تسبيح وويل شي ، سر راپورته کول مکروه تنزيهي دی.

مسئله : په داسې يوه جامه کې لمونځ کول مکروه دی چې قابل معافي نجاست پرې لګيدلی وي. (رسائل ارکان)

مسئله : په فرض لمونځونو کې په قصدي توګه د قرآني ترتيب خلاف قرائت کول مکروه تحريمي دی. يعنې کوم سورة چې مخکې وي ، هغه وروسته کول او وروسته چې وي هغه مخته کول ، مثلاً : «قل يأيها الکافرون » په لومړي رکعت کې او «ألم ترکيف» په دويم رکعت کې وويل شي.

که سهواً وي ، بيا مکروه نه دی ، همدارنګه په نوافلو کې که قصداً بې ترتيبه وويل شي هم څه کراهت نلري . (شامي) علم الفقه ص۱۰۹ ج۲)

مسئله : له يوه سورة نه څو آيتونه په يوه رکعت کې او د همدې سورة له بل ځای نه څو آيتونه په بل رکعت کې ويل مکروه تنزيهي دی. په دې شرط چې ترمنځ ئې له دوو آيتونو څخه کم پريښودل شي. که مسلسل وويل شي ، په منځ کې ئې څو آيتونه پريښودل شي ، نو بيا کراهت نلري. داراز که دوه سورتونه په دوو رکعتونو کې وويل شي او د دې دواړو سورتونو ترمنځ يو وړوکی سورة چې نږدې درې آيتونه ولري ؛ پريښودل شي. دا کراهت هم تر فرائضو پورې تخصيص لري ، په نفلو کې که د دې رعايت ونشي ؛ څه حرج نشته. (شامي)

مسئله : په يو د رکعت کې دوه سورتونه داسې لوستل چې ترمنځ ئې بل سورة پرېښودل شي. که غټ سورة وي ، که وړوکی ؛ يو وي که

14 تریوه زیات، دا مکروه تنزیهی ده، چې کراهت د دې هم ترفرضو پورې خاص دی. (شامی)

مسئله : کله چې امام قرائت وایی، نو مقتدی ته قرائت ویل، دعاکول، او یا داسې بل ذکر کول که څه هم د قرآن سورة فاتحه وی، مکروه تحریمی دی. (علم الفقه ص۱۱۰ ج۲)

مسئله : پرسر باندی د ستمال داسی تړل چې ککری تري لڅه وی؛ مکروه دی.

مسئله : سجدې ته د تللو په وخت کې د شا او مخ جامې سره راټولول مکروه دی.

مسئله : څادر او یا جامې داسی پرځان اچول چې لاسونه پکښې بند یږی، مکروه دی.

مسئله : په لمانځه کې بالاراده خوشبوئي لګول مکروه دی.

مسئله : سترګی د آسمان په لوری په قصدی توګه مکروه دی.

مسئله : بی ضرورة ځینی ورې خزندی د لمانځه په حال کې وژل مکروه دی، مګر که ئي له چیچلو او یا خوړلو څخه ویره وه بیا څه باک نلری. لکن له وینی څخه ئي ځان ساتل پکاردی.

مسئله : یو چاکه په مسجد کې بی له عذره یو ځای ځان ته مخصوص کړی وی او یائي د لمانځه لپاره یو سورة ځانګړی کړی وی، په داسی حال کې چې بل سورة هم ورته یاد وی؛ دا مکروه دی.

د قضائي لمونځونو بيان

بې له څه عذره لمونځ قضاء کول ګناه کبيره ده، چې له رښتينې توبې پرته معاف کيدلای نشي، د حج کولو په وسيله هم کبيره ګناه بخښل کيدای شي

همدارنګه أرحم الراحمين ذات چې کله پربنده مهربان شي نو پرته له کومې وسيلې څخه معاف کولای شي.

مسئله : که پر يو ځای له څوتنو نه د کوم وخت لمونځ قضاء شي. نو هغوی ته پکار ده چې همغه لمونځ په جماعة سره بيا را وګرځوی. که جهری لمونځ وی، په جهر سره به ئې وايي که خفيه لمونځ قضاء شوی وی، خفيه به ئې راګرځوی. (علم الفقه ۱۲۰ج، امداد الاحکام ص۶۶۸ج۱)

مسئله : قضاء لمونځ بالاعلان اداء کول ګناه ده، ځکه چې د لمانځه قضاء پټيله ګناه ده، او د ګناه اظهار (څرګندتيا) ګناه ده، د قضائي لمانځه طريقه همغه د آداء د لمانځه د طريقه، په قضائي لمانځه کې به دانيت هم کوی چې زه د فلانی وخت قضائي لمونځ کوم، او که چير ئې نيت ونکړی، بيا هم صحت لري، ځکه چې قضاء په نيت د اداء او اداپه نيت د قضاء صحيح کيدلای شي. (علم الفقه ص۱۲۱ج۲، فتاوی دارالعلوم ص۳۲۹ج۴)

مسئله : د فرض لمانځه قضاء فرض او د واجب لمانځه قضاء واجب ده، د وترو قضاء هم واجب ده، داراز د نذر لمانځه قضاء واجب ده، او هغه نفل چې له شروع وروسته فاسد کړل شي، ځکه چې له شروع وروسته نفل واجب ګرځي، د مؤکد سنتو او يا نورو نوافلو قضاء نشي اداء کيدی، که په دې غرض کوم لمونځ وشي، نو هغه ئې قضاء نه بلکې جدا لمونځ حسابيږی، مګر د سهار د سنتو په اړه حکم دادی:

چې له فرضوسره ئې قضاء وشي اوبیاد دې فرض قضاء ترزوال وړاندې راګرځوله کیږي نو همدا د سهار سنت به هم ورسره راګرځوي ، خو که له زوال وروسته وي ، نو بیا ئې قضا نشته ، او د ماپښین د سنتو په اړه حکم داسې ده چې که مخکښې څلورکعتونه سنت تیر شي ، نو بیا ئې د همدغه ماپښین په وخت کې تر۲ سنتونو وړاندې راګرځول کیدای شي ، که له فرض سره یو ځای تیرشوي وي ، که جدا.

مسئله : د وختي او قضائي لمونځونو او همداراز پخپله د قضائي لمونځونو ترمنځ ترتیب ضروري دی. په دې شرط چې هغه قضاء لمونځ فرض یا وتر واجب وي ، مثلاله چاڅخه د ماپښین لمونځ قضاء شو نو د دغه قضائي او د مازیګر وختي لمانځه د ترتیب خیال به ساتي ،یعنې ترڅه وخته چې دماپښین لمونځ یې نه وي راګرزولی مازیګر نشي کولای ګرځې او که چا د ماخستن وتر نه وي کړي ، د سهار لمونځ نشي کولای ترڅو ئې هغه راګرځولی نه وي ، همداراز د کوم چا پرذمه چې د سهار او ماپښین دواړو قضاء پاتې وي ، نود هغوی ترمنځ هم ترتیب ضروري دی ، یعنې ترڅوئې د سهار قضائي نه وي راګرځولی؛ د ماپښین قضاء نشي راګرځولی ، که ئې راوګرځوي هغه هم نفل ګرځي ، مګر که چیرې پنځه لمونځونه همداسې مسلسل له دې قضائي لمانځه وروسته اداء کړل شي ، هغه ټول صحیح دي ، په دې کې ترتیب ساقطیږي ، چې لږ مخکې به ئې بیان راشي په کومو صورتونو کې چې ترتیب ساقطیږي.

۱-لومړی صورت نسیان: یعنې داچې قضائي لمونځ یې هیر شي ، په یاد ورنشي په دې صورت کې ترتیب ساقط دی ، مطلب داچې د

وقتي لمانځه اداء کیدل ئې درست دي. او بل داچې له یو چانده په مختلفو ورځو کې څه لمونځونه قضاء شوي وي ، مثلا ماپښین د یوې ورځې ، مازیګرد بلې ورځې اوماښام بیاد بلې ورځې، او ده ته دا یاده نه وي چې کوم یو مخ ته دي نه په دې صورت کې د دوی ترمنځ هم ترتیب ساقطیږي ، کوم یو چې ئې خوښ وي ، هغه دې اول اداء کړي. (شامي)

مسئله : که چاته د ترتیب د وجوب علم نه وي یعنی په دې نه پوهیږي چې ترتیب واجب دی. نو په دې صورت کې هم داجهالت یاناخبرتیا د نسیان (هیرې) په حکم کې راځي او ترتیب ورځنی ساقطیږي. (ردالمحتار)

مسئله : که د لمانځه د شروع کیدلو په وخت کې سړي ته قضائي لمونځ یادنه وي خو په وروسته کې ورته یادشي ، یعنې په اخیره ناسته کې له التحیات وروسته یا شاته ، خو ترسلام ګرځولو مخکې وي ، نو دغه لمونځ یې نفل شو ، بیرته به نیت تړي ، قضائي به ئې راوړي او وروسته به خپل فرض لمونځ کوي.

۲ - دویم صورت د وخت لږوالی ، که چیرې د چاپرذمه قضائي لمونځ وي او د وخت لمونځ په داسې تنګ وخت کې اداء کړي چې یوازې همدا لمونځ ځائیدلای شي ،نو دلته هم ترتیب ساقط دی هر یو چې مخ ته اداء کوي ، درست دی د مازیګر په لمانځه کې هغه مستحب وخت د اعتبار وړ دی ، یعنې په مستحب وخت کې که صرف دومره ګنجایش وو چې صرف د مازیګر فرض وکولای شي ، نو ترتیب

ساقط دی ، که څه هم په اصل کې ګنجایش وي ، ځکه چې د لمرتر ژړېدو وروسته لمونځ مکروه دی.

(علم الفقه ص۱۲۳ج۲، فتاوی دارالعلوم ص۲۵۳هدایه ص۱۲۸ج۱)

مسئله : که پرچا باندې د ډېرو لمونځونو قضاء وه ، او په وخت کې دټولو ادا ینه مشکله وه ، نو په دې صورت کې هم صحیح دا ده چې ترتیب ساقط وي.

۳-صورت: د قضائي لمونځونو له پنځو څخه زیاتیدل «وتر» په دې پنځو کې نه شمېرل کیږي که هغه هم حساب کړی شي نو ګویا داسې ده چې ترشپږو زیات شي ، دغه قضائي لمونځونه که حقیقتا قضاء وي ،که حکما ؛ حقیقتا داسې چې لمونځ پر وخت اداء شوی نه وي ، حکما داسې چې قضائي لمونځ ئې پر ذمه پاتې وي، او ترتیب هم ورباندې واجب وي ، خو د ه د دې قضائي د نه راګرځېدلو باوجود د وخت لمونځ کړی وي ، نو دغه د وخت لمونځ ئې نفل وګرځېدی آدا نشو ګویا دغه لمونځ حکما قضاء شو ، نو چې دغه قضائي لمونځونه ترپنځو زیات شي،له ده څخه ترتیب ساقط دی ، د وخت لمونځ صحیح دی ، مثلا له چا څخه د سهار لمونځ قضاء شو ، تربله سهاره پورې ئې را ونه ګرځاوه او دا نور لمونځونه ئې کړل ،نو دی بل سهار لمونځ ئې صحت لري ځکه چې قضائي ترپنځو زیات شو ،خو یو حقیقتا دی او څلور حکما چې د هغوی ادا نه ده صحیح شوي ، د هغه یو د قضائي د نه راګرځېدو لامله.

(علم الفقه ص۱۲۲ج۲، فتاوی دارالعلوم ص۲۵۲ج۲، هدایه ص۱۳۷ج۱، درمختار ص۶۶۶ج۱)

ترتیب ترکومه وخته پوري وي؟

ترپنځو لمونځونو پوري ترتیب باقي وي، که څه هم هغه په بیلابیلو وختوکي قضاء شوي وي، او وخت هم دیر تیرشوي وي، مثلا له چاڅخه یو لمونځ قضاء شو، څو ده هیرشو، څوورځي تیري شوي، بل لمونځ څني قضاء شو، دائي هم هیرشو، بیا څو ورځي تیري شوي، بیا دوه دري ځله داسي نور وشول چي داپنځه لمونځونه شول اوس په دی کي ترتیب واجب دی، یعنی د وریادیدلو په صورت کي که وي ترقضائي لمځه د وخت لمونځ وکړي، هغه صحت نلري، نفل گرځي. (درمختار، ردالمختار)

د ترتیب له ختمیدلو وروسته حکم څه دی؟

د ترتیب له ساقطیدلو وروسته بیا راگرځیدی نشي، مثلاد چا قضائي لمونځونه ترپنځو زیات شول، او ترتیب ورځني ساقط شو، نو دي را ولاړشي، د قضائي لمونځونو په آداینه پیل وکړي ترهغو چي پنځه پاتي شي، نو داسی نه ده چي په دغوپنځو کي ترتیب شته، د دي له اداء کولو پرته هم د وخت لمونځ ني صحت لري. (علم الفقه ص۱۲۳ج۲)

مسئله: که له چاڅخه په سفرکي لمونځ قضاء شوي وي، نو د اقامت په حالت کي به همغه دوه رکعته سفریانه لمونځ راگرځوي، او که د اقامت لمونځ قضاء شوي وي، اوبیا مسافر شي، نو همغه د اقامت څلور رکعته لمونځ به راگرځوي. (درمختار وغیره)

مسئله: نفل لمونځونه له شروع کیدلو نه وروسته واجب گرځي، که څه هم په یو مکروه وخت کي پیل شوي وي، یعنی پوره کول ئي لازمی

دی ،او که کوم فساد یا تحریمي کراهت پکی راشی نو قضاء ئې راوړل لازمی ګرځی ،دا په دې شرط چې په قصدي توګه نفل شروع شوي وی . داسی نه چې په تصادفي توګه سړی فکر کوی چې فرض ئې پاتی دی نو د فرضو په نیت لمونځ پیل کړی او وروسته ورته یاده شی چې فرض لمونځ ئې کړی دی ؛ نو د ده دا لمونځ نفل ګرځي ، پوره کول ئې ورباندی لازمي نه دی ، او که څه فساد یا کراهت پکښی راشی راګرځول ئې هم ضروري نه دی داراز که سړی په اخیره ناسته کې سهوا ولاړ شی او دوه رکعته پسی وکړی نو دا دوه رکعته ئې نفل ګرځی، دا ځکه چې ده دا لمونځ قصدا شروع کړی نه وو. همدارنګه که د لمانځه شروع قصدا وی خو په فاسده طریقه سره، بیا هم په دې پورتنیو صورتونو کې ورباندی قضاء راګرځول نشته. مثلا یو سړی په ښځه پسی د نفل لمانځه اقتداء وکړی ؛ نو دا شروع ئې اصلا صحت نلری ، لهذا پوره کول ئې ورته ضروری نه دی او نه ئې د فساد په صورت کې راګرځیدل شته. (علم الفقه ص۱۲۲ ج۲)

مسئله : که نفل لمونځ له شروع کیدلو وروسته فاسد کړل شی نو صرف د دوو رکعتونو قضاء راوړل ورباندی لازم دی ، که څه هم نیت ئې د څلورو رکعتونو کړی وي ، دا ځکه چې د نفلو هره شفعه یعنی هردوه رکعته د جدا لمانځه حکم لری.

مسئله : که چیری یو څوک د څلور رکعتونو نفلو نیت وکړي او په دواړو شفعو کې قرائت ونکړي ، یا په اوله شفع کې قرائت ونه وایې ، یا یې په دوهمه کې ونکړی ، یایي په اوله کې صرف په یوه رکعت کې ونه وایی ، یا صرف د دوهمی شفع په یوه رکعت کې ئې ونکړی او

د اولې په دواړو رکعتونو او د دوهمې شفع صرف په یوه رکعت کې ئې ونکړی ، نو په دې ټولو شپږو صورتونو کې پرده باندې صرف د دوو رکعتونو قضاء لازمه ده ، په لومړي دویم صورت کې صرف د لمړۍ شفع ، ځکه چې د لومړۍ شفع په دواړو رکعتونو کې د قرائت نه کولو په سبب د دغه تحریمه فاسده شوه چې د دویمې شفع بناء بیا ورباندې صحت نلرې ، ګویا دویمه شفع شروع شوې نه ده ، پس نو قضائي هم نشته ، په دریم صورت کې صرف د دویمې شفع ، له دې سببه چې په اوله شفع کې څه فساد نه دی راغلی ، فساد صرف په دویمه شفع کې راغلی دی ، په څلورم صورت کې صرف په اوله شفع کې ، ځکه چې فساد یوازې په همدې کې راغلی دویمه شفع بلکل صحیح ده ، په پنځم صورت کې صرف په دویمه شفع کې ځکه چې فساد صرف په همدې کې راغلی دی ، لومړۍ شفع بالکل صحیح ده په شپږم صورت کې صرف لومړي دوه رکعتونه ځکه چې په اولو دواړو رکعتونو کې د قرائت نه کولو په سبب د دغه تحریمه فاسده شوی او د دویمې بناء ورباندې صحیح نه ده. نو له همدې امله ئې قضاء هم ورباندې لازمه نه ګرځی.

مسئله : که چیري یو سړی څلور رکعته نفل نیت وکړی او د هرې شفع په یو یو رکعت کې قرائت وکړی او په یوه یوه رکعت کې ئې پریږدی ، او یا د لمړۍ شفع په یوه او د دویمې په دواړو رکعتونو کې ئې ونکړی نو په دې دواړو صورتونو کې د څلورو رکعتونو قضاء لازمه ګرځی ځکه چې په دې دواړو صورتونو کې په لمړۍ شفع کې تحریمه فاسده شوی نه ده ، له همدې امله د دویمې شفع بناء پرهمغه باندې

صحیح ده ، او فساد په دوارو شفعو کې راغلی دی. (علم الفقه ص۱۲۵ج۲، کتاب الفقه ص۴۹۲ج۱)

مسئله : د حیض او نفاس په حالت کې چې کوم لمونځونه اداء شوی نه وی ، هغوی معاف دی قضاء یې نشته وربانندی مګرکه حیض اونفاس په داسې وخت کې ختم شی چې په هغه کې یوازې تکبیرتحریمه ځائیدلای شی نو د دغه وخت لمونځ اداء کول ضروری دی ، که څه هم لږمخکې ئې اداء کړی وی ، ځکه چې تردی د مخه وربانندی فرض نه وو ، لسونځ اوس فرض شوی د مخکنی اعتبارنشته ، همداراز که کوم نابالغ په داسې وخت کې بالغ شي نو پرده هم د همدې وخت د لمانځه قضاء شته. د دی مسئلې تفصیل د حیض په بیان کې دی.

همداراز که چیری یو هلک د ماخستن لمونځ وکړی ،بیا ویده شی ، سهارچې راپاڅیږی نو پرخپله جامه د منی آثر ووینی چې د احتلام نښه وی ، نو هغه ته پکار ده چې د ماخستن لمونځ راوګرځوی. (فتاوی قاضی خان)

مسئله : که چیری یوې ښځې لمونځ کړی نه وی او په اخیر وخت کې حیض ورپیښ شی ، نو د دغه وخت لمونځ ورڅخه معاف دی ، قضاء یې وربانندی نشته (شرح وقایه وغیره ، علم الفقه ص۱۲۵ج۲، کتاب الفقه ص۲۸۹ج۱)

مسئله : که یو سړی لیونی اویابی هوښه شی او د غه نارو غی ئې ترشپږولسو نځونو پوری ورسیږی نو د دغو لمونځونو قضاء وربانندی نشته ، دا لمونځونه ورڅخه معاف دی ، مګر که ترپنځو لمونځونو

سوری بې هوښه وی، ولې پرښېږم لمانځه باندی جوړشی، دغه لمونځ وړباندی شته قضائي هم وړباندی شته.

(فتح القدیر ص ۳۰۵ ج ۲، حلبی ص ۱۰ ج ۱، شرح نقایه ص ۱۱۸ ج ۱، کبیری ص ۲۶۳ ج ۱، فتاوی دارالعلوم ص ۳۲۹ ج ۴، کتاب الفقه ص ۷۸۸ ج ۱)

مسئله: کوم کافرچې په دارالحرب کې اسلام راوړی او په لمانځه باندی دنه پوهیدلو له امله لمونځ ونکړی، نو څومره وخت چې هلته وی، لمونځونه ځینې قضاء کیږی، د دی لمونځونو قضاء باندی شته

(درمختار وغیره)

مسئله: که له چا څخه ډیر لمونځونه قضاء شوی وی؛ او اداء کول ئي وغواړي نو د راګرځولو پروخت د هغه تعین ورته ضروری دی، په دې توګه چې ووایې زه دا د هغه سهار لمونځ کوم چې ترټولو وروسته اخخه قضاء شوی دی. له هغه وروسته بیا د هغه لمانځه وکړی چې تراخیري قضائي له مخه ورڅخه قضاء شوی وی. دارنګه د ماپښین، مازیګر، ماښام او ماخستن... د دي ټولو په راګرځولوکې به په دې ډول تعین کوي. (علم الفقه ص ۱۲۶ ج ۲)

له لمانځه وروسته دوهم ځل د هغه لمانځه اداینه

مسئله: که چیری یو سړی د خپل وخت لمونځ چې نفل، قضاء او نذر لمونځ هم نه وی، یوازی آدا، کړی؛ بیا جماعة ودریږی؛ نو مستحب دا د؛ چې د غه لمونځ دیوه سلام په ګرځولو سره پریږدی او په جماعة کې شامل شی، او دا حکم په هغه صورت کې ده چې تراوسه په دغه لمانځه کې سجده لانه وی شوی.

مسئله: که چاد ماپښین، مازیګر، ماښام یا ماخستن لمونځ تنهایا په جماعة سره ادا، کړی وی او بیادهمدي لمانځه لپاره جماعة

ودریدی ،نو دغه سړي ته چې دا ترمخ ئي لمونځ تنهایاپه جماعة سره اداء کړیدی ؛ داجائزه ده چې دوهم ځل په دغه جماعة کې شامل شی او لمونځ ورسره اداء کړی ، البته دغه لمونځ ئي نفل ګرځی ، خوداپه هغه صورت کې ورسره شامیلیدی شی چې امام فرض لمونځ کوی که امام نفل کوی نو بیا نشی ورسره شاملیدای ، ځکه چې په مفترض پسی متنفل لمونځ کولای شی ولی په متنفل پسی جماعة مکروه دی ، په دي شرط چې دغه جماعة تردرو سړیو زیات وی . (لکه چې د نوافلو د جماعة په بیان کې داخبره تیره شوه ، (مسائل تراویح)

نو همداوجه ده چې که چیری خلکو په جماعةسره لمونځ اداء کړ ، بیا هغوی همدغه لمونځ په جماعة سره وکړ او جماعة هم تر ۳ دریو تنو زیات وو ؛ نو دا کارمکروه دی. او که تردریو کم خلک وو بیاکراهت نلری ، داهم په دی شرط چې د آذان له کولو پرته اداشی ، ولی که آذان ورته وشی ، داپه هرصورت مکروه دی ، اوکله چې دامعلومه شي چې دا دویم لمونځ نفل دی نو په دی کې د لمانځه حنیثیت په مکروه وختونو کې د نفل لمانځه غوندی دی. نو ځکه د سهار او مازیګرلمونځونو راګرځوا جائزنه دي ځکه چې د مازیګر له لمانځه وروسته نفل منع دی. (کتاب الفقه ص۶۹۷ج۱)

مسئله : قضائي لمونځ په جماعة سره آداء کول سنت دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۶ج۴، بحواله مشکوة ص۶۷ج۱)

مسئله : کوم قضایي لمونځ چې په جومات کې تنها اداء کیږی د هغه لپا د آذان او اقامت مشروع نه دی اونه د وترلمانځه لپاره

(فتاوی دارالعلوم ص۳۴۴ج۴، ردالمحتار ص۲۵۶ج۱ باب الا

مسئله که قضايي لمونځونه په جماعة سره کيږي نو د لمړي لمانځه لپاره چې آذان وشي ، هغه نورو ته هم کفايت کوي ، ولې اقامت به تولو ته جدا جدا کيږي. (د جماعة په صورت کې) (فتاوى دارالعلوم ص ۳۶۰ ج ۴)

مسئله : د قضاء د آداء کولو آسانه طريقه داده ، چې له هريوه لمانځه سره د هغه وخت لمونځ راوګرځوي ، څومره عمر چې فوت شوى دى ، ترهغومره کلونو پورى دي له هرلمانځه سره د هغه وخت لمونځ کوى .(فتاوى دارالعلوم ص ۳۳۵ ج ۴)

د قضائي لمونځو په آداينه کې ځنډ

مسئله : د چاڅخه چې ډيرلمونځونه قضاشوي وي ، نو د هغه لپاره واجب داوي چې ډيرژر ئي په آداينه پيل وکړي. خوکه د څه عذر په وجه ئي پروخت نشي آداء کولای ، نو په دې کې ځنډ ورته جائز دی ، څه وخت چې څومره فرصت په لاس ورځي لږلمونځ دې اداء کوی. البته پرېږدي به ئي نه. (درمختار ص ۶۷۵ ج ۱)

د قضائي لمانځه نيت

مسئله : د چاپرذمه ډيرقضائي لمونځونه شته ، نو د آداء کولو پروخت به نيت داسې کوي ، چې لمړى د ماپښين کوم چې ترټولو وروسته راڅخه قضاء شوي دى او بيابه دهغه ورمخته لمانځه نيت کوي. (درمختار ص ۲۷۶ ج ۱)

که ترمړينې له مخه قضائي لمونځ رانه ګرځول شي

پوښتنه : که څوک د خپلو قضائي لمونځونو ترآداينې وړاندې په حق ورسيږي او د فديې ورکولو توان هم ونلري نو له مؤاخذې څخه د برائت صورت به بې څه وي ؟

جواب : د قضائی لمونځونو آداء کول او یاهم د هغوی فدیه (ترمړینی وروسته) د عذاب د سقوط موجب کیدای شی ، نورنو د الله تعالی په مشیت پوری اړه لری ، لکه چې فرمایي: (و یغفر مادون ذلک لمن یشاء)
(فتاوی دارالعلوم ص ۳۶۲ ج ۴)

مسئله : که پرچاباندی قضائي لمونځونه ډیروی چې شمیرل ئي ستونزمن وی ، نو پکارداده چې له ښه فکر کولو څخه داسی تخمین اواټکل ولګوی چې مثلاً په ۱۴ /یا/ ۱۵ کاله کې بالغ شوی اوله دې ورسته یې ۴ /یا/ ۵ کاله لمونځ نه دی آداء کړی، یائي کله کړی اوکله ئي پری ایښی ، نو دی دې د خپل اټکل سره سم پرځان یوه اندازه لمونځونه تثبیت کړی او بیا دی د هغه په آداینه پیل وکړی ، همدا راز د هغه چالپاره هم چې ډیر قرضونه وړباندي وي ؛ همدا صورت دی ، خومناسب داده چې ترخپل تخمین زیات لمونځونه وکړی ، ځکه چې نفع ئي زیاته اونقصان هیڅ نلری . غاړی به ئي په ښه توګه خلاصې شی . (فتاوی دارالعلوم ص ۳۵۳ ج ۴ ، هدایه ص ۱۳۸ باب قضاء)

د قضائي لمونځونو فدیه به کله اداء کیږی ؟

په ژوند کې خو د لمانځه فدیه اداء کیدای نشی ، بلکې پخپله د لمانځه اداء کول حتمی دی ، البته که ترآدینه وړاندی په حق ورسیږی ، نو د هرلمانځه فدیه د (صدقة الفطر) سرسایه غوندی ، یاوکم دوه سیره غله ده ، چې د ورځي ترقیمت پوری اعتبار لری ، د آداء کولو په ورځ چې د غلې کوم قیمت وی ، له همغه حساب به ئي قیمت ورکوی ، اوداچې وتر یو مستقل لمونځ دی نو له همدې امله د شپې

او ورځې لمونځونه شپږ کېل کیږي ، او له همدې سببه د يوې ورځې د لمونځونو فديه د شپږو لمونځونو آداء کول پکار ده.
اوس که چیرې میت (مړی) د دې وصیت کړی وی نو د مال د د ریمې برخې څخه دا فدیه ورکول واجب دی . او که وصیت ئې نه وي کړی ، نو بیا وارثینو ئې نشته ، البته که ټول وارثین ئې عاقل او بالغ وی او هریو د خپلې خوښې څخه فدیه ورکړی ،امید دی چې د مړی د غاړی په خلاصولو کې مؤثر وی. (آپ کی مسائل ص۲۵۹ج۳)

قضائي لمونځ په څه وخت کې آداء کول جائز نه دی ؟

(د قضا ئي لما نځه آدا ینه څه مهال صحت نلری ؟)

مسئله : درې وختونه داسې دی چې هیڅ لمونځ ورکې صحت نلری، نه نفل ، نه نذر او نه قضائي:

۱-دلمر د راختلو څخه ، بیا ترڅو لمرنیزه راپورته شی او ژړوالی ئې له منځه ځي.

۲-ماز یګر د لمر له ژړیدلو څخه بیا د لمرترلویدلو پوری ، البته د هغه ماز یګر لمونځ که ئې کړی نه وی ؛ په دغه وخت کې ئې کولای شی ، قضاء کوی به ئې نه.

۳-نصف النهار (د ورځې نیمائي) یعین د زوال وخت ، تردې پورې چې لمر له خپله خایه وخوځیږي یعنې د استواء له خایه د غروب پرلورې حرکت وکړي. په دغودریو وختونو کښې یو لمونځ نشی کیدلای له دې پرته نور درې وختونه دی چې نفل لمونځ پکښې جوازنلری ، بلکې قضائي لمونځ او سجده تلاوت پکښې کیدای شي:

۱-له صبح صادق (رښتینی سهار) وروسته، ترفجر وړاندی صرف سنت اداء کیدای شی، بل هیڅ نفل په دغه وخت کې صحت نلري.
۲-د سهارتر لمانځه وروسته بیا ترلمر راختلو پوری، هیڅ نوافل نشی کیدای.
۳-د مازیګر له لمانځه وروسته ترلمرلویدو پوری.
په دغو دریو وختونو کې هیڅ نفل لمونځ جائز نه دی نه تحیة المسجد، نه تحیة الوضوء، نه دوګانه طواف، البته قضائي لمونځ راګرځول په دغه وختونو کې جواز لري، مګر دا ضروري ده، چې د خلکو په وړاندی به په دغه وخت کې قضائي لمونځ نه راګرځوی، بلکې تنها به ئي کوی. (آپ کی مسائل ص۲۵۲ ج۲)
مسئله: د کوم چاپرذمه چي قضائي لمونځونه وی، د هغه لپاره بهتره داده چې د نوافلو پرځای قضائي لمونځونه راوګرځوی، که څه هم د بیداریو په شپو کې ئي آداء کوي. (لکه د شب قدر، برات یانوری شپې) «آپ کی مسائل ص۲۵۶ ج۳»

د مړی له طرفه لمونځ، روژه آداء کول

مسئله: که چیری وارثین د مړی له طرفه د هغه د حکم له مخې د هغه قضائي لمونځونه اداء کوی دا صحت نلری، ځکه چې لمونځ یو بدني عبادت دی، چې هر مکلف ته دا حکم دی چې پخپله به ئې اداء کوی، د بل لپاره آداینه ئي د هغه نشی کیدای، مګر دا خصوصیت یوازی د حج دی هغه که څه هم بدنی عبادت دی، که وارث د خپل میت پرځای حج وکړی دانیابت صحیح دی د میت له ذمی څخه فرض ساقطیږی، که څه هم میت ئې وصیت نه وی ورته کړی. (درمختار ص۶۷۲ ج۱، امداد الاحکام ص۶۶۸ ج۱)

د مرض الموت په حالت کې پخپله فدیه ورکول

مسئله : که چیرې میت د مرض الموت په حالت کې پخپله د خپل لمانځه فدیه ورکړي ، دا صحت نلري. نو پرده باندې واجب دا ده چې وصیت ئې وکړي ، البته د مرض الموت په حالت کې د خپلې قضائي روژې فدیه ورکولای شي ، خو د دې صحت هم د هغه ترمړینې وروسته ثابتیږي.

مسئله : د لمانځه ، روژې په کفاره کې د ټولې فدیې پیسې یو فقیر (حاجتمند) ته چې د نصاب څښتن نه وي ورکول درست دي ، او داسې هرچاته ئې ورکولای شي. (درمختار ص۶۷۴ج۱)

که یو مرتد دویم ځل اسلام قبول کړي؛ څنګه لمونځ به کوي؟

مسئله : څوک چې یو ځل مرتد شي (له اسلام څخه ووزي) او بیا بیرته اسلام راوړي ، نو د ردت په زمانه کې ئې چې څومره لمونځونه قضاء کړي وي ، اوهم هغه لمونځونه چې ترمرتد والي وړاندې ئې قضاء کړي وي راګرځوي به ئې نه ، ځکه چې هغه د مرتد کیدلو په وجه د اصلي کافرغوندې شوي دي ، نو څرنګه چې پراصلي کافر باندې د کفر د مهال د لمونځونو قضائي راګرځول نشته دا راز پرمرتد چې اسلام ئې اوس منلی وي ؛ هم نشته ، البته د حج قضاء به راوړي ، هغه ورباندې ضروري دي. (درمختار ص۶۷۵ج۱)

مسئله : که چیرې یو مریض لمونځ په تیمم سره کوي او د سختې ناروغۍ په حالت کې په اشارې سره هغه لمونځ راګرځوي چې د جوړتیا په وخت کې ورځخه فوت شوي و. نو دا صحت لري ، لمونځ ئې درست دي ، د بیا راګرځولو ضرورت ئې نشته. (درمختار ص۶۷۶ج۱)

آيا قضائي لمونځونه په پټه بايد اداء کړل شي؟ 15

مسئله : مناسب دا ده چې له چا څخه لمونځونه قضاء شوي وی ؛ هغه دې بيا د راګرځولو پرمهال نورڅوک نه خبروی ، يعنی په داسی ځای او وخت کې دی نه کوی چې نورخلک پوه شی چې دا قضائي لمونځ راګرځوی ، په پټه دې اداء کړی، دا ځکه چې لمونځ پرخپل وخت نه کول اوله وخت نه وروسته کول یومعصيت اوګناه ده نودګناه څرګندول ښه کار نه دی ،بلکه خبره ده،لکه چې په شامی کې راځی قضائي لمونځ علی الاعلان راګرځول مکروه تحريمی دی.

(درمختار ص۶۲۷ج۱)

مسئله : د لمانځه قضاء د لمانځه له اداء سره مشابهت لری ، يعنی څرنګه چې لمونځ واجب شوي وی ، له وخته وروسته به شمغسی اداء کيږی ، په سفر کې هم په اقامت کې هم ، دا ځکه چې له قضاء وروسته هغه تغير نه خوری ،يعنی که په سفر کې قضاء شوی وو ، دووه رکعته او د اقامت په حالت کي به همغه دوه رکعته راګرځوي ، او که د اقامت پرمهال قضاء او په سفرکې ئې راګرځوی نو همغه څلوررکعته به راګرځوی ، البته د نيت په بدليدلو سره لمونځ بدليږی ، مثلاً مسافر وی ، او دننه په وخت کې د اقامت نيت وکړی ، نو اوس به ټول لمونځ اداء کوی داراز که مقيم وی او په وخت کې دننه د سفر نيت وکړی او له خپلې سيمې څخه دباندی ووزی نو قصربه کوی. او يا مسافر وی ، په کوم مقيم امام پسی لمونځ کوی نو پوره لمونځ به کوی. (درمختار ص۷۲۸ج۱)

مسئله : که چیری یو سړی پخپل ګمان قصر کوی ، چې وایی مسافر دی ، او وروسته معلومه شی چې مسافرنه دی ، نو د دی لمونځونو راګرځول ضروری دی مثلا څومره ورځې چې ئي لمونځونه په همدی شکل اداء کړی ؛ هغومره لمونځونه به په شمیرسره دوهم ځل راګرځوی ، سرد له وترو ، خو د سنتو قضاء نشته ورباندی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۳۲ج۲) د تفصیل لپاره دمؤلف په رساله «مسائل سفر» وګوری. محمد رفعت قاسمی غفرله)

د سنتو او نوافلو بیان.

په شپه او ورځ کې خو پنځه لمونځونه فرض کړل شوي دي او هغه ګویاد اسلام رکن او اهم رکن. و د ایمان له لوازمو څخه دی پردې برسیره له هغوی وراندی او وروسته په نورو وختونو کې د څه رکعتونو د اداینې لاربنودنه آنحضرت ﷺ فرمایلی ده ، بیا په هغوی کې چې رسول کریم ﷺ پرکومو باندی تاکید کړی دی او پخپله ئي عملا اهتمام کړی ، هغوی ته په عرف‌عام کې «سنت» ویل کیږی ، له هغه نه پرته نوروته نوافل ویل کیږ ي. نوا فل اصلا زائد ته ویل کیږی او په احادیثو کې له فرض لمونځونو نه پرته نوروتولوته نوافل ویل شوي دي.

نو داچې د څینو سنتو یا نوافلو هدایت‌داسی شوی چې ترفرائضو وړاندی باید وشی ، په هغوی کښې کیدای شی حکمت دا وی چې فرض لمونځ چونکه یو عظیم عبادت دی او د عظیم الشان خدای په دربارکې د دریدلو موقع ده ، نوپه دې خاطر چې د دې عظیم مقام سرد مانوس کیدلو پخاطر د مقدمې په شکل مخکی یو څو رکعته عبادة وشی او بیا وروسته د فرض عظیم مقام ته انسان داخل شی ،

او له ملاء اعلی سره یو قرب او مناسبت پیدا کړي. همدارنګه د هغه سنتونو او نوافلو په باره کې باید وویل شي ، چې له فرائضو څخه وروسته ئي د آداینی تعلیم د شارع علیه السلام له لوري ورکول شوی دی. چې فرض لمونځ اداء کول چونکه یو ستر عبادة دی ، نو په دې کښې که څه ناڅه قصور او نقصان رامنځ ته شوی وی ، نو د هغه تدارک به په دی وروستیو نوافلو او سنتو سره وشي. د فرضو څخه د وړاندی او وروسته زوائدو څخه علاوه چې کوم نوافل دی په نورو وختونو کې مثلا د څاښت او د شپې د تهجد لمونځ ، دا په اصل کې د تقرب الی الله په منظور د طالبینو لپاره د ترقی یو ځانګړی نصاب دی. (معارف الحدیث ص ۲۲۰ ج ۲، مظاهر حق ۱۱۲ ج ۲، علم الفقه ص: ۴ ج ۲)

د نوافلو يوه خاصه ګټه

آنحضرت ﷺ فرمایی: د قیامت په ورځ به د بنده په ټولو اعمالو کې لمړی حساب د لمانځه وی او همغه به کتل کیږی، که درست و ، نو هغه بنده د ده په وجه فلاح او کامیابي مومی ، او که خراب ناسم وی ، نو هغه بنده به نامراد او ناکام وی ، بیاکه د هغه په فرائضو کې کمی او نقص وی نو الله پاک به وفرمایی: چې وګورئ د دغه بنده د اعمالو په ذخیره کې له فرض نه پرته بل څه نیکي شته (سنت یا نوافل ؟) ترڅو د هغه د فرائضو کمی ورباندی پوره شي ، بیا به نود لمانځه په څیر د نورو اعمالو حساب کتاب هم همداسی کیږی. (معارف الحدیث ص ۲۲۲ ج ۲)

د سنتو شمېر او د آداء کولو طریقه ئي.

د نفلی لمونځونو هم همغه طریقه ده لکه د فرضو ، خو فرق ئي یوازی دومره ده چې د فرائضو په لمړیو دوو رکعتونو کې د فاتحې

وروسته د دویم سورة د لوستلو حکم دی، ولی د سنت او نوافلو په تولو رکعتونو کی دبل سورة لوستلو حکم شته، حتی چې که سره برابرهم نه وی نو د اخلاف سنت دی، نوافل په ورځ کې ۲دوه ۲دوه رکعته او په شپه کې څلور څلور رکعته په یوه سلام آداء کیدلای شی مگرله هرو دوو رکعتونو وروسته التحیات ویل پکار دی.

د سهار په وخت کې له فرضونه وړاندی دوه رکعته مؤکد سنت دی، د دغوی تاکید ترنورو تولو سنتو زیات دی، تردې چې په بعضی روایتونو کې له امام صاحب څخه ئې وجوب رامنقول شوی،

نبی کریم ﷺ فرمایی: د سهار سنتونه مه پریږدئ، که څه هم آسان مو ترپښو لاندی کوی (یعنی که څه هم د مرگ له خطری سره مخ یاست)

نو په دې کې خبره د ترغیب او تشویق ده، کنه نو د ځان د هلاکت د ویری له امله خو فرائض پرېښودل هم جواز لری، په یو حدیث شریف کې راغلي چې: د سهار سنت زما په نزد ترتولی دنیا او مافیها بهتردی

(علم الفقه ص۲۲ج۲، مسلم شریف ص۲۵۱ج۱، درمختار ص۹۲ج۱)

د ماپښین د فرضو ته وړاندی څلور رکعته په یوه سلام او له فرضو وروسته ۲ رکعته سنت مؤکد دی.

(مراقی الفلاح، درمختار، علم الفقه ص۲۲ج۲، هدایه ص۹۵ج۱، شرح نقایه ص۱۰۰ج۱، کبیری ص۳۸۲)

د جمعی د ۲ رکعته فرضو څخه وړاندی څلور سنت په یوه سلام سنت مؤکد دي او ترفرضو وروسته هم څلور رکعته په یوه سلام.

(مراقی الفلاح)

دمازیگر مهال هیڅ مؤکد سنت نشته، مګر تر فرضو وړاندې څلور رکعته په یوه سلام سره مستحب دي. (علم الفقه ص۲۲ج۲، هدایه ص۹۵ج۱، شرح وقایه ص۱۰ج۱، کبیری ص۳۸۲، ابوداؤد ص۱۸۵، فتاوی رحیمیه ص۴۸ج۲، محمودیه ۲۰۳ج۲)

د ماښام د فرضو وروسته ۲ رکعته مؤکد سنت دی. (علم الفقه ۲۲، مسلم ص۲۵۲ج۱)

د ماخستن وخت له فرض لمانځه وروسته دوه رکعته مؤکد سنت دی، او له فرضو مخکې ۴ رکعته په یوه سلام سره مستحب دی.
(علم الفقه ۲۲ج۲، بخاری ص۱۵۵ج۱، ابن ماجة ص۸۲)

نبی کریم ﷺ فرمایي: کوم مسلمان چې په فرائضو برسیره ۱۲ رکعته لمونځ کوي الله تعالی د هغه لپاره په جنت کې کور جوړوي. (صحیح مسلم شریف)

په احادیثو کې د دغو ۱۲ رکعتونو تفصیل داسې راغلی دی: ۴ رکعته د ماپښین څخه مخکې او ۲ وروسته، ۲ رکعته له ماښام څخه وروسته. ۲ رکعته له ماخستن څخه وروسته او ۲ رکعته د سهار له فرضو څخه وړاندې. (علم الفقه ص۲۲ج۲، کتاب الفقه ص۵۱۹ تر ۵۲۱ج۱، فتاوی دار العلوم ص۲۳۵ج۲)

په احادیثو کې چې د دې پنځه وخته لمونځونو څخه وړاندې یا وروسته د سنتو او یا نوافلو ذکر راغلی دا ډېر اهمیت لري او د دې اهمیت اندازه ئي په قیامت کې څرګندیږي چې الله تعالی د فرائضو کمی په همدې زوائدو باندې پوره کوي بنده ته، نو ځکه ئې اهتمام ډېر ضروری دی ـ محمد رفعت قاسمی غفرله)

مسئله: که چیرې د سهار جماعة شروع وي یعنی جمع ولاړه وي او یو سړی راشي مسجد ته، سنت ئي نه وي کړي، نو او س که دي پوهیږي چې په یو رکعت کې شرکت کولای شم نو دې لږ په جدا، ځای کې ۲ رکعته سنت ادا کړي او بیا دې په جماعة کې شرکت وکړي.
(هدایا ص۱۰۱ج۱، شرح وقایه ص۱۰۸ج۱، فتاوی رحیمیه ص۴۲ج۲، کتاب الفقه ص۲۰ج۱، علم الفقه ص۱۹ج۲)

مسئله : د سهار سنت سیده په امام پسی له شاکول مکروه دی.

(نماز مسنون ص۳۵۲ جامع ۱۲، هدایه ص۱۰۱ ج۱، شرح نقایه ص۱۰۸ ج۱)

مسئله : د سهارله فرضو مخکی ۲ رکعته دی ، دا تر ټولو ضروري سنت دی ، دا بی له عذره په ناسته کول او یا بی له عذره پر سواری باندی بر سیره آداء کول جائز نه دی. وخت ئي همغه د سهار د فرضو وخت دی ، بیاکه د دوارو وخت تیرشی نو د فرضو ترڅنګ به د سنتو قضاء هم راوري ، او د قضاء وخت تر زوال وړاندی مهال دی ، او که چیری یوازی فرض اداء شی او سنت قضاء شی نو بیا د سنتو قضاء نشته.

(کتاب الفقه ص۵۲۰ ج۱، فتاوی محمودیه ص۲۵۴ ج۱۲، فتاوی محمودیه ص۱۹۰ ج۲)

مسئله : د سهار د سنتو مستقله قضاء نشته ،البته که فرض او سنت دواړه سره قضاء شی نو بیا ئی تر زوال مخکی راګرځوی ، دلته به دواړه یعنی سنت او فرض راګرځوي ، او که تر زوال څینی وځنډیږی ، بیا د سنتو راګرځول نشته ، یوازی فرض به راګرځوی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۱۵ ج۴)

مسئله : له صبح صادق نه وروسته تر فرضو وړاندی پرته له دوو سنتو یاکوم قضائی لمانځه ، نور نوافل کول درست نه دی ، او له فرضو وروسته هم د سهار سنت اداء کول ، صحت نلری ، او نه کوم نوافل صحت لری. او د مازیګر له فرضو وروسته هم کوم لمونځ جواز نلری.

(فتاوی دارالعلوم ص۷۱ ج۲ بحواله ردالمحتار ص۳۴۷ ج۱، غنیة المستملی ص۲۳۷)

مسئله : که چیری دا ویره وه چې د سهار په سنتو کې ټول سنن او مستحبات په پوره توګه اداء کول سره جمع تیریږی ، نو دی په دغه صورت کې یوازی پر فرائضو او واجباتو اختصار وکړی ، مستحبات او سنن دی پریږدی. (علم الفقه ص۹۹ ج۲)

د سهار او ماپښین د سنتو په قضاء کې توپیر ولې شته ؟

پوښتنه : د سهار دوه رکعته سنت او د ماپښین تر فرضو وړاندې څلور رکعته سنت ټول مؤکد سنت دي ، نو بیا څه وجه ده چې د سهار سنت که قضاء شي ، له لمر راختلو وروسته که ئې اداء کړي ښه ده ، که نو څه خبره نه ده ، او د ماپښین سنت که قضاء شي نو له فرضو وروسته به ئې هرومرو راګرځوي ، د دې وجه څه ده ؟

جواب : د دې وجه داده چې د ماپښین وخت خو بیا هم پاتې ده ، اما د سهار وخت خو له لمر راختلو څخه وروسته ختمیږي.

(فتاوی دار العلوم ص۷۲ ج ۲، بحواله ردالمحتار ص۲۳۱ ج ۱)

په جماعة کې د ګډون لپاره سنت کوونکي ته انتظار

پوښتنه : مثلاً د ماپښین لمونځ ۲بجې ده ، خو دغه وخت ته ۳ د قیقې پاتې دی ، چې یو سړی راشي د ماپښین د سنت نیت وکړي پر دریم رکعت وخت پوره شي یعني ۲بجې شوي ، اوس به جماعة دریږي ، نو آیا امام ته دومره اجازه شته چې دغه سړي ته انتظار وکړي ؟

جواب: بلی ! دومره اجازه سته. (فتاوی دارالعلوم ص۴۷ ج ۴ بحواله عالمګیری ص۵۳ ج۱)

د سهار سنت د جمع په وخت کې ولی نه پرېښودل کیږي ؟

سوال: ځینې خلک داسې اتهام او طعن کوي چې أحناف خلک له دې سره سره چې جمع ولاړه وي ، سنت کوي ، په داسې حال کې چې جماعة ته سنت پرېښودل بهتر دي ؟

جواب : دا خبره ناسمه ده ، یوازې د امام صاحب مذهب دی چې دلته په قرآن او حدیث دواړو عمل شوی دی ، داچې په ځینو احادیثو کې د سهار د سنتو زیات تاکید راغلی دی ، او صحابه کرامو هم !

همدا عمل جاري ساتلی چې سنت به ئې اداء کړل بیا به ئې په جماعة کې ګډون وکړ، سره له دې چې جماعت به شروع وو، چې همدا آثار په کتابو کې منقول دي، نو امام صاحب پردې باندې د عمل پخاطر دا حکم کړی دی، نو دا اعتراض او طعن بې ځایه ده. (فتاوی دارالعلوم ص۳۲۲ج۴)

مسئله: د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم څخه آثار داسې ثابت دي چې د سهار د فرضو قرائت به ئې اوریده او دوی به یوه طرف ته شول سنت به ئې کول، نو له همدا امله امام صاحب رحمه الله داسې حکم فرمایلی چې یوه اړخ ته جدا سنت وکړي او بیا په جماعة کې اشتراک وکړي تر څو دواړه فضیلتونه حاصل کړي.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۰۱ ج۴، بحواله ردالمحتار ص۴۷۹ ج۱)

د کوم قاعدې له مخې سنت دومره فضیلت لري؟

پوښتنه: که څوک د ماښام یا د سهار فرض جدا کوي، نو د دویم رکعت له سجدې نه وراندې د ده بل طرف ته جماعة ودریږي، نو دی به خپل فرض پریږدي او په جماعة کې به ګډون کوي، نو اوس پوښتنه دا ده چې جماعة خو سنت دی او د اعمالو باطلول خو په قرآن کې منع دي. او د سهار د سنتو په اړه داسې دي چې که چیرې ئې د اخیرې ناستې د نیولو امید وي، نو خپل سنت به نه ورته پریږدي، همدارنګه د څلور رکعته سنتو په باره کې دي چې که پردریم رکعت جماعة ودریږي نو څلور رکعته دې پوره کړي، بیا دې په جماعة کې شرکت وکړي. نو دلته بیا پوښتنه دا شوه، چې پر فرضو باندې سنتو

ته د ومره فضیلت د کومې قاعدې پر بناء دی چې فرض لمونځ سنت ته باطلیږي او سنت نه ورته باطلیږي ؟

جواب : دا ابطال عمل چونکه د اکمال په خاطر دی ، نو ځکه جائز بلکه بهتر دی او د سنت په پریښودلو کې خو داسې نه ده چې اکمال کې راشي ، نو ځکه ئي پریښودل پکار نه دی مطلب دا چې پورتنی مسائل پوره صحت لري (فتاوی دارالعلوم ص۳۱۶ج۴، شرح وقایه ص۲۰۹ج۱)

مسئله : که چاد ماپښین سنت پیل کړي او یو رکعت یې کړی وي ، په دغه حالت کې جمع ودریږي ، نو دی به دوهم رکعت هم پوره کړي ، سلام به وګرځوي او په جماعة کې به شرکت وکړي.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۱۹ج۴، ردالمحتار ص۶۶۸ج۱)

مسئله : او چاچې دغه پورتنی عمل وکړ ، یعنی پر دوه رکعته ئي سلام وګرځاوه ، په جماعة کې شریک شو نو له فرضو وروسته به پوره څلور رکعته راګرځوي ، هغه مخکنی دوه ئي نفل شوو.

(مسائل سجده سهو ص۵۹ بحواله شامی ص۶۳۰ج۱، فتاوی رحیمیه ص۳۱۴ج۳)

مسئله : که چاد ماپښین څلور سنتو له کولو پرته په جماعة کې ګډون وکړ ، نو وروسته به تردوو وروستیو سنتو له مخه څلور سنت راګرځوي ، مګر فتح القدیر بیا دوه مخته وایي او ورسته څلور ، لهذا لمونځ کوونکي ته اختیار ده چې کوم یو مخکې راګرځوي درست ده. (فتاوی دارالعلوم ص۳۲۲ج۴، ردالمحتار ص۶۲۳ج۱، غنیة ص۳۲۹ج۱)

بنه داده چې لمړی دوه سنت اداء کړي او بیا وروسته مخکني پاتي څلور راوګرځوي، ترڅو پلی شوکه پدې دي خطا نشي چې دي له فرضو

وروسته بیا فرض راګرځوی، په هغوی کې لکه چې کراهت یا فساد واقع شویدی، (محمدرفعت قاسمي غفرله)

مسئله : کله چې جماعة ولاړوی نو سنت دې سړی په داسی ځای کې کوی چې له صف سره بلکل سیده نه وی، کوښښ دې وکړی ځومره چې ګوښه ځای وی هلته دې سنت وکړی، ځکه چې په حدیث کې د دې ممانعت راغلی او حنفی فقهاء هم دا په صراحت سره ویلی چې سنت به له دروازې سره، یا یوې ستنی اویا یوه کونج ته او یا که حجره وی په هغه کې دې سنت کوی، له جماعة نه دې لیری دریږی، که څه هم قرائت ئې اوریدل کیږی، قرائت مانع نه دی. د سهار د سنتو لپاره که داسی غلې او جدا ځای نه وی هم پرینښودل ئې منع دی، پکار ده چې آداء ئې کړی، او په جماعة کې شریک شی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۲۵ج۴، درمختار ص۶۱۷ج۱)

مسئله : که چیری څوک د سهار سنت کولو نه پرته جماعة وکړی نو له فرضو وروسته ئې راګرځول نشته، بلکې مکروه دی؛ او له لمر راختلو او بیا نېه راپورته کیدلو وروسته یې خوښه ده که ئې راګرځوی، کنه، خو راګرځول ئې ورباندی لازم نه دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۲۳ج۴، ردالمحتار ص۶۲۲ج۱)

مسئله : که چیری چا د ماخستن تول کړی وی، وروسته ئې ولیدل چې جمع کیږی، بیا ورسره شامل شو نو وروسته دې وتر او سنت نه کوی. (که ئې مخ ته کړی وو) ځکه چې دا خو کړیدی او دا دویم ځل په جماعة سره لمونځ کول ئې نفل شول. (فتاوی دارالعلوم ص۳۲۰ج۴)

مسئله : امام که سنت مؤکده کړی نه وی نو هم جماعتور کولای شی، امام صاحب ته پکار دی چې لومړی له سنتو نه ځان فارغ کاندی، او که کله امام صاحب له سنتو نه ژر فارغ نشی او مقتدیان مخکې فارغ شی نو مقتدیان به تر هغو پوری انتظار کوی څو امام صاحب فارغ شی، او که چیری وخت لږ او تنګ وی نو پکار ده چې امام صاحب لمړی جماعة ورکړی او بیا وروسته خپل سنت وکړی.

(فتاوی رحیمیه ص۱۷۰ج۱، ترمذی ص۵۷ج۱، آپ کی مسائل ص۲۲۸ج۲، فتاوی محمودیه ص۲۰۲ج۲)

مسئله : سنت دا ده چیرته چې فرض کیږی، نفل یا مستحبات دې له هغه ځای څخه وروسته وړاندی یا یو او یا بل څنګ ته په بل ځای کې وکړی او تردې لا بهتره دا ده چې په کور کې ئې وکړی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۳۰ج۲)

مسئله : افضل دادی چې سنن او نوافل په کور کې وشی. دا حکم د دواړو سننو لپاره ده که تر فرضو وړاندی وی، که وروسته مګر د وروسته سننو لپاره کور ته په تللو کې که دا احتمال وی چې په لاره کې له یو خنډ سره مخ کیږی او یا په کوم دنیوی کار اخته کیږی نو بیا دی په مسجد کې سنت وکړی، ځکه چې دا هم ثابته ده چې ترڅه وخته پوری د دغه لمانځه وخت وی، د سنتو او نوافلو لپاره هم هغه وخت وی.

(مګر متصلا یعنی سمد ستی ورسره کول اولی دی. محمد رفعت قاسمی غفرله) . فتاوی دارالعلوم ص۲۰۷ج۲، فتاوی رحیمیه ج۲، ص۲۹ مشکوة ص۲۸۶ج۱

مسئله : که چیری څوک د سهار فرض شروع کي او په منځ کې ورپه یاد شی چې سنت ئي نه دي کړي، نو دغه مهال به فرض ورته باطل ی نه؛ بلکه پوره کوی به ئي (فتاوی رحیمیه ص۸۱ج۲، بحر الرائق ص۷۸ج۲)

مسئله : د مؤکد سنتو تراداء کولو وروسته که جماعة وځنډیدی نو نور نوافل کیدلای شي، څه حرج نشته، پرته د سهار له سنتو نه ځکه چې له صبح صادق نه وروسته ترلمر راختلو پوري له دوو سنتو څخه علاوه نور نوافل او سنت نشته. (فتوی دارالعلوم ص۲۲۸ ج۴، ردالمحتار ص۲۴۹ ج۱)

مسئله : د ورځی په نوافلو او سنتو کې به قرائت وروو وایی ، ولی د شپې په نوافلو کې اختیار لري ، په جهر ئي وایی که خفیه.

(فتوی دارالعلوم ص۲۳۰ ج۴، ردالمحتار ص۴۹۸ ج۱)

مسئله : نفل لمونځ په شروع سره واجب گرځي ، پس که څوک نفل شروع کړي او بیا په څه وجه ور څخه باطل شی ، نو راگرځول ئی ورباندي لازم دی. (فتوی دارالعلوم ص۲۳۵ ج۴)

مسئله : د سنتو او فرائضو ترمنځ دنیاوی خبری کول د ثواب او اجر د کمیدلو سبب کیږی ، مگر د سنتو راگرځول نه لازموی.

مسئله : د جمعی د سنتو حکم هم د ماپښین دمؤکده سنتو غوندي دي . یعنی که سنت شروع شي او هلته د فرض جماعة ودریږی ، نو پردوه رکعته به سلام گرځوی ، فرض به په جماعة سره کوی او له هغه وروسته به خپل سنت راگرځوی. (علم الفقه ص۹۹ ج۲)

مسئله : د سنتو لپاره د آذان انتظار کول ضروري نه دی ، د جمعی ، ماپښین ، ماخستن او سهارسنتونه له آذان څخه مخکی هم کولای شی . (کفایت المفتی ص۲۶۲ ج۳) په دی شرط د لمانځه وخت داخل وی . . رلمت ـ غفوله)

مسئله : پرکوم ځای چې سنت ادا شی ، د فرضو لپاره له هغه ځایه لیری کیدل لازمی نه دی. (کفایت المفتی ص۲۷۴ ج۳)

مسئله : تحية الوضوء او تحية المسجد، له صبح صادق او غروب شمس، (لمر لویدلو) وروسته تر فرضو وړاندې د احنافو په نزد مکروه دي. (کفایت المفتی ص۲۷۴ج۳)

مسئله : ځینې خلک داسې فکر کوي چې پر مسافر باندې سنت نشته، نو ځکه مسافر یوازې فرض لمونځ کوي، او نور بې له کومه عذره او بې له مجبورۍ سنت پرېږدي، دا خبره ناسمه او غلطه ده، صحیح دا ده چې په شرعي سفر کې که چیرې مشغولتیا زیاته وي، یعني په موټر یا د شپې تیرولو او یا بل حالت کې د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره زیاته وي. نو د سهار له سنتو پرته د نورو سنتو د پرېښودلو ګنجائش شته. ولې د اطمنان او وداډ په حالت کې ئې هیڅکله پرېښودل پکار نه دي. (اغلاط العوام ص۲۶ د تحصیل پلره، مسائل سفر، مکمل و مدلل)

آیا له سنتو وروسته نوري دعاګانې ګیدلای شي؟

پوښتنه : د دعاء غوښتلو دوې طریقې وګورئ یوه طریقه دا چې امام او مقتدیان په شریکه دعاء غواړي (ډېره ئې اوږدوي نه) او بیا وروسته په نوافلو مشغول کیږي.

دویمه طریقه دا ده: چې له فرائضو وروسته فقط «اللهم انت السلام ....» تر پایه، دا دعاء ولولي، بیا چې سنن او نوافل اداء کړي نو امام او مقتدي الفاتحه ووایې په شریکه دعاء وکړي، معنی تر سنتو وروسته دعاء ضروري ګڼي او ډېر زیات اهتمام وریاندې کوي. بر امام باندې دا لکه یو فرض شرط داسې ګڼي نو مسنونه طریقه د لته څه ده؟

جواب: سنت دا ده چې څرنګه ئې فرض لمونځ په جماعة سره اداء کړ، همداسې به دعاء هم پریوه ځای په جماعة یعني ټول امام او مقتدي.

په ګډه دعاء وکړي ، او سنت او نوافل چونکه هریو ئي جدا جدا کوي.
نو دعاء ده ، اما دوهمه طریقه خلاف سنت ، بی اصل او بلا دلیله خبره
ده. داجدا جدا سنت کول نو څخه سره رایوځای کیدل او بیا په ګډه دعاء
کول ، نه له آنحضرت ﷺ څخه ثابته ده ، نه له صحابه کرامو ، نه له
تابعینو او نه له تبع تابعینو څخه ، د آنحضرت ﷺ ، صحابه کرامو
رضی الله تعالی عنهم او سلف صالحینو طریقه همدا وه چې کله به
ئې د جماعة لمونځ وکړ نو چونکه ټول سره یو ځای وو ، په اجتماعي
توګه به ئې دعاء کوله ، او کله چې به ئې سنت او یا نوافل کول ، نو
طبعا جلا جلا به ئې اداء کول ، بیا به ئې دعاګانی هم جدا جدا کول.
بهر حال دا خبره ثابته ده چې آنحضرت ﷺ او صحابه کرامو رضی الله
عنهم به اکثرا سنت په کور کې کول بیا به جماعة ته راتلل او چې
جماعة به ئې اداء کړ ، د پاتی سنتو لپاره به بیا کورته تلل ، نو دا هم
ثابته شوه چې له فرضو وروسته به ئي اجتماعی دوعاء کوله خوله
سنتو وروسته سنت وکړل ؛ نو هغه مهال هم له صحابه کرامو سره ئي
په ګډه دعاء نه ده کړی ، آنحضرت ﷺ پخپلو سنتو مشغول وو چې
خلک له لمانځه څخه فارغیدل او یو یو وتل ، بي له دې چې انتظار
ورته وکړي. (فتاوی رحیمیه ص۲۱۶ ج۱ بحواله ابوداؤد ص۱۹۱ فتاوی دار العلوم ص۲۱۲ ج۴،
تسهیر تیر ص۴۳ ج۱ بحر الرائق ص۱۵۱ ج۲)

مسئله : له امام سره د یو ځایی دعاء په انتظار کښیناستل او په ګډه
دعاء کول ته هیڅ ضرورت نشته چې کله له خپله لمانځه فارغ شوی
که بیرته پاڅیږي او که ناست وي نو خپله دعاء وکړه او ولاړ شه. (اپ کی مسائل ص۲۷۲ ج۳)

مسئله : د دعاء په وخت کې د استسقاء له لمانځه پرته لاسونه تراوږو پورته کول ښه نه دي ، او په دعاء کې د عاجزۍ او مسکنت کیفیت څرګندول مناسب دي. (آپ کی مسائل ص۲۷۵ ج۲)

مسئله : ځینې خلک له لمانځه وروسته سمدستي یوله بل سره معانقه او مصافحه کوي یوله بل سره روغبړ (پوښتنه ، ستړي مشې) کوي ، چې دا هیڅ اصل نلري ، نه سنت ده نه واجب ، بلکې بدعت دی ، مګر که چیري یو سړی میلمه له ډیره لیرې راغلی وي ، ستړي مشې ئې ضروري وي ، د هغه لا اجازه شته. (آپ کی مسائل ص۲۸۷ ج۲)

مسئله : کله چې د دعاء په وخت کې لاسونه پورته کړي ، نو داسې به ئې نیسي چې د لاسونو د ننه خوا به ئې مخ ته سیده وي ، لکه چې د دعاء په وخت کې عام معمول دی. (مظاهر حق ص۹۱ ج۳)

مسئله : له احادیثو نه دا څرګنده شوه چې د دعاء په وخت کې دواړه لاسونه پورته کول او بیا له دعاء وروسته پر مخ راتیرول سنت دي .(مظاهر حق ص۹۱ ج۳)

مسئله : کله چې لمونځ پای ته ورسید ، نو دواړه لاسونه دې غوړیدلي ترسینې پورې را پورته کړي او له الله تعالی څخه دې د ځان اونورو لپاره دعاء وغواړي ، که چیري امام وي نو د ټولو مقتدیانو لپاره هم همدغه عمل دی ، او له دعاء وروسته دې دواړه لاسونه پر مخ راتیر کړي ، مقتدي که خپله له ځان سره دوعاء کوي او که د امام د دعاء په اوریدلو سره ټول آمین آمین وایي. (بهشتی زیور ص۲۲ ج۱۱ بحواله طحطاوی ص۱۸۴ ج۱، کفایت المفتي ص۲۰۷ ج۳)

که فرض دوهم ځل اداء کیږي نو د وروستیو سنتو حکم؟

سوال: که چیري له امام څخه د جماعة په جریان کې غلطي وشي او بیا دا غلطي هغه وخت محسوسه کړي چې له فرضو وروسته ئي سنت او نفل هم کړي وي؛ نو د فرضو له دوهم ځل له اداء کیدلو وروسته به هغه وروستي سنت او نوافل بیا کوي که څنګه؟

جواب: دغه وروستي سنت د فرضو تابع وي، نو که د سنت له کولو وروسته د فرضو غلطي معلومه شي او دوهم ځل اداء شي، نو سنت به هم ورسره دوهم ځل راګرځوي. البته د وتر د بیلو راګرځولو ضرورت نشته. (آپ کی مسائل ص۳۵۲ج۳)

څکه چې وتر یو مستقل واجب دی، د فرضو تابع نه دی. دا د احنافو په نزد. ولی صاحبین بیا وتر هم سنت ګڼي نو څکه ئي راګرځول ضروري بولي، څکه که سنت شي نو بیا د فرض تابع ګرځي د نورو عامو سنتو په څیر. (زهرن)

د وترلمانځه طریقه: وترلمونځ واجب دی، نبی کریم ﷺ فرمایي څوک چې وتر نه کوي هغه زماله ډلې (امت) څخه نه دی. (ابوداؤد، مستدرک)

د وترلمونځ هم د ماښام غوندې درې رکعته دی. د آداء کولو طریقه ئې هم هغه د فرضو طریقه ده، خو فرق ئې صرف دومره دی چې د

- فرضو یوازې په دوو لمړیو رکعتو کې ترفاتحې وروسته دویم سورة ورسره ضم کیږي. ولی د وترو په دریو واړو رکعتونو کې له الحمدلله سره بل سورة ضم کیږي. اوبل دا چې د وترو په دریم رکعت کې به سرې غوږونو ته د لاسو په پورته کولو سره تکبیر وایي او د تکبیر تحریمه غوندې به بیرته لاسونه راکښته کړي، دغه دعاء به ورو ورو

روایي: «اللهم انانستعینک و نستغفرک و نؤمن بک ...» ـ ترپایه پوري ـ .(علم الفقه ص۲۸ ج۲)

مسئله : که چاته دعاء قنوت یاد نه وي نود هغه پرځای دي دغه دعاء روایي: «ربناآتنافي الدنیا حسنة و في الآخرة حسنة وقناعذاب النار» او که دا هم ورته یاد نه وي (نو یا دول ئې ضروري دی) ترهغو پوري به دغه دعاء وایي: (اللهم اغفرلی) دري ځله ، او یا دي دا وایي: (یارب) دري ځله.

(علم الفقه ص۴۰ ج۲، کتاب الفقه ص۵۳۲ ج۱ فتاوی دارالعلوم ص۱۶۴ ج۴، ردالمحتار ص۶۲۲ ج۱)

مسئله : د وترلمانځه ، سنتو ، او نوافلو په ټولو رکعتونو کې د سورة فاتحې ترځنګ بل سورة ورسره ضم کول ضروري دي. (نماز مسنون ص۴۹۲ کبیری ۲۳۲)

مسئله : په هر رکعت کې ترفاتحې او سورة مخکې بسم الله الرحمن الرحیم ویل جائز دی ، مګر په ټيټ آواز سره ، په لوړ آواز به ئي نه وایي . (کفایت المفتی ص۴۱۱ ج۳)

دوترو مسائل

مسئله : د وترو وخت د شفق له غائب کیدلو (پټیدلو) څخه بیا ترسپیدو پوري دی ، که چیري په هیره او یا په قصدي توګه پریښو ول شي نو قضاء راوړل ئي واجب دي. که څه هم وخت تیر وي.

مسئله : وتر د ماخستن ترلمانځه وروسته کول واجب دی ، ځکه چې په دې کې ترتیب لازم دی. خو که په هیره د ماخستن ترفرضو وړاندې آداء شي ، صحت لري. دا راز که دواړه علی الترتیب فرض او وترلمونځ اداء شي ؛ خو وروسته معلومه شي چې د ماخستن لمونځ د

څه وجي څخه فاسد شوی، وتر صحیح اداء شویدی. نو دلته وتر صحي ګڼل کيږي. راګرځول ئي نشته. صرف فرض به راګرځوی، ځکه چي په داسې معاذیروکې ترتیب ساقطيږي

مسئله: په وتروکي دعاء قنوت ویل واجب دی. اوسنت دا ده چې آهسته به ئی وایی که امام وی، که مقتدی، اوکه منفرد وی. (په روژه کې به د وتروپه جماعة کې امام اومقتدی دواړه قنوت په ټيټ آواز سره وایي. (محمد رفعت قاسمی غفرله)

مسئله: که چیری له چاڅخه دعاء قنوت هیرشو، رکوع ته ولاړی، وریه یادشو نو د رکوع په حالت کې به ئي نه وایی او نه به دوهم ځل د قنوت لپاره راپورته کيږي، بلکه له سلام ګرځولو وروسته به سجده سهو وکړی، اوکه چیری له رکوع څخه بیرته راپورته شو دعاء قنوت ئي ووایه اورکوع ئي بیا ونکړه نو لمونځ ئي نه فاسديږي.

مسئله: که له چاڅخه سورة او قنوت هیرشی او په غلطی سره تردې مخکې رکوع ته ولاړشی و نو ده ته ضروری ده چې بیرته له رکوع څخه راپورته شی، سورة او قنوت دواړه ووایی اوبیارکوع وکړی په اخیرکې سجده سهو وکړی، ګاراز که دري واړه (فاتحه، سورة اودعاء قنوت) ورڅخې پاتی شی، هم همداسی به وکړی راپورته به شي، دوی به دري واړه ووایی، بیابه رکوع وکړی او په اخیره کې به سجده سهو وکړی. او که رکوع دوباره ونکړی څه باک نلری، لمونځ صحیح دی، لیکن سجده په هرصورت لازمه ده.

مسئله: وتر په جماعة سره کول له روژي پرته نامشروع اومکروه دی. (کتاب الفقه ص۵۲۲ ج۱)

مسئله : هغه څوک چې د تهجد لمونځ کوی ، د هغه لپاره هم افضل اوبهتره داده چې په روژه کې وترپه جماعة سره وکړی.
(فتاوی رحیمیه ص۲۹ ج ۲، مراقی الفلاح ص ۷۲، نورالایضاح ص ۱۰۰)

مسئله : د وتروپه نیت کې دی صرف دومره وایی چې زه د وترلمانځه نیت ترم اوکه واجب اللیل ورسره زیات کړی هم څه حرج نشته.
(فتاوی دارالعلوم ص ۱۶۰ ج ۲، ردالمحتار ص۳۸۹ ج۱)

مسئله : په نیت کې ئی واجب ورسره ویل بـه دی ، ځکه چې د امام اعظم رحمه الله په نزد وترواجب دي ، اوکه چیری ورسره ونه ویل شی هم څه حرج نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۱۶۳ ج ۲، ردالمحتار ص۳۸۸ ج۱ بحث نیت)

مسئله : که څوک په روژه کې دماخستن فرض لمونځ په جماعة سره ونکړی ، هغه د وتروپه جماعة کې شرکت کولای شی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۲ ج۲)

مسئله : که چیری امام قنوت پوره کړ او رکوع ته ولاړی ، ولی مقتدی لانه وی پوره کړی ، نو که د داپاتی قنوت په پوره کیدلو سره رکوع نه ځنی تیریږی ؛ نو پوره دی کړی ، کنه بیادی پریږدی او رکوع کې دی له امام سره شریک شی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵۲ ج ۲، عالمگیری ص۱۰۲ ج۱)

مسئله : که چا د وتروپه دریم رکعت کې له امام سره پوره شرکت وکړ ، یائی له امام سره قنوت او رکوع دواړه وکړل او یا یی صرف رکوع ورسره ونیوله ، نو په دې صورت کې بیاد دوهم ځل قنوت ویلو اړتیا نشته ، هغه صحت لری چې له امام سره ئي د اشتراک په وجه پیدا کړه ، پخپله کی ویا ی وی ، که نه وی. (مسائل سجده سهو ص۹۶ بحواله مراقی الفلاح ص۲۲۵ ج۱، فتاوی رحیمیه ص۱۵۷ ج ۱ عالمگیری ص۱۷۸ ج۱)

مسئله : له وترو وروسته څخه دوه رکعته نفل کول ، که په ناسته وی ، که په ولاړه صحت لری ، مګر په ولاړه ئي ثواب ترناسته دوه چنده زيات وی ، او آنحضرت ﷺ هغه په ناسته اداء کړيدی.اودايوازی د هغه ﷺ خصوصيت دی چې په ناسته هم پوره ثواب ورته رسيده ، ولی نورو خلکو ته نيم اجر رسيږی ، دا له نورو احاديثو څخه هم ثابته ده .(فتاوی دارالعلوم ص۲۳۱ج۴، درمختار ص۶۵۳ج۱).

مسئله : داځکه چې په هغه کې هم امت ته داتعليم ووچې ګويانفل په ولاړه کول فرض نه دی ، او امت ته تعليم ورکول د نبوت له واجباتو څخه دی ، نو په دی توګه هغه ﷺ د يو واجب ادا ينه ترسره کړه ، چې په ناستو ئی نفل وکړل او امت ته ئي د تعليم وجيبه له غاړې واړوله ، چې ثواب ئی ترنفلو زيات شو . (فتاوی رحيميه ص۲۲ج۲)

د ناروغ د لمانځه احکام

ځينی ناروغان لمانځه پوره اهتمام نه کوی ، په داسی حال کې چې کيدای شی ، همدا مرض ئي د ژوند وروستی لحظې وی ،ځکه چې هر ناروغي د مرګ يادونه سرې ته کوی ، نو چې څوک دا فکر له ځان سره نه کوی ؛ دا ډېره د افسوس او خطرې خبره ده.

مسئله : ځينی خلک بيا داسی وی چې د روغتيا په حالت کې د لمانځه ډېر اهتمام کوی ، ولی د ناروغتيا په وخت کې بيا د دې وسوسې له امله چې بدن ياجامې ئي خرابې نه وی ؛ لمونځ په اهتمام سره نه کوی ، حتی تضاء کول ئي هم ، له همدی وجی ، چې دا يوه ډېر ستر جهالت دی. په داسی حالت کې پکار دا ده چې له عالم څخه

پوښتنې وکړي اوله هغې سره سم عمل وکړي. او د شریعت له ورکړل شویو آسانتیاوو څخه برخمن واوسي، د داسې وجوهاتو په آساس لمونځ قضاء کول جواز نلري.

مسئله: ځینې مریضان د ډاکټر او حکیم په حکم لمونځ پریږدي، په داسې حال کې چې شرعي مسئله داسې ده چې ترڅو پورې انسان په اشارې سره د لمانځه قدرت لري، پر ده لازمه ده چې لمونځ پرینږدي، مګر که ئې دا د اشارې توان هم له لاسه ورکړ نو بیا بیشکه لمونځ وروسته کول او په وروسته کې ئې قضاء راوړل درست دي. ناروغي د مرګ یو پیغام دی نو انسان ته پکار ده چې نور هم په داسې حالت کې د آخرت زیات فکر وکړي او عبادة ته ښه متوجه واوسي.

مسئله: ځینې خلک داسې فکر کوي چې پر مریض باندې کله مرض زیات شي، او د بې هوښي حالت ورباندې راشي، نو دوی وایي لمونځ ورځني معاف دی، دا خبره ناسمه ده، ځکه چې په هر ډول بې هوښي سره لمونځ نه معافیږي، بلکې په هغه بې هوښي کې لمونځ معاف دی چې یو ناځاپه بې هوښه سي، او یاد مرض په وجه بې هوښه شي خو دا بې هوښي ئې ترشپږو لمونځونو ورزیاته شي، نو په دغه صورت کې لمونځ معاف دی او قضائي واجب نه ده.

او که چیرې د هغو قضائي په راګرځولو کې سستي او لاپروائي کوي، نو ترمړینې له مخه د هغو لمونځونو د فدیې ورکولو وصیت کول ورباندې واجب دي.

مسئله: ځینې خلک د مرض په حالت کې په ولاړې د لمانځه قدرت لري، خو د هغه باوجود لمونځ په ناسته کوي، چې دا صحت نلري،

مسئله داسې ده چې څوک په ولاړه لمونځ کولای شي په ناسته ورته جائز نه دی ، لهذا ډیر احتیاط پکار دی.

د مریض لپاره د تیمم حکم

ځینې مریضان داسې وي چې که څه هم اودس کولای شي او هغه ورته مضر هم نه وي ، خوله دې سره سره تیمم وهي اولمونځ کوي .او هغه خلک چې دده پالونکي او خواخوږي وي ، له اوداسه څخه ني منع کړي او تیمم ته ني هڅوي ، چې دا ډیره کم عقلي اوناپوهي ده ، ترڅو چې اودس ورته د صحت له پلوه مضر نه وي ؛ تیمم وهل جواز نلري.

مسئله : ځینې ناروغان بیاد پورتنۍ خبرې برعکس داسې بې احتیاطي کوي چې اودس که څه هم ورته ډیر زیات زیان رسوي ، دی بیا هم اودس نه پرېږدي او تیمم ته قطعاً زړه نه ښه کوي چې دا هم یو قسم غلو ده او د حق تعالی شانه د لوړول شویو آسانتیاوو اونعمتونو نه قبلول دي ، چې دا ډېره بې ادبي اولویه گناه ده څرنگه چې اودس کول د الله تعالی حکم دی داراز تیمم هم د الله تعالی حکم دی، د بنده وظیفه خو د الله ﷻ حکم منل دي ، نه دا چې د خپل زړه د خوښې مطابق کار کوي. څه چې د الله تعالی حکم وي هغه د زړه له کومې منل د بنده ربښتینولي ثابتوي. (اغلاط العوام ص۱۹۶)

مسئله : که چیرې جنب سړي ته له غسل کولو څخه زیان رسیږي ، د هلاکت او د ناروغتیا سبب ني گرځي او گرمي اوبه پیدا کول گران وي ، نو په هغه صورت کې تیمم وهل جائزدي . (شامی ص۱۶۵ج۱، هدایه ص۵۲ج۱)

د ناروغ او معذور لمونځ

مسئله : که چیری یو سړی داسی معذور یا مریض وی چې د لمانځه ارکان په پوره ډول اداء کولای نشي نو بیا دی د خپل وس سره سم ارکان اداء کړی، کفایت کوی، مثلا یو سړی ده. قیام نشی کولای د مرض یا بل عذر په وجه پرخمکه راپریوځی او یا دې ته ورته په نورو ارکانو کې بل کوم مشکل لری نو هغه رکن بیا وربانذی فرض نه دی ،کولای شی په ناسته لمونځ وکړی، که د سنت طریقې سره سم کښیناستلی شی، مثلا لکه التحیات باندی چې عام خلک کښینی ،خولابنه ده، کنه نو چې څنګه کښینستی شی هغسی صحیح ده، که د لږ وخت لپارهٔ دریدای شی د ډیروخت لپاره نه، نو بیا دی لمونځ په ولاړه شروع کړی چې څومره دریدای شی ودی دریږی، له هغه وروسته دی کښینی، حتی که یوازی تکبیر تحریمه ویلای شی، په ولاړه هم سمه ده، په ولاړه دی ووایی، که ئې دومره توان درلودی خو ونه دریدی، نو لمونځ صحت نلری، همداراز که د څه شی په وسیله ولاړیدای شی، لکه لکړه تکیه، یو بل سړی او داسی نور بیا هم لمونځ په ولاړه اداء کول پکار دی.

(درمختار، ردالمحتار وغیره، منیری ص۱۴۳، علم الفقه ص۱۳۲، هدایه ص۱۰۸ ج۱، شرح تکیه ص۱۱۲ ج۱، کبیری ص۲۱۴)

مسئله : که چیری یو سړی د ډیر کمزوری وی په ولاړه لمونځ په داسی حال کې کولای شی چې د ولاړی په وجه تنفس نشي وهلای او آواز ئې بندیږی، قرائت نشی لوستلای، نو دې ته هم پکار ده چې لمونځ په ناسته وکړی، او بل سړی بیا داسی ده چې دومره جامې ورسره وی چې که په ولاړه لمونځ کوی، بدن ئې نه وربانذی پټیږی مګر په

ناسته پتیدلای شی په دې صورت کې هم دا سړی لمونځ په ناسته نشی کولای په ولاړې به ئې کوی. (درمختار، شامی وغیره)

مسئله : که چیری یو څوک په ولاړه لمونځ کولای شی ، خو رکوع او سجده یاصرف سجده نشی کولای نو بیا دی نور لمونځ پوره کوی ، یوازې رکوع او سجده دې په اشاره سره کوی ، د رکوع په نیت دې سجدې ته سر زیات ټیټوی ، دا مکروه تحریمي ده چې یو شی راپورته کړی له تندی سره ئې سم کړی او بیا سجده وربانده ولګوی ، مګر که داسې یو شی وی چې خپله پرځمکه پروت وی خو له تندی سره برابر شی نو سجده پرې لګولای سی؛ څه حرج نشته.

مسئله : که چیری یو سړی دومره مریض وی چې په ناسته هم لمونځ نشی کولای نو بیا دی په پروتی په اشارې سره آداء کړی ، ترڅو ئې مخ قبلې ته سیده شی. خو که پرارخ پریوزی هم درسته ده په دې شرط چې مخ ئې قبلې ته وی ، او په سر سره به د سجدې او رکوع اشاره کوی ، په سترګو او یا مخ سره اشاره کافی نه دی. (درمختار وغیره)

که داهم شونې نه وی نو څنګه کیدای شی ، او ممکنه آسانتیاوی ، پر هغه طریقه دی لمونځ اداء کړی. (عالمگیری ص۱۳۲ ج۱، کتب الفقه ص۲۰۰ ج۱، درمختار ص۷۰۲ ج۱)

مسئله : که چیری یوه ښځه د ولادت په وجه په درد اخته وی ، مګرحواس ئې پرځای او بی هوښه نه وی ، نو پکار ده چې د هرژر لمونځ اداکړی ، تاخیر ونکړی ، داسې نه چې نفاس راپیداشی او لمونځ ورځنی قضاء شی ، که په ولاړه لمونځ کولو کې دا ویره وی چې ماشوم به پیداشی او صدمه به ورته ورسیږی نو په ناسته دی لمونځ وکړی. همدارنګه که د ماشوم نیمه برخه پیداشوي وی او نیمه

لاپاتې وي مګرنفاس لانه وي پیل شوی نو په دې صورت کې به هم لمونځ کې تاخیرنه کوي ، په ناسته ناسته دې لمونځ وکړي ، په ځمکه کې دې ورو کې غارغوندې ځای جوړ کړي و ترڅو د ماشوم سر هلته کښیږدي ، کـه دا هـم نشـي کيـدلی نو پـه اشـاره دې لمـونځ وکـړي (خزانة الروایات وغیره) که چیرې ئي ونکړی نو د دې لمانځه قضاء وربانډې شته ــ رفعت قاسمی)

مسئله : که چیرې یو مریض داسې وي چې د سرپه اشارې سره لمونځ نشي کولای نو بیا دې پریږدي ترڅو جوړشي او قضاء دې راوړي ، خو که دا حالت تر پنځو لمونځو نو ورزیات شي نود دې لمونځونو قضاء هم بیا وربانډې نشته ، لکه چې د قضاء په بیان کې دا خبره تیره شوه .

مسئله : کـه کـوم نـاروغ تـه پـه لمانځـه کـې د رکعتونـو شـمېرنه معلومیږي نو پرده باندې هم د صحت تر وخته لمونځ نشته بیـادې قضاء راوړي ، مګر کـه څوک بل سړی ئي ورتـه وایـي او دی لمـونځ کوي دا هم جائزه ده . او دا د هغه چالپاره ده چې د سپین ږیرتوب پـه وجـه ډیـر زیـات کمـزوری شـوي وي ، تـردې چـې مخبـوط العقـل ګرځیدلی وي ، یعنـې د دویـم سړي پـه وینـا سـره د ده لمـونځ صـحت لري ، خو کـه دویـم سړی ورتـه پیدا نشـي او پرخپـل غالـب ګمـان عمـل وکړي هم جواز لري ورته . (نفع المفتي)

مسئله : که چیرې یو سړی په لمانځه کې نا روغ شي ، نو پاتې لمونځ چې په څه طریقه کیدای شي پوره دې کړي ، مثلا ولاړ وي ، دا توان ئي له لاسه ورکړ ، نو پـه ناسـته دې لمـونځ وکـړي او کـه پـې د رکـوع او سجدې توان ختم شـو نـو پـه اشـارې سره دې پـوره کړي او کـه بـه

ناستی لمونځ کوي او دا توان یې هم ختم شو په پروتی دې لمونځ پوره کړي.

(علم الفقه ص۱۲۸ ج۲، هدایه ص۱۰۹ ج۱، شرح نقایه ص۱۱۸ ج۱، کبیری ص۲۶۹، درمختار ص۷۰۶ ج۱)

مسئله : د پورتنی مسئلې بالعکس که یو مریض دلمانځه په حالت کې جوړ شي، یعنی پر قیام، رکوع او سجده تولو باندی قادر شی نو باتی لمونځ به په ولاړی پوره کوی، که چیری ئې منځکی د نه قدرت په وجه په اشارې سره رکوع او سجده کړی وی، بیا جوړ شی هغه لمونځ ئې فاسد دی له سره به په ولاړه لمونځ راګرځوی.

(علم الفقه ص۱۲۸ ج۲، هدایه ص۱۰۹ ج۱، شرح نقایه ص۱۰۸ ج۱، کبیری ص۲۶۹)

مسئله : که چیرې د قرائت د درازوالی په وجه ځینی کسانو ته په ولاړه تکلیف رسیږی دریدای نشی نو دغه څوک که پر دیوال، درختــه او یا لکړه تکیه ولګوی، څه کراهت نلری، د تراویحو په لمانځه کې اکثرا دغه ضرورت را منځ ته کیږی، خو په داسی حالت کې چې خوب ورنشی، که نه او دس ئې ماتیږی. (شامی وغیره)

مسئله : په نفلی لمانځه کې لکه څنګه چې ئې په پیل کې د ناستی او ولاړی اختیار لری، همدا راز د لمانځه په نیمائي کې هم کولای شی کښینی او لمونځ پسی پوره کړی، په دې کې هیڅ کراهت نشته.

(درمختار وغیره، علم الفقه ص۱۲۹ ج۲)

انسان څه وخت معذور بلل کیږی؟

مسئله : ځینی وخت د څاڅاڅکی څاڅکی، پیشاب یا بولی راځي، مګر د لمانځه ټول وخت نه کښیباسی، دومره وخت پیدا کیږی چې د پاکی په حالت کې لمونځ ادا کړای شی، نو دی معذور نه بلل

کیږی،ده ته پکار ده چې د څاڅکو د ریدلو انتظار وکړی ، بیا دې اودس تازه کړی او لمونځ دې وکړی ، که د لمانځه پرمهال د قطرو راتللو شبه وی، نولمونځ دې په منځ کې پرېږدی او هغه ځای دې وګوری چې لوند شوی وی ،نو دی هغه ځای او شرمګاه پریمنځی اودس دې تازه کړی بیا دې لمونځ له سره پیل کړی ، او که شبه دغسی ورپیدا شوی وی یعنی له کتلو وروسته ورته معلومه شی چې پرجامه باندی لوندوالی او څاڅکی نشته. نو آینده دې د دغسی شبهی پروا نه کوی ، بلکه د اوداسه پرمهال دی پرېرتاګه باندی دلاسو په ګوتو سره اوبه وپاشی چې د اد شبهی دختمولو یوه طریقه او علاج دی.

او که چیری دا قطره ځي راځی دومره موقع نه پیدا کیږی چې د پاکی په حالت کې لمونځ اداکړی، نودی معذور بلل کیږی. د داسی معذورلپاره پکار ده چې د هر لمانځه لپاره نوی اودس وکړی نوی جامی واغوندی ، فرض ، سنت ، واجب نفل هرلمونځ چې وغواړی کولای شی ،ترڅو چې د دغه لمانځه وخت پاتی وی ، او دس ئي نه ماتیږی په قطرې راتللو سره ، مګر که له څاڅکی پرته بل کوم ناقض وی ، هغه اودس ماتوی.

مسئله : که څه هم د لمانځه په حالت کې دپیشاب قطره پرجامه په ښکاره توګه ښکاری ، د معذور ګڼلو په وجه شرعا له دې څخه معاف دی ، نو ځوک دا بهانه نشی کولای چې لمونځ ورځنی معاف دی ، د عذر په وجه ، داسی نه بلکی دغه عذر ورته معاف دی څو لمونځ نه.

(فتاوی رحیمیه ص۲۷۲ ج۲، بحواله مراقی الفلاح ...)

مسئله : د ښاځکې د راتللو د ویرې لامله که څوک پرځپل عضو مخصوص باندې پوټو کړ واچوي؛ لمونځ ورسره صحیح دی.
(فتاوی دار العلوم ص۱۲ ج۴، بحواله ردالمحتار ص۱۳۹ ج۱)

مسئله : که څوک په ناسته لمونځ کوي نو د رکوع مستحب طریقه دا ده چې نس دومره کوږ کړي چې تندی له ګونډو سره مقابل شي ، د ورنو د راپورته کولو اړتیا نشته. (فتاوی رحیمیه ص۲۹۹ ج۴، شامی ص۴۱۶ ج۱)

مسئله : د ناستې د لمانځه په وخت کې د قرائت پرمهال پرځای د دې چې د سجدې ځای ته ګوري ؛ ښه دا ده چې خپلې غیږې ته ګوري.
(فتاوی محمودیه ص۱۵۷ ج۲ بحواله شامی ص۳۲۱ ج۱)

مسئله : د معذور سړي د سجدې لپاره پکارنه ده چې تکیه او یا بل شی لوړ ورته کېښودل شي ترڅو دی سجده ورباندې ولګوي ، که د سجدې قدرت نلري نو په اشاره دې سجده کوي ، د تکیه او بل شي د ایښودلو ضرورت نشته. (امدادالاحکام ص۱۹۸ ج۱)

د معذور په اړه مسائل

مسئله : څوک چې په ولاړه نفل لمونځ کوي او په منځ کې ستړی شي نو کولای شي چې کښېني او یا هم په ولاړه پرکوم دیوال ، لکړه او یا بله تکیه باندې ځان واچوي او پاتې لمونځ پسې پوره کړي. ذا د ده په حق کې عذر دی ، څوک چې بې له عذره کښېني نو دا مکروه ده.
(هدایه ص۱۰۹ کبیری ص۲۷۱)

څکه چې نفل کوونکی په هرحال بې له کراهت په ناسته نفل کولای شي ، حتی چې په مینځ کې هم د عذر لامله کښېناستلای شي.
(درمختار ص۲۰۶ ج۱)

مسئله : که څوک په اورګاډي او یا بل داسې شي کې سفر کې لمونځ په ولاړه نشي کولای نو په ناسته دې وکړي څه حرج نشته. (درمختار ص۲۰۶ ج۱)

مسئله : که یو ګوډ سړی وي په ولاړه لمونځ نشي کولای ، نو هغه ته پکار ده چې په جماعة کې د صف په یوه کونج او کناره کې کښینې او لمونځ وکړي دا جائزه ده (امدادالاحکام ص۵۲۵ ج۱)

مسئله : څوک چې په ناسته هم لمونځ نشي کولای نو په پروتې دې په اشاره سره وکړي. او د مریض لپاره سنت او نفل کول ضروري نه دي ، که کولای ئې شي ، بهتره ده کنه نو هیڅ ګناه نشته ورباندې. (فتاوی دارالعلوم ص۲۴۰ ج۲، ردالمحتار ص۲۱۲ ج۱)

مسئله : که یو چا پرزخم باندې داسې پټی لګولي وي چې هغه په شرابو او یا بل د ول نجس مرهمو باندې ککړه وي ، او لمونځ ورسره وکړي ، لمونځ ئې کیږي څه حرج نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۲۴۰ ج۲، ردالمحتار ص۲۱۱ ج۱)

منسئله : که د ریاح مریض (هغه چې هوائې خارجیږي) شرعي معذور وي ، یعنې په هر حالت کې ئې ریاح جریان لري د طهارت (پاکۍ) یوه شیبه هم نه ورته پیدا کیږي ، نو د هغه لپاره دا جائزه ده چې یو ځل اودس وکړي ، په وخت کې دننه لمونځ کولای شي که څه هم په لمانځه کې هوا خارجیږي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲۲ ج۲، ردالمحتار ص۲۸۰ ج۱، فتاوی محمودیه ص۱۳۲ ج۲)

مسئله : څومره چې ئې طاقت وي د هغه سره سم دې لمونځ اداء کوي ، که د ولاړې وس ئې نه وي ، نو په ناسته او که د ناستې وس ئې نه وي نو بیا په پروتې لمونځ کولای شي ، مطلب دا چې تکلیف د وسعت په اندازه دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲۶ ج۲)

مسئله : که له مریض سره بل کوم څوک نه وی او دی خپله قبلې ته مخ نشی کولای ، نو چې کوم اړخ ته ئې مخ وی هغې خواته دې په پروتې په اشاره لمونځ اداء کړی (کتب الفقه ص۳۲۴ ج۱)

مسئله : که چیری یو داسې مریض وی چې سلسل البول وی. (یعنی بولی ئې جاری وی) او ده ته دا وېره او اندیښنه وی چې که په ولاړه لمونځ کوی نو بولې ئې تویږی او په ناسته نه توئیږی او همدارازیو روغ سړي ته د خپلې تجربې له مخې دا څرګنده وی چې که په ولاړه لمونځ کوی نو سر ئې چکر کوی او یا بې هوښی وربانډی راځی ، نو په دې صورتونو کې لمونځ په ناسته کولای شی ، څه حرج نشته ، خو دا باید وویل شی چې په دې ټولو صورتونو کې رکوع او سجده او نور ارکان په مکمل ډول اداء کول واجب دی (کتب الفقه ص۸۰۲ ج۱ فتاوی رحیمیه ص۱۹۵ ج۱).

مسئله : که یو څوک د یو شی په وسیله دریدای شی او لمونځ کولای شی . لکه لکړه ، دیوال ـ او یا بل داسې شئ ، نو هغه سړی دی د دغه شي په مرسته په ولاړه لمونځ وکړی ، په ناسته ورته اجازه نشته ، همداراز د ناستې او پروتې هم همدا مسئله ده ، لکه د ولاړې او ناستی.

(کتب الفقه ص۸۰۲ ج۱ امداد الفتاوی ص۲۵۱ ج۱ ، درمختار ص۷۰۱ ج۱)

څومره چې ممکن وی بې له کومې پریشانۍ دې لمونځ اداء کړی

رفعت قاسمیؒ)

مسئله : که یو سړی داسې مریض وی چې یوازې په سترګو ، بانوګانو او یا په زړه سره اشاره کولای شی ، نو رڅه نشی کولای نو په دې حالت کې دا سړی معذور بری الذمة متصور کیږی ، لمونځ که کوی هغه صحت نلری ، که څه هم عقل ئې پرځای وی ، او که په دې

حالت کې ئې لمونځونه ترېنځو ورزيات شي. نو بيائې قضاء هم ورباندې نشته. (کتاب الفقه ص۶۸ج۱)

مسئله : که يو سړی پرقيام قدرت لري ، ولې رکوع اوسجده نشي کولای نو پردغه سړي قيام هم لازمه نه ده ، دی به کښيني په ناسته به په اشاره لمونځ کوي. (هدايه ص۱۰۹ج۱، کبيری ص۲۶۶کتاب الفقه ص۶۰۸ج۱)

له سجدې اورکوع څخه د معذرت حکم

مسئله : که څوک له رکوع ياسجدې څخه معذور وی ، کولای ئې نشي نو هغه دې په اشاره سره اداء کړي.

مسئله : که يو سړی قيام او سجده کولای شي خوصرف رکوع نشي کولای ، نو هغه ته پکار ده چې نيت وتړي او د قرائت لپاره ودريږي او بيادې رکوع محض په اشاره سره وکړي ، او سجده دې مکمله کړي.

مسئله : که يو سړی قيام کولای شي ، ولی د رکوع اوسجدې څخه عاجز وی نو تکبيرتحريمه اوقرائت دې په ولاړه ووايي اود رکوع اشاره دې هم په ولاړه وکړي ، بيادې کښيني او سجده دې په اشارې سره پوره کړي. (کتاب الفقه ص۸۰۵ج۱)

مسئله : که يو سړی داسې زخمي وی چې په سجده کې وينه څنې بهيږي او په ناسته کې ورته داستونزه نه وی ، نو د ده لپاره ښه دا ده چې کښيني او د سر په اشارې سره سجده وکړي. ځکه چې په دې صورت کې اودس پرځای وی ، صرف سجده له منځه ځي ، او له سجدې پرته لمونځ په شريعت کې شته ، مثلا پرسواری باندې لمونځ چې عذر وی ، سجده پريږدی هيڅ حرج نشته. (د:مختار ص۶۵ج۱کتاب الصلاة)

هغه مریض چې رکعتونه او ارکان نه ورپه یاد پاتې

مسئله : که چیرې پریو ناروغ باندې د ناروغۍ په وجه داسې حالت راشي چې د رکعتونو شمیر ورڅخه ګډوډ کیږي، چې څو رکعتونه ئې اداء کړي او څو پاتې دي، یا سجدې ورځنې هیرې شي او یا نور ارکان، نو په دې صورت کې پرده باندې لمونځ اداء کول لازم نه دي، خو که د بل چا په هدایت او ښوونه ئې اداء کوي بیا څه حرج نشته، لمونځ ئې کیږي. (درمختار ص۲۰۳ ج۱)

د سترګو په اشاره لمونځ کول

مسئله : مجبور سړي د سر په اشارې سره بې له شکه لمونځ کولای شي، مګر د سترګي، زړه او مخ په اشارې سره لمونځ نه کیږي. (درمختار ص۲۰۲ ج۱)

مسئله : که د یو سړي دواړه لاسونه ترمړوندو پورې او دواړه پښې ئې ترپونده یو پورې قطع شوې وي، او پرمخ ئې هم زخمونه وي، نو دا سړی پرته له اوداسه او تیمم څخه لمونځ کولای شي، او راګرځیدل هم ورباندې نشته. (درمختار ص۸۰-۲ ج۱)

که چیرې ئې لاسونه ترمړوند کښته یعنې لږ پرې وي نو بیا په هغه صورت کې څوک موجود وي نو د هغه په وسیله ئې دلاسو پریمنځل ورباندې واجب دي، او که نه وي نو ضروري نه ده. (محمد رفعت قاسمي غفرله)

د لیوني او بې هوښه سړي د لمانځه حکم

مسئله:کوم سړی چې لیونی شي اویابې هوښې ورباندې راشي پوره ۲۴ساعته په همداسې حالت کې وي، نو د بې هوښې په ختمیدلو سره د تیروشویو لمونځونو قضاء ورباندې لازمه ده. او که دغه حالت ئې ترشپږم

لمانځه هم ورواړوی ،نو بیا ئي قضاء وربانلدی نشته . (درمختار ص۷۰۲ج۱، کتب عت ص۲۸۸ج۱)

د بنګو یا شرابو په وجه د عقل د له مینځه تللو په صورت کې د لمانځه حکم

مسئله : که چیری د شرابو یا بنګواو یا داسی بل دوایی او یا نشیئ شی په خوړلو سره د سړی عقل له مینځه ولاړشی ، نو پرده باندی د هغولمونځونو قضاء شته چې د بې عقلئ په زمانه کې ورڅخه فوت شوی وي ، که څه هم عمر ئې ښه دراز شی ، ځکه چې دا دعقل زائلیدل د ده پخپل فعل شوی دی ، لکه چې یو سړی ویده شی د خوب په وجه چې هرڅومره لمونځونه قضاء شی راګرځوی به ئې، ساقطیږی نه ، نو همدارازکه څوک شی وخوری ، او د هغه په وجه بې هوښه شی نو پخپل لاس ئي داکار وکړ ، لهذا لمونځ ځنی ساقط نه دی ، راګرځوی به ئي. (درمختار ص۷۰۸ج۱)

د ناروغۍ په وخت کې د روغتیا د وخت قضائی لمونځونه راګرځول

مسئله : که یو مریض د مرض په وخت کې خپل هغه لمونځونه راګرځوی چې د جوړتیا په وخت کې ورڅخه قضاء شوي وی ،څرنګه چې دی د خپلې ناروغۍ په وجه لمونځ په ناسته یاپه اشاره کوی نو هغه قضائي لمونځ که څه هم په همدی شکل اداء کوی ، دا صحت لری ؛لمونځ ئي کیږی. ولی برعکس که دی د جوړتیا په وخت کې د ناروغۍ د وخت قضائي لمونځونه راګرځوی نو دا صحیح نه ده چې په ناسته او یا په اشاره به ئي راګرځوی ، ولی چې قضاء شوی همداسی دی ، دا له دي امله چې اوس خوده ته هیڅ عذر نشته.

(درمختار ص۷۲۸ج۱کتاب الصلاة)

د مریض او معذور قبله

مسئله : د هر هغه چا څخه چې د مرض او په بلې وجې سره د لمانځه ارکان ساقط وی ، د هغوی تولو قبله هغه طرف دی چې تروس ئي لاندی وی ، یعنی هرلوری ته چې مخ وی اوبلی خواته نشی کیدای ، همغه ئي قبله گڼله کیږی ، یعنی لمونځ ئي هغه لوری ته صحت لری ، دوی ته دا لازمه نه ده چې قبلی ته به سیده دریږی ، او په هغه صورت کې چې بل څوک ورسره وی ، او قبلی ته ئي هغه مخامخ کولای شی ، بیا هم پر دا لازمه نه ده چې دهغه په وسیله به خان هرومرو قبلی ته سعوی. (درمختار ص۲۸ ج۱، عالمگیری ص۵۶ ج۲)

که څه هم استقبال القبلة د لمانځه اهم شرط دی ، مگر فقهاؤو دا په صراحت سره ویلی چې د عاجز لپاره داکافي ده چې پرکوم لوری ئي قدرت درلودی.

مسئله : که چیری تر مریض لاندی ناپاکه جامه غوړیدلی وی او حال هم داسی وی چې کله هم کالی تری لاندی خپور شی ، هغه مردار یږی ، نو په دغه حالت کې دی دی خپل لمونځ وکړی ، او که چیری تر دغه کالی لاندی بستر خراب نه وی ، مگر دهغه په بدلولو رابدلولو کې مریض ته تکلیف رسیږی نو دی بستر نه بدلوی ..(فتاوی عالمگیری ص۵۶ ج۲)

مسئله : د یو ناروغ که دمجبوری په وجه همیشه جامې ناپاکې وی او په پاکو ئي بدلولای نشي نو څه باک نلری ، لمونځ ئی صحیح دی. (البته که بی له مجبوری ني جامه ناپاکه وی اودی ئې نه بدلوی ، نود دې لمانځه قضاء وروباندی لازمه دد.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۳۲ ج۴، ردالمحتار ص۲۸۱ ج۱ باب احکام المعذور)

مسئله : د یخنی اویا بل علت په وجه یو مریض ټول بدن او مخ څادر
یابل دغسې شئ پټ کړی وی ؛ لمونځ ئې صحیح دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۲۳ ج ۲، ردالمحتار ص ۲۸۰ ج ۱ باب شروط الصلوة)

که د یو بې لمانځه سړي له لوري څوک فدیه ورکړي څنګه به وي؟

مسئله : د میت (مړی) له وصیت او مال پریښودل پرته پر وارثانو هیڅ
دول کفاره واجب نه ده. مګر که ئې تبرعا اداء کړی، بهتر کار دی،
او ډیر ښه دی، کیدای شي د دې په سبب ئې الله تعالی ګناهونه
وبخښي، په دې فدیه کې څه حرج نشته، که څه هم یقین ئې دا نه وی
چې په دې فدیه سره به هغه میت برائت پیدا کړی مګر امید به ئې
وی، په هر حال لمونځ پرېښودل یوه عظیمه ګناه ده، پوښتنه به ئې
هرمرو کیږی، خو معافی او ښښنه ئې هم د الله پاک په واک کې ده: «و
یغفر مادون ذلک لمن یشاء» (فتاوی دارالعلوم ص۳۶۵ ج ۴، ردالمحتار ص۵۸۸ ج ۱ باب قضاء الفوائت)

که چا د وصیت سره سره فدیه ورنکړه نو؟

مسئله : که چیری د میت (مړی) د وصیت او مال پرېښودلو باوجود
د هغه وارثین د مال دریمه برخه پوره فدیه ورنکړی نو بې له شکه چې
هغوی ګناه کار دي، او میت هم له اخروی مؤاخذې نه خلاصیږی،
تر څو ئې الله تعالی ونه بخښي له خپل فضل او کرم څخه.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۶۸ ج ۴، ردالمحتار ص۶۸۵ ج ۱، باب قضاء الفوائت فتاوی محمودیه ص۹۸ ج ۷)

د لمنځونو فدیه څومره وي؟

مسئله : د لمانځه کفاره به د سړی له مړینې وروسته د هغه وارثان
ورکوی، په ژوند کې د کفارې حکم نشته. او د کفارې اندازه دا ده چې
پاو کم ۲ سیره غنم به ورکوی. (یعنی یوه کیلو ۲۳۳ ګرامه) په شپه او

ورځ کې به د سپږو لمونځونو ورکوی، سرد له وترو، نو په دې حساب سره د یوې ورځې د لمونځونو کفاره (۹کیلو ۷۹۸ گرامه) شوی. نور دې خپله اختیار لري، غنم ورکوی او که نغدې پیسې، نه او افضل کار دادی چې نغدې وی، ځکه چې په هغه سره د سړي توني اړتیاوې پوره کیږی، که دیني کتابونه واخلی او پرمستحقینو ئې وویشی دا هم نه صورت دی. مګر په دې کې لازمه خبره دا ده چې هغه کتابونه به بیا ضرور پر ډیرو اړو طالبانو ویشی او هغه ئې پخپل ملکیت سره قبول کړی، داچې ځینې خلک ئې پردیني مدرسو ویشی او هغوی ته ئې وقف کوی، دا طریقه جواز نلری، کفاره نه اداء کیږی. (ملکیت پکې ضروری دی). (فتاوی دارالعلوم ص۳۶۴ج۴، فتاوی محمودیه ص۵۰ج۱۳)

مسئله: د فدئې د مصرف ځایونه همغه دي چې د زکوة اوصدقة الفطر دی، او ډیر مستحق په دې کې هغه څوک دی چې ډیر اړ وي، لکه یورورې اوداسې نور. او که ئې په مدرسه کې په دې شکل مصرف کړي چې مستقیما د طالبانو په ملکیت کې ورکړی نو دا هم نه مصرف دی. او که ئې د مدرسې بیت المال ته په داسې بنه لیږی چې ملکیت ئې ناڅرګند وی، نو دا جائز نه ده. (فتاوی دارالعلوم ص۳۶۹ج۴)

د مریض په ژوند کې د لمونځو فدیه ورکول څنګه دی؟

مسئله: شیخ فاني (هغه څوک چې د عمر أخیری پوړیو ته ورسیږی) کولای شی پخپل ژوند کې د روژو فدیه ورکړی، مګر د لمانځه فدیه نشی ورکولای، دا صحت نلری. او لمونځ ئې له ذمې څخه نه ساقطیږی ځکه چې په لمانځه کې دا وسعت شته چې که په ولاړه ئې نشی کولای، نو په ناسته دې وکړی، او که په ناسته ئې نشی کولای

نو په پروته دې وکړي او که رکوع او سجده هم نشي کولای په اشاره دې وکړي ، البته له مرګه وروسته ئې چې پرذمه څومره لمونځونه پاتې‌شي یا روژې پاتې شي او د فدیې ورکولو وصیت وکړي ، او مال ئې هم پرې اینبې وي ، نو پروارثینو ئې دهغه فدیه اداء کول ضروري دي ، او حکم ئې د زکوة دی ، چې تملیک پکښې ضروري دی ، او مستحقین ئې ارکسان دي ، او که په دیني مدارسو کې طالب العلمانو ته ورکول شي ، نو دا لا بهتره ده ، او ثواب ئې زیات دی ځکه چې دا د دین پخاطر او د دیني علومو لپاره د طالبانو مرسته ده.

(فتاوی دار العلوم ص۴۳۸ ج ۴ بحواله هداه ص ۲۰۲ ج ۱ کتاب الصوم)

مسئله : په توبې او یا حج سره صرف ګناه معاف کیدلای شي ، ولې فرائض نه معافیږي ، مثلا یو سړی پوروړی وي د چاقرض ئې پرذمه وي ، نوورکول ئې ورباندې فرض دي ، اوس که دې توبه وباسي او یا حج وکړي نو له فرض خلاص نسو ، بلکې لاهمغسې ورباندې فرض دي ، لکه چې ترتوبې او حج وړاندې ئې پرخان فرض ګانه.

همدارنګه د حقوق الله هم چې کوم قرض دي ، لکه لمونځ او داسې نور... په اداء کولو سره ئې سړی له مسئولیته خلاصیږي ، په توبې او حج سره نه ، بلکې په دې سره صرف د لمانځه تأخیرچې یو معصیت دی ؛ معاف کیدای شي ، ولې لمونځ لابیاهم ورباندې لازم دی ، که چیرې ئې په قضاء راوړلو کې بیاتأخیروکړ ، نو بیاله سره په ګناه اخته شو. (فتاوی دار العلوم ص۳۳۷ ج ۴ ، شامي ص۶۷۶ ج ۲)

مسئله : د قضائی لمونځونو کفاره د هغوی راګرځول او د الله تعالی په وړاندې د پښیمانۍ اوندامت سره توبه کول دي ، صدقه ورکول

کفاره نه ده ، مگر دومره ده چې په صدقه سره د الله تعالی قهراو غضب (چې د لمانځه د ترک په وجه چې بنده ته راغلی وی ؛) په رحمت د بدلیدو امید شته ، چې بنده د خپل عجز او قصور څرگندونه په دې سره وکړی چې نو رو اړو بندگانو ته له خپل مال څخه څه ورکړی ، نو الله هم وربانـدی مهربان شی او ترگناه ورتیرشی ، نو د همدې امید او هیله په صدقه او خیرات کې شته ، باقی صدقه کفاره نه ده . بلکی پخپله د لمانځه ادا ینه او ربښتینی توبه ئې کفاره کیدای شی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۵۲ ج۴)

مسئله : د لمانځه او روژې قضاء صرف په توبه سره معاف کیږی نه ، بلکی قضاء راوړل ئی هم وربانـدی لازم دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۶۲ ج۴، ردالمحتار ص۶۸۰ ج۱).

توبه او صدقه صرف د تأخیر او دلمانځه ذ بې وخته کولو د معصیت کفاره کیدای شی.-ژباړن

د اسقاط حیله

سوال : د اسقاط حیله جوئي په دې شکل ترسره کیږی ، چې د جنازې د لمانځه نه مخکی یا وروسته د اوربشو یو من ، نغدی پیسی لږ تر لږه پاو بالا یوه روپۍ او قرآن شریف. یو څوک ئې پخپل لاس کې گرځوی او هغه څوک چې جنازې تـه راغلی وی ، هغوی تـه ئې ورکوی او هغوی ئې هم د حیلې په توگه ځنی رانیسی او وائي چې ماقبوله کړی اوبیرته ئي درکوم. د حیلې جوړونکی او ورکوونکي غرض هم دادی چې په دی توگه د میت ټول قضاء شوی لمونځونه روژې ، حجونه

اوداسې نور عبادات فوت شوي وي ؛ د هغوی کفاره ګرځي ، نو آیا داځه حکم لري ؟

جواب : د اسقاط دغه ذکرشوې حیله د میت پر وارثانو واجب نه ده ، او د دې خبرې وصیت هم فقهاء کرامو جائز نه دی ګڼلی.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۳۰ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص ۶۲۹ ج ۱)

بیلابیل مسائل

په هغه ملک یا سیمه کې چې شپې لنډې وي ؛ د لمانځه حکم څنګه دی ؟

پوښتنه : په ځینو هیوادونو کې لکه برطانیه په تولییزه توګه د هغه په شمالي برخه کې اکثرا د ګرمیو په شپوورځو کې د ماخستن وخت پر ۱۱:۳ یولس بجې او درې دقیقې پیل کیږي او سپیدی بیا پر ۱:۴۲ یوه بجه ۴۲ دقیقې راخیژي ، ګویا د شپې اندازه ۲ ساعته او ۴۳ دقیقې کیږي. اوس که څوک د وخت له شروع کیدو سره ، سم آذان وکړي ۱۴ یا ۱۵ دقیقې وروسته لمونځ هم کیږي ، په دومره لنډ وګنډ وخت کې د پیشلمې خوراک ، څښاک ، مسجد ته تلل او نور ټول ضرورتونه پوره کول ډیر ګران کار دی ،نو اوس په داسې حالت اوصورت کې څه کول پکار دي ؟

جواب : عزیمت خو دا دی چې د سنت مطابق تراویح په پوره توګه سرته ورسوی او یو ځل قرآن پاک پکښې ختم کړي ، همدا راز نور عبادات هم په صحیح ډول پوره کړي ، او ټوله میاشت په مجاهده او مبارزه کې په ریښتیني ډول تیره کړي ،آماکه بیا چیری مجبوري او عذر وي مثلا ، کمزوري ، ناروغي ، ملازمت (دنده) او یا بله

اړتیا ورته وي نودې بیا د «الم ترکیف» سورتونو باندې لنډې ۲۰ رکعته تراویح وکړي، که نې د دې توان او موقع هم نه لرله نوډ فرض او وترو ترمنځ دې صرف ۸ رکعته تراویح اداء کړي.

سوال: په سکاټ لینډ او ځینو نورو داډول ځایونو کې چې د کال په څو میاشتو کې مثلاً د مئ جون او جولائي پورې له سپین شفق وروسته ماښام کیږي او پرصبح صادق بیرته سپین والي راوغوړیږي چې د ډیری روښانتیا لامله د ماختن وخت او د سهار اخیري وخت معلوم ول ځرنګه کیدای شي، او لمونځ په څه ډول او څه وخت کې باید اداء شي؟

جواب: که څه هم ډیری احنافو فقهاؤ د سره شفق ترلویدلو ورسته د ماختن ابتداء بللې ده، ولې ځینې محققین فقهاء بیاد سره شفق ترلویدلو ورسته د ماختن شروع بولي، نو په همدې آساس په مذکوره حالت کې باید د سره شفق له لویدلو سره سم د ماختن ابتداء وبلله شي او د صبح صادق د بیاض (سپین والی) ترپیل کیدلو وړاندې د ماختن لمونځ اداء کړل شي، او همدارنګه په روژه کې هم د ماختن د فرضو او وترو په منځ کې د صبح صادق د سپین والي تر راڅرګندیدلو مخکې د تراویحو د اداء کولو کوښښ وکړي.

که د شلو رکعتونو موقع د «الم ترکیف» په سورتونو ویلو هم پیدا نشي؛ نو ۸ رکعته دې وکړي او که چیرې د دې موقع هم پیدا نشي، نودې بیاخپل فرض او وتر اداء کړي.

او د آداء په نیت بدنې آداء کوي، لکه د بلغاریه د اوسیدونکو د ماختن د لمانځه د آداینې په اړه په بحث کې فقهاؤ ویلي چې که

چیرې چې شفق ترختمیدلو مخکې صبح صادق شروع شي، او د ماخستن لمونځ ته وخت پیدا نشي، هلته هم د ماښام د لمانځه څخه څه وقفه وروسته بیا د سهار راختو ترمنځ به د ماخستن فرض او وترد اداء په نیت کول راجح دي. (نظام الفتاوی ص۴۲ بحواله شامی ص۲۷۵ ج۱)

چیرې چې بیخي د ماخستن وخت پیدا نشي نو د لمانځه حکم څه دی؟

په برطانیه کې د میلادي کال په حساب دمئ د میاشتې له ۲۲ مې څخه د جولائي تر ۲۱ مي پورې په دغو دوو میاشتو کې شپې صرف ۴ ساعته وي، په دغه ورځو کې شفق بیخي لویږي نه نو په دغه حال کې د لمانځه حکم څه دی؟ چې د ماخستن وخت د شفق ترلویدلو وروسته پیل کیږي، نو د دالاندې ذکرشویو خبرو تفصیل که راته واضح کړي:

۱- چیرې چې د ماخستن وخت وي نه، هلته د ماخستن لمونځ فرض دی؟

۲- که فرض وي نو څه وخت به ئې کوي؟

۳- آیاد لمر ختو وروسته ئې قضاء راوړي؛ که چیرې ئې قضاء راوړي پرمقرر وخت دې آذان، اقامت او په جماعة سره آداء شي؟

جواب: په دې مسئله کې ډیر زیات اختلافات او تفصیلات موجود دي، خو خلاصه او لنډیزئې داسې ده چې که څه هم د ماخستن وخت نه وي، خو لمونځ ئې فرض ده، اودلیل ئې داده چې الله تعالی پنځه وخته پرخپلو بندګانو لمونځونه فرض کړي هرچیرې په هر وخت او په هر حال کې چې وي، لکه چې په (حدیث دجال) کې چې وارد دي چې یوه ورځ به ئې د ټول کال سره برابره وي، صحابه کرامو عرض

وکړ چې د لمونځو په اړه څه حکم دی؟ (په دغه ورځ) آنحضرت ﷺ وفرمایل چې په دغه ورځ به دټول کال لمونځونه اداء کوی.

(فتاوی دارالعلوم ص۱۶ج۲، درمختارص۲۰ج۱ کتاب الصلاة)

۲-اوبل داچې که چیرې د ماخستن وخت پیدا کیږی خولږ؛ نو صورت

دادی: چې د ماښام نه لږ وقفه وروسته به د ماخستن لمونځ کوي، یاچې په خواوشا سیمه کې پرکوم وخت ئې خلک آداء کوی. هغه معتبردی، یوصورت دا هم دی چې د صبح صادق نه وروسته دي د ماخستن لمونځ وکړی، اوله هغه ورسته دي بیا د فجر(سهار) لمونځ وکړی. څکه چې په «درمختار» کې راځی، پرچاچې د ماخستن وخت رانځي نه، پرهغه هم د ماخستن فرض او وتر لازمي دي ، هغه دي دغه لمونځ دخپلی اندازې او اټکل مطابق آداء کړی یعني کوم وخت چې یې سم وباله په هغه وخت کې یې کولای شی، مطلب داچې په بل موسم کې چې کوم وخت ماخستن پیل کیده او له ماښام وروسته به څومره فاصله بعد د ماخستن لمونځ کیده دلته دې هم همغسې وکړی ، اویاچې په نورو ښارونو او ملکونو کې څنګه طریقه وي د همغسې عمل مطابق دی عمل کوی، او دماخستن په لمانځه کې به دقضاء نیت نه کوی، څکه چې قضاء هغه وخت بلله کیږی چې وخت پیدا شی اوبیا ورځنی فوت شی، نو دلته خو د ماخستن وخت بیخي پیدا شوی نه دی، نو قضاء له کومه شوه.

(درمختار مع شامی ص۳۲۵ج۱ وغیره)

۳-دا هم کیدلای شي چې ترلمر راختلو وروسته ني اداء کړی، مګر چونکه دماخستن او سهار ترمنځ بیاترتیب مشکل دی، نو پکارده چې ترصبح صادق وروسته او ترفجر وړاندی د ماخستن لمونځ په آذان، تکبیر او جماعة سره اداء شي.

مسئله: وتر به یوازی په روژه مبارکه کې په جماعة سره کیږی، بل وخت نشته په جماعة سره. (جوهر نیره ص۲۴ج۱، دتفصیل لپاره، فتاوی رحیمیه ص۱۹۲ج۲، فتاوی محمودیه ص۹۳ج۷نظام الفتاوی ص۵۹ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۴۲ج۲)

چیری چې شپږمیاشتی ورځ شپږمیاشتی شپه وي د لمانځه حکم څه دی؟

مسئله: په داسی ځای کې چې په پرله پسې توګه شپږمیاشتی لمرلویدلی وی اویاپوره شپږمیاشتی ورځ وی، یعنی لمرښیخی لوېږی نه، نو په داسی ځای کې انسانانو ته زندګي کول هم یوستونزمن کار وی، په هرصورت د عبادة یعنی لمانځه لپاره یې حکم داسې دی چې لمونځونه پرهرحال ورباندی فرض دی، په هرو څلورویشتو ساعتونو کې به د خپل حساب سره سم چې یوه شپه ورځ کیږی، لمونځونه به همغه حسابی ترتیب، یعنی وروسته ومخ ته اوپه معلومه فاصله به ئی کوی، چې له حدیث دجال څخه هم همداترتیب او مسئله رامعلومیږی اود شاه عبدالعزیز صاحب محدث دهلوی رح رجحان هم همداسی دی بیاچې مسلسل شپږمیاشتی لمروی او شپه راځی نه، نو هلته دی هم همغه مخکنی ترتیب جوړکړی په هرو څلورویشتو ساعتونو کې دیوې شپې اوورځی پنځه لمونځونه د اندازې مطابق اداء کړی همدارنګه دی

روژه هم په همدې ترتیب نیسي، لهذا داچې څنګه دنیاوي کارونه د یو حساب اټکل او اندازې له مخې ترسره کوي، خوراک، څښاک، ویده کیدل، راپاڅیدل، وظیفه اجراء کول، تجارة او نور کاروبار کول همداسې دې عباداة هم سرته رسوي. کله چې ئې یو ځل لمونځ وکړ، بیا که د همدغه لمانځه دوباره وخت راورسي، نو لمونځ به نه کوي ځکه چې یو وار خو اداء شو، مثلاً: که یو سړی د ماپښين لمونځ په مشرق (ختیځ) کې وکړي او بیا په یو ډیره تیزه الوتکه کې مغرب ته ولاړ شي، د لته لاهماغه ماپښين وخت او خلک د دغه وخت پر لمانځه وي، نو پروه یا . ی دغه لمونځ نشته، ځکه ده خو لا په مشرق کې اداء کړی و . (نظم الفتاوی ص۳۷ج۱، بحواله مسلم شریف ص۴۰۱ج او فتاوی دار العلوم ص۳۰ج۲)

په سپوږمۍ او مریخ کې د لمانځه حکم او طریقه

پوښتنه: په اوسنیو حالاتو کې چې خلک سپوږمۍ او یا مریخ ته د ختلو خبرې کوي او یا دا چې ور ختلي دي. نو اوس پوښتنه دا ده چې هلته لمونځ څه حکم لري، که صحت لري نو څنګه او پر کوم لوري به ئې کوي؟

جواب: که خاي پیداکیږي نو نه یوازې لمونځ بلکې جمعة هم کولای شي، قضاء کوي به ئې نه، د «قبله نما» په مرسته به قبلة ځان ته معلومه کړي، او که دا نه وي نو د خپلې تحرې (فکرې هڅې) په ملتیا چې هرې خواته ئې د قبلې ګمان زیات وي هغه لوري ته دې لمونځ وکړي، د تحرې په صورت کې که څه هم قبله واقعاً هغې خواته نه وي، بیاهم د د لمونځ صحت لري. که چیرې په طیاره کې پر سیټ «څوکۍ» ناست وي، د لمانځه وخت شي، نو که څه خلاص ځای

پیداکیږي چې هلته ولاړ رکوع او سجده کولای شي نو دي هلته وکړي او کنه نو په خپله څوکۍ کې دي په اشاره سره رکوع او سجده وکړي، بیاچې د (سپوږمۍ، مریخ او یا دنیا) پرځمکه راکښته شي، هغه فرض لمونځ به راګرځوي.

دانه یوازي چې د سپوږمۍ بلکې ،د زهره ، مریخ او نورو .. پرځمکه هم او سیدل او رسیدل شونتیالري او په دي کې هیڅ شرعي مانع نشته ، لمونځ او نورهرډول عبادات د ځمکې په څیر هلته هم صحت لري او کیږي ، همداراز ، فرضیت ، وجوب ، ثواب او عقاب همداسي دي .(نظام الفتاوی ص ۲۶ج۱)

خپل اولاد پر لمانځه مجبور کول

مسئله : ماشوم چې کله ئي عمر ۷ کالو ته ورسیږي ، نو والدینو (موراو پلار) ته پکارده چې هغه ته پرلمانځه کولو ډیر تینګار کوي ، ترڅو له لمانځه سره عادت ونیسي ، او بیاچې بلوغ ته نژدې یعنی د لسو کالو په عمرشي نو بیا دي تاکید ورباندي زیات کړي تردې چې تأدیبا دي څه ناڅه وهل هم ورکوي ، نه یوازي دي پرلمانځه تشویقوي ، بلکې د لمانځه ضروري ارکان او شرائط دي هم ورته ښيي .(مظاهر حق ص ۵۰۷ج۱، درمختار ص۸ج۱، کتاب الصلوة) .

حضرت عبد الله ابن مسعود رض فرمایي چې د ماشومانو د لمانځه څارنه کوئ ، او ښه خبرې ورزده کول ئي عادت وګرځوئ ، د آنحضرت "مبارک ارشاد دی چې وایې : یو سړی که خپل اولاد په یوشئ پوه کړي (یعنی له بدي رامنع او په نیکي ئي امرکړي) نوداترهغه بهتره "چې یو پیمانه صدقه (خیرات) کړي . همدارنګه فرمایي : هیڅ یو

پلار خپل اولاد ته ترډې بله ښه عطيه (تحفه) نشي ورکولای چې ښه روزنه ئې وکړی. (فضائل نماز از شیخ زکریارح ص ۲۵)

د لمانځه لپاره د بل چا راپورته کول

پـه دې کـې شـک نشـتـه چـې د سـهاروخت د غفلت وخت دی، نوپکارده چې خلک همداسی غافل پرېنښودل شی، يوڅوک چې ښه نيکمرغه وی او په دغه برکتی وخت کې دغفلت عادت نه لری، اولمانځـه تـه راپورتـه کيـږی، د هغـه لپـاره مسـتحب داده چـې نورمسـلمانان هم لمانځه ته راپورته او تشويق کړي، خوپه دې شرط چې دهغوی اود نورو د ايذاء او ضررسبب ونه ګرځی

(فتاوی رحیمیه ص۲۹۱ بحواله کبیری ص۲۶۱، شامی ص۲۶۱ ج۱)

مسئله: مستحب داده چې ويده سړی بايد جماعة ته رابيدار کړل شی، ترڅو له جماعة څخه بې برخی او محروم نشی.

(درمختار ص۱۲ ج۱، کتاب الصلوۃ)

مسئله: که څوک پرچا ږغ کوي او لمانځـه تـه ئې راپاڅوی پرده - باندی راپورته کيدل ګران وی، او د نيم خوب په حالت کې ووايی چې زه نه ځم يانه پورته کيږم، نو په دې صورت کې د ايمان او نکاح تجديد ته ضرورت نشته ځکه چې د ده مقصد دانه وی چې د لمانځه له فرضيت څخه انکار کوی، بلکه له پورته کيدلو څخه منکر وی، وايي ږ ځه مې لاخوب ته پرېږده، ليکن توبه او استغفار به ډېر کوی.

(فتاوی محمودیه ص۵۹ ج۱۳)

سورة فاتحه په یوه ساویل

مسئله : دا نښه د کمال او بهترۍ خبره نه ده چې امام په یوه سا «الحمدلله ووایي. حتی دا ډول یو عادت ګرځول ناوړه او ناخوښه عمل دی، چې له تنزیهي کراهت څخه به خالي نه وي، په ترتیل سره قرآن ویل او د هغه په معناګانو کې ښه تدبر کول پکار دی، چې د دې تائید حدیث شریف هم کوي، خلاصه دا چې په فرض لمانځه کې په یوه ساه سورة فاتحه لوستل نامناسب او مکروه عمل دی. دا عادت باید پرېښودل شي. (فتاوی محمودیه ص۲۲۵ج ۷بحواله مشکوة شریف ص۷۸ج۱)

مسئله : که څوک امام په درې څلورمیاشتې کې ټول قرآنکریم ختموي، اخیره پاره په یوه یوه رکعت کې څوڅو سورتونه او په اخیري رکعت کې دبقرې سورة یو څه اندازه ووایي مثلاً له «الٓم څخه تر ـ مفلحون» پورې، نو په دې کې هیڅ حرج نشته، فرضاً که په لومړي رکعت کې قرآنکریم ختم کړي، یعنی «قل أعوذ برب الناس» ووایي، نو په دوهم رکعت کې د سورة بقرې څو آیاتونه ولولي. مګر د فرائضو په یوه یوه رکعت کې څوڅو سورتونه لوستل خلاف اولی کار دی، یعنی ښه نه دی. (فتاوی دارلعلوم ص۲۵۰ج۲)

د لمانځه په حالت کې که کوم لیکل شوی شئ ولوستل شي؛ لمونځ څنګه دی؟

مسئله : په قصدي توګه په زړه کې ویل او په معنی ئې ځان پوهول مکروه دی البته لمونځ نه فاسدیږي، او که چیرې یو ناڅاپه ورباندې نظر ولګیږي، او بیا فکر پکښې بند نکړي؛ نو دا معاف ده. او هیڅ ډول کراهت نلري. (فتاوی رحیمیه ص۲۸۹ج۷، شامی ص۵۹۲ج۱، مراقی الفلاح ص۱۸۷، آپ کی مسائل ص۳۱۲ج۳)

د وخت د تنګئ په وجه تیمم و هل څنګه دی ؟

مسئله : که یو څوک په صورت هم ښه جوړ وی ، مګر د وخت د لږوالی په وجه غسل نشی کولای او تیمم ووهی ، دا جواز نلری ، که بیا هم په دې توګه لمونځ وکړی ، هغه صحت نلری دوهم ځل لمونځ کول ورباندی فرض دی .(فتاوی محمودیه ص۲۶۲ج۱۰)

د سهار له لمانځه ورسته د کتاب مسائل بیانول

پوښتنه : د سهار د لمانځه وروسته له دعاءنه مخکې یا وروسته امام صاحب په محراب کې خلکو ته د دین د کتاب ځینی مسائل بیانوی ، په داسی حال کې چې خلک یا خو د قرآن تلاوت کوی . یا پر وظیفه او یا په بل ذکر مصروف وی ،او یا ځنی خلک مسبوق او ځینی لاحق وی ، هغوی په پاتي لمانځه بوخت وی ،نو طبعا هغوی ټولو ته د پریشانی سبب کیدای شی نو په دې اړه شرعی حکم څه دی ؟

جواب : حامدا و مصلیا ! عموما په مسلمانانو کې د دین په پوره توګه عملی کیدل او د دین د تعمیم (خپرولو) سره بې رغبتي ډیره زیاته لیدله کیږی ، نو د دې مصیبت د لیری کولو پخاطر مسلمانانو ته پکار ده چې یوبل ته د دین د معتبرو کتابونو د مسائلو اورول عادت خپل کړی چې ډیر په زړه پوری عمل دی ، ښه داده چې ټول خلک چې په جماعة سره لمونځ وکړی ، د چا څخه که یو یا دوه رکعته پاتی وی : هغه دې پوره کړی له هغه وروسته دې د کتاب مسائلې د امام او یا بل چا له لوری بیان کړی شی . اونوردی په غورسره واوري اوزده دی کړی ، دغه وخت که څوک د قرآن تلاوت کوی نو په بل وخت کې ئې هم کولای شی ، ښه داده چې تلاوت پریږدی او د دینی مسئلو

زده کړو ته غوږ ونیسي په بل وخت او بل ځای کې داسي خلک سره 18
راجمع کیدای نشي. (فتاوی محمودیه ص۲۶۷ ج۱۰)

له نیمې شپې وروسته د ماخستن لمونځ کول

مسئله: د شپې په اخیرکې لمونځ کول صحت لري، مګر بې له عذره دومره ځنډول مکروه دي. (امدادالاحکام ص۲۰۷ ج۱)

په لمانځه کې بسم الله ویل

مسئله: امام او منفرد به د هر رکعت په شروع کې یعنی له «سبحانک اللهم» وروسته «بسم الله الرحمن الرحیم» وایي، که جهري لمونځ وي، که سري، او مقتدي به یې نه وایي بسم الله دي هم نه وایي صرف «سبحانک اللهم» دي وایي. ځکه چې د مقتدي لپاره په امام پسې قرائت ویل جائز نه دي.

«بسم الله» او «أعوذ بالله» به له «سبحانک اللهم...» وروسته وایي، که أعوذ بالله هیره او بسم الله وویله شي؛ نو پکار ده چې له هغه وروسته بیا وویله شي. او که چیرې بسم الله یې هیره شي او سورة فاتحه شروع کړي بیا دې پسې پوره کړي. بسم الله دې نه وایي، د فاتحې وروسته د سورة په شروع کې بسم الله ویل که څه هم مکروه نه ده. اما نه ویل یې ښه دي.

باید وویل شي چې بسم الله نه د سورة فاتحې جزء دي او نه د کوم سورة، البته د قرآنکریم جزء دي. (کتاب الفقه ص۲۰۷ ج۱)

په لمانځه کې قرائت څومره او څنګه ویل پکار دي؟

مسئله: په لمانځه کې اوږد قرائت ویل مسنون دي، خو په هغه وخت کې چې امام پوهیږي چې پر مقتدیانو باندې ګران نه تمامیږي، که

چیری پر مقتدیانو باندی دروند وی نو اوږد قرائت ویل مکروه دی ، ځکه چې آنحضرت ﷺ یو ځل د سهار لمونځ په معوذتینو سره اداء کړ ، وروسته خلکو په حیرانتیا سره وپوښتل چې نن دی څومره مختصر لمونځ وکړ ؟ هغه ﷺ وفرمایل: ماد یو ماشوم ژړا واوریدله ، زما اندیښنه شوه چې کیدای شی ، مورئې په جماعة کې شریکه وی ، په ازمویښت کې به را ایساره شی۔
د دې حدیث په مفهوم کې کمزور ، ناروغ او حاجتمند ټول شامل دی . (کتاب الفقه ۲۱۰ ج۱)

مسئله : امام ته په لوړ آواز تکبیر ویل سنت دی ، خو دومره چې ضرورت ئې وی ، تر هغه زیات آواز پورته کول مکروه دی په دې کې د تکبیر تحریمه او نورو هیڅ فرق نشته. (کتاب الفقه ص۲۰۲ ج۱)

مسئله : په لمانځه کې طوال مفصل (یعنی اوږده سورتونه) له سورة حجرات څخه تر سورة البروج پوری دی ، او منځنی سورتونه بیا له «البروج» څخه تر «لم یکن» پوری دی ، او کوچني سورتونه له «لم یکن» څخه بیا تر سورة «الناس» پوری دی. اوږده سورتونه په سهار او ماپښین کې ویل کیږی ، (په دی شرط چې پرمقتدیانو گران تمام نشی) لیکن د ماپښین سورتونه به د سهار تردی لږ واړه وی ، او منځنی سورتونه به د مازیگر او ماخستن په لمونځونو کې ویل کیږی ، او واړه سورتونه به په ماښام کې ویل کیږی. (کتاب الفقه ص۲۰۸ ج۱)

امام به په قرائت کې آواز څومره لوړوی ؟

سوال: زموږ امام صاحب په ډیرتیټ آواز سره قرائت کوی ، دومره چې د لومړی صف خلک ئې هم په ډیره مشکله اوری ؟

جواب : امام باید داسې څوک مقرر کړل شي چې لوړآواز ، ښه لحن ، د تجوید مطابق قرائت لوستونکی وي ، چې په دومره اندازه لوړآواز قرائت وویلی شي چې ټول لمونځ کوونکي او یا د جماعة ډیری برخه ئې واوري ، خو داچې دومره آواز ئې نه وي یوازې د لومړي صف ها نژدې خلک ئې اوري ، په دې صورت کې لمونځ کیږي صحت ، لري. خو پکار داده چې امام داسې نه وي . (فتاوی محمودیه ص ۲۳۶ ج ۲ ، درمختار ص ۲۹۸ ج ۱ ، فتاوی دارالعلوم ص ۱۷۹ ج ۲)

یوازې لمونځ کوونکی (منفرد) به قرائت په څومره لوړ آواز وایی ؟

پوښتنه : په سري (خفیه) لمانځه کې څه ډول قرائت ویل پکار دي ، دا کافي ده چې حروف صحیح کیدای شي او که څومره اندازه ؟

خواب : احوط قول (د احتیاط ور خبره) داده چې دومره اندازه باید قرائت وویل شي چې پخپله ئې واوریدلی شي . (فتاوی محمودي ص ۲۲۷ ج ۲)

د جهر او سر (سو که او په زوره) تشریح

پوښتنه : که څوک په لمانځه کې په دومره آواز سره قرائت کوي چې څنګلوړئ شخص ئې واوري . په دې سره خو په لمانځه کې څه جرح نشته ، نو په څومره اندازه جهر او څومره سر بلل کیږي ؟

جواب : حامداومصلیا : که یو یا دوه سړي ئې په دې شکل واوري نو په لمانځه کې څه خرابي نه راځي او دا جهر نه بلکې سر بلل کیږي ، که چیرې د امام آواز د لمړي صف خلک عموما واوري نو دا جهر دی . (فتاوی محمودیه ص ۲۰۲ ج ۲)

ضالین، په دوالین ویل څنګه دي؟

سوال: د ضالین پرځای دوالین ویل څنګه دی او په دې سره لمونځ کیږي کنه؟

جواب: د عربو قراء او علماء هم ضالین په داسی شکل اداء کوي چې د مضموم دال آواز ورکوي نو ځکه دا مشکل دی چې وویل شی د دې تولو لمونځونه صحت نلري، په داسی حال کې چې هغوی اهل عربیة دی: د حروفو په اصواتو او مخارجو باندی ښه پوهیږي. (فتاوی دارالعلوم ص۳۷ ج۲)

مسئله: کوم سړی چې ضاد په صحیح توګه آداء کولای شی خو پرځای ئې دال وایی، نو د هغه لمونځ صحت نلري. (فتاوی محمودیه ص۱۸۶ ج۲)

مسئله: داچې په لمانځه کې د ضاد پرځای په ظا ویلو سره لمونځ فاسد یږي کنه؟

نو په دې اړه باید وویل شی، چې په قصدی توګه خو دا کار باید قطعاو نشی، ځکه چې د دا ډول ویلو په صورت کې د لمانځه د فساد روایت موجود دی، بلکی په شرح فقه اکبر کې له محیط څخه په نقل سره وایی چې تعمد (یعنی همیشه په قصدي توګه ویل) کفر بلل شوی، مګر که ئې اراده د ضاد وی له خپله مخرجه او مشابهت ئې له ظاد یا دال سره راشی نو لمونځ صحیح دی، هیڅ حرج نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۴۲ ج۲ بحواله شرح فقه اکبر ص۲۰۵، ردالمحتار ص۵۹۲ ج۱، زلة القاری)

مسئله: اصلاً پکار دا ده چې ضاد باید له خپل مخرج څخه اداء کړه شی، که ونه ویلی شی، نو چې څنګه اداء شی لمونځ کیږي، څه باک نلري. (فتاوی دارالعلوم ص۹۱ ج۲، فتاوی محمودیه ص۱۳۵ ج۲، ردالمحتار ص۵۹ ج۱)

په بندو شونډانو قرائت لوستل؟

مسئله : ځینې خلک په لمانځه کې داډول کوي چې شونډان بند کړي او قرائت وايي په زړه کې تصور او فکر کوي چې په دې توګه د قرائت رکن نه اداء کیږي ، د قرائت د آداء کولو لپاره لږ ترلږه درجه دا ده چې حروف په سمه توګه اداء شي ، یائي پخپله اوري او یائي د ده څنګلوري کس اوري. (صغیری ص۱۵۰)

مسئله : قرائت د شونډانو له خوځولو پرته اعتبار نلري.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۰ ج۲ بحواله ردالمحتار ص۲۹۸ ج۱)

مسئله : ښه بهتره او معتبره طریقه دا ده چې په لمانځه کې الحمد شریف او سورة داسې ولوستل شي چې که څه مانع نه وي نو خپل آواز پخپل غوږ سره واوري ، او که وانه وري هم لمونځ صحت لري، خو چې توري صحیح آداء شي. (فتاوی دارالعلوم ص۵۲ ج۲ بحواله درالمحتار ص۲۹۸ ج۱ باب فی القرائت، فتاوی محمودیه ص۱۹۷ ج۲)

(یعني داسې به ئي هم نه وایي چې شونډان بند کړي ، په زړه کې ئې وایي او داسې به هم نه وي چې پرڅنګ خلک ور څخه تنګ شي ، او په لمانځه کې ئې خلل راشي. ــــ محمد رفعت قاسمی غفرله)

مسئله : په لمانځه کې د قرائت مطلب دا دی چې الفاظ به لوستل کیږي ، محض په خیال کې ورتیرولو سره لمونځ نه کیږي ، ترڅو چې ژبه پرحروفو حرکت ونکړي لمونځ صحت نلري ، همدا راز د یو آیة پرځای د هغه معنی ویلو سره هم لمونځ نه صحیح کیږي. (هدایه ص۷۲ ج۱، شرح نقایه ص۸۲ ج۱ شرح وقایه ص۱۲۹ ج۱)

په کعبه شریفه کې دننه لمونځ کول

څرنګه چې له کعبې شریفې د باندې هغې ته برابر لمونځ کول درست دی همداسې په کعبه مکرمه کې دننه هم لمونځ صحیح دی استقبال القبلة صحیح دی، که هرلوری ته لمونځ وکړي، ځکه چې هلته څلور واړه طرفونه قبله ده. مګر که هلته لمونځ یوه طرفته پیل کړي او د لمانځه په دننه کې بل اړخ ته راوګرځي؛ دا جواز نلري. او څرنګه چې نفل لمونځ کیدلای شي، دا راز فرض هم جواز لري. (ردالمحتار)

مسئله: که څوک د کعبې شریفې پربام ودریږي لمونځ وکړي دا صحت لري، ځکه چې پرکوم ځای چې کعبه ده، هغه ځمکه او د هغې محاذي پورته هوا تر آسمانه پورې تول قبله بلله کیږي، قبله یوازې دیوالونو ته نه ویله کیږي، له همدې وجې ده چې که څوک د لوړغره پر څوکه ودریږي او لمونځ وکړي، نو لمونځ ئې، بالاتفاق درست دی، که څه هم د کعبې د دیوالونو پر محاذات نه وي، مګر دا چې په دې سر د کعبې مکرمې بې احترامي ده اوله دې څخه نبی کریم ﷺ منع فرمایلې ده، نو ځکه مکروه تحریمي ده.

مسئله: په کعبه کې دننه تنها هم لمونځ کول جائز دی اوپه جماعت سره هم اوهلته دا هم شرط نه دی چې د امام اومقتدي به یوه طرف ته وي امام دا شرط ضرور شته چې مقتدي به له امام نه وړاندې نه وي، نور که مخ په مخ ودریږي هم صحت لري، ځکه په دې صورت کې مقتدي له امام نه مخکې نه بلل کیږي، مخکې هغه مهال دی چې مخونه د دواړو یوه لوري ته وي، مګر دا یوشی دی چې دلته لمونځ

مکروه ګڼل کیږي ، ځکه یو سړي ته مخامخ دریدل لمونځ کول کراهت لري ،لیکن که یو شئ ئې ترمنځ وي بیا کراهت نلري . (درمختار)

مسئله : که چیرې امام په کعبه مکرمه کې دننه ولاړ وي او مقتدي دباندې ،بیا هم لمونځ صحیح دی ، مګر که یوازې امام دننه وي او کوم مقتدي دننه ورسره نه وي ، یعنی ټول دباندې وي نو لمونځ مکروه کیږي ، ځکه چې په دې صورت کې د امام مقام د یوه قد په اندازه له مقتدیانو څخه پورته دی او دا مکروه دی. (علم الفقه ص۱۵۹ج۲)

آیا یوازې فرض لمونځ کافی دی ؟

پوښتنه : که څوک سنت ، نفل او وتر پریږدي ، یوازې فرض آداء کوي دا لمونځ صحیح دی ؟ ځکه چې ځینې خلک دا فکر کوي چې په نننۍ پرمخ تللي عصر کې مصروفیت ډېر زیات وي ، څوک دومره فرصت نشي موندلای چې سنت او نفلو ته وزګار شي ، اوس هم ځینې خلک داسې دي چې په بهر هیوادونو کې یوازې فرض اداء کوي سنت او نفل هیڅ یادوي لا نه ، که ورته ووایې چې ولې ؟وایي د انسان نیت مهم دی ، عمل ته څه ارتیا نشته او ترییخی لمانځه پریښودلو دا بهتره ده چې فرض خو اداء شي نو آیا دا خبره درسته ده که څنګه ؟

جواب : فرض خو فرض دی او وتر واجب دی ، ګویا عملاً هغه هم فرض دی ، چې پریښودل ئې لویه ګناه ده. که پر وخت اداء نشي نو قضا ئې لازمه ده ، د سنت مؤکد پریښودل بده خبره ده ، او د هغوی د پریښودلو عادت خپلول هم ګناه ده ، په سنت غیرمؤکده او نوافلو کې اختیار لري چې کوي ئې که پریږدي ئې .

او دا خبره بیا پرخپل ځای ناسمه ده چې په دې عصري دورکې فرصت ډېر کم وي، ځکه چې د خلکو مصروفیت په عبث او حرامو کارونو کې مصروف نه وي نو په څلورویشت ساعته کې څو اکثره برخه په حرامو، بې ګټې او عبثیاتو لګیا وي، نو پکار ده چې د عديم الفرصتی په ډېره پرلمانځه او عبادة وروانه چوله شي. که څوک رښتیا هم خوندور خدمتونه کوي، هغوی بیا د ښه خدمت او ښې حلالي روزي ګټلو او تولني ته د پراخ خدمت کولو ترڅنګ عبادة ته هم خپل پوره وخت بېلولای شي، په داسي حال کې چې کار او خدمت ته به ئي هم صدمه نه وي رسیدلې، او دغه خلک چې وايي د نه فرصت په وجه عبادة پرېږدي دا هغه خلک دي چې خپل وخت ئي په حرامو، عبث او بې ځایه کارونو کې صرف کړي وي، نه دا چې د تولنې او کورنۍ په رواخدمت کې.

پاتې شوه دا خبره چې د سړي نیت درست پکار دی. دا پرځای خبره ده، خو له دې خبرې نه بیا دا څنګه راڅرګنده شوه چې سړی دې ډروډرو هرډول خراب عمل کوي، خونیت دې ئې سم وي؟! بلکې خبره دا ده چې د نیت ترڅنګ د عمل ښه والی هم ضروري دی که عمل خراب وي، نیت هم بیا څه ګټه نلري. (اپ کی مسائل ص۲۲۸ ج۲)

تر نامه لاندې (زیر ناف) ویښتانو نه کمولو په صورت کې د لمانځه حکم

مسئله: که څوک د غه ویښتان لرې کوي، نه، لمونځ بې صحت لري. اما دا کار ډېر ناوړه دی. ترڅلوېښت ورځو زیات دغه ویښتان نه لیرې کول مکروه دي. (فتاوی دارالعلوم ص۰۵ ج۲، عالمګیری مصری ص۲۶۸ ج۵)

ړوند سړی په لمانځه کې قبلې ته برابرول

مسئله : که چیرې یو ړوند نابینا سړی له قبلې څخه چپ لمونځ کوی او بل څوک ئې د لاس یاژبې په وسیله قبلې ته سیده کړی، دا سمه ده، په لمانځه کې څه خلل نه راځی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۳ ج۴)

یعنی د دې ړانده سړي په لمانځه کې څه خلل نه راځي، او د دا بل سړی (سیده کوونکي) په لمانځه کې که په یوه لاس سره سیده کړی او نو دا عمل قلیل دی څه حرج نشته، او که ئې په ژبه سره برابر کړی او یائې په دواړو لاسونو برابر کړی، نو لمونځ ئې نشته. ځکه خبری کول او عمل کثیر مفسد صلوة دی. ــ محمد رفعت قاسمی غفرله)

مسئله : د لمانځه په حالت کې که پر سړي باندی حیوان یا بل انسان حمله کوی، نو لمونځ به پریږدی او خپله چاره به کوی.

(فتاوی دارالعلوم ص۹۹ ج۴، ردالمحتار ص۵۷۸ ج۱)

مسئله : که چیری په لمانځه کې د سړی پر تندی خاورې ولګیږی، په لمانځه کې به ئې نه صفا کوی، وروسته که یې پاکي کړي؛ څه حرج نشته، مګر بنه بیاهم دا ده چې پاکې ئې نکړی ترڅو پخپله صاف شی

(فتاوی دارالعلوم ص۱۰۲ ج۴، غنیة المستملی ص۳۲۵)

په لمانځه کې وسوسې راتلل او د هغوی علاج

مسئله : په لمانځه کې دنیاوي خیالات او وسوسې په ذهن کې د راګرځیدلو په وجه په لمانځه کې فساد نه راځی خو حتی الوسع به د سړی کوشش دا وی چې هغه دفع کړی. (فتاوی دارالعلوم ص۵۸ ج۴ بحواله مشکوة شریف ص۱۸ ج۱)

مسئله : د دغو وسوسو او شبهاتو د مخنیوی صورت دا دی، چې هغه شیطاني وسوسې وبولی او هیڅ التفات ورته ونکړی ترپایه

خپله توجه پردې متمرکزه کړي چې هغه وسوسې دفع او د لمانځه د الفاظو او د هغوی معنی ته متوجه واوسي، چې په حديث کې ئې هم همدا علاج وارد شوی (فتاوی دارالعلوم ص۱۱۷ج۲، مشکوة شریف ص۱۹ج۱)

مسئله : دامی نه ده چې په هر ډول خيالاتو راتلو سره لمونځ ته خلل رسيږي، که څوک د الله تعالی ادب او احترام سره آداء کړم نو ان شاء الله نه يوازې دا چې په لمانځه کې خلل واقع نه شو، بلکی په أفضله طريقه لمونځ آداء شوی او هم ئي خيالات پريشانو ونکي نه وی.
(فتاوی محموديه ص۲۰۹ج۲)

د جماعة په لمانځه کې دسورتونو په اخير کې مسنونه اذکار ويل؟

مسئله : د سورة الفاتحه نه پرته چې «آمين» ويل پکښی سنت دي، په تيټ آواز سره. په نورو سورتونو کې لکه د «بقره» په اخير کې «آمين» د بنی اسرائيل په اخير کې «تکبير» د سورة ملک په اخير کې «اللهم ربنا ورب العلمين» د «سورة القيامة، مرسلات او والتين» په اخير کې مشهوری مسنونې کلمې، د سورة والضحی څخه نيولی د قرآن تر آخيره پوری د هر سورة په وروسته کې «الله اکبر» ويل، همدا راز د څينو آياتونو به اخير کې څه مسنون الفاظ ويل د تلاوت په منځ کې، لکه په سورة طه کې، «وقل ربي زدني علما» څخه وروسته حضرت ابن عباس رضی الله عنه «اللهم زدني علما وايمانا و يقينا» فرمايلي او داسی نور.. دغه او دغه ډول نور ټول اذکار د أحنافو په نزد د فرض لمانځه او يا نوافلو په جماعة کې لکه تراويح او نورو... کې ويل درست نه دی. بلکی په هغه نوافلو کې چې منفرد ئي کوی او يا هغه څوک چې له لمانځه د باندی تلاوت کوی، هغه لپاره مسنون دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲۰ج۲)

(یعنی د سورة فاتحه پر ختمیدلو په ټیټ اواز آمین ویلی شی اما په نورلمانځه کې دا ډول مسنون الفاظ نه باید وویل شی محمد رفعت قاسمی غفرله)

مسئله : د آیاتونو جواب د جمع په لمانځه کې ردکول جائز نه دی ، البته که لمانځه دباندی د آیة جواب ورکول مسنون او مستحب دی ، اوله نبی کریم ﷺ څخه هم همدا ثابته ده ، چې د آیاتونو جواب به ئي له لمانځه دباندی ورکاوه ، که کله په لمانځه کې ویلي شوي وی ،نو هغه د تعلیم لپاره وو ، نه د امت لپاره مسنونه طریقه ، او یا د اسلام په شروع کې داسی شوی دی ، چې هغه مهال په لمانځه کې دومره قیودات نه وو ، مثلا خبری کیدلای شوي او داسی نور... خو په وروسته کې دا امورټول منع شوی دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۵ ج ۲ بحواله مرقاة المفاتیح شرح مشکوة ص۵۳۶ ج ۱ باب القراءة)

د سهار په لمانځه کې د قرائت اندازه

مسئله : د سهار په لمانځه کې امام ته پکار ده چې ډیر مختصر واړه سورتونه لکه «الم نشرح» ، «والتین» ویل د ځان عادت نه وګرځوی ، دا خلاف سنت او مکروه دی. که څه عذر نه وی نو امام اومنفرد دې د سهار په لمانځه کې له سورة الحجرات څخه نیولی ترسورة البروج ؛ وری یو یو سورة په یوه یوه رکعت کې وایی. چې دا مسنون او مستحب طریقه ده ، اویا دې له کوم ځای څخه په منځنی ډول لږترلږه څلویښت آیتونه یا یو څه زیات ۵۰ آیتونو څخه تر ۶۰ پوری اوښه بهتره بیا دا ده چې سل آیتونه ولوستل شی ،په دې سلسله کې د امام اومقتدی د همت خیال ساتل پکار دی ، البته که څه عذر وی.

مثلاً وخت تنګ وي او يا بل څه مشکل وي، بيا لنډ او مختصر قرائت هم ويلای شي، هيڅ حرج نشته. (فتاوی رحيميه ۱۵۵ ج۱. کبیری ص۲۰۳ شامی ص۵۰۲)

در کعت د نیولو لپاره په منډه ځغستل

سوال: کله چې امام صاحب رکوع ته ځي، نو خلک په دغه وخت کې د دې لپاره چې شرکت ورسره وکړي او رکعت پيدا کړي؛ په منډه او په ځغاسته ورځي چې دائي د نورو دلمانځه دخلل سبب کيږي نو دا شرعاً څنګه دي؟

جواب: دا ډول ځغستل منع دي، که څه هم رکوع ته ونه رسيږي په حديث شريف کې راځي چې لمانځه ته په منډه نه، بلکې په اطمنان سره راشئ، که رکعت در څخه تېر شي نو وروسته ئي اداء کړئ. (مسلم شريف ص۲۲۰ ج۱)

له دې پرته په مسجد کې ځغستل د مسجد بې احترامي او بې ادبي ده، په خاصه توګه چې کله لمونځ کوونکو ته هم تشويش وي، نو له دې نه ځان ساتل پکار دي، په يو حديث کې راځي: کله چې تاسې اقامت واورئ نو لمانځه ته په اطمنان سره راځئ، ځغلی مه. (بخاری ص۸۸ پاره ۲، فتاوی رحيميه ص۱۸۸ ج۱)

لمونځ به څه مهال ماتوی؟

مسئله: د لمانځه ماتول کله حرام او کله مستحب وي. کله واجب او کله مباح وي. که چيرې هيڅ يو عذر نه وي نو لمونځ ماتول حرام دي، خود جماعة لپاره ئې بيا ماتول مستحب دي، او که چيرې د سړی مال ضائع کيږي نو د لمانځه ماتول مباح دي، خود ځان د ژغورلو (ساتنی) په غرض لمونځ ماتول واجب دي. (درمختار ص۶۲۹ ج۱)

مسئله : که څوک پرلمانځه ولاړ وی او مورپلار ئې ورته آواز وکړی، نو که فرض لمونځ وی نه به ئي ماتوی، که نفل وی او دوی پوهیږی چې دی په لمانځه ولاړ دی نو بیادې هم نه ماتوی او که مات ئي کړی نو څه حرج نشته، او که هغوی په دې نه وي خبرچې دی په لمانځه کې دی نو بیادې لمونځ ورته پریږدی په دې گمان چې هغوی ناخوښه یعنی خفه نشی. (شامی وغیره، علم الفقه ص۱۲۶ج۲)

مسئله : په کوموحالاتو کې چې دلمانځه دماتولو حکم دی او یا ئې د ماتولو اجازه شته؛ داپه داسی حالت کې نیت ماتیږی چې ولاړ وی خکه چې په لمانځه کې کښیناستل هغه مهال وی چې د حلال کیدلو لپاره وی، او دلته خولمونځ قطع کیږی، د حلال کیدو خبره نه ده، نو په همدی وجه دلته په ولاړه د لمانځه د ماتیدلو لپاره یوازی یو سلام کافی دی، او په امام پسی دی اقتداء وکړی (یعنی خپل لمونځ دی په ولاړه په یوه سلام کړخولو سره قطع کړی او په امام پسی دی اقتداء وکړی او په جماعة کې دی شامل شی). (درمختار ص۶۲۹ج۱)

که څوک تنهافرض لمونځ کوی خوپرځنګ ئي دغه فرض په جماعة سره پیل شی؟

مسئله : د لته دلمانځه ماتول او په جماعة کې شاملیدل په دې صورت کې ده چې هغه د لومړی رکعت سجده تراوسه کړی نه وی. یائي کړی وی مګر هغه لمونځ دوه رکعتي وی، لکه د سهار، یادرې رکعتي وی لکه د ماښام، او که لمونځ څلور رکعتي وی او ده سجده کړی وی، نو په هغه کې دویم رکعت هم ورسره ضم کړی، نو څه حرج

نشته ، له دې وروسته په امام پسې اقتداء وکړي نو دی به جماعة هم ترلاسه کړي او دوه رکعته نفل ثواب به هم وګټي. (درمختار ص۶۴۵ج۱)
: دغې پورتنۍ مسئلې حاصل او خلاصه دا ده چې کـه يو سړی تنها پر خپل فرض لمانځه ودريږي او لمونځ هم دوه رکعتي يا درې رکعتي وي ؛ په دغه وخت کې ئې تر څنګ جمع ودريږي ، نو اوس که د سجده بيخی کړی نه وي ، سلام دې وګرځوي ، په جماعة کې دې ګډ شي. خو دا په دې شرط چې لمونځ د سهار يا د ماښام وي.
. او که دغه لمونځ چې ده تنها پيل کړی وي ؛ څلور رکعتي وي ، د ماپښين ، يا ماز يګر او يا ماخستن وي ، او ده يوه سجده کړې وي، يعني يو رکعت ئې کړی وي ؛ نو دلته پر ده واجب ده چې يو به بل رکعت هم کوي او بيا به سلام ګرځوي ، په جماعة کې به اشتراک کوي. ترڅو دغه دوه رکعته نفل شي او جماعة هم پيدا کړي ، نو د دواړو ثواب به ترلاسه کړي.
او که چيرې ده په هغه دوه رکعتی لکه د سهار يا درې رکعتي لکه د ماښام لمونځ کې د دويم رکعت سجده هم کړې وه ، دلته جماعة شروع شو ، نو دی به اوس خپل لمونځ پوره کوي او له سلام وروسته به په جماعة کې شرکت نه کوي او که ئې چيرې د څلور رکعتي لمانځه درې رکعته کړي وو ؛ دلته جماعة شروع شو ، نو دی به نيت نه ماتوي يعني هغه خپل لمونځ به نه پريږدي ، پوره کوي به ئې ، بيا وروسته که ئې په امام پسې د نفلو اقتداء کوله ، هغه خپله خوښه ، چې د جماعة ثواب هم حاصل کړي ، البته د ماز يګر او سهار په وختونو کې ، به

جماعة کې د نفلو په نیت ګډون نشي کولای، ځکه چې له سهار او مازیګر وروسته نفل کول مکروه دي. ـ رفعت)

تر امام وړاندې یو رکن آداء کول؟

مسئله : که چیرې یو مقتدي په یو رکن کې پر امام باندې سبقت وکړي، مثلا رکوع ته له امام نه مخکې ولاړ شي او مخکې تر هغه راپورته شي او دا رکن بیا ورسره اداء نکړي او یا امام سره سلام ونه ګرځوي نو لمونځ ئي باطل دی، که دغه سبقت ئي قصدا کړی وي او که په هیره سره په هرصورت لمونځ ئي نه کیږي، او که ئي چیرې دغه رکن بیرته له امام سره اداء کړ او له امام سره ئي یو ځای سلام وګرځاوه؛ نو لمونځ ئي نه دی باطل. (کتب فت ص۲۹۲ج۱)

مسئله : که چیرې یو مقتدي د لمانځه له ختمیدلو نه مخکې سلام قصدا وګرځوي لمونځ ئي باطل دی. او که ئي داګمان وي چې لمونځ خودا دی پوره شو په دې هیره کې ئي سلام وګرځاوه، بیا یې لمونځ باطل نه دی. ترڅو چې له سلام وروسته عمل کثیر او یا خبرې ونکړي. (یعني بیرته ورسره ګډ شي). (کتاب الفقه ص۲۹۵ج۱)

امام که د چا په مراعت قرائت اوږد کړي؟

مسئله : که چیرې امام قصدا په دې نیت چې هغه څوک په جماعة کې ورسره شریک شي؛ قرائت اوږد کړي نو دا مکروه تحریمي دی. (په دې شرط چې هغه سړی پیژندوی وي) او که ئي پیژندی نه؛ نو بیا مکروه تنزیهي دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۱۵ج۳بحواله ردالمحتار ص۲۴۲ج۱)

په لمانځه کې سترګې بندول

مسئله : په لمانځه کې سترګي بندول مکروه دی ؛ مګر د څه مصلحت پخاطر پټول صحیح دی مثلاً له داسی یو شی څخه سترګی پټول چې انسان په غفلت کې اچوی، دا راز په لمانځه کې د آسمان طرف ته کتل هم مکروه دی.

آنحضرت ﷺ فرمایي: د لمانځه په حالت کې چې څوک سترګی پورته کړی او د آسمان پر لوری ګوری نو د سترګو بصارت(دید-لیدل) یې له منځه ځی یا یې سترګي رندیږی. (بروایت بخاری-کتاب الفقه ص۳۲۷ج۱، آپ کی مسائل ص۲۱۷ج۳)

مسئله : د خشوع او عاجزی پخاطر سترګي بندول بلاکراهت درست، بلکه اولی دی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۰۹ج۴، ردالمحتار ص۶۰۵ج۱، فتاوی رحیمیه ص۲۱۸ج۷)

مسئله : د سترګو له اپریشن (عملیات) کولو وروسته که د سجدې او رکوع په حالت کې رښتیا ناقابل برداشت تکلیف رسیږی یا سترګو ته نقصان کوی ؛ نو په داسی صورت کې په ناسته لمونځ کولای شی سجده او رکوع دی د سر په اشاره سره وکړی. په سجده کې به د رکوع په نسبت لږ زیات ټیټیږی. (فتاوی رحیمیه ص۲۲۱ج۷)

په هغه ځو نه کې چې تعویر او یا داور بلید لو ځای وی؛ لمونځ کول څنګه دی؟

مسئله : تناره او یا هغه ځای ته چې اور پکې بلیږی ؛ مخامخ دریدل لمونځ مکروه دی. ځکه چې دا د مجوسیانو له عبادت سره مشابهت راځی. (کتاب الفقه ص۲۲۸ج۱)

(که چیری بل ځای نه وی نو بیا مجبوري ده، لمونځ یې کیږی -- محمدرفعت)

مسئله : د ذیروح تصویر په وړاندې لمونځ کول مکروه دي. هغه ته که توجه وراوړي او که نه هرچیرې چې وي، یعني که یې پر سر 19
راځوړند وي، که یې مخکې وي، که شاته، که ښي اړخ یا کیڼ ته وي؛ مطلب دا چې نهایت زیات کراهت لري. خو په تولو کې بیا هغه چې مخ ته راځوړند وي؛ زیات کراهت لري. په هرصورت په کوم ځای کې چې تصویر موجود وي هلته لمونځ کول مکروه دي. مګر که داسې وړوکي تصویر وي چې که سړی ښه په غور ورته ونه ګوري، اعضاوي یې نښې محسوسولای. د غیر ذیروح شي تصویر که هرڅومره جالب او جاذب وي، لمونځ ورسره صحیح دي. (کتاب الفقه ص۲۳۹ ج۱)

د قبر په وړاندې لمونځ کول

مسئله : که د لمونځ کوونکي په وړاندې قبر وي، لمونځ یې مکروه دي. مطلب دا چې څوک پر لمانځه ولاړ وي په ښه خشوع او خضوع سره او سترګې یې پر قبر ولګیږي. که چیرې قبر شاته وي یا یوه او بل اړخ ته وي، او یا پورته وي او یا په داسې ځای کې چې هغه د لمانځه ترځای کښته وي نو په دې اړه تحقیق دا دي چې دلته بیا هیڅ کراهت نشته، باید وویل شي چې دا کراهت په هغه صورت کې راځي چې په مقبره یا قبرستان کې د لمانځه لپاره کوم مخصوص ځای داسې نه وي چې هغه له ناپاکۍ څخه پاک وي. که داسې وي نو بیا لمونځ مکروه نه دي مګر د انبیاء کرام علیهم السلام مقبرې له دې څخه مستثنی دي. ځکه چې هلته که قبر مخامخ وي هم څه حرج نشته، لمونځ مکروه نه دي.

(کتاب الفقه ص۲۴۰ ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۹۳ ج۲، ردالمحتار ص۳۵۲ ج۱)

په لمانځه کې غاړې تازه کول

مسئله : که څوک په لمانځه کې غاړې تازه کوي په دې شکل چې لېترلږه دوه حروفه ورځنې پیدا شي نو لمونځ یې باطل او له منځه ځي .بې ضرورته باید غاړې تازه نکړای شي ، مګر که د ضرورت په وجه مثلاً د قرائت لپاره د آواز د صفا کولو پخاطر غاړې تازه کړلي شي ترڅو حروف په سمه توګه ادا شي او یا د غاړې تازه کیدلو په وسیله امام ته فتح ورکوي یعنې هغه خپلې غلطۍ ته متوجه کوي. نو بیا په دا دوول صورتونو کې لمونځ نه باطلیږي. همدا راز که په طبعي دول سړي ته ټوخي ورشي او دا هم د ضرورت او یا ناروغۍ لامله وي نو لمونځ نه باطلیږي. (کتاب الفقه ص۲۷۸ ج۱ ، هدایه ص۸۷ ج۱ ، کبیری ص۴۲۹)

مسئله : د آواز د صفا کولو په وجه غاړې تازه کول لمونځ نه فاسدوي ، که څه هم دوه دری ځله وي. (فتاوی دارالعلوم ص۶۵ ج۴ بحواله ردالمحتار ص۵۷۸ ج۱)

په لمانځه کې د اودس ماتیدل

مسئله : که په لمانځه کې د چا اودس مات شي نو پکار ده چې سمدستي ولاړ شي اودس تازه کړي بیا دې چې خبري او یا بل عمل ترسره کړي بیرته راشي لمونځ له همغه ځایه پیل کړي چې پرې ایښي یې وو . که څه هم دا له تشهد یعنې التحیات څخه وروسته وي. مګر فقهاء کرام وایي چې لمونځ که څه هم دا دوول صحیح دی خو أفضل او بهتره دا ده چې له سره یې پیل کړي. (نماز مسنون ص۵۲۱، هدایه ص۸۲ ج۱ ، شرح نقایه ص۹۰ ج۱ ، کبیری ص۴۵۲)

مسئله : که په لمانځه کې د چا اودس مات شي نو پر پوزه دې لاس ونیسي او دباندې دې د اودس لپاره راووزي. که چیري دې خپله

امام وي نو د دی ترشا ولاړ يو مقتدي دی د ځان خليفه (نائب) کړی چې هغه نور پاتی لمونځ ورکړی. (هدايه ص۸۲ج۱، شرح تنايه ص۹۰ج۱، کبيری ص۴۲۵)

مسئله : که په لمانځه کې د چا اودس مات شی او ترشا ئي نابالغ هلک يا ښځه ولاړه وی. نو لمونځ ئی فاسديږی ځکه چې هلک او ښځه د دې قابليت اوصلاحيت نلری چې خليفه يانائب دی کړی.
(شرح وقايه ص۱۶۲ج۱)

په لمانځه کې قهقه (په زوره خندا) کول ؟

مسئله : بالغ سړی که په لمانځه کې په قهقهه په زوره سره وخاندی، لمونځ ئي هم فاسديږی اودس ئي هم ماتيږی. (په هغه لمانځه کې چې رکوع اوسجده ولری په زوره خندل، يعنی دومره په لوړآواز خندل چې پرخنګ خلک ئی هم واوری، لمونځ او اودس دواړه له مينځه ځي۔
محمدرفعت قاسمي غفرله) هدايه ص۱۲۱ج۱، شرح تنايه ص۱۲ج۱، نمازمسنون ص۶۸۲، فتاوی دارالعلوم ص۳۵ج۲)

مسئله : په لمانځه کې په ضحک (سوکه خندل) سره صرف لمونځ فاسديږی، ولی اودس نه ماتيږی، اوپه تبسم سره نه لمونځ او نه اودس ماتيږی. (شرح تنايه ص۱۲ج۱، کبيری ص۱۲۲، درمختار ص۵۷۶ج۱، آپ کی مسائل ص۳۱۹ج۲)

ضحک هغي خندا ته ويل کيږی چې پخپله ئي واوری اوبل ځنګلوری ئي وانه وري، اوتبسم بيا هغی مسکا ته ويل کيږی چې آواز ئي نه پخپله واوری اونه ئي بل څوک واوری. (ژباړن)

په لمانځه کې دستر لڅيدل

مسئله : که چيری دلمانځه په دوران کې ستر يعنی دبدن هغه برخه چې پټيدل ئي ضروری وی، څلورمه برخه ئي پرته له خپل لاسی عمله لوڅه شی، مثلا د تيزی هوا (باد) لامله ئي د بدن څخه جامه ليری شی

اوتر دومره وخته پورې همداسې لوځ پاتې وي چې يو رکن اداء کيداى شي ؛ نولمونځ فاسدېږي ليکن که دغومره برخه يا ترډې هم کمه په قصدي توګه يعنې پخپل لاسې عمل لوڅه شي، نولمونځ فورا فاسدېږي دا شرط نه دى چې د يو رکن د آداء کيدلو په اندازه که لوڅ پاتې وي بيا فاسدېږي ، لکه په نژدې پورتني صورت کې ·

مسئله : که چيرې مخکې د غومره برخه لوڅه وي اوپه دغه حالت کې لمونځ پيل شي ، نوګويا له سره لمونځ درست نه دى ، نيت ترل شوى نه دى. (کتاب الفقه ص۲۰۳ ج۱)

مسئله : کـه چيـرې مستوره برخـه پـه لمانځـه کـې لڅـه شـي ؛ اوسمدستي بيرته پټه کې تأخيرکې رانشي ، نولمونځ صحيح دى ، فاسدېږي نه. (فتاوى دارالعلوم ص۴۵ ج۴، غنية المستملى ص۱۲۲)

مسئله : د نارينه وو لپاره په دې کې څه حرج نشته چې جامه ئي په بدن پسې چـــپه وي ، دومره چې مستورځايونه پکې لـه ورايـه څرګند دوي.

مسئله : سترپټول له خپل ځان نه ، ضروري نه ده ، که چيرې څوک په لمانځه کې د خپل ځان مستورځايونه ووينې ، نولمونځ ئي باطل نه دى ، که څه هم داکارکراهت لري. (کتاب الفقه ص۲۰۱ ج۱)

مسئله : د کم عمره ماشومانولپاره سترنشته ، که هلک وي که نجلى ، کم عمره ماشوم هغه دى چې عمرئي له څلوروکالو او يا له هغه څخه هم کم وي ، نود داسې ماشوم جسم ليدل او مسح کول مباح دي . له دې عمر څخه پورته ترڅوچې په ليدلو کتلو ئي د سړي په ذهن کې ناوړه خيال نه راګرځي ترهغه مهاله ئي ستر صرف شاومخ

شرمګاه ده ، مګر که هغه بیا داسې ځای ته ورسیږي چې په لیدلو کتلو ئې د سړي ذهن ته ناوړه خیال ورځي نو بیائي سترد بالغ نارینه اوښځې غوندې دي که په لمانځه کې وي ، که دباندې وي.
(کتاب الفقه ص۲۰۸ ج۱)

د څراغ یا شمعې په وړاندې لمونځ کول

مسئله : که څراغ یاشمعه په مسجد کې مخ ته پراته وي او خلک جمع ورته کوي ، لکه په عامو مساجدو کې چې د محراب ترڅنګ ایښودل کیږي ، په دې سره په لمانځه کې څه خرابي نه راځي ، خوکه یره یابل څنګ اویا شاته وي نو بیخي د پوښتنې ځای نشته ، یعنې بلکل صحیح دي. (فتاوی محمودیه ص۲۵۲ ج۱۰، درمختار ص۴۳۸ ج۱)

مسئله : که چیرې ئې دایقین وي چې قبله صحیح ده ، نو په تیاره کې لمونځ منع نه دي. (فتاوی محمودیه ص۲۵۷ ج۱۰)

مسئله : مار، لړم او داسې نورضرري خزندې په لمانځه کې وژل جائز دي. (شرح نقایه ص۹۶ ج۱، کبیری ص۳۵۴)

که د سهار په لمانځه کې لمر راوخیژي ؟

مسئله : د سهار په لمانځه کې که له نیت ترلو وروسته اویاله یوه رکعت کولو څخه وروسته لمر راوخیژي نو لمونځ نه آداء کیږي ، بیابه ئي بیرته راګرځوي ، همدارنګه که په جماعة کې وي نو د ټولو لمونځ فوت شو ، وروسته به ئي بیرته په جماعة سره ټول راګرځوي.
(فتاوی محمودیه ص۲۷۴ ج۱۰)

مسئله : د لمر راختلو پرمهال لمونځ کول صحت نلري ، که عینا په لمانځه کې لمر راوخیژي ، نولمونځ به پرهمغه ځای پریږدي ، کله چې

لمرینه راپورته شي نو قضاء به ئي راوګرځوي ، ځوکه وخت تنګ وي
یعنی لمرختلو ته لږشیبې پاتی وي ، نودې خپل لمونځ تنهاوکړي ، د
جمع انتظار دی نه کوي. (فتاوی محمودیه ص۲۶۱ج۱۰)

د لمرراختلوورسته ، به د قضاء راوړلو لپاره څومره انتظار کوي ؟

مسئله : کله چې لمر راختل پیل شی نوپه ۲ دقیقې او ۲۴ ثانیې کې
په پوره ډول راپورته کیږی بیا تقریبا ۲۰ دقیقې وروسته لمرداسی
کیږی چې ورته کتل مشکل و ، یعنی بلکل سپین شی ، ژړوالی ئي
ختم شی ، نو دغه مهال د اشراق وخت پیل کیږی.

(فتاوی محمودیه ص۲۵۸ج۱۰) له دې وروسته بس قضائي لمونځ کولای شي ـ محمد رفعت)

مسئله : د عین زوال پر وخت یعنی د استواء پرمهال تکنده غرمه د
قرآنکریم تلاوت صحي دی. خونوافل اونور د امام صاحب په نزد
ناجائز دی. (فتاوی دارالعلوم ص۷۲ج۲بحواله ردالمحتار ص۲۴۳ج۱)

د ماښام لمونځ تر څه وخته پوری اداء کیدلای شی. ؟

مسئله : له لمر لویدو وروسته چې دآسمان پر افق باندی کومه سر
خې وې هغې ته شفق وایې نوتر کومه وخته چې پر افق باندې دغه
سرخې موجوده وی (او دا تقریبا تریو ساعت زیات وکم پورې وی
تر هغه وخته پورې د ماښام لمونځ کیدای شي په عوامو کې داخبره
مشهوره ده چې لږتیاره شې ، وایی د ماښام لمونځ ختم دی اوس
ماخوستن دی داخبره غلطه ده خود ماښام په لمانځه کې قصداً تاخیر
مکروه دی لیکن که د څه ضرورت یا مجبوری په وجه وځنډیږې نو
د شفق تر لویدو مخکې مخکې باید اداء شې کنه نو بیا قضاء ده
او قصداً د لمانځه قضاء کیدل ګناه کبیره ده. (آپ کی مسائل ص۱۰۸ج۲)

له غټو نوکانو سره لمونځ کول

مسئله : د لمانځه حکم دادی که د نوکانو په دننه کې داسې شی وې چې لاندی اوبه نه پریږدی نو نه اودس کیږي او نه لمونځ ، اوکه چیرې نوکان غټ وې خودننه صاف وې اوبه په اسانې ورتلای شي نو لمونځ صحیح دی. (آپ کی مسائل ص۱۸۲ ج۳)

دنامسلمان په کور کې لمونځ کول

مسئله : ځمکه که خرابه شي نوله وچیدلو وروسته د لمانځه لپاره پاکه ده لمونځ ورباندی صحیح دی نوهمدارنګه د یو نامسلمان په کور کې که خالي ځمکه که څه هم خرابه شوې وې خوله وچیدلو وروسته لمونځ وراندې صحیح دی خوکه کالی ورباندې واچول شي نو دابیا دیرښه دی.(آپ کی مسائل ص۱۸۵ ج۳)

د بډې (رشوة) خوړونکې د لمانځه حکم

مسئله :کوم سړي چې له خپلې مزدورۍ تنخواپرته په پټه یا ښکاره رشوت خورې د هغه لمونځ قبلیږې اوثواب هم ورته ملاویږي مګر د رشوت لویه ګناه بیاجدا ده هغه ورباندی شته. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲ج۲)

د ګونګې سړي د لمانځه حکم

مسئله : مور زاده ګونګی کوڼ سړی چې قرائت نه شي لوستلی نو قرائت ورباندی فرض نه دی نور چې د لمانځه ارکان دی ټول به د نورو خلګو په څیر اداء کوې که دومره پوهیږي چې لمونځ فرض دی اود اداء کولو توان یې هم لري بیایې هم نه کوی نو ګناهګار دی په ګناه کبیره اخته دی. (فتاوی محمودیه ص۲۱۷ ج۲ ،بحواله شامی ص۳۶۳ ج۱)

که د لمونځ کونکي په وړاندې د روضې مبارکې تصویر وي

سوال: که چیرې د لمونځ په حالت کې د مدینې منورې نقشه چې په هغه کې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د مزار تصویر وي یعنی د مزار گنبد وي په لمانځه کې څوڅه خرابی نه راځي؟

جواب: د درمختار (ص ۹۴۵ ج ۱) څخه معلومیږي چې که څه هم د قبر په وړاندې لمونځ مکروه دی لیکن د قبر د نقشې یا تصویر په مخامخ لمونځ کولو کې څه حرج نشته ځکه چې د دې نه پرستش شوی دی او نه یې کیږي البته که چیرې دیوه قوم داسې رسم رواج وی نو بیا په دې صورت کې کراهت لري. (امدادالفتاوی ص۴۲۰ ج۱)

په لمانځه کې د نبي کریم ﷺ د نامه په اوریدو سره درود ویل

پوښتنه: که چیرې امام په لمانځه کې دا ایة ووایی (ومامحمد الا رسول الله) او کوم مقتدی په دې فکر چې د نبي کریم ﷺ له نامه سره باید درود وویل شي، درود ووایی په لمانځه کې خو به څه خرابي نه راځي؟

جواب: د مقتدي دا خیال خو بالکل صحیح دی چې د آنحضرت ﷺ د نوم په اوریدو سره درود شریف ووایی حتی په احادیثو کې د دې ډیر تاکید او تائید راغلی دی مگر د حکم د لمانځه څخه دباندې دی په لمانځه کې نه دی نو که چیرې څوک همداسې وکړي لمونځ یې فاسدیږي.

دا راز که څوک د الله تعالی د نوم په اوریدو سره ﷻ ووایی هم یې لمونځ فاسدیږي همدارنگه دې ته ورته په نورو الفاظو کې هم همدا حکم دی لکه «صدق الله العلی العظیم» ویل او داسې نور ځکه

چې په دې کې جواب ورکول ملحوظ وي او په جواب ورکولو سره لمونځ فاسد کیږي او که چیري په غیر ارادي توګه یې له خولې نه درود شریف ووزي ، بیا لمونځ نه فاسدیږي ځکه چې درود شریف داسې یو شی نه دی چې په لمانځه کې بیخي دا الفاظ شته نه بلکې دا خو په لمانځه کې مستقل ویل کیږي نو په همدې اساس په ناڅاپي ویلو سره لمونځ نه فاسدوي او په قصدې توګه چې وویل شي لمونځ فاسدیږي. (فتاوی محموديه ص۱۲۷ ج۲)

که څوک د سهار لمونځ اداء کړي او وروسته بیا پر خپلو کالو منی ووینې

مسئله : که چاته په شپه کې احتلام ور پېښ شي ،ولې سهار ور په یاد نه شي لمونځ وکړي بیا غرمه هغه نجاست ووینې نو که د سهار څخه وروسته ویده شوی نه وی نو بیا د سهار لمونځ راګرزول ور باندې لازم دی. (فتاوی محموديه ص۱۳۶ ج۲)

تر لمانځه وروسته له صف څخه لږ شاته کیدل

سوال : ډیر وخت داسې وی چې ځینې خلک له نورو سره یو ځای په جماعت کې پر څنګ ودریږي خو له سلام ګرزولو وروسته سمدستې شاته کیږي ادباً مثلاً لکه طالب العلمان د استاذانو تر څنګ په جماعت کې و دریږي بیا د ادب په خاطر ورځینې شاته کیږي دا څنګه عمل دی ؟

جواب : حامداً ومصلیاً : که برابر ورسره کښېنې هم څه حرج نشته اوکه ادباً ورځینې شاته سي هم څه خبره نشته دا دواړه صحت لري نه دا د اصرار شی دی نه د انکار. (فتاوی محموديه ص۲۱۱ ج۲)

مسئله : د جماعت په اختتام کې له صف څخه جدا قبلې ته مخامخ کښيني او تسبيح وايي چې کله يې پوره کړي بيا له امام سره په دعاکې شريک شي نو په دې کې هيڅ حرج نشته نه هم منافق دی نه هم ګناهکار ، دا عمل درست دی. (فتاوی محموديه ص۲۵۹ ج۲)

څلورويشت ساعته لمونځونو ته يوه ځغلنده کتنه فرض لمونځونه

دا لمونځونه په شپه او ورځ کې ۱۵ رکعته د جمعې په ورځ وی او په نورو ورځو کې ۱۷ رکعته دی ۲ رکعته سهار ، ۴ رکعته ماپښين ، ۴ رکعته مازيګر ۳ رکعته ماښام ۴ رکعته ماخوستن ، دا لمونځونه فرض عين دی او د جنازې لمونځ فرض کفايه ده.

واجب لمونځونه

د شريعت له پلوه ۳ لمونځونه واجب دی وتر او د اختړونو لمونځونه ، وتر ۳ رکعته دی هره ورځ د ماخوستن له لمانځه وروسته.

او د اختړونو دوه دوه رکعته په ټول کال کې يو يو ځل پر دې برسيره کوم لمونځونه چې نذر کړل شوی وی هغه هم واجب دی او همدارنګه هر نفل له شروع کيدلو وروسته واجب ګرزي يعنې د هغوی پوره کيدل ضروري دی او د فساد په صورت کې يې قضاء لازمه وی.

سنت لمونځونه

د سهار له فرضو څخه وړاندی ۲ رکعته د ماپښين مهال ٦ رکعته څلور مخکې ۲ وروسته تر فرضو ماښام مهال دوه رکعته له فرضو وروسته همدارنګه ماخوستن هم دوه رکعته له فرضو وروسته دا راز د تهجد لمونځ تحية المسجد. او تراويح لمونځ ۲۰ رکعته ، دا حرام لمونځ ، د کسوف لمونځ دوه رکعته ، دخوف لمونځ دوه رکعته.

مستحب لمونځونه

له وترو څخه وروسته دوه رکعته ،د اوداسه دوه رکعته د سفر لمونځ ۲ رکعته د توبې لمونځ دوه رکعته د قتل لمونځ دوه رکعته.

د تهجد لمونځ : د تهجد لمونځ سنت دی نبي کریم ﷺ به همیشه اداء کوی او خپلو صحابه کرامو ته به یې ډیر ترغیب ورکاوی د دې ډیر فضائل په احادیثو کې وارد دي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي چې د فرض لمانځه وروسته غیته مرتبه د تهجد د لمانځه ده. (مسلم) ځینو فقهاؤو دې لمانځه ته مستحب ویلي دی مګر صحیح خبره داده چې دا لمونځ سنت دی صوفیه کرام فرمایی چې هیڅ شخص د تهجد له لمانځه پرته د ولایت مقام ته نه شي رسیدای په دې کې شک نشته چې دغه لمونځ د امت د ټولو نیکو او صالحو بندګانو یو معمول دی له صحابه کرامو څخه رانیولي بیاتر دې وخته پورې بلکې په یو حدیث کې راځي چې د راتلونکې امت وګړی به هم دا لمونځ اداء کوي ، د تهجد وخت د ماخوستن له لمانځه وروسته دی ، سنت دادی چې سړی د ماخوستن لمونځ اداء کړی بیا ویده شي اوله هغه وروسته بیاراپورته شي د تهجد لمونځ وکړی. (شامی علم الفقه ص۲۳ ج۲)

مسئله : د تهجد وخت له صبح صادق څخه مخکې ده.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۰۲ ج ۲ بحواله مشکوة ص۱۰۵ ج۱)

بهتره دا ده چې تهجد د نیمې شپې نه وروسته اداء شي د تهجد لمونځ لږ تر لږه دوه رکعته او زیات له زیات ۱۰ رکعته منقول شوېدی

او د نبي کريم ﷺ معمول ۸ رکعته وو چې په يوه يوه سلام به يې دوه دوه رکعته اداکول.

د فقيې په ځينو کتابو کې د دې لمانځه (تهجد) ۸ رکعته اخيرنی شمير نقل شوی دی مګر خو له احاديثو څخه څرګنديږي چې نبي کريم ﷺ ۱۰ رکعته هم کړي دي (شيخ عبدالحق دهلوي رحمة الله تعالى عليه په شرح سفر السعادت) کې دا په ډير تفصيل سره بيان کړي دي.

د تهجد لمونځ نيت به داسې وی:

«نويت ان اصلي رکعتي صلوة التهجد سنة النبي ﷺ» مانيت کړی چې د نبي کريم ﷺ پر سنت طريقه د تهجد دوه رکعته لمونځ اداء کړم کله په نيمې شپه کې، کله له هغه هم مخکې اويا کله يو څه وروسته به د تهجد لپاره راپورته کيږي اودا دعاء به د ځان معمول ګرزوي په داسې حال کې چې دواړه لاسونه به پر مخ راتيروي تر څو د خوب اثر ورځنې لير ی شي او دعاء داسې دد: «الحمدلله الذي احيانا بعد ماأماتنا واليه النشور» د الله تعالى شکر اوحمد دی چې زه يې له مرينې (خوب) وروسته بيا را ژوندی (ويښ) کړم او هغه ذات ته بيرته زموږ د ټولو بيرته ورتله دی له دې پر ته نورې هم ډيرې دعاګانې شته چې له نبي کريم ﷺ څخه منقولې دي. (سفرالسعادت)

له دې وروسته به مسواک وهی. په مسواک کې مبالغه کول د آنحضرت ﷺ عادت ؤ له مسواکه وروسته به يې اودس تازه کوی په ځينو رواياتو کې راځې چې د مسواک يا اوداسه پر مهال يا ځينې وايي تر دی لږ مخکې به يی پورته د آسمان پر لورې کتل اود سورة آل

عمران ورستې ۱۰ آیتونه چې له «انّ في خلق السموات والأرض»
څخه به تلاوة کاوو ،اوپه ځینوروایاتوکي «ربنا ماخلقت هذا باطلاً»
څخه بیا تر «انک لاتخلف المیعاد» پورې به یې تلاوت کاوه له دې
وروسته به یې لمونځ پیل کاوو د لمانځه په اداینه کې د هغه ﷺ
عادات بیلابیل وو کله به یې شپږ رکعته لمونځ کاوه اوله هرو دوو
رکعتونو ورسته به ویده کیده . له راپورته کیدو وروسته به یې بیا
هغه ډول مسواک او اودس تازه کاوه اوآیاتونه به یې تلاوت کول د
نبی کریم ﷺ عادت اکثر ۸ رکعته وو له همدې امله فقهاؤ ۸
رکعته غوره کړي دي وتر به نبی کریم ﷺ له تهجد وروسته کول،
اوکله چې به د سهار وخت نژدې ؤ نو د سهار سنت به یې هم ورپسې
کول ،بیا به د یو ه ساعتکي لپاره ویده کیده او بیا به راپاڅیدی د
سهار فرض لمونځ به یې اداء کوی.

(علم الفقه ص۴۴ ج ۱ ،قران کریم المزمل پ۲۹ ،بخاري ص ۱۵۳ ج ۱ کتاب الفقه ص ۵۳۱ ج۱).

پوښتنه : چې څوک تهجد ګزار وی هغه د تهجد پر وخت وتر کوی
،که چیرې څوک مخکې لا د ماخستن پر مهال وتر وکړی په دې کې
خو به څه حرج نه وی ځکه چې ځینې خلک وایی چې له وتر لمانځه
وروسته تر سهاره بل نفل نشته.

جواب : په دې کې هیڅ حرج نشته څوک چې تهجد ګزار وی هغه هم
وتر ماخستن کولای شي بلکي (احوط) ښه احتیاط لاهم داده. بیا
که راپورته شي تهجد دی وکړی دا خبره ناسمه بلکې غلطه ده چې
وایی له وترو وروسته تر سهاره بل نفل نشته.

(فتاوی دارالعلوم ص ۱۶۵ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص ۲۴۲ ج ۱)

مسئله : تهجد او تراویح له آنحضرت ﷺ څخه ثابت دي په روژه او غیر روژه کې ۱۱ رکعته د تهجد سره له وترو دی تر دې زیات نه. یعني اکثراً د هغه مبارک د اعادت وو (فتاوی دارالعلوم ص۲۵۳ ج۲)

مسئله : څرنګه چې آنحضرت ﷺ اکثراً ۸ رکعته تهجد کاوه او ۳ رکعته وتر ، نو ځکه حنفي فقهاؤ پر ۸ رکعته باندی مواظبت مستحب بللی دی. او که چیرې ګنجایش نه وی نو دوه یا څلور رکعته هم کافي دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۲ ج۲، شامی ص۶۲۱ ج۱)

مسئله : که څوک دا نشي کولای چې د شپې په آخیر کې تهجد وکړی ، نو دې اول ماخستن له لمانځه وروسته له وترو مخکې یا وروسته د تهجد په نیت وکړی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۲ ج۲)

همدارنګه د تهجد په لمانځه کې په لوړ آواز قرائت ویل مستحب دی . (بحواله ردالمحتار ص۲۹۸ ج۱ فصل فی القرائت)

مسئله : د تهجد د لمانځه قضاء نشته خو که تر غرمې مخکې وشي ښه خبره ده. (فتاوی دارالعلوم ص۲۱۱ ج۲ بحواله مشکوة شریف ص۱۱۰ ج۱)

(دا د هغه ځلپاره چې کال ۱۲ میاشتې همشه تهجد نه پریږدی نو که یو دورځ ځنې پاته شې خفګان دی نه کوی ، تر غرمې مخکې مخکې دی ادا کړې ، کیدای شي هغه پوره ثواب ورته ورسیږې محروم به نه وی. محمد رفعت قاسمي غفرله)

مسئله : ځینې خلک دا ګمان کوی چې له تهجد وروسته ویده کیدل ښه نه دی ، په دې سره دا تهجد له مینځه ځې . په داسې حال چې دا خبره هیڅ اصل او حقیقت نلرې ، دا غلطه ده. همدا وجه ده چې ډیر خلک له تهجده په دې وجه محروم شوې دی. چې وایی بیا وروسته

تر سهاره کښېناستل مشکل دی. او خوب کول منعه ګڼي نو که څوک تهجد وکړی او بیاویده شي په دې کې هیڅ ډول ممانعت او حرج نشته. (اغلاط العوام ص ۵۷)

مګر دابه یې په ذهن کې وی چې د سهار لمونځ تری قضانه شي ـ محمد رفعت قاسمي غفرله)

مسئله : په صلوة الاوابین ،اشراق ،اوڅاښت تو لو کې صرف د نفل نیت کول کافی دی دکوم خاص لمانځه او وخت نوم اخیستل دومره ضروري نه دی که یې یاد کړی بهتره ده . (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۹ج۳)

د شکرانې د لمانځه طریقه

مسئله : کوم وخت چې یو ستر نعمت سړی ته ورسیږي او یاغټ مصیبت ورڅخه زایل شي ، نو بهتره داده چې په بدل کې یې لږ ترلږه دوه رکعته لمونځ اداکړی. کهدانه وی نو یوه سجده د شکر هم مستحب ده مګر دا سجده له لمانځه وروسته لګول مکروه او ممنوع ده ځکه چې ناخبره خلک پر هغه باندی واجب یاسنت اعتقاد کوی. (فتاوی محمودیه ص ۱۲۵ ج۱)

مسئله : د شکرانې د لمانځه نه وخت معلوم دی نه رکعتونه البته په مکروه وختونو کې به نه وی اوتر د وه رکعته به کم نه وی.

د څاښت لمونځ

د څاښت لمونځ مستحب دی که څلور رکعته کوي که تر څلور زیات ، له نبي کریمﷺ څخه څلور او تر څلور زیات دواړه منقول دی د طبراني په یوه روایت کې ۱۲ رکعته پورې منقول شوی دی. (مراقی الفلاح)

د ځانښت وخت له هغه پیل کیږي چې لمر ښه راپورته شي او بیا تر زوال لږ مخکې (مراقی الفلاح)

د ځانښت لمونځ به په دې نیت اداء کوي « نویت ان اصلي اربع رکعات صلوة الفجر سنة النبی ﷺ »

ترجمه : نیت می کړی چې څلور رکعته لمونځ د ځانښت په سنت طریقه د نبي کریم ﷺ اداء کړم. تر دې ځایه چې د کومو لمونځونو یادونه وشوه دا هغه لمونځونه وو چې نبی کریم ﷺ په التزام سره کول او هیڅکله به یې نه پریښول او پاتی نور لمونځونه چې به نبي کریم ﷺ اداء کول د هغوی لپاره به څه خاصه وجه او سبب وو. مثلاً تحیة المسجد به یې هغه وخت چې مسجد ته به تلی اداء کول دا راز خسوف او کسوف لمونځونه به یې بیا چې لمر یا سپوږمی تندر ونیول کاوو به یې دغه رنګه نور تول پاتې لمونځونه.

د هغه چالپاره چې د ثواب او اجر هیله من او خواهشمند وی ، هغه ته پکار ده چې له یوه قوی عذره پرته دې دغه لمونځونه نه پریږدی که سړی سم فکر وکړی نو دا څه ګرانه خبره هم نه ده په یوه شپه او ورځ کې تول تال لمونځونه ۴۲ رکعته کیږي : ۱۷ رکعته فرض ۳ رکعته وتر ۱۲ رکعته مؤکد سنتونه چې له پنځو لمونځو فرضو سره یو ځای اداء کیږي ۸ رکعته د تهجد لمونځ ۴ رکعته د ځانښت لمونځ مګر خو د افسوس خبره دا ده چې موږ له کم همتي او کمزوري څخه خپل فرض لمونځونه نشو اداء کولای هغه راته ګران وی الله تعالی فرمایي: « وإنها لكبيرةٌ إلا على الخاشعينَ (۴۵) الذينَ يظنّونَ أنّهم مُلاقو ربّهِمْ »

ترجمه: بې شکه لمونځ کول ډیر ګران وی مګر نه هغو کسانو ته چې خدای ﷻ ته په ورتلو یې کلک یقین وی) نو ددی کمزوری او سستی اصلي وجه دا کیدای شي چې موږ اصلاً پر دی کلک او پوخ یقین نلرو چې قیامت راتلونکي ، حساب کتاب شته ، او ثواب عقاب به وی اعوذبالله من جمیع ماکره الله ...

مسئله : د اشراق د لمانځه پوره او مکمل ثواب هغه چاته رسیږي چې د سهار فرض لمونځ په مسجد کې په جماعت سره اداء کړی او یایې د څه عذر له امله په کور کې اداء کړي او د همدې لمانځه پرځای ناست په ذکر باندی مشغول واوسي تر هغو چې کله مکروه وخت ووزي بیا دوه یاڅلور رکعته اداء کړی. (فتاوی رحیمیه ص۱۷ ج۲)

تحیة المسجد : دا لمونځ د هغه چا لپاره سنت دی چې و مسجد ته ورداخل شي. (درمختار وغیره)

له دې لمانځه نه مقصود د مسجد تعظیم دی چې په حقیقت کې دا د الله تعالی تعظیم بلل کیږي ځکه چې د مکان تعظیم د هغه د خاوند له امله کیږي . نو دلته دا اشتباه هیڅ نه رامینځ ته کیږي چې د نفس مکان تعظیم پکې غرض وی ، نو چې کله څوک مسجد ته ورشي ، که مکروه وخت نه وی نو تر کښیناستلو مخکې دی دوه رکعته لمونځ وکړی. (درمختار بحر رائق شامی وغیره)

او که مکروه وخت وی نو بیا دی صرف دغه کلمات څلور ځله ووایی « سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله » او له دې وروسته به کوم درود شریف ولولي. (درمختار ،مراقی الفلاح)

د دې لمانځه نیت په دې ډول دی « نویت ان اصلی رکعتن تحیة المسجد » ما اراده کړې چې دوه رکعته لمونځ تحیة المسجد اداء کړم) دوه رکعته ضروري نه دي که څلور اداء کړي هم څه حرج نشته او که چیرې مسجد ته له راتلو سره سم په خپل فرض لمانځه پیل وکړي نو هغه فرض د تحیة المسجد ځای هم نیسي او یا دا رنګه سنت وکړي هغه هم تحیة المسجد کیدای شي یعنې په دې تو ګه د تحیة المسجد ثواب هم تر لاسه کولای شي که څه هم نیت د تحیة المسجد نه وي شوی. (درمختار، مراقی الفلاح شامی وغیره)

که چیرې څوک مسجد ته داخل شي نو بهتره خبره دا ده چې سمدستي تر کښیناستلو مخکې تحیة المسجد اداء کړي، خو که لږ شیبې کښیني بیا یې وروسته وکړي هم څه حرج نشته (در مختار وغیره) نبي کریم ﷺ فرمايي چې: کله په تاسو کې څوک مسجد ته خې نو تر څو چې مو دوه رکعته لمونځ نه وي کړی نه دی کښیني. (صحیح البخاري، صحیح مسلم)

که چیرې په لږ وخت کې څو ځله سړی مسجد ته ورشي نو یو ځل تحیة المسجد کافي دی که په اول ځل یې وکړي او که په اخیر کې. (در مختار، شرح منیه ص ۳۲۷ ج ۱) فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۶ ج ۲، رد المحتار ۶۲۵ ج ۱، فتاوی رحیمیه ص ۲۲۶ ج ۱)

د اوداسه سنت: مخکې تر دې چې د اوداسه د لوندوالي څخه لا وچ شوی نه وي دوه رکعته لمونځ کول مستحب دي. (در مختار، مراقی الفلاح)

که څلور رکعته وکړي هم څه حرج نشته او که فرض یا سنت وکړي هم د دې مستحب لمانځه ثواب موندلای شي. (مراقی الفلاح، علم الفقه ص ۴۵ ج ۲)

مسئله: ښځې هم تحیة الوضوء کولای شي. (آپ کی مسائل ص ۸۱ ج ۲)

نبی کریم ﷺ فرمایی: څوک چې په ښه توګه اودس تازه کړی بیا دوه
رکعته نفل د زړه له اخلاصه وکړی د هغه لپاره جنت واجب دی (صحیح
مسلم) نبی کریم ﷺ د معراج په شپه په جنت کې دحضرت بلال رضی
الله تعالی عنه د تلو اواز واوریدی، سهار یی له هغه نه وپوښتل چې
ته کوم داسې یو نیک کار کوی چې پرون ما په جنت کې تر خپل مخ
ستاد تللو اواز واوریدی ؟! حضرت بلال رضی الله عنه عرض وکړ
چې یارسول الله ! زه چې کله اودس وکړم نو دوه رکعته لمونځ کوم
(بخاري) دغسل کولو نه وروسته هم دغه دوه رکعته سنت دي ځکه چې
له هر غسل سره یو ځای اودس هم ضرور کیږي. (ردالمحتار علم الفقه ص ۴۶ ج ۲
،کتاب الفقه ص ۵۳۰ ج ۱)

د سفر لمونځ: کله چې یو څوک له خپل وطن څخه سفر کوی نو ده ته
مستحب داده چې دوه رکعته لمونځ وکړی او بیا سفر پیل کړی. کله چې
بیرته له سفر څخه راستون شي نو هم مستحب دا ده چې لومړی مسجد ته
ولاړ شي، دوه رکعته لمونځ وکړی بیا وروسته کورته ولاړ شي (درمختا
روغیره) نبي کریم ﷺ فرمایی: څوک چې په سفر ځی؛ تر دې بل هیڅ ښه شی
خپل کور نشی پریښودلی، لکه دوه رکعته لمونځ چې وکړی د سفر د پیل
پر مهال. (طبرانی) نبی کریم ﷺ چې به کله له سفر څخه تشریف راووړ نو
لمړی به مسجد ته تلی او دوه رکعته لمونځ به یی کاوه. (صحیح مسلم)
مسافر ته دا هم مستحب دی چې په سفر کې چې کوم ابادی ته ورسیږي
او هلته یې د څه وخت لپاره د قیام (او سیدلو) خیال وی، نو مخکې تر دې
چې کښیني او دوه رکعته لمونځ دې ادا، کړی.
(شامی وغیره) علم الفقه ص ۴۶ کتاب الفقه ص ۵۳۰ ج ۱ مسائل سفر)

د استخارې لمونځ: کله چې چاته کوم کار ور پېښ شی د هغه په کولو او نه کولو کې متردد وی نو ده ته په کار ده چې دوه رکعته د استخارې لمونځ وکړې، له هغه وروسته چې یې پر کوم لورې رغبت وی پر هغه باندې دې پرېکړه وکړی. (درمختار، مراقی الفلاح)

بهتره داده چې تر ۷ ځله تکرار ولو وروسته بیا خپل کار پیل کړی یعنې ۷ ځله دې د استخارې لمونځ وکړی (شامی، مراقی الفلاح)

نبی کریم ﷺ به د استخارې د لمانځه په تعلیم کې داسې اهتمام کاوه لکه د قران کریم په تعلیم کې چې بې کاوه. (بخاری، ترمذی وغیره)

د استخارې لمونځ به په دې نیت سره شروع کړی: «نویت ان اصلی رکعتی صلوٰة الاستخارة» نیت می کړی چې دوه رکعته د استخارې لمونځ اداکړم، بیا دې له دستور سره سم خپل دوه رکعته لمونځ وکړی او دا دعاء دې وکړی:

« اللهم انی استخیرک بعلمک واستقدرک بقدرتک وأسئلک من فضلک العظیم فانک تقدر ولاأقدر وتعلم ولاأعلم وأنت علام الغیوب - اللهم ان کنت تعلم ان هذا الامر خیرلی فی دینی و معاشی و عاقبه امری و عاجله و اجله فاقدره لی و یسره لی ثم بارک لی فیه و ان کنت تعلم ان هذا الامر شرلی فی دینی و معاشی و عاقبه امری و عاجله و اجله فاصرفه عنی و اصرفنی عنه و اقدرلی الخیر حیث کان ثم رضینی به. »

کله چې دعاء کوی نو د - هذاالامر - پر ځای دې خپل مقصد او حاجت ذکر کړی، مثلاً که یې د سفر اراده وی نو وایی به چې هذاالسفر او که یې د نکاح اراده وی وایی به هذاالنکاح او که یې د کوم شئ اخیستل او خرڅول وی نو وایی دی هذاالبیع همداسې نور...

ځيني علماء وايي چې له دعاء وروسته دې په اوداسه سره قبلې ته مخامخ ويده شي که په خوب کې سپينو الې يا زرغون والي ويني . نو دې پوه شي چې دا کار خير دی او که تور والي يا سور والي ويني. نو دې پوه شي چې دا کار بد دی کول يې په کار نه دي (شامی) که د کوم ضرورت له امله يې لمونځ نه شو کولای مثلاً بيره يې وي يا ښځه د حيض يا نفاس په حالت کې وي نو بيا دې صرف دعاء وکړي او په کار دې پيل وکړي. (طحطاوی وغیره)

مستحب دا دې چې تر دعاء مخکې د الله تعالي تعريف او حمد او پر نبي کريمﷺ درود شريف هم ولولي

(علم الفقه ص ۴۷ حجة الله البالغة ص ۱۹، بخاري ص ۱۰۰، ترمذی ص ۹۰، کتاب الفقه ص ۵۲۱ ج ۱)

که چيرې يې په يوه ورځ کې درک معلوم نشي نو درې يا اووه ۷ ورځې دې دا عمل تکرار کړي نو نتيجه به يې معلومه شي ان شاءالله

محمد رفعت قاسمي.

د حاجت لمونځ : که چاته کله کوم کار ورپيښ شي که له الله تعالى څخه دغه حاجت بلا واسطه وي او که په واسطه سره وي. يعنې د يوه بنده څخه د حاجت پوره کول مقصود وي مثلاً څوک د يوې وظيفې هيله مند وي څوک له کومې ښځې سره نکاح او يا داسې نور - نو هغه ته مستحب داده چې دوه رکعته لمونځ وکړي درود شريف ووايي او د الله تعالى تعريف وکړي او بيا دا دعاء ولولي : « لااله الاالله الحليم الكريم سبحان الله رب العرش العظيم الحمدلله رب العلمين أسئلک موجبات رحمتک و عزائم مغفرتک والغنيمة من كل بر والسلامة من كل اثم لاتدع لی ذنبا الا غفرته ولا حاجة لک فيها رضى الا قضيتها ياأرحم الراحمين. »

له دې دعاء وروسته چې کوم حاجت یې په زړه کې وی له الله تعالی څخه به د هغه غوښتنه وکړی دا لمونځ د حاجت پوره کولو لپاره مجرب دی ډیرو بزرګانو په همدی طریقه سره له الله تعالی څخه خپل حاجتونه پوره کړی دی. (شامی)

یو ځل د نبی کریم ﷺ په خدمت کی یو ړوند سړی حاضر شو چې یارسول الله زما لپاره دعاء وکړه چې الله تعالی ماروغ کړی.

نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: که ته صبر وکړی ډیر زیات ثواب به دی وی او که ته وایی چې زه درته دعاء وکړم؟

د هغه خواهش داوو چې ته راته دعاء وکړه. نو نبی کریم ﷺ ورته دغه لمونځ په دې طریقې سره وښوودی. (علم الفقه ص۲۸ ج ۲، کتاب الفقه ص ۵۳۲ ج ۱)

صلوة الاوابین: د اوابین لمونځ مستحب دی نبی کریم ﷺ د دې ډیر زیات فضائل بیان کړی دي د اوابین لمونځ د ماښام د لمانځه وروسته په درې سلامه ۶ رکعته لمونځ کول په کار دی.

(مراقی الفلاح، علم الفقه ص ۲۸ ج ۲، ترمذی ص ۸۹، ابن ماجه ص ۹۸)

صلوة التسبیح: صلوة التسبیح مستحب لمونځ دی چې ډیر ثواب او فضیلت یې په احادیثو کې ډیر زیات ذکر شوی دی دغه لمونځ نبی کریم ﷺ حضرت عباس رضی الله تعالی عنه ته وربښودلی دی او فرمائلي: ای کا ! د دې لمانځه په کولو سره د انسان ټول ګناهونه معاف کیږي، تیر شوی او راتلونکي نوی اوزاړه، که تاسو کولای شئ نو په ورځ کې یې یو ځل کوئ که دا هم نشئ کولای نو په اونی (هفته) کې یې یو ځل کوئ او که نه نو په میاشت کې یې یو ځل کوئ

اوکه دا هم بیخي نشي کولای نو په ټول عمر کې یې یو ځل خو ضروري کړ ئ . (ترمذی)

له حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وپوښتل شول چې د دې لمانځه لپاره تاته کوم خاص سورة هم یاد دی ؟ هغوی وویل: هو : « الهکم التکاثر ، والعصر ، قل یاایها الکافرون ، قل هوالله احد » صلوة التسبیح له نبی کریم ﷺ څخه ۴ رکعته منقول شوی دی ،بهتره داده چې څلور واړه رکعتونه په یو ه سلام سره اداء شي خوکه په دوو سره وشی هم صحت لري په هر رکعت کې به ۷۵ واره تسبیح وایی ، په ټو ل لمانځه کې ۳۰۰ ځله کیږی. د صلوة التسبیح د اداء کولو طریقه داسې ده:

لمړی به نیت وکړی : « نویت ان اصلي اربع رکعات صلوة التسبیح » نیت می کړی چې څلور رکعته صلوة التسبیح ادا ء کړم ، وروستې به تکبیر تحریمه ووایی لاس به تر نامه لاندی بند کړی اوسبحانك اللهم به ووایی بیا به ۱۵ واره « سبحان الله والحمدلله ولااله الا لله والله اکبر» بیا به أعوذ بالله او بسم الله ووایی له هغه وروسته به سورة فاتحه او بل سورة ولولي . له دې وروسته به بیا ۱۰ ځله همغه تسبیح ووایی ، په رکوع کې ، بیابه له رکوع راپورته شي له سمع الله لمن حمده ویلو وروسته به ۱۰ واره بیاهمغه تسبیح ووایی ،او سجدی ته به ولاړ شي هلته به په دواړو سجدو کې له سبحان ربی الاعلی وروسته لس لس واره هغه تسبیح ووایی او بیا به په دوهم رکعت کې له الحمد لله څخه مخکې ۱۵ ځله او له فاتحې او سورة وروسته به لس واره هغه تسبیح وایی ، او په رکوع، قومه ، دواړو سجدو او دهغوی په مینځ کی به

لس لس واره همدا تسبیح وایی ، همدارا زپه دریم او څلورم رکعت کې بې هم وایی په یو بل روایت کې دا رنګه راغلي دي چې له سبحانك اللهم څخه وروسته به دا تسبیح نه وایی ، بلکې له الحمد او سورة څخه وروسته به یې ۱۵ ځله وایی او له دوهمې سجدې څخه وروسته به کښیني لس ځله به یې ووایي ، همدارازپه دوهم رکعت کې بې هم له الحمد او سورة څخه وروسته لس واره او له تشهد وروسته به یې هم لس واره ، بیا همدا دول په دریم رکعت کې هم ، په څلورم رکعت کې به یې له درود شریف څخه وروسته لس ځله وایي . او نورې پاتی تسبیحاتی به ددستور سره سم وایی دا دواړې طریقې په ترمیذي شریف کې ذکر شویدي نو دچاخوښه ده چې په دې دواړو طریقو کې هره یوه خوښوي خوښولای ئې شي . خوبهتره داده چې کله په یوه روایت او کله په بل روایت عمل وکړي ترڅو دواړه روایتونه عملي شي (شامی)

په دې کې چونکه دغه تسبیحات په یوه خاص عدد (شمیر) باندې ویلې کیږي ، یعنې د قیام په حالت کې ۲۵ یا ۱۵ ځله او په نورو حالتو نو کې لس لس واره دی ، نوځکه د دې د شمیرلو ارتیا پیدا کیږي نو که چیرې د سړي خیال د دې شمیر نې پرخواشې نو بیا به په لمانځه کې خشوع نه وي نو له همدې امله فقهاء کرامو لیکلي دي : چې د هغوی د شمیرلو لپاره دې یوه نښه وټاکي . مثلاً چې یو ځل یې پوره کړي د یوه لاس یوه ګوته دې ټینګه کړي ، بیا دې دوهم ، دریم او څلورم همداسې وکړي کله چې شپږم عدد ته ورسیږي نو ددهم لاس پنځمه ګوته دې همداسې یو په بل پسې

تېنګه وي تر څو چې پوره لس شي ، خلاصه دا چې په همدې او دې ته ورته طريقې سره دې د تسبيحاتو شيمرنه کوي نه دا چې د ګوتو پر بندونو يې شميرې داسې نه ده (شامي) او که څوک يې بيا په خپل ذهن کې ياد ساتلې شي ، نو دا بيا نوره هم بهتره ده ،په دې شرط چې ټول ذهن يې هغه ته متوجه نه وي. (شامي)

که په هيره له چاڅخه په يوه ځاى کې تسبيح پاتې شي نو په دا دويم هغه ځاى کې چې ورسره متصل وي پوره دې کړي ، په دې شرط چې دا دوهم مقام داسې نه وي چې په دوه ځله ويلو سره زيات شي اوذ ده دغه زياتو الي تر مخکنى مقام زياتول منع وي. مثلاً قومه تر رکوع زياتول. نو به درکوع پاتې شوى تسبيحات په قومه کې نه اداء کوي بلکې په اوله سجده کې به يې اداء کوي . داراز دسجدو و پاتې شوې تسبيحات به په جلسه يعنى د دوو سجدو تر مينځ نه وايي څکه بيا جلسه تر سجده زياتيږي . بلکه په دوهمه سجده کې به يې وايي .
(شامي ،علم الفقه ص ۵۰ ج ۲ ،ابن ماجه ص ۹۹ ،ترميذى ص ۹۰)

د تفصيل لپاره شب برات او شب قدر رساله وګوره

د توبې لمونځ : له چاڅخه چې کومه ګناه صادره شي نو هغه ته مستحب دا ده چې دوه رکعته لمونځ اداء کړى او دخپلې دى ګناه معافي اوبښنه له الله تعالى څخه وغواړي (طحطاوي ،شامى اونور) حضرت صديق اکبر رضى الله له نبى صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوى چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که چيرې له کوم مسلمان څخه کومه ګناه وشي اوله هغه وروسته دى سمدستي اودس تازه کړي ۲ رکعته لمونځ دې اداء کړي او بيا له الله ته ی څخه

مغفرت وغواړي ،نو الله تعالی دهغه گناه بخښي بیاهغه صلی الله علیه وسلم د سند په توگه دغه آیة مبارک تلاوت کړ: « وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ الاية » د دې آیة مطلب دا دی چې کله یو شخص په کومه گناه کې مبتلا شي . نو دی دې د الله ﷻ په ذکر ځان مشغول کړی اوله الله تعالی څخه دې د بخښنې غوښتنه وکړی الله تعالی هغه ور بخښي . چونکه لمونځ هم دالله ﷻ یو عمده ذکر دی نوځکه له دې آیة څخه همدا لمونځ معلومیږي دقتل لمونځ : کله چې یو مسلمان قتل کیږی تو هغه ته مستحب دا ده چې دوه رکعته لمونځ وکړی او دخپلو گناهونو مغفرت له الله ﷻ څخه وغواړی ، ترڅوهمدا لمونځ یې په دنیاکې اخیري د(کامیابی) یو عمل پاتي وی .(طحطاوي ،مراقی الفلاح ،وغیره).

یو خل نبی کریم ﷺ له خپلو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم څخه څو تنه قاریان دقرآن کریم د تعلیم لپاره چیري ولیږل ،په لاره کې د مکې کافرانو هغوی ونیول ،له حضرت خبیب رضی الله عنه څخه پر ته یې نور ټول ځای پر ځای شهیدان کړل حضرت خبیب رضی الله عنه یې له ځا . سره مکې ته بو تلی ،هلته یې په ډیر دردونکي عذاب اوناوړ د شکنجو سره په شهادت ورساوه خومخکې له دې چې هغه شهید کړی ،له کفارو نه یې وغوښتل چې د دوه رکعته لمانځه اجازه ورکړی ،هغه دوه رکعته لمونځ اداء کړ (او بیا شهید کړای شو) نو له همغه مهاله دغه لمونځ مستحب وگرځیدی. (مشکوة،علم الفقه ص۵۱ ج۲ ،بخاري ص۴۲۸ ج۱ ،طحطاوی ص۲۱۹)

د تراویح لمونځ: د تراویح لمونځ په روژه مبارکه کې مؤ کد سنت دی.دنارینه وولپاره هم او د ښځینه و لپاره هم. (درمختار)

له کومي شپې نه چې د روژې میاشت ولیدله شي ،له همغې شپې دې تراویح پیل کړی او کله چې د اختر میاشت ولیدله شي ،پریږدی به یې ،تراویح د روژې تابع نه دی.څوک چې له کومې وجې روژه نه شي نیولای ،پرهغه بیاهم تراویح کول سنت دی ،که یې ونه کړی نود ترک سنت گناه یې پرذمه شته. مراقي الفلاح

مسافر او هغه ناروغ چې روژه نه شي نیولای ،داراز د حیض او یانفاس لرونکې ښځې که چیرې د تراویح په وخت کې له عذره خلاص شي اویا هغه کافر چې همدا مهال اسلام راوړی ،پر دې تولو باندې د تراویح لمونځ سنت دی که څه هم دی روژه نه وی نیولې.

(مراقي الفلاح) د تراویحو وخت د ماخستن له لمانځه وروسته د سهار تر راختلو پورې دوام لري. که څوک د ماخوستن تر لمانځه وړاندې تراویح وکړي ،دا صحت نه لري ،تراویح نه بللې کیږي. همداراز که څوک د ماخوستن د لمانځه نه وروسته تراویح په سنت توگه ادا کړی او بیا وروسته دا څرگنده شي چې په لمانځه کې څه فساد یا غلطي شویده او لمونځ راگرزول وړاندی لازمي وی نو لمونځ به راگرزوی او د لمانځه له راگرزولو سره به تراویح هم بیرته راگرځوي. (درمختار وغیره)

وتر تر تراویحو وروسته اداءکول بهتر دی ،خو که مخکې وشی هم څه حرج نشته. (درمختار وغیره) تراویح د ماخستن لەلمانځه وروسته د شپې په لومړۍ برخه یعني تر نیمې شپې مخکې به یې

اداء کوی.له هغه وروسته یې اداء کول مکروه دی.یعني خلاف اولی دی .(طحطاوی،حاشیه مراقی الفلاح)

د تراویحو شل رکعتي لمونځ د صحابه کرامو په اجماع سره ثابت دی.پر هر دوه رکعته به سلام گرزوی چې په ټولو شلو رکعتونو کې لس سلامه کیږي .(درمختار،بحرائق وغیره) د تراویحو له هر وڅلورو رکعتو وروسته دومره اندازه کښیناستل چې څلور رکعته پکښې اداء کیدای شي مستحب ده.مگر که دومره وخت کښیناستل پر خلکو بوج او د جماعت د کمیدو ویره وي نو بیا به دغومره اندازه نه بلکي لږشیبه به کښني . د دغي ناستې پر مهال د هر چا خوښه ده که نوافل کوې ،که تسبیح وایي او که پټه خوله کښیني په مکه مکرمه کې خلک پر دغه مهال طواف کوی او په مدینه منوره کې څلور رکعته لمونځ کوی. ځینو فقهاء کرامو لیکلی دی چې د ناستې په حالت کې دی دغه لاندی تسبیح وایی:

« سبحان ذی الملک والملکوت سبحان ذی العزة والعظمة والقدرة والکبریاء والجبروت سبحان الملک الحی الذی لا یموت سبوح قدوس ربنا ورب الملائکة والروح لااله الاالله نستغفرالله ونسئلک الجنة ونعوذ بک من النار » . (شامی)

که څوک د ماخستن لمونځ په جماعت سره اداء نه کړی نو دې تراویح هم په جماعت سره نه کوي ځکه چې تراویح د ماخستن تابع دی.مگر هغه څوک چې جماعت ځینې تیرشوی وی ،له خلکو سره د تراویحو په جماعت کې شریک شي ،نو دده دغه تراویح په جماعت سره صحیح دی. ځکه چې په دی وخت کې دغه کس د خلکو تابع گرزي

.کو یاده هم د ماخستن جماعت ورسره کړیدی. (درمختار ،شامی غیره) که چیرې څوک مسجد ته په داسې وخت کښې ورشی چې جماعت تیر شوی وی،نودې خپل فرض اداء کړی او د تراویحو په جماعت کښې دی شرکت وکړی ،او د تراویحو هغه تیر شوي رکعتونه دي له وترو بعد راوګرزوي . (درمختار)

په میاشت کښې یو ځل قرآن کریم په تراویحو کښې په ترتیب سره ختمول مؤکد سنت دی. د خلګو د سستئ یا کهالئ په وجه به یی نه پرېږدي مګر که چیري دااندیښنه زیاته وی چې دټول قران په ختمولو به سره به جماعت ډیر کم حتی بیخي خلک نه راځي او که راځي ډېر به ورباندی ګران وی.نو بیابهتره داده چې چې څومره اندازه پر خلګو ګران نه پریوزي ،هغومره دی وایی او یادی له الم ترکیف څخه تر اخیره پورې سورتونه پکښې وایی ، په هر رکعت کښې دې یو سورة وایی چې کله لس رکعته پوره شې دوهم ځل دې بیا په دې لسو کښې هغه سورتونه راغبرګوې .

او یا کوم سورة چې خوښه یی وی وایی دی (درمختار ،مراقی الفلاح ،شامی ،بحرائق ،وغیره) تر یو ځل زیات دې قرآنکریم زیات نه وایی . مګر په دې شرط که یی خلک ډیر هیلمند او شوقیان وو په یوه شپه ټول قران کریم ختمول جائز دی ،مګر که پر خلګو درونډ تمامیږي نو بیا مکروه دی. په تراویحو کښې به دیوه سورة په سرکښې بسم الله الرحمن الرحیم یو ځل په لوړ اواز سره وایی ځکه چې بسم الله د قران مجید یو ایت دی ، که څه هم دیوه خاص سورة جزء نه دی. نو که دانه وویله شې د قران یو ایت پاته شو ،اوداچې په لوړ اواز به یی وایی ځکه چې

خفیه ویل بیا مقتدیانو له نوري نه اداء کیږي. نوګویا دهغوی قرآن پوره نه شو تراویح په ټوله روژه کې کول سنت دی که څه هم قران تر هغه مخکې ختم شي. صحیح خبره دا ده چې د تراویحو په هر رکعت کې «قل هو الله» دري دري ځله وایی لکه چې ځینو خلګو عادت ګرزولی دی، دا مکروه دی. د تراویحو نیت به په دی ترتیب سره کوی (نویت ان اصلي رکعتی صلوة التراویح سنة النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه) نیت می کړی چې دوه رکعته سنت تراویح اداء کړم پر طریقه دنبی علیه السلام اوصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم تراویح هم د نور ولمونځونو په شان اداء کیږي چې مخکې یی د آداینې طریقی بیان شویدی د تراویح دلمانځه فضیلت اوثواب زیزیات دی ځکه چې د روژې په مبارکو شپوکې چې کوم عبادات تر سره کیږي دهغوی فضیلتونه په احادیثوکې ډیر زیات بیان شوی دی. په یوه صحیح حدیث کې راځي چې کوم څوک چې د رمضان المبارک په شپوکې خاص د الله تعالی لپاره په سپیځلی نیت سره عبادت کوی. د هغه وروسته او مخته ټول ګناهونه الله تعالی و ربخښی. (علم الفقه ص ۵۲ج ۲ کتاب الفقه ص ۵۲۲ ج ۱، په دی اړه نور تفصیل لپاره دمؤلف مرتب شوې رساله (مکمل ومدلل مسائل تراویح)) وګورئ.

د احرام لمونځ: کوم شخص چې دحج کولو اراده یی کړی وی، نو داحرام د تړلو پر مهال هغه ته مستحب ده چې لږ مخکې ۲ رکعته لمونځ وکړی. چې دا سنت دی. (مراقی الفلاح طحطاوی وغیره) د دې لمانځه نیت به داسی کوی: نویت ان اصلی رکعتی الاحرام سنة النبی صلی الله علیه وسلم، نیت می کړی چې د احرام دوه رکعته لمونځ وکړم.

د خسوف او کسوف لمونځ

خسوف د سپوږمۍ تندر نیولو ته وایي او کسوف د لمر تندر نیولو ته وایي په دې لمانځه کې به قرائت سهر که وایي .(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۲۶) د کسوف په وخت کې دوه رکعته لمونځ سنت دی ،نبی علیه السلام فرمایي چې خسوف او کسوف د الله تعالی د قدرت دوې نښې دی ،چې مقصود ورځني د بندګانو یرول دی ،پس تاسو چې کله هغه ووینی نو لمونځ کوئ .

د کسوف او خسوف د لمانځه همغه د نورو لمونځونو طریقه ده.

د کسوف لمونځ په جماعت سره هم کیدای شي په دې شرط چې د جمعې امام یا حاکم د وخت یا د هغه نائب امامت وکړي. (مراقی الفلاح وغیره)

د کسوف په لمانځه کې هغه ټول شرطونه معتبر دي چې په جمعه کې دی ،پرته له خطبې د دې لمانځه لپاره اذان ،اقامت نشته ،بلکي که چیري د خلکو راټولول یو خای کول مطلب وی نو آواز دې ورته وکړل شي . (مراقی الفلاح ،طحطاوي وغیره) د کسوف په لمانځه کې غټ سورتونه لکه بقره او داسې نور او همدارنګه په رکوع او سجده کې ځنډ مسنون دی ،خو قرائت به په ټیټ (ورو) آواز سره وایي.

(بهشتي زیور ص ۳۷ ج ۲، بحواله شرح التنویر ص ۱۱۷ فتاوی رحیمیه ص ۲۲۶ ج ۱)

له لمانځه وروسته امام ته په کار ده چې په دعاء کې تر هغه پورې مصروف واوسي او مقتدیان به امین امین ورسره وایي تر څو چې لمر له تندر څخه خلاص او بیرته خپل عادي حالت ته راځي مګر داسې وخت وی چې لمر ولویږي او یا د کوم لمانځه وخت راشي ،بیا دعاء موقوفه کولاشي. د خسوف په وخت کې دوه رکعته لمونځ سنت دی.

مګر په دې کې جماعت مسنون نه دی. داراز که بل هر ډول مصیبت او یا غم چاته راځي نو لمونځ کول سنت دي. په داسې حالت کې مثلاً: زلزله راشي ځالنده یا تکه راپریوزي، ستوري ډیر غورزي، زیاته تیاره شي، ویره خلګو ته پیدا شي، واوره ډیره واوري، یا باران زیات شي، یا یوه ناروغي په خلګو کې خپره شي. مګر په دې ټولو حالاتو کې چې لمونځ کیږي په جماعت سره به نه وي، هر څوک به یې په خپل کور کې اداء کوي نبي علیه السلام ته چې به کله کوم مصیبت یا تکلیف رسیده، سمدستي به یې ځان په لمانځه باندې مصروف ساته. (مرقی الفلاح وغیره) دلته چې څومره اندازه لمونځونه ذکر شول، له هغوی پرته نور هر څومره نوافل زیات کیږي، د ثواب او اجر باعث ګرځي. خصوصاً په هغو وختو کې چې دهغوی فضیلت په احادیثو کې بیان شوی دی، او په هغوی کې نبي کریم ﷺ دعبادة کولو ترغیب ورکړی دی لکه د روژې په اخیره عشره کې د شپې عبادة، همداراز د شعبان د ۱۵مې شپې او داسې نور. چې د دې وختونو زیات فضیلتونه وارد شوی او د عبادة یې ډېر ثوابونه او اجرونه یاد شوي دي خو مونږ دلته په هغه اندازه چې په احادیثو کې یې یادونه شوې؛ په هغه ډول په تفصیل سره بیان نه کړل.

د استسقاء په اړه باید وویل شي چې تر ټولو بهترین شی توبه، استغفار، عجز، او زارۍ دی د الله ﷻ په دربار کې. خو که چیرې لمونځ کوي نو بیا ضروري دا چې د ښار یا کلیو ټول لوی او واړه مسلمان له ښاره څخه دباندې په عیدګاه او یا لویه میداني کې سره راجمع شي، په ښه اخلاص او د زړه له تله استغفار پیل کړي، توبه

وباسي. کله چې ټول خلک سره یو ځای شي نو دې دوه رکعته لمونځ 21
په جماعت سره اداء کړی. امام به قرائت په جهر سره وایی. له سلام
ګرزولو وروسته به خطبه ووایی اوور پسې به بله هغه خطبه ووایی
چې دجمعې، په ورځ له اولې خطبې وروسته ویله کیږي. د دواړو
خطبو تر منځ به جلسه هم کوی. بیا به په ګډه دعاء وکړی. قلب رداء به
یواځې امام کوی مقتدی به یې نه کوی یعنی مقتدیان به خپل
څادرونه نه اړوي. (ابوداؤد، زادالمعاد، حصن حصين)

د استسقاء په باره کې چې له نبي کریم ﷺ څخه کومې دعاګانې
منقول شوی ؛له هغوی نه یوه دا ده: « اللّهم اسقینا غیثاً مغیثاً نافعا
غیر ضار عاجلا غیر عاجل اللهم اسق عبادک وبهائمک والبشر رحمتک
واحی بلدک المیت اللهم انت الله لااله الا انت الغنی ونحن الفقراء انزل علینا
الغیث واجعل ماانزلت لنا قوتا وبلاغا الی حین » دا ضروري نه ده چې
دعاء به په عربي الفاظو سره وی. که په هر ډول سره یې کولای شي
هغسې صحیح ده.

(علم الفقه ص ۵۷ ج ۲ هدایه ص ۱۲۱ ج ۱، کبیري ص ۲۴۷ ج ۱، فتاوی دارالنعیم ص ۲۲۹ ج ۵ مشکوة ص ۱۳۲ ج ۱، خطبات ماثوره)

دویري لمونځ :- که چیری ځوک له دښمن سره مخ شی ، هغه دښمن که
بی انسان وی، که حیوان نو په داسی حالت کې څه خلک یا ټول خلک
پر یوه ځای جماعت نشې کولای ، حتی له خپل سواری څخه د کښته
کیدلو مهلت هم نه وی ورته ، نو بیا ټولو ته پکار ده چه هریو پر خپل
سواری په ناسته په اشارې سره لمونځ اداء کړی. استقبال قبله هم دغه
وخت شرط نه دی . او که چیری په یوه سواري دوه تنه سپاره وی
نو هغوی دې جماعت وکړی. که دا جماعت یې هم نشوی کولای

نو بيا معذور دى. لمونځ دى نه كوي. بيا وروسته د اطمنان په حالت به يى قضاء راوړي او كه چيرى يو څه اندازه خلك كولاى شى چې جماعت وكړي نو هغوى به جماعت نه پريږدى ، كه څه هم ټول يى نشى كولاى. او هغه لږ خلك به جماعت په دې ډول اداء كوى چې ټول مسلمانان به دوې برخې شى يوه حصه به په سنگركې د دښمن مقابلې او څارنې ته چمتو وى بله ډله به په امام پسى جماعت ودروى او س كه دا لمونځ ۳ درې ركعتي او يا څلور ركعتي وى لكه د ماپښين ، مازيگر ، ماښام او ماخستن لمونځ. او دا لمونځ كوونكي مسافر هم نه وى يعنى په لمانځه كې قصر نه كوى ، نو كله چې امام دوه ركعته وكړي او دريم ركعت ته ولاړ شى نو دغه حصه خلك دې ولاړ شى. او كه ۲ ركعتي لمونځ وى ، لكه د سهار ، جمعې ، اخترونو ، لمونځونه او يا د ماپښين ، مازيگر ، ماخستن لمونځونه د قصر يعنى سفر په حالت كې نو بيا به دغه خلك پر دغه يوه ركعت باندى ځى او هغه نور خلك به راشى ، په امام پسى به هغه نور پاتى لمونځ پوره كړي ، كله چې دا لمونځ پوره شو ، نو يوازى امام به سلام وگرځوى او دا مقتديان به بيرته د دښمن د مقابلې لپاره سنگر ته وخيژى او هغه مخكني خلك به بيرته راشى ، دلته به هغه خپل پاتى لمونځ بى له قرائت پوره كړي ځكه چه دغه خلك لاحق وى. بيا به دغه خلك د دښمن مخى ته ورشى او هغه نور خلك به بيا راشى دلته به خپل پاتى لمونځ په قرائت سره پوره كړي ځكه چه دوى مسبوق دى.

خو دا به په ياد لرو چې سنگر ته د تلو راتلو پر مهال به پر سوارى نه سپريږى پياده (پلى) به ځى ، كه چيرى پر سوارى ولاړ شى سنگر ته او

یا له هغه ځایه جماعت ته پرسواری باندی راشی، نولمونځ یی فاسدیږی ځکه چه دا عمل کثیر دی. او عمل کثیر ته یوازی د ډیراشدضرورت پرمهال اجازه شته.

که چیری امام په دری رکعتی یاڅلور رکعتی لمانځه کی له اولی ډلی خلکوسره یو رکعت اوله دوهمی ډلی خلکو دوه یادری رکعته وکړ نولمونځ فاسدیږي نه او بهتره دا ده چی دواړی حصی خلک خپل لمونځ له امام یعنی د جماعت پرځای پوره کړی خو جائزدا هم ده چی هغه وروستی ډله که رانشی او خپل پاتی لمونځ پرهمغه ځای پسی تمام کړی. (درمختار،شامی وغیره)

خود نماز خوف (دویری لمونځ) دغه طریقه د هغه چا او هغه مهال لپاره ده چی له یوی خوا ډیر اشدضرورت وی، د دښمن د برید خطره وی. اوبل داچی خلک ټول غواړی په یوه امام پسی هرومرولمونځ اداکړی، مګرأفضله او بهتره دا ده چی هره ډله جلا جلا پخپل امام پسی یوځل لمونځ پوره اداکړی، هغه ډله ولاړشی د دښمن جبهی ته بیاهغه بله ډله په بل امام پسی خپل ټول لمونځ پوره وکړی. اوکه چیری خلکو یوځل په دی ګمان چی د دښمن ځخه ویره زیاته ده، لمونځ یی په همغه پورتنی طریقه اداء کړ، او بیاوروسته دا څرګنده شوه چی د دښمن د حملی خطره نه وه او نه دښمن دومره نژدی و؛ مطلب داچی ضرورت دومره زیات نه وو چی په دومره اشده طریقه سره دی لمونځ اداء شی، نو بیا پردوی ټولو باندی د دغه لمانځه راګرځیدل لازمي دی. ځکه چی به دومره عمل کثیره سره لمونځ کول

د ډېراشد ضرورت له وجې جواز پیدا کولای شي ، کنه نو بیا جائز نه ده. دا ډول خلاف قیاس عمل.

اول دا چې که چیرې دا جګړه یو د ناروا جګړه وي. مثلاً: باغي خلک د مسلمان بادشاه پرخلاف جګړه کوي او یا څه خلک د دنیاوي غرض لپاره له بل چاسره په جګړه وي. نوبیا د دا ډول لمانځه اجازه نشته. بلکې دا یوازې د هغه چا لپاره ده چه مجاهد وي یعنې في سبیل الله یو مسلمان د کافرو په وړاندې په حقه جهاد کوي او که چیرې یې د دښمن له ویرې او په عین حال کې د هغه (یعنې دښمن) د ویرولو په خاطر لمونځ له قبلې چپ بل طرف ته پیل کړی وي. نو په همدې وخت کې دښمن له هغه ځیله ځایه وتښتي او پرشا ولاړشي ، نو دوی به فوراً خپل مخ قبلې ته ګرځوي که څه هم د لمانځه په هر رکن کې چې وي. که داسې ونکړي نو لمونځ یې فاسد ګرځي.

او که چیرې بالعکس دوی په ښه اطمنان سره قبلې ته لمونځ کوي ، په دغه وخت کې له کومه اړخه دښمن راڅرګند شي او دوی په دې وخت کې دا ضرورت احساس کړي چه مخ باید پرهغه خوا وګرځي چیرې چې دښمن دی. نو دې هغې خوا ته مخ واړوي څه ممانعت نشته ، استقبال قبله دغه وخت شرط نه دی.

که یو څوک په داسې حالت کې وي چه په دریاب کې د لامبو په ډهلو سره پورې وزي او یا یې د پورې وتلو نه ، بل هدف وي خو د لمانځه اخیر وخت راورسید ، نو که ممکنه وي د یو څو شیبو لپاره دې لاس او پښې ودروي او په اشاره سره دې لمونځ اداء کړي.

مسئله : دجمعه دلمانځه نیت به داسې کوي: نیت مې کړې چې دوه رکعته فرض لمونځ د جمعې اداکړم. ښه دا ده چې دجمعې لمونځ په یوه ځای، یوه مسجد کې ټول خلک سره یوځای اداکړي، که څه هم په یوه سیمه کې په مختلفو مساجدو کې دغه دجمعې لمونځ جائزدی.

مسئله : که څوک په اخیره ناسته کې د التحیات پروخت یا دسجده سهوی کولو وروسته راشي په جماعت کې ورسره شریک شي، دا شرکت یې صحیح دی. او ده ته پکار ده چې دجمعې دغه پاتې تیرشوی لمونځ ورپسې پوره کړي. یعنی ددې دوو رکعتو په کولوسره یې له ذمې څخه دماپښین څلور لیري کیږي. (بحرالرائق، درمختار، علم الفقه ص ۱۵۲ ج ۲)

مسئله : د شوال دمیاشتې لومړۍ نیټې ته عیدالفطر وایي او د ذي الحجه لسم تاریخ ته عیدالاضحی وایی، دا دواړه په اسلام کې د اختراوخوښۍ ورځې وی. په دې دواړو ورځو کې د شکرانې په توګه دوه دوه رکعته لمونځ کول واجب دی. دجمعې د لمانځه لپاره چې کوم شرائط دي، هغه د اخترونو لپاره هم دي. پرته له خطبې، د جمعې په لمانځه کې خطبه شرط ده. ولې د اخترونو په لمانځه کې خطبه ویل شرط نه دي. یعنی دجمعې دا فرض او د اخترونو د سنت ده. په جمعه کې به یې ترلمانځه مخکې وایي او په اخترانو کې وروسته. مګرپه خلګو یې اوریدل د دواړو واجب دی. (علم الفقه ص ۱۵۲ ج ۲) دتفصیل لپاره (مسایل نماز جمعه، اومسایل نماز عیدین) وګورۍ.

دعشق لمونځ ځینې خلک داسې یو قسم لمونځ کوي چه په قیام کې غل خله او په رکوعه اوجلسه اونورو کې لس لس ځله د الله ﷻ ذکرکوي. او دې ته دعشق لمونځ وایي چې دا په شریعت کې هیڅ

اصل نلري. دا غلط دي. بلکې په طريقت کې هم هغه لمونځ د اعتبار وړ دی چې په شريعت سره ثابت وی. او شرعاً جواز ولري. مګر دا د شريعت او سنت خلاف دي. حقيقت نلري. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۳۲ ج ۲)

سجده سهو: په لمانځه کې که چيرې سنت او مستحبات پرېښودل شي نو په لمانځه کې هيڅ ډول خرابي نه راځي. يعنی لمونځ حجت لري. او که د لمانځه له فرائضو هم کوم شی په هيره يا قصداً پاتی شی نو لمونځ فاسد يږی

اوبله هيڅ چاره نلري، يوازې دا چې لمونځ له سره را وګرځول شي. همدا راز که چيرې دلمانځه له واجباتو څخه يو شی قصداً پرېښودل شی. نو د دې هم بل څه تدارک نشته. يوازې د لمانځه راګرځول او که چيرې يو واجب په هيره پرېښودل شی، نو بيا د هغه تدارک کيداې شی، هغه دا چې په اخيره ناسته کې به له التحيات وروسته به خپل ښی اړخ ته يو ځل سلام وګرځوی، بيا به (۲) سجدې وکړی او له هغه وروسته به بيا قعده وکړی، التحيات، درودشريف، او دعاء به د معمول سره سم ووايی او سلام به وګرځوی. چې دې ته سجده سهو وايی بايد وويل شی چه له نبی کريم ﷺ څخه هيڅکله په دغو شرعی اقوالو کې هيڅ قسم سهو د نه صادره شوی او نه يې تصور کيدای شی. خو که په افعالو کې يې سهو کړی وی، هغه هم امت ته د تعليم پخاطر شوی ده. ترڅو د امت خلک د سهوی په اړه مسائل زده کړی.

(مظاهرحق ص ۲۱ ج ۲)

دسجده سهوی اصول

مسئله: سجد د سهو به په لاندنيو صورتونو کې ترسره کيږی.

(۱) ـ دلمانځه له واجباتو څخه که یو واجب پرېښودل شی.
(۲) ـ کوم واجب چې له خپل محل څخه وروسته کړای شی.
(۳) ـ دکوم واجب رکن تاخیراوځنډ په دومره اندازه وشی چې یورکن اداءکیږی.
(۴) ـ که یو واجب دوه ځله اداء شی.
(۵) ـ که یو واجب له خپل حالت نه متغیر کړل شی. مثلاً: جهری لمونځ په خفیه بدل شی او خفیه په جهري.
(۶) ـ د لمانځه له فرائضونه یو فرض موخر (وروسته) کړای شی.
(۷) ـ او یا کوم فرض له خپل محل څخه مقدم کړای شی.
(۸) ـ که چیری یو فرض په هیره دوه ځله اداء شی.
(مسائل سجده سهو ص ۶۲، درمختار، ص ۶۷۸ ج ۱)

مسئله: په خطائي سره په لمانځه کې څه خرابي راشی مثلاً: یو رکعت یا مقدم او بل موخرشی، یارکوع ترقرائت مخکی وشی او یاسجده تر رکوع مخکی شی. یا یو رکن مکررکړل شی. نود دې د تدارک لپاره پرسړي دوې سجدې لازمیږی چې په اخیره ناسته کې به یې له تشهد وروسته اداء کوی. او بیا به قعده بیرته له سره کوی. (شرح نقایه ص ۱۱۱ ج ۱، کبیری ص ۴۵۵، نمازمسنون ص ۵۱۳).

مسئله: سجده سهو هغه خرابي له منځه وړی چې په لمانځه کې د ترک واجب یا تاخیر واجب له امله رامنځ ته شوي وی. هرڅو مره چې وی، یعنی که یو واجب پاتی شوی وی که ډېر وی. حتی که په لمانځه کې ټول واجب ځنی پاتی شوی وی چې دوې سجدې په اخیره کې د

سهوي په نيت وکړي کفايت کوي. تردوو زياتي سجدې کول مشروعيت نلري.

مسئله : له سجده سهوي وروسته التحيات ويل هم واجب دي.
(علم الفقه ص ۱۱۲ ج ۲، درمختار ص ۶۸۱ ج ۱)

مسئله : افضل دا دی چې ښي طرف ته سلام وګرځول شي او بيا دوې سجدې ولګولې شي. که چيرې پرته له سلام ويلو مخ وګرځول شي او يا مخامخ سلام وويل شي پرته له مخ ګرځولو بيا سجدې وشي ، دا صورت هم جواز لري. (علم الفقه ص ۱۱۲ ج ۲)

مسئله : که په هيره چادواړو طرفونو ته سلام وګرځاوه ؛ په دې کې هم څه حرج نشته له هغه وروسته دې دوې سجدې وکړي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۳۵۶ ج ۴، بحواله درمختار ص ۵۷۵ ج ۱، فتاوی رحيميه ص ۲۴۶ ج ۲)

مسئله : که چاپه غلطۍ سره لومړی چپ طرف ته سلام وګرځاوه، او بيا يې سجده وکړه ، نوپرده باندی زياته بله سجده نشته د هغه دې غلطۍ په وجه. (عالمگيری ص ۶۵ ج ۱) د سجدۀ سهوي لپاره دوې سجدې واجب دي. که چيرې يوه سجده وی نودا کافي نه ده. لمونځ به بيرته راګرځول کيږي. (فتاوی رحيميه ص ۲۶ ج ۲، بحواله هدايه ص ۱۳۶ ج ۱)

مسئله : که چيرې امام سجده سهو کړي وی او وروسته يوتن راشي په جماعت کې شرکت وکړي ، نو هغه دې د سلام له ګرځولو وروسته پر هغه نيت او هغه تحريمه دې خپل پاتی لمونځ پوره کړي.
(فتاوی محموديه ص ۱۸۳ ج ۲ ، طحطاوی ص ۲۵۶ ج ۱)

مسئله : کله چه امام دويم طرف ته سلام ګرځول پيل کړي نو مسبوق (هغه چه يو يا څو رکعته څينې تير شوی وی) ولاړ دې شي. دا سی نه

چې د امام پر اول سلام به لا ولاړ یږي، ځکه چې کیدای شي پر امام باندي سجده سهو وي. (آپ کی مسایل ص٢٩٣ج٣، فتاوی محمودیه ص٢٧٠ج١٠ ردالمختار ص٥٩٨ج١، فتاوی دارالعلوم ص٢٩٢ج٣)

مسئله : که چایو ازی چپ طرف ته سلام وگرځاوه نو بیا دی فقط ښي طرف ته سلام وگرځوي. د دې اړتیا نشته چې بیرته به چپ طرف ته هم سلام ګرځوي. او نه سجده سهوي ته ضرورت شته. لمونځ صحیح دی . (فتاوی رحیمیه ص٢٢٧ج١، جوهره نیره ص٥٥)

امام ته دفتح ورکولو حکم

مسئله : که چیری امام په لمانځه کي خطا شي، مثلاً کوم آیة ورځنی هیر شي یا یې وروسته وشاته ولولي. نو مقتدي ته جائز ده چې امام په دې خپله غلطۍ پوه کړي. لیکن غرض به یې یوازې د هغه پوهونه وي .نه دا چې قرائت یې مقصود وي. ځکه چه په امام پسې د اقتداء په حال کې مقتدي ته قرائت کول جواز نلري. او دا هم مکروه ده چې مقتدي په دې کې ډېره عاجله کوي. دا راز امام ته هم مکروه ده چې د مقتدي د فتح په انتظار وي. هغه ته پکار ده چه له بل سورة څخه ضروري قرائت پوره کړي. او یا رکوع ته ولاړ شي ،په دې شرط چې د قرائت هغه فرض یا واجب مقدار پوره شوی وي. مقتدي که له خپل امام پرته بل چاته مثلاً: د ده غوندي بل مقتدي ته فتح ورکړي دا جواز نلري. په دې سره چې لمونځ باطلیږي. مګر که یې د تلاوت په نیت نه د څه لارښوني په غرض څه ووایی ، لمونځ نه باطلیږي مګر مکروه تحریمي ده. دا راز که کوم لمونځ کوونکی د بل لمونځ کوونکي پر وینا اولارښوني عمل وکړي ، نو د ده هم لمونځ باطلیږي.

مسئله : که چیرې امام د خپل مقتدي فتح قبوله نکړي، په دې صورت کې د دوی د واړو لمونځ نه خرابیږي صحت لري. د سجده سهوي هم ضرورت نشته. او که یې په غلطۍ سجده سهو وکړه هم لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۸۵ ج۴)

مسئله : څرنګه چې په لمانځه کې د غلطۍ په وجه د بل چا په فتح باندې عمل کول سره لمونځ فاسدیږي، داراز د بل هغه چا په خبره عمل کول هم لمونځ فاسدوي، چې په لمانځه کې نه وي، مثلاً: په صف کې خالي ځای وي له بهر نه یو څوک پر لمونځ کوونکي دغ کړي چې لږ وړاندې شه دا خالي ځای ډک کړه. نو که دی د هغه پر خبره عمل وکړي، لمونځ یې باطلیږي په داسې حال کې دې د غه لمونځ کوونکي سمدستي د هغه پر خبره عمل نه کوي بلکې یو څو شیبې دې توقف کوي، بیا لږ وروسته دې پخپله خوښه هغه ځای ته ورنږدې کیږي او خالي ځای دې ډکوي.

(کتب فقه ص۱۸۱ ج۱، هدایه ص۹۲ ج۱، شرح وقایه ص۹۲ ج۱، کبیری ص۴۲۰، فتاوی دارالعلوم ص۳۲ ج۲)

مسئله : که چیرې امام له سورة فاتحې وروسته دویم سورة د درېو آیاتونو مقدار ویلی وي، نو بیا د مقتدي د فتح انتظار کول مکروه دي. فوراً به رکوع ته ځي، او که یې تر دې کم ویلي وي او نور ځني هېر شي نو بیا بهتره دا ده چې له بل ځایه څخه شروع کړي. که یې له بل ځای څخه هم شروع نکړ نو بیا دې مقتدي فتح ورکړي که څه هم لمونځ صحیح دی په هر صورت خو نه امام ته د مقتدي د فتح انتظار پکار دی او نه مقتدي ته بیړه ده تلوار.

(فتاوی دارالعلوم ص۱۰۶ ج۲، بحواله شامي ص۶۵۰ ج۱، فتاوی رحیمیه ص۱۵۵ ج۱، فتاوی عالمګیری ص۹۹ ج۱)

مسئله : په لمانځه کې که چیرې امام ته بې اودسي (حدث) ورپېښ شي نو دمقتدیانو څخه یوتن خلیفه ګرځول درست کار دی، مګرضروري نه ده. که چیرې دا عوام خلک په دې مسئله ناخبره وي، بیاخو یې پرېښودل أفضل کاردی، لومړی به لمونځ پردغه ځای قطع کړي په داسې عمل سره چې دلمانځه سره منافي وي. بیابه له اودس څخه وروسته له سره لمونځ شروع کړي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۱ ج ۳، ردالمختارص ۵۶۲ ج ۱)

مسئله : که چیرې امام دسجدې په حالت کې وفات شي، نو هغه لمونځ یې فاسد دی، بل څوک به امام کوي اوله نوي سره به جماعت کوي. (فتاوی دارالعلوم ص ۷۰ ج ۴، ردالمختارص ۵۵۳ ج ۱)

مسئله : که چیرې امام د ناپاکۍ یا بې اودسۍ په حالت کې چاته لمونځ ورکړی وي او بیاوروسته ورپه یادشي. نو امام ته پکار ده چه حتی الوسع کوشش وکړي ترڅوخلک خبرکړي چې دفلاني وخت لمونځ ونشوتاسو یې راوګرځوئ اوکه ورپه یاد نشوبیاځه حرج نشته لمونځ بې وشواوکه بیاکله ډیر وروسته یو وخت ورپه یادشو هم پرده ضروري ده چې دا عمل به کوي اود دې غفلت توبه او استغفار به کوي اوامام ته پکار ده چه اعاده به یې کوي. (فتاوی دارالعلوم ص ۷۷ ج ۳، فتاوی رحیمیه ص ۳۶۲ ج ۲، شامی ص ۵۵۳ ج اول، درمختارص ۵۲۵ ج ۱)

په لمانځه کې د قرائت د غلطۍ یوه کلیه قاعده

مسئله : دلمانځه په قرائت کې د غلطۍ د راتللو په اړه فقهاؤ داسې یوه کلیه قاعده لیکلې ده هغه غلطي د الفاظو چې په معنی کې یې په ځرګنده زیات تغیر راځي چې حتی، کفر ورڅخه لازمیږي نو په دې

صورت کې لمونځ هرځای او هر وخت فاسد دی. که له
... آیتونو څخه مخکې دا غلطي وشي او یا وروسته.
بل په قرائت کې هغه دول غلطي چې صرف د حرف په هیئت کې تغیر
راشي مثلاً: زیر، زبر، پېښ، بدل شي او یا تشدید، تخفیف، مد او
قصر کې فرق راشي نو په دې صورت کې لمونځ نه فاسدیږي. البته تر
دې لږ زیات شي نو لوړې درجې ته رسیږي، په هغه صورت کې
لمونځ فاسد دی.
همدارازکه څوک د یوې کلمې په یوه حرف کې داسې تغیر راشي
چې له خپلې معنی څخه لیرې شي، دلته هم لمونځ فاسدیږي. دارازکه
چیرې د یوه حرف پرځای بل حرف وویل شي او معنی بدله شي او بل
دا چې د دغو دوه حرفونو ترمنځ په آسانۍ سره فرق کیدلای شو خوده
یې فرق ونکړ، یو یې د بل پرځای ووایه نو بیا فاسدیږي. او که چیرې
د دغو دوتورو ترمنځ توپیر مشکل وو لکه سین. صاد او ضاء، ظا
ترمنځ او یا طاء او تاء ترمنځ. او س که څوک قصداً یې داسې ووایي
نو لمونځ فاسد دی او که بې قصده یې له خولې څخه داسې ووزي
یا څینې داسې ناخبره او جاهل خلک یې وایې چې د دوی ترمنځ په
فرق باندې نه پوهیږي نو بیا لمونځ کیږي، څه مشکل نشته.
همدارنګه که یو څوک چیرې یو لفظ کش کړي او په معنی کې یې
تغیر راشي، نو لمونځ فاسدیږي په قرآن شریف کې که بل ځای دغه
زاند لفظ وی کنه وی. او که په دې کشولو سره یې په معنی کې تغیر
رانشي. لیکن په قرآن کریم کې بل ځای هم دغه لفظ موجود وی
نو لمونځ بالاتفاق درست دی. او که چیرې نه لفظ په قرآن کی ما

ځای نه وي راغلی نو په دې کې اختلاف دی د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد لمونځ فاسدیږي او د نورو آئمه کرامو په نزد نه فاسدیږي.
په هر صورت په پورتنیو ذکرشویو صورتونو کې د متأخرینو علماؤ په ډېرو ځایونو کې ګنجایش کړی یعنی د آسانی لحاظ یې ساتلی دی .او لمونځ یې صحیح ګڼلی دی. او متقدمین علماء بیا حکم کوی چې لمونځ به راګرځوی. ځکه چې لمونځ أهم عبادت دی احتیاط ورکې پکار دی. لهذا لمونځ کوونکو ته پکار ده چې په داسی مسائلو کې له احتیاط څخه کار واخلی. او د ضرورت په وخت کې له کوم عالم دین څخه د پوښتنو لپاره رجوع وکړی. (مسایل سجده سهو ص ۴۲ بحواله شامی ص ۴۴۲ .فتاوی دارالعلوم ص ۷۲-۷۸ ج ۴ بحواله ردالمختار ص ۵۹۲ ج ۱)
مسئله : په قرآن کې چې د متکلم ضمیر «أنا» باثبات الف رسم الخط سره په لمانځه کې وویل شی. نو که څه هم لمونځ صحیح کیږي خو دا لحن غلط دی. (فتاوی دارالعلوم ص ۷۳ ج ۴ بحواله ردالمختار ص ۵۸۹ ج ۱)
مسئله : په کومو ځایونو کې چې راء اولام ډک ویل پکار وی ، هلته که باریک وویل شی ، لمونځ صحیح دی. په لمانځه کې هیڅ خلل نشته.

لمونځ د ترتیب خلاف اداء کول

مسئله : که څوک په نمانځه کې خلاف ترتیب په لومړي رکعت کې هغه سورة ووایی چې باید په دویم کې لوستل شوی وای ، مثلاً: په لومړي رکعت کې « قل یاایهاالکافرون » ووایی او په دویم کې « الم ترکیف » ووایی. نو که دا په هیره سره وکړی ،لمونځ یې بلاکراهت درست او صحیح دی. او که یې قصداً داسی ووایی نو لمونځ مکروه دی. او که په خطا سره وویل سی نو بیا هیڅ حرج نشته. یعنی په

دوارو صورتونو کې سجده سهو واجب نه ده او لمونځ په هر حال صحيح دی.
(فتاوی دارالعلوم ص۱۱۰ ج۴، فتاوی دارالسلام ص۴۱۹ ج۴، شامی ص۵۱۰ ج۱، فتاوی محمودیه ص۲۲۷ ج۱۰)

مسئله: په يوه يوه رکعت کې څوڅو سورتونه ويل په فرائضو کې مناسب نه دی. او په نوافلو کې څه حرج نشته.
(ضحتاوی ص۱۹۴ ج۱، فتاوی محمودیه ص۱۵۶ ج۲، فتاوی رحیمیه ص۴۶ ج۱)

مسئله: که څوک په منځ کې ووړ سورة پريږدي، مثلاً: په اول کې «ارأيت الذی» ووايي يا «اناعطينک» پريږدي په دويم رکعت کې «قل ياايها الکافرون» ووايي نو دا مکروه تنزيهي دی، اما سجده سهو نه واجبيږي. (شامی ص۴۲۵)

مسئله: که څوک د قرائت په منځ کې ديوه ياڅو الفاظو ترجمه ووايي نو لمونځ يې فاسد دی او په سجده سهو سره نه سميږي. دوباره به يې راګرځوي. (شامی ص۴۲۰ ج۱)

په لمانځه کې د تجويد له رعايت کولو پرته قرائت ويل

مسئله: که څوک په جهري لمانځه کې په قرائت کې د تجويد خيال نه ساتي، نو سجده سهو پر لازمه نه ده. البته که دا سې غلطي وکړي چې په هغه سره په لمانځه کې فساد راځي نو بيا سجده سهو نه بلکې لمونځ له سره راګرځول ضروري دی. (فتاوی دارالعلوم ص۴۱۹ ج۴، عالمگيری ص۶۶ ج۱، ردالمحتار ص۹۰ ج۱)

يو سورة په دوو رکعتونو کې ويل

مسئله: که څوک په دوو رکعتو کې يو سورة دوه ځله ولولي، نو سجده سهو نه لازميږي. (مسايل سجده سهو ص۳۲، شامی ص۵۱۰ ج۱)

مسئله : بهتره ذا ده چې په هر رکعت کې پوره پوره (کوچنی) سورة وویل شي او که په یوه رکعت کې د یوه سورة څه برخه ولوستله شي نو دا هم جائز ده، مګر بلاضرورة دا ښه نه ده. (حلبیری ص۲۰ ج۱، فتاوی رحیمیه ص۱۲۷ ج۱)

مسئله : په دواړو رکعتونو کې یوه رکوع قرآن مکرر ویل صحیح دی ،لمونځ کیږي سجد سهو نه واجبیږي.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۰۵ ج۲، فتاوی محمودیه ص۹۵ ج۷)

مسئله : که څوک په اول رکعت کې یوه رکوع ووایي او په دویم کې پوره سورة چې تر رکوع غټ نه وي ؛ووایي په دې کې هیڅ کراهت نشته ،البته فضیلت په دې کې ده چې پوره سورة وویل شي.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۲۵ ج۲، بحواله ردالمختار ص۵۱۰ ج۱)

مسئله : په یوه رکعت کې ۲ سورتونه ویل خلاف اولی دي. مګر لمونځ صحیح دی. او له خلاف اولی څخه مراد کراهت تنزیهی دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۵ ج۲، بحواله فتح القدیر ص۲۹۹ ج۱)

د اوقافو پر ښه باندې دریدل یانه دریدل

الحمدلله رب العلمین ۞ الرحمن الرحیم (۲) من شر الوسواس الخناس ۞ الذی یوسوس (۳) علی کل شئ قدیر ۞ الذی خلق الموت والحیوة »

که چیرې څوک پر هغه آیة چې د «لا» نښه وي وریاندې ،د ساه د ختمیدلو په وجه وقف وکړي او بیا هغه اخیرنی توری له راګرځولو نو مخکې شروع کړي ،نو په لمانځه کې څه خلل راځي ؟ همدارنګه که چیرې په دریم مثال کې وقف وکړي نو مخکې تکې به بیا دا سې شروع کوي چې « الذی» که « نِ الذی» ؟

جواب: د ملاء پر آیة باندې د ضرورت په وجه وقف کول هیڅ حرج نه دی او د ماقبل لفظ راګرځول هم ضروري نه دی. په لمانځه کې هم څه خلل نه راځی

که یې راوګرځوی او په دویم مثال کې د «الذی» او «من الذی» دواړه ویل درست دی مګر د وقف په حالت کې به «الذی» وایی. (فتوی دارالعلوم ص۲۲۷ ج۴)

په ځینو الفاظو کې دوه قرائته ویل

سوال: په قرآنکریم کې ځینې ځایونه داسې دي چې حروف لیکل شوی وی مثلاً یبصطة، هم المصیطرون ⊙ علیهم بمصیطر له دي څخه مقصود دا دی چې دا لفظ په سین، صاد دواړو سره ویلای شی. یعنی تلاوت کوونکی که سین ووایی او که صاد. لمونځ ورسره صحیح دی. او دا یې مطلب نه دی چې دا الفاظ باید دوه ځله وویل شی، تلاوت کوونکی که د هر قاری اتباع کوی د هغه د قرائت موافق دې وایی.

(فتوی دارالعلوم ص۲۳۲ ج۲ بحواله جلالین سورة فاتحه ص۲۹۸)

د واحد صیغه جمع او د جمع صیغه واحد ویل

مسئله: په لمانځه کې د قرائت پر وخت واحد د جمع په صیغه او جمع د واحد په صیغه ویل، مثلاً آیة آیات وویل شی. غلطی ده، قصداً داسې کول درست نه دی. او که چیرې په هیره داسې وویل شی، نو لمونځ صحیح دی مګر احتیاط کول ضروري دی. (فتوی دارالعلوم ص۲۳۲ ج۲ بحواله ردالمحتار ص۱۱۸ ج۱ بحث القرائة)

په قرائت کې د سهو مسائل

مسئله: کله ناکله څوک لمونځ کوی، قرائت چه پیل کړی یو څه ووایی هیر یې شی او یا متشابه راشی، نو له بل ځایه او بیا یې له بل

ځ يه څخه پيل کړي. خو وروسته د ورياديدلو او يا اشتباه په وجه قرائت بيرته تول له سره پيل کړي نو په دې صورت کې لمونځ کيږي او سجده سهو هم نه لازميږي. او که بيا سجده هم وکړي نو دا هم درست کار دی. (فتاوی دارالعلوم ص۳۹۲ ج ۲، ردالمختار ص۵۰۶ ج۱، شامي ص۱۸۲ ج۱)

مسئله: که چيرې د جمع په لمانځه کې امام په لومړي رکعت کې سورة الدهر شروع کړ، ترنيمايي ورسيد مخکې يې نشو ويلای دوهم ځل دريم ځل يې بيا له سره پيل او پوره يې کړه په دې صورت کې هم لمونځ صحيح دی. او سجد سهو هم نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۳۷۲ ج۴)

مسئله: که چيرې واجب مقدار قرائت پوره شوی وي، بيا غلطي وشي په قرائت کې نو سجده سهو نه لازميږي، مگر که دا سې غلطي وي چه مفسد صلوة وي، بيانو لمونځ راګرځول لازميږي.
(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۸ ج۴)

مسئله: که له چا څخه سورة فاتحه يا بل سورة پاته شي په هيره او بيا د همدې رکعت په رکوع کې او يا له رکوع وروسته ورپه ياد شي، نو ده ته پکار ده چه بيرته ولاړ شي فاتحه او سورة ولولي مگر دواړه هير شوي وي او کنه يودې ووايي) او په اخير کې به سجده سهو کړي ځکه چه د رکوع په اداکولو کې تاخير راغی. او که چيرې په همدې رکعت کې نه بلکې په دويم رکعت کې ورپه ياد شي نو بيا په هغه دويم رکعت کې سورة ويلای شي خو فاتحه نشي ويلای ځکه چه بيا په يو رکعت کې دوې فاتحې راځي او دا مشروع نه دی. نو په دې صورت کې به هم سجد سهو کوي او لمونځ يې صحت لري.
(علم الفقه ص۱۱۷ ج۲، فتاوی رحيميه ص۱۵۶ ج۱، شامي ص۶۲۷ ج۱)

مسئله : که یو څوک تر فاتحې مخکې سورة ولولي. او دلته ورپه یاد شي نو پکار ده چه فاتحه ولولي او دوباره سورة بیا ولولي. او په اخیر کې به سجده سهو هم کوي چه له فاتحې وروسته سورة ویل واجب دي. او دلته عمل خلاف شویدی.

(علم الفقه ص۱۱۷ ج، عالمګیری ص۶۵، فتاوی رحیمیه ص۱۷ ج۱).

که په لمانځه کې یوازې فاتحه او یا یوازې سورة ولوستل شي

مسئله : که چا صرف سورة فاتحه او یا صرف سورة ووایه او رکوع ته ولاړې، نو په دې دواړو صورتو کې سجده سهو واجب ده.

(درمختار ص۴۲۴ ج۱، فتاوی دارالعلوم ص ۴۱۳ ج۴)

مسئله : که څوک له سورة فاتحې وروسته صرف دوه آیتونه ولولي، په هیره رکوع ته ولاړ شي (نو چونکه واجب مقدار پوره نشو) نو سجده سهو وربانډې لازمه ده. او که قصداً داسې وکړي بیا به دوباره له سره لمونځ راګرځوي. (عالمګیری ص۶۵ ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۴۰۸ ج۴)

سورة فاتحه دوه ځله ویل

مسئله : که چا د فرض لمانځه په لومړي یا دویم رکعت کې په هیره دوه ځله فاتحه وویله یا یې د فاتحې اکثره برخه را وګرځوله، نو په دې دواړو صورتونو کې سجده سهو واجب ده. او که یې چیرې په دریم او یا څلورم رکعت کې دوه ځله وویله، بیا سجده سهوه نشته او دا یوازې د فرضو خصوصیت دی لیکن د نوافلو په هر رکعت کې داسې وشي سجده سهو واجب ده.

مسئله :که چاد فاتحي زياته برخه وويله لږځيني پاته شوه په هيره نوسجد سهو نشته اوكه يي لږوويله ، اوزياته پاته شوه ، نوسجدور باندي واجب ده .(عالمګیری ص۶۵ج۱،فتاوی رحیمیه ص۱۶۸ج۱،فتاوی محمودیه ص۱۹۰ج۷ص۱۸۵ج۲)

مسئله: ترسورة مخکي «الحمد شريف» ويل واجب ده ، كه چيري د سورة يوه جمله هم تر فاتحي مخكې وويله شي نوسجده سهولازمه ده .(شرح نقایه ص۱۱۲ج۱)

مسئله: د فرضولومړي دوه ركعتونه د قرائت لپاره تعين کول واجب دي .(شرح نقایه ص۷۰ج۱،کبیری ص۲۹۵)

مسئله: كه په لومړيو ركعتو كې يي تر فاتحي وروسته سورة ونه وايه ،نوپه اخيرودوو ركعتو كې دې له فاتحي وروسته روايې. اوپه اخيركې دې سجده سهو وكړي. (شرح نقایه ص۱۱۲ج۱)

مسئله: كه په غلطي سره د څلور ركعتي فرض لمانځه په اخيرو دوو ركعتو كې له فاتحي وروسته سورة ووايي . سجده سهونشته.
(فتاوی رحیمیه ص۲۲ج۳ بحواله درمختارص۴۲۷ج۱)

مسئله : له فاتحي وروسته كه چاد كوم سورة اراده كړي وي ، په غلطي سره يې هغه نه بلكې بل سورة ووايه ، لمونځ يې صحيح دى ، سجده سهولازمه نه ده . (عالمگیری ص۶۵ج۱)

مسئله : كه چايو سورة شروع كړ بيا سمدستي بل سورة ووايي ،نو لمونځ يې صحيح دى سجده سهونشته وربانذي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۷۵ج۲)

د «التحيات» پرځای «الحمد» اويابالعكس ويل

مسئله : كه څوک د التحيات پرځاى فاتحه ووايي او بيادستي ورپه يادشي ، التحيات پسي ووايي ، نوسجده سهونشته ؛ مګرتفصيل

داسي دي چه کله څوک د تشهد پرځاى فاتحه ولولي يالومړى فاتحه او بيا تشهد ووايي نو په دواړو صورتو کې سجده سهو لازميږى او که لومړى تشهد او بيا فاتحه ووايي نو سجده نه واجبيږى.

(فتاوى دارالعلوم ص۲۰۲ ج۴ فتاوى رحيميه ص۲۲۲ ج۱)

مسئله : که څوک په لومړي رکعت کې د«الحمدلله» وروسته «التحيات» ووايي نو سجده وربانديواجب ده. او که له فاتحې څخه مخکې التحيات ولولي نو بيا سجده نشته. (عالمگيرى ص۶۶ ج۱)

د الحمدلله له ويلو وروسته تر ډيره پورې چپ دريدل

مسئله : که څوک الحمدلله ووايي ، بيا تر ډيره خاموش ودريږي ، دومره چه يو اوږد آيت او يا دري واړه آيتونه لوستل کېږي ، بيا وروسته سورة ووايي نو سجده سهو وربانديلازمه ده.

(فتاوى دارالعلوم ص۲۸۷ ج۴ بحواله ردالمختار ص۶۹۳ ج۱، عالمگيرى ص۲۹۳ ج۱)

په لمانځه کې هغه فعل چه د فرض او يا واجب د تاخير سبب شي

مسئله: که څوک په لمانځه کې داسي عمل ترسره کړي چه د فرض او يا واجب د خنډ (تاخير) سبب وګرځي ، نو په دې صورت کې هم سجده سهو واجب ده. مثلاً: (۱)- له سورة فاتحې وروسته څوک دومره چپ ولاړ وي چه يو رکن اداکيداى شي. (۲)- يو څوک چه همدومره وخت له قرائت وروسته همدومره خاموش پاته شي. (۳)- يو څوک که له التحيات وروسته په اوله ناسته کې دومره وخت پټه خوله کښيني چه درود شريف او دعاء ويل کيداى شي ، په دې ټولو صورتونو کې سجده سهو واجب ده. (علم الفقه ص۱۲۰ ج۲، فتاوى دارالعلوم ص۲۰۱ ج۴، ردالمختار ص۲۲۷ ج۱)

که د فرضو په اخیري رکعتونو کې هیڅ و نه ویل شی

مسئله : که څوک د فرض لمانځه په خالي رکعتو کې یعنی په دریم او څلورم رکعت کی ، نه سورة فاتحه او نه بل هیڅ ووایی همداسی خاموش پاتی شی ، نو سجده سهوورباندی واجب نه ده. (که څه هم هیڅ شی ونه وایی ،لمونځ یی درست دی - محمد رفعت قاسمي غفرله)

مسئله: د څلور رکعتی فرض لمانځه په وروستیودوو رکعتونو کې د سورة ویلو سری اختیارلری که یی وایی او کنه ! ځکه چه په دی دوو رکعتونو کې پر فاتحه باندی اکتفاء کول واجب نه دی. چه په زیادت سره یی ترک واجب لازم شی. که څه هم د سورة نه ویل اولی او بهتره ده او سنت هم همداده چه ونه ویل شی. مګر په قعده اولی (اوله ناسته) کې داسی نه ده ، ځکه هلته پر تشهد باندی اکتفاء کول واجب ګڼل شوی ، نو که څوک درود شریف او دعاء ورسره ضم کړی ، نو په دې سره د واجب ترک لازم شو ، بیا سجده سهو لازمیږی.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۹۴ج۴،ص۳۷۵ج۴،فتاوی محمودیه ص۵۵ج۱۳)

د فرض لمانځه په لومړیو رکعتونو کې دسورة هیریدل

مسئله : که چیری د فرض په لومړیو دوو رکعتونو کې له چاڅخه سورة پاتی شی نو سجده سهوورباندی واجب ده. ځکه چه د سورة ضمیدل واجب دی د واجب د ترک په صورت کې سجده لازمه ده.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۹۹ج۴،عالمګیری مصری ص۱۱۸ ج)

مسئله : که په سنت ، نفل یا فرض لمانځه کې په اول رکعت کې له سوره فاتحی وروسته یی سورة هیرشی ،اوبیا په رکوع او یا له هغه وروسته کې ورپه یاد شی نو راودی ګرځی بیرته دی فاتحه

اوبیا صورت ورسره ضم کړي، رکوع دي وکړي. ګویا دا صورت بهتر دی او که داسي ونکړي یعني را ونه ګرځي نو سجدې ته ولاړ شي، دا هم صحیح دي خو په دي شرط چه په اخیرکي سجده سهو وکړي. البته سجده سهو په دواړو صورتوکي لازمه ده.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۹۸ج۴بحواله ردالمختار ص۶۸۳ج۱،ص۴۹۹ج۱، امدادالفتاوی ص۳۲۱ج۱)

مسئله : که څوک رکوع مکرره وکړي او یا دري سجدي وکړي او یا په څلور رکعتي لمانځه کي له تشهد وروسته درود شریف ووایي چه د دي په وجه د دریم رکعت په قیام کي تاخیر راشي نو سجده سهو لازمه ده. (شرح نقایه ص۱۱۱ج۱،کبیری ص۴۵۲)

په خفیه لمانځه کي په زوره قرائت ویل

مسئله : که چیري په خفیه لمانځه کي لکه ماسپښین او مازیګر، څوک په لوړآواز قرائت ووایي او یا په جهري لمانځه کي سو که قرائت ووایي نو سجده سهو به کوي. ځکه چي واجب ترک سو. مګر که چیري په جهري لمانځه کي ډیرلږ قرائت په زوره وویل شي چه لمونځ صحت په پیدا کولای شي. مثلاً دوه دري لفظه په لوړآواز وویل شي نو رکه په ټیټ آواز وویل شي، هم څه حرج نشته.

(علم الفقه ص۱۱۸ج۲، هدایه ص۱۰۵ج۱،کبیری ص۴۶۲، شامی ص۴۹۰ج۱، فتاوی رحیمیه ص۱۵ج۱)

مسئله : که امام په هیره په جهري لمانځه کي سو که قرائت ووایي او ترد ریو آیتونو وروسته ورپه یاد شو او یا هم چا مقتدي فتح ورکړه، نو دی به بیرته سورة فاتحه له سره شروع کوي په لوړآواز به یې وایي او په آخیرکي به سجده سهو هم کوي.

مسئله : که چیری امام د ماسپښین اویامازیګرپه لمانځه کې په جهرسره قرائت پیل کړ ددریوآیتونوترلوستلووروسته ورپه یادشواویاچافتح ورکړه نوترکومه ځایه چه رسیدلی دی ،له هغه ځایه وروسته دی په وروآواز شروع کړی ، له سره پیل کولوته یی ارتیانشته .(شامی ص ۴۹۲ج ۱،مسایل سجده سهوص ۳۳)

مسئله : که چیری د ماخستن اویاماسپښین په دوو اخیرو رکعتوکې په زوره قرائت وایی نوسجده سهولازمه ده ځکه چه د ماخستن په لمانځه کې که څه هم قرائت واجب نه دی خو چه وایی یی بیاواجب داده چه په ټیټ آواز به یی وایی. دا رازد ماسپښین د فرضواخیری دوه هم همداسی دی.

(فتاوی دارالعلوم ص ۳۸۹، ج ۴،ص ۲۹۰ج ۴،بحواله هدایه ص ۱۴۱ج ۱،شامی ۴۹۷ج ۱)

مسئله : په کوم لمانځه کې چې په جهر قرائت واجب وی ، په هغه کې د واجب په ترک سره سجده لازمیږی اوپه کوم لمانځه کې چې جهر واجب نه وی هلته یی په ترک سره سجده نه لازمیږی مګر د اخترونواوجمعی په لمونځوکې د سجده سهوی حکم نشته.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۲ج ۴)

مسئله : د امام لپاره دا واجب ده چه د سهار، ماښام ، ماخستن ، جمعه او اخترونو په لمونځوکې به په زوره قرائت کوی اوهمدا رازصرف د رمضان المبارک په میاشت په وتروکې هم په لوړآواز ده. همدارنګه د ماسپښین اومازیګرپه لمونځونوکې په خفیه آوازقرائت ویل واجب . ی. (هدایه ص ۷۲ج ۱،شرح نقایه ۸۳ج ۱)

مسئله : پر منفرد (یعنی تنهالمونځ کوونکي) باندی، که چیری جهری لمونځ خفیه او خفیه لمونځ په جهر سره اداکړی، سجده سهو واجب نه ده. (عالمگیری ص ۸۲، مسایل سجده سهو ص ۳۲، درمختار ص ۴۸۲ ج ۱)

« والحاصل أن الجهرية لایحب علی المنفرد اتفاقاً وانما الخلاف فی وجوب الاخفاء علیه فی السریة، وفی ظاهر الروایة عدم الوجوب کماخرج بذلک فی التاتارخانیه عن المحیط وکذا فی الذخیره وشروح الهدایه کالنهایة والکفایة والعنایة ومعراج الدرایة وصرحوابان وجوب السهو علیه اذا جهر فیمایخافت فیه وانماهو علی الامام فقط.» (شامی ص ۴۹۸)

پر امام باندی واجب ده چه په جهری لمانځه کې په جهر سره قرائت وکړی او په سری لمانځه کې په خفیه سره قرائت ووایی. نوځکه یی په ترک سره په هغه باندی سجده لازمه ده. او منفرد ته اختیار ده، چه په لوړآواز یی ووایی او یا په ټیټ آواز سره.

مسئله : په جهری لمانځه کې د امام له سلام گرځولو وروسته مسبوق ته هم اختیار ده چه د پاتی رکعتونو په ادا ینه کې د منفرد حکم لری. البته په زوره سره ویلو کې به د خلکو خیال ساتی او د جهر په هغه کم درجه کې به قرائت وایی. (مسایل سجده سهو ص ۹۰، ردالمختار ص ۴۹۸ ج ۱)

د سجده تلاوت په تاخیر سره د سجده سهوی حکم

مسئله : په لمانځه کې چې څوک د سجده تلاوت آیة ولولی نو فوراً سجده و رباندی واجب ده. نوکه له یوه او رده او یادری کو چنیو آیتونو وروسته څوک سجده تلاوت وکړی، په اخیر کې سجده سهو کول هم ورباندی لازمه ده. او که چیری له دریو آیتونو څخه کم ولولی

اوبیا سجده تلاوت وکړی ، نو په دې صورت کې سجده سهوورباندی لازمه نه ده. (مسایل سجده سهوص۴۵، بحواله شامی ص۷۲۱ج۱، فتاوی محمودیه ص۱۶۹ج۲)

مسئله : که څوک د سجدی آیة په یوه رکعت کې ولولی ، اوپه هغه رکعت کې یی د تلاوت سجده هیره شی نودې په دویم ، دریم اویاڅلورم رکعت کې وکړی یعنی په هر رکعت کې چه ورپه یادشی. خوپه اخیرکې به سجده سهو هم کوی.

(فتاوی دارالعلوم ص۴۲۴ ج ۴ بحواله عالمگیری ص ۱۲۳ج۱)

مسئله : که څوک د آیة سجدې دتلاوت څخه وروسته فوراً یادوه دری آیة وروسته رکوع وکړی اوپه هغی کې د تلاوت د سجدی نیت هم وکړی نوسجده تلاوت اداکیږی اومقتدیانوته هم د تلاوت د سجدی د نیت ضرورت شته ، بی له نیت د هغوی غاړی نه خلاصیږی د امام په نیت . اوبل دا چه له دریوآیتونوویلو وروسته بیا ادا کیدلای هم نشی چه په رکوع اوسجده کې دی په نیت کولوسره سجده تلاوت هم اداشی . دا هغه وخت اداکیږی چه تر دوو آیتونو کم وخت وی.

(فتاوی دارالعلوم ص۴۲۳ج۴، بحواله ردالمختارص ۷۱۲ج۱)

مسئله : که چیري امام د سجدی آیة ووایی اوهیرېي شی چه باید سجده وکړی ، مقتدی یی فتح ورکړی ،امام صاحب بیا هغه آیة تلاوت کړ اوبیا سجده وکړی ، نوبس سجده اداشوه ، دوو سجدوته ضرورت نشته. (فتاوی رحیمیه ص۴۹ج۲)

د شک په وجه سجده سهو کول

مسئله : که پرچاباندی سجده سهوواجب نه وی ، صرف د شک پر بنیاد به سجده سهوه نه کوی . که بیاهم په غلطی سره سجده څینی

وشي د سهوې په ګمان. نولمونځ يې صحيح دی، راګرځولو ته يې هيڅ ضرورت نشته. او آينده به د دې خيال ساتي چه د شک او شبهې پر بنا به سجده سهو نه کوي. (فتاوی دارالعلوم ص۵۵ج۴ شامی ص۶۰۵ج۱، امدادالاحکام ص۴۴۵ج۱)

مسئله : که پر چا باندې سجده سهو واجب وي او اداېې نکړي نو لمونځ راګرځول ورباندې واجب دي. (فتاوی دارالعلوم ص۴۱۲ج۴ بحواله ردالمختار ص۴۲۲ج۱)

مسئله : او کله که چا ته دا علم نه وي چه آيا په دې غلطۍ سره به سجده سهو لازميږي کنه؟

نو احتياط دا دی چه سجده سهو وکړي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۷۸ج۴)

مسئله : که پر چا باندې سجده سهو واجب وي خو هېره يې شي، په ياد ورنه شي تر هغه پورې چه لمونځ ختم شي، وروسته ورپه ياد شي. نو د غه وخت هم سجده کولای شي؛ په دې شرط چه له قبلې يې مخ ګرځولی نه وي او يا يې خبرې کړې نه وي. (علم الفقه ص۱۲۰ج۲)

په سجده سهو کې ټول لمونځونه برابر دي

مسئله : که فرض لمونځ وي که واجب، او يا نفل وي، په دې ټولو لمونځونو کې د سجده سهوې حکم سره يو دی. البته د اخترونو او جمعې په لمانځه کې چون مجمع او ازدحام وي، که سجده سهو کوي، نو په دې سره انتشار پيدا کيږي او خلک په تشويش کې لويږي نو په دغه صورت کې سجده سهو معاف ده. همدارنګه د تراويحو په لمانځه کې هم که کله خلک ډېر زيات وي او د سجده سهوې په کولو سره تشويش رامنځ ته کيږي، نو سجده معاف ده. د لمانځه د راګرځولو هم څه اړتيا نشته. (فتاوی رحيميه ص۲۲ج۵ درمختار ص۶۹ج۱)

په سنت او نوافلو کې د لومړۍ قعدې (ناستې) حکم

سوال : که چیرې په څلور رکعتی سنت لمانځه کې او یا په دوه رکعتی سنت یا نفل کې اول التحیات له چا څخه هیر شي او بیا په همدې حالت کې کښیني سجده سهو وکړي ، لمونځ پوره کړي ، د ده لمونځ صحیح دی کنه؟

جواب : - حامداً ومصلیاً - په څلور رکعتی سنت لمانځه کې اوله ناسته (التحیات) واجب دی. چه په ترک سره یې سجده سهو لازمیږي. او په نفلي لمانځه کې پر هرو دوو رکعتو باندې ناستی کول فرض دي. چه په پرېښودلو سره ئې لمونځ هیڅ صحت نلري. نو که څوک دریم رکعت ته ولاړ شي او تر سجدې مخکې را وګرځي ناسته ترسره کړي او بیا د سجده سهوې په کولو سره لمونځ پوره کیږي. او که یې چیري د دریم رکعت سجده کړې وي نو بیا څلورم رکعت ورسره ضم کړي او بیا به سجده سهو وکړي ، لمونځ یې وشو خو ولې دوه مخکې رکعتونه یې ناسم دي ، یوازې وروستي دوه رکعتونه یې معتبر دي. ځکه چه پر اولو دوو باندې یې ناسته نه وه کړې چه هغه فرض ده نود دې فرض د پرېښودو له امله هغه بې اعتباره شوه . او پر همدې تحریمه باندې د دویمې شفعي بناء صحیح ده. مګر سجده سهو په هرصورت ضروري ده. او تشهد واجب . ه. او په ترک سره یې سجده لازمیږي.

بله خبره داده ، چې که څوک په هیره له اولې ناستې څخه ولاړ شي دریم رکعت ته او بیا ورپه یاد شي نو په دې کې د فقهاؤ کرام دوه قولونه راغلي دي. یو داچې وایې په بیرته راګرځیدلو سره لمونځ

فاسدیږي ځکه چه دا له فرض څخه واجب ته راګرځیدلي دي، بل قول دادی چه لمونځ نه فاسدیږي ځکه چه دلته فرض ترک شوی نه بلکې مؤخر کړل شویدي. (فتاوی محمودیه ص۱۸۹ج۷بحواله درمختار ص۷۷۹ج۱)

مسئله : دعاء قنوت واجب دي که چیري پاتي شي نو په سجده سهو سره لمونځ صحیح کیږي. (آپ کی مسایل ص۳۶۸ج۳)

د قرائت په منځ کي آیة پریښودل

مسئله : که چیري په جهري لمانځه کي د قرائت په دوران کې د دري آیتونو له وستلو ورسته یوپوره آیة پریښودل شي او یا څه نور قرآني آیتونه پریښودل شي او په دي پریښودلو سره د هغه په معنی کې څه تغیر هم رانشي نو په دی صورت کې لمونځ صحیح دی نه یي راګرځول شته او نه سجده سهو لازمه ده. (آپ کی مسایل ص۲۷۲ج۳،عالمگیری ص۸۵ج۱)

که چیري د رکعتونو په شمیر کي شک پیداشي

مسئله : که د یو سړي دا هیره شي چه ۳ رکعتونه یي وکړل که څلور؟ نو که چیري د ده دغه هیرد لومړي ځل وی نو ده ته پکار ده چه له سره بیرته لمونځ وکړي او دا افضل دی او که چیري یی دا شک همیشه په لمانځه کې وی نو بیا به پرغالب ګمان عمل کوی. یعنی څومره رکعتونه چه د هغه په غالب ګمان وی هغه معتبردی. او که یی یوی خواته هم ګمان زیات نه وی نو بیا به د لږو رکعتونو په لوری فیصله کوی. مثلاً د ماسپښین په لمانځه کې یی د ۳ رکعتونو او هم څلورو د کولو ګمان وی خو یقین یی یوي خوا ته هم پوخ نه وی نو دی به وایي چه ۳ رکعته دي، یو به بل ورسره زیات کې خو په دی ټولو صورتونو کې سجده سهو شته.

(علم الفقه ص۱۲۰ج۲،هدایه ص۱۰ج۱،شرح نقایه ص۱۱۳ج۱،فتاوی دارالعلوم ص۳۱۴ج۲،کتاب الفقه ص۷۲۱ج۱)

مسئله : که چیرې شک په لمانځه کې سړی دومره مشغول کړی چه د یوه رکن په اندازه دری واره « سبحان الله » ویلوپوری په شک کې وربانډی تیرشی اود همدې شک په حالت کې په قرائت اوتسبیح باندی مشغول هم نه وی ، نود شک په دې ټولوصورتونوکې سجده سهو وربانډی لازمه ده. که په ظن غالب یی عمل کړی وی اود هغه په وجه ځنډیدلی وی. دا سجده سهو د رکن د مؤخرکیدلو په وجه واجب شوی وی. (درمختار ص۶۹۶ ج۱)

مسئله : که چاپه هیره د سهارلمونځ څلوراویا د مازیګرلمونځ شپږ رکعته وکړ ، اوس که ده اخیره ناسته کړی وی ، نوفرض یی اداء شول اوزائد دوه رکعتونه یی نفل وګرځیدل البته په اخیرکې به سجده سهوکوی اوپر ده باندی هیڅ ګناه نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۲ ج۲، ردالمختار ص۷۰۰ ج۱)

(که څه هم د سهاراو مازیګر د فرضو وروسته نفل مکروه دی ، خوهغه په هغه صورت کې چه قصداً اداء کیږی ، دلته خوداسی نه ده بلکې د فرضوپه ضمن کې په هیره اداء شول ، نونفل شول ، اجرلری اوپرده باندی هیڅ ګناه نشته. (محمدرفعت)

مسئله : که چیري امام په څلور رکعتي لمانځه کې اخیره ناسته ونکړی اوپنځم رکعت ته ولاړ شی ، رکوع اوسجده وکړی بیاکښینی. نود اخیری قعدې چې فرض ده ؛ د پرینښودو له امله د امام لمونځ ونشو. کله چه د امام لمونځ ونشونود مقتدیانو لمونځ هم قطعاً صحت نلری.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۰۵ ج۲، هدایه ص۱۲۲ ج۱، ردالمختار ص۵۶۰ ج۱ ، باب الامامت)

(اخیره ناسته په لمانځه کې فرض ده، که سړی نه کښینی . ولاړشی ،که څه هم په هیره سره وی ، لمونځ یې نه کیږي. محمدرفعت قاسمی غفرله)

مسئله : که چیري امام په څلورم رکعت کې د تشهد په اندازه کښینی اوبیا سهواً پنځم رکعت ته ولاړشی اوبیا د هغه پنځم رکعت سجده هم وکړی ، نودې بیاشپږم هم ورسره ختم کړی اوبیادی سجده سهو وکړی ، فرض یې پوره شول. اوس که یوبل څوک په همدی وروستیو دوو رکعتوکې (پنځم اوشپږم) له امام سره په جماعت کې شریک شی نود ده لمونځ نه صحیح کیږي ځکه چه امام په دغه وخت کې متنفل دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۱۸ج۴بحواله ردالمختارص۷۰۱ج۱)

په اوله ناسته کې په هیره سلام ګرځول

مسئله : که چاپه اوله ناسته کې په هیره یوه طرف ته یا دواړوطرفوته سلام وګرځاوه ، اوسمدستی ورپه یادشوه نوکه څه خبری اتری یابل کوم عمل یې ترسره کړی نه وی ، بس دریم رکعت ته دی پورته شی ځکه په هیره سلام ګرځولو سره لمونځ نه فاسدیږی ، نوپاتی رکعتونه دی پوره کړی اوپه اخیرکې دی سجده سهو وکړی.

(فتاوی دارالعلوم ص۴۱۲ج۴بحواله ردالمختارص۵۷۵ج۱فتاوی رحیمیه ص۱۶۹ج۱)

مسئله : لومړی ناسته واجب ده اوقاعده داده چه د واجب په ترک سره لمونځ فاسدیږی نه ، بلکې سجده سهولازمیږی ؛ نوکه له چاڅخه پاتی شی ، کښینی دی نه ، بلکې په اخیره کې دی سجده سهووکړي ؛ لمونځ یې صحیح دی . (آپ کی مسایل ص۳۷۱ج۳)

مسئله : اخیره ناسته فرض ده ،که له چاڅخه پاتی شی ،پنځم رکعت ته ولاړشی ، نواوس که یې د پنځم رکعت سجده کړی نه وی ، بیرته

دی راوګرځی قعده دی پوره کړی اوپه اخیره کښ دی سجده سهووکړی. اوکه چیري یی د پنځم رکعت سجده هم کړی وی ، نودی یوبل رکعت ورسره ضم کړی. نوبه یی هغه مخکښ څلورچه د فرضوپه نیت یی پیل کړی وو ، باطل شی او دغه وروستنی دوه رکعته به یی نفل وګرځی اوپه اول صورت کښ به دغه سجده سهود فرضود تأخیر په وجه وکړی او دغه فرض لمونځ به بیرته له سره راګرځوی.
(آپ کی مسایل ص ۳۷۲ ج ۳)

مسئله : که څوک پر اول یادویم رکعت باندی په هیره کښینی ،بیادویم اویاڅلورم رکعت ته پورته شی ، نواوس که دی دومره کښینستلی وی چه د یو د رکن مقدارکیږی ، نوبیا سجده سهووربانډی لازمه ده. (عالمګیری ص۶۵ج۱)

مسئله : که چیري امام پردویم رکعت باندی کښینی اومقتدی په هیره ولاړشی ، نوپرمقتدی هم واجب ده چه کښینی اوله امام سره التحیات پوره کړی. (درمختار ص۶۸۶ج۱)

که څوک له اولي ناستی پرته دریم رکعت ته ولاړشی نوبالکل سیده نه وی دریدلی بیرته دی راوګرځی. اوکه بیخی سیده دریدلی وی نوبیا دی پسی ودریږی او ناستی ته دی نه راګرځی په اخیره کښ دی سجده سهووکړی. (علم الفقه ص۱۱۹ج۲، کبیری ص۲۹۹، شرح نقایه ص۱۱۲، هدایه ص۱۰۶ج۱وفتاوی دارالعلوم ص۳۸۸ج۲، درمختار ص۶۸۵ج۱)

که د قیام په حالت کښ التحیات وویل شی

مسئله : که څوک په لومړی رکعت کښ تر سورة فاتحی مخکښ التحیات په هیره ووایی نوڅه حرج نشته ځکه چه د تحریمی

اوفاتحې ترمنځ هم د يو داسي شئ لوستل پکاروي چه د الله تعريف اوستاينه پکښې ذکروي. اوالتحيات همداشئ دی. اوکه يې له قرائت څخه وروسته او يا هم په دويم رکعت کې له قرائت څخه مخکې ياوروسته ووايي نوپه دې صورت کې به سجده سهوکوي، ځکه چې له قرائت څخه وروسته بايدسمې رکوع ته ولاړشي دا واجب د ه اوهمدا راز د دويم رکعت په قرائت سره شروع کول واجب دي.

مسئله : که له چاڅخه قومه اوجلسه پاتې شي نوسجده سهووربانډې واجب ده. (علم الفقه ص۱۱۸ ج ۲)

د دريو حالتونو يو حکم

پوښتنه : که څوک په وروستي رکعت کې له تشهدوروسته ولاړشي اوبيابېرته کښيني نود دې دری صورتونه دي: يوداچې په پوره ډول ودرېږي خوپرته له څه ويلوبېرته دستي کښيني، دويم داچې ولاړشي اوڅه هم ووايي، دريم داچې سورة تېول پوره ختم کړي. په دې ټولو صورتونوکې يوحکم دی که مختلف؟

اوبيا داچې کله کښيني سمدستي به سلام وګرځوي سجده به کوي اوکه به التحيات وايي بيابه د سجده سهوی لپاره سلام وګرځوي؟

جواب : په هردريوحلاتوکې به چه کله کښيني تشهدبه ووايي .د سجده سهوی لپاره به سلام وګرځوي بيابه له سره تشهداونور ووايي دختم سلام به وګرځوي. (فتاوی دارالعلوم ص ۳۸۳ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص۷۰۰ ج ۱)

مسئله : که څوک په اخيره قعده کې ولاړشي اوبياورپه ياد شي اوکښيني نود سجده سهوی پخاطر التحيات ونه وايي فوراً سلام وګرځوي، سجده سهو وکړي هم څه حرج نشته ځکه چه قعده

اوتشهد خولا له مخکې شویدی. نوله کښیناستلو سره سم دی سلام وګرځوی سجده سهودی وکړی اوبیادی له سره تشهد اونور ووایی. دختم سلام دی وګرځوی. (فتاوی دارالعلوم ص۱۵ ۳ج ۴بحواله شامی ص ۷۰۰)

مسئله : په اخیره ناسته کې که تر تشهداودرود شریف وروسته څوک لږ انتظار وکړی، سلام ونه ګرځوی نوسجده سهوواجب نه ده.

(فتاوی دارالعلوم ص ۳۰۰ ج ۴، ردمختار ص ۷۰۲ ج ۱)

مسئله : په اخیره ناسته کې په دوه ځله تشهد ویلو سره سجده نه واجبیږی. (فتاوی دارالعلوم ص ۳۷۷ ج ۴، عالمګیری ص ۱۱۹ ج ۱)

په ناسته (قعده) کې د سهو مسائل

مسئله: که چیري په فرضی، واجب اویا سنت مؤکد څلور رکعتی لمانځه کې د دویم رکعت د تشهد څخه وروسته په هیره څو الفاظ د درود شریف ولولی، نوسجده سهو وربانده ی واجب ده.

(فتاوی دارالعلوم ص ۱۲ ۴ ج ۴ بحواله ردالمختار ص ۶۹۲ ج ۱، کبیری ص ۴۶۰، شامی ص ۴۷۱ ج ۱)

مسئله : که یو سړی پوره درود شریف اویا د هغه نیمایی تر - اللهم بارک - انک حمیدمجید- پوری مکرر په اخیره ناسته کې ووایی، پرهغه باندی سجده سهو واجب نه ده. (فتاوی دارالعلوم ص ۳۹۱ ج ۴ بحواله شامی ص ۶۹۲ ج ۱)

مسئله : که د چا درود شریف هیرشی اود ماثوره د عاء پوخت ورپه یادشی نو دې دعاء پریږدی له سره دی درود شریف پیل کړی اوسجده سهوهم وربانډی لازمه نه ده. (فتاوی دارالعلوم ص ۳۹۲ ج ۴ بحواله ردالمختار ص ۴۲۵ ج ۱)

مسئله : که چا درود شریف نیم ووایه، په هیره یی هغه پریښود اودعاء ماثوره ئې پیل کړه، نوبهتره داده چه هغه دعاء پریږدی

اوپاتې درود شریف پسې پوره کړي سجده سهو وربانديواجب نه ده (شامی ۴۲۵ج ۱)

مسئله : که چیري مسبوق له امام سره په اخیره ناسته کې ترتشهد وروسته درود شریف اودعاء هم پوره کړي نو وروسته بیا سجده سهو پر لازمه نه ده.(مسایل سجده سهو ص ۹۱)

مسئله : که چیري په امام پسې مقتدي تشهد ونه وایي نولمونځ یې صحیح دي راګرځول یې ضروري نه دي. اوکه په قصدي توګه داسې وکړي نو بیاهم لمونځ شویدي خو ولی راګرځول یې ځکه ضروري دي چې په دې قصدي عمل سره په لمانځه کې خلل راغلی دی . یعنی قصداً ترک واجب لمانځه ته نقصان رسوي.(امداالاحکام ص ۴۸۳ ج ۱)

مسئله : که له چا په قعده اولی یا اخیره کې د التحیات څه حصه پاتې شوه ، سجده سهو ورباندي واجب ده ،که فرض لمونځ وي که نفل. (عالمګیری ص۶۶ج۱)

مسئله : په اوله ناسته کې که څوک تشهدختم کړي او خوشیبې خاموش پاتې وي ، نوکه دغه خاموشي د یوه رکن په مقدار (۳خله سبحان الله ویل)وي نو سجده سهو وربانديشته اوکه تر یو رکن کم وي بیانشته. (عالمګیری ص۶۶ج۱)

مسئله : که پرچابانديسجده سهو وي خو ورپه یاد نه وي ترڅو پوري درود شریف ختم کړي بیاورپه یادشي ، نوهرکله چه ورپه یادشي په هغه ځای دي سجده وکړي ، صحیح ده. بیادي التحیات روایي اودختم سلام دي وګرځوي. (عالمګیری ص۶۶ج۱)

که چیري امام سلام وګرځوي، ولې مقتدي لا التحیات، درود شریف او دعاء پوره کړې نه وي، نو بهتره دا ده چه التحیات پوره کړي او بیا سلام وګرځوي، درود او دعاء که پاتې شي هم څه خبره نه ده له امام سره دې سلام وګرځوي. او که چیري امام دریم رکعت ته ولاړ شي، دمقتدي لا التحیات پاتي وي نو پکار ده چې هغه پوره کړي بیا ولاړ شي او که سمدستي ورسره ولاړ شي هم څه خبره نه ده.

(مسائل سجده سهو ص۶۹، امداد الفتاوی ص۵۱۱ ج۱)

مسئله: که پر چا باندې په لمانځه کې سجده سهو لازمه شي، بیا سجده وکړي خوله سجدې وروسته د التحیات پر ځای فاتحه ووایي نو پر ده باندې دوهم ځل سجده واجب نه ده. له فاتحې وروسته دې بیرته التحیات او نور ووایي، لمونځ دې پوره کړي صحیح دي.

(عالمګیري ص۶۶ ج۱)

مسئله: که چا په رکوع او یا سجده کې التحیات ووایه، نو پر ده باندې سجده واجب نه ده. (طحطاوي ص۲۵۰ ج۱)

مسئله: که د اخیري التحیات څخه وروسته څه غلطي وشي په لمانځه کې، بیا سجده سهو نشته. لمونځ پوره شویدي.

(آپ کی مسایل ص۲۶۸ ج۲)

مسئله: که د التحیات پر ځای کوم سورة ولوستل شي او یا التحیات غلط وویل شي نو په دې صورت کې سجده سهو واجب ده.

(آپ کی مسایل ص۲۷۰ ج۲)

په اذکارو او تسبیحاتو کې د سهوې مسائل

مسئله : که چا په لمانځه کې اعوذبالله ،یابسم الله یاثناء (سبحانک اللهم) پریښوده ؛ نو سجده سهو ورباندې واجب نه ده.

(فتاوی عالمگیری ص۶۵ ج۱، آپ کی مسائل ص۳۶۵ ج۲)

مسئله : که څوک په رکوع یا سجده کې د تسبیح پرځای بسم الله الرحمن الرحیم ووایې نو پردې باندې سجده سهو واجب نه ده.

(هدایه ص۱۴۰ ج۱)

مسئله : که څوک په زوره یعنې په لوړ آواز سره اعوذبالله ،بسم الله یا آمین ووایې نو سجده سهو ورباندې واجب نه ده.

مسئله : که څوک دلمانځه په حالت کې د بل څنګلوري سړي څخه فاتحه واورې او د ولا الضالین پرځای آمین ووایې او یا بل څوک دعاء کوې دې دهغه پردعاء باندې آمین ووایې نو د دغه آمین ویونکي لمونځ فاسد دې. (مسائل سجده سهو ص۷۶)

مسئله : په رکوع کې دومره وخت څنډ کول ؛ چې هر ندام پرخپل ځای باندې قرار ونیسي او یو ځل « سبحان ربی العظیم » وویلای شي ؛واجب دې. که په هیره دومره وخت ونه دریدلای شو ،نو سجده سهو واجب ده او که قصداً داسې وکړي نو دویم ځل لمونځ کول لازمي دي.

(طحطاوی ص۱۶۶ ج۱)

په رکوع او سجده کې دسهو مسائل

مسئله : په یوه رکعت کې دوې رکوع کول سجده سهو واجبوي. که سجده سهو ونکړي نو لمونځ به راګرځوي. مګر که دا مسئله په

اخترونو او یا د جمعې په لمانځه کې را منځ ته شي نو د ازدحام په وجه که سجده سهو ونشي هم لمونځ صحت لري.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۹ ج۴ ردالمختار ص۷۰۵ ج۱)

مسئله : که یو څوک له فاتحې او سورة وروسته سمدستي سجدې ته ولاړ شي ، رکوع یې هیره شي. نو اوس که دغه رکوع له دویم رکعت څخه مخکې ورپه یاد شي نو پر همغه وخت به پورته شي او رکوع به وکړي ، بیا به سجده ورپسې وکړي او که چیري تر دویم رکعت وروسته ورپه یاد شي نو بیا د دغه دویم رکعت رکوع د هغه اول رکعت رکوع ګڼله کیږي یعنی دغه دویم رکعت لغو او دغه رکعت پخپله اول بلل کیږي له دې وروسته به خپل رکعتونه پوره کړي. خو په دې دواړو صورتونو کې سجده سهو لازمه ده.

(علم الفقه ص۱۱۹ ج۲، عالمګیری ص۶۷ ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۴۱۶ ج۴)

مسئله : که چیري په کوم رکعت کې په هیره دوو سجدو پر ځای درې سجدې وکړي نو په دې سره سجده سهو واجب ګرځي.

(آپ کی مسایل ص۳۷۱ ج۳)

مسئله : که چیري په کوم رکعت کې یوه سجده وکړي او دویمه یې هیره شي ، او بیا په دویم رکعت کې او یا له هغه وروسته د اخیري ناستې تر تشهد مخکې ورپه یاد شي نو دغه سجده به په همدغه وخت کې کوي او په اخیر کې به سجده سهو کوي ، او که چیري په اخیره قعده کې تر التحیات وروسته ورپه یاد شي نو به هغه پاتې سجده وکړي او التحیات به له سره ووایي. او بیا به سجده سهو وکړي.

(بحر ص۹۲ ج۲، فتاوی محمودیه ص۲۲۲ ج۲، علم الفقه ص۱۱۸ ج۲، عالمګیری مصری ص۱۱۸، فتاوی دارالعلوم ص۲۷۸ ج۴ او کبیری ص۴۵۵)

مسئله : که په هیره امام دریمی سجدې ته ولاړشی نومقتدی به یې متابعت نه کوی ،البته پرامام باندی سجده سهوواجب ده چې په هغه کې به یې مقتدی اتباع کوی. (شامی ص۳۳۹ج۱،فتاوی دارالعلوم ص۴۱۶ج۴)

مسئله : که چاپه لمانځه کې یو رکن پربل مقدم کړاوبل یې وروسته کړ مثلاً اول یې سجده وکړه اوبیاوروسته یې رکوع وکړه یایې یورکن مکرر اداکړنوپرده باندی سجده سهو لازمه ده. (عالمګیری ص۶۶ج۱)

که په امام پسې ولاړوی،رکوع اویاسجده ورځنی پاتې شی؟

مسئله : که څوک په امام پسې مقتدی وی خوسجده اویارکوع ورځنی په هیره پاتې شی ،نوکوم وخت چې وربه یادشوه دغه رکن دې اداء کړی اوله امام سره دې شرکت وکړی . اوکه دغه یې ونکړ ، نو بیادی د امام له سلام ګرځولو وروسته دې خپلې رکوع یاسجده وکړی ،اوبیادې سجده سهو وربسې وکړی. که په دی صورتونو کې یې یوونکړ ،نولمونځ یې نه صحیح کیږی. دوباره به یې اداکوی.
(مسائل سجده سهو بحواله عالمګیری ص۶۶ج۱)

مسئله : پرمقتدی باندی سجده سهونشته که څه هم واجب ځنی پاتې شی اویا فرض تاخیرکړل شی. اونه یې ورباندی اعاده شته. خودا په داسی حال کې چې دی مقتدی یعنی په امام پسې ولاړ وی.
(فتاوی دارالعلوم ص۴۰۲ج۴بحواله ردالمختار ص۴۹۵ج۱)

مسئله : که پرامام باندی سجده سهو واجب وی خو وربه یاد نشی او ځنی پاتې شی نوپرمقتدیانو واجب نه ده. (عالمګیری ص۶۶ج۲)

مسئله . که په جمع کې له مقتدي څخه غلطی وشی ،نونه پرمقتدی اونه پرامام باندی سجده سهولازمه ده. (هدایه ص۱۰۶ج۱،کبیری ص ۴۶۴)

مسئله : مقتدي ته ترخپل امام وړاندې کوم فعل شروع کول مکروه تحریمي دي (بهشتی زیور ص۶۶ ج۱۱، شامی ۳۲۹ ج۱)

مسئله : که څوک له قرائت وروسته تر رکوع مخکې د یوه رکن چې ۳ ځله سبحان الله پکې ویل کیدای شي ؛ په مقدار منتظر پاتې شي یعني پرته له څه ویلو هماسې په فکرکې ولاړ وي نو سجده سهو ورباندې لازمه ده. (عالمگیری ص۶۵ ج۱، فتاوی رحیمیه ص۱۸ ج۱)

په رکوع کې د سجدې تسبیح ویل

مسئله : که چا په رکوع کې د سجدې اوپه سجده کې د رکوع تسبیح وویلې ،نو سجده سهو ورباندې واجب نه ده . البته دا عمل مکروه تنزیهي دی. که په یادشي ورته ، د رکوع اویاسجدې تسبیح دې ووایي اوترڅو د سنت مطابق شي.

(فتاوی دارالعلوم ص ۳۸۵ ج ۴،درمختار برحاشیه شامی ص۴۶۱ ج۱،آپ کی مسایل ص۳۱۵ ج ۳)

مسئله : که څوک له سجدې یا قعدې څخه په ولاړیدلو کې تکلیف ولري نو که لاس پر مځکه ولګوي او ولاړ شي ، څه حرج نشته.

(آپ کی مسایل ص۳۱۵ ج۳)

مسئله : که څوک په رکوع کې د تسبیح پرځای بسم الله الرحمن الرحیم ووایي نو سجده نه لازمیږي ځکه چې د رکوع تسبیح واجب نه دي ،مګر تشهد چونکه واجب دی که پاتې شي یعني پرځای یې بل څه وویل شي سجده سهو لازمیږي

(فتاوی دارالعلوم ص۳۹۶ ج ۴،هدایه ص۱۴۰ ج۱،باب سجود السهو)

مسئله : په لمانځه کې له تکبیر تحریمه پرته نور تکبیرونه سنت دي ،نو که څوک رکوع ته ځي او تکبیر ځنې پاتې شي په هیره ،لمونځ یې کیږي او سجده سهو هم ورباندې لازمه نه ده. (آپ کی مسایل ص۳۱۵ ج ۳)

په سجده کې شک پیدا کیدل

مسئله : که چاته دا شک پیدا شو چې یوه سجده یې کړې،که دوې ؟ نو په دې صورت کې به په غالب گمان عمل کوي او که دا نه وو نو به یوه بله سجده وکړي او په اخیر کې به سجده سهو اداء کړي.

(درمختار ص۱۰۲ ج۱،فتاوی دارالعلوم ص۴۱۸ ج۴)

په سجده سهو کې شبه پیدا کیدل

مسئله : که چاباندې سجده سهو واجب وې او په اخیره ناسته کې دا شک ورپیدا شي چې سجده یې کړې ،کنه ؟ نو په دې صورت کې به پر غالب گمان عمل کوي ،څو که دا نه وي نو دې بیا سجده وکړي.

(مسایل سجده سهو ص۸۴ بحواله شامی ص۵۲۹ ج۱)

د تکبیراتو صحیح طریقه

سوال : تکبیر تحریمه به کله وایې تر لاس ترلو مخکې او یا چې لاس وتړي ؟صحیح طریقه یې راته وښیه ؟

جواب : د تکبیر اولی او رفع الیدین په باره کې درې قولونه دي :

(۱)- اول به رفع الیدین وکړي،یعنی دواړه لاسو ته به ترغوږو پورې پورته کړي.

الله اکبر به شروع کړي؛ تکبیر له ختمید و سره سم به لاس تر نامه لاندې وتړي

(۲)- تکبیر اولاس پورته کول به یوځای شروع کړي اویوځای به یې ختم کړي.

(۳)- اول به تکبیرشروع کړي سمد ستي به لاس هم ورسره پورته کړي ، بیابه یې یوځای سره ختم کړي. (بحرالرائق ص۳۰۵ ج۱، شامی ص۴۶۵ ج۱)

په پورتنیوصورتونوکې لومړی اوذویم صورت افضل دی ، دریم صورت هم جایز دی مګر معمول بها نه دی. (هدایه ص۸۲ ج۱)

اوپه جوهره کې راځي چه صحیح دادی چه لومړی لمونځ کوونکی دواړه لاسونه پورته کړي ترغوږونوپوری چه کله غوږونوته ورسیدل هلته دی تکبیرشروع کړي. (جوهره ص۲۹ ج۱)

په صورت مسئوله کې لمونځ کیږي مګرترلاس ترلوپورې تکبیرځنډولو عادت غلط اومکروه دی. دا د ثناء (سبحانک اللهم) د ویلومحل دی . نه د تکبیرتحریمه. تکبیر به د لاس ترترلوپوری ختموی. په دې کې یوه بله خرابی داده چه د لوړ آواز اوریدونکې مقتدي یابل کوږ مقتدي د امام رفع الیدین ته ګوري بیاتکبیروایي. نوکه امام ترلاس ترلوپوری تکبیر وځنډوی اومقتدي یې ترده مخکې د لاس پورته کولوپرمهال ووایي نود هغه اقتداء اولمونځ صحیح نشو. دا ځکه چه چیري د تکبیر اول لفظ « الله » په ویلو کې مقتدي ترامام وړاندی شي اویاهم « دالله » لفظ ورسره شروع کړي مګر د اکبرلفظ ترامام مخکې ختم کړي. په دی صورت کې هم د ده اقتداء په امام پسی صحیح نه ده. (درمختار مع شامی ص۴۲۸ ج۱)

نوامام ته دا عادت پریښودل پکار دي.

د رکوع او سجود د تکبیراتو صحیح او مسنونه طریقه

دې تکبیراتو ته د انتقالاتو تکبیرونه وایی. نو د رکوع تکبیر باید هغه وخت پیل شي چه سړی رکوع ته د حرکت یعنی ټیټیدو په حال کې شي ترهغو پوری چې رکوع ته ورسي. دارازسجدې ته د ټک پر وخت به تکبیر پیل کړی چه کله سجدې ته ورسید تکبیر به ختم کړی. دا ناسمه ده چه څوک رکوع او یا سجدې ته ورسیږی لا تکبیر وایی. په دې کې دوه کراهته لازمیږی یو دا چه د ترک محل خرابی راشي ولی چه دا د انتقالاتو تکبیرونه دی یعنی محل یې هغه ځای دی چه رکوع او سجدې ته د تللو پر وخت باید د انتقال په حالت کې وویل شي او دلته دا تکبیرات بې محله وویل شول ځکه یو په رکوع کې او بل په سجده کې وویل شو. دویم کراهت دا شو چې اداء یې بې محله شوه یعنی په کوم ځای کې چه باید « سبحان ربی العظیم یاسبحان ربی الاعلی » ویل شوی وای، په هغه ځای کې تکبیر وویل شو. نو ګویا د دغو تکبیراتو په بې ځایه کولو سره دوه کراهته راځی یو ترک محل، دویم اداء بې محل شوه نو په همدې وجه دا عمل د سنت خلاف او مکروه عمل دی. (منیة المصلی ص۸۸، کبیری ص ۳۲۵)

له تکبیر تحریمه وروسته به لاس پریږدی که به ئې تړی؟

مسئله: د تکبیر تحریمه او دعاء قنوت او د اختر د لمانځه د تکبیرونو پر مهال چې لاس پورته شي، سمدستی به یې تړی، دا چې لاس له پورته کیدلو وروسته پرینبودل شي، بیا وروسته تر نامه لاندی وینول شي، دا ثبوت نلري. اختلاف په دې خبره کې ده چې د ثناء او قرائت په حالت کې لاس باید وتړل شي او که پرینبودل شي.

(فتاوی رحیمیه ص ۳۷ ج ۳، نور الایضاح ص ۷۶، امداد الاحکام ص ۲۶۵ ج ۱)

مسئله : که څوک تکبیرتحریمه د قیام په حالت کې نه ، بلکې رکوع ته د ټیټیدو په وخت کې ووایي ، نو دی په لمانځه کې داخل نه دی. یعنی لمونځ یې صحت نلري. ځکه چه په لمانځه کې د داخلیدو شرط دادی چې تکبیر به د قیام په حال کې ویل کیږي که چیرې د « الله » لفظ د قایم او « اکبر » لفظ په رکوع کې وویل شی نو په لمانځه کې داخل نه دی . (فتاوی رحیمیه ص۳۱۵ ج۴، فتاوی محمودی ص۱۲۱ ج۲)

مسئله : ځینې مقتدیان داسې غلطی کوي چه د هغه په وجه یې لمونځ فاسدیږي مثلاً: مخکې له دې چه امام تکبیرتحریمه پوره کړي مقتدیان « الله اکبر » وایي. اویا دا چه امام لا د الله لفظ ختم کړی نه وی ، مقتدی نیاتول تکبیرپوره کړی. نو په دې دواړو صورتونو کې د لمانځه شروع صحیح نه ده ، دوی ته پکار ده چه دویم ځل خپل نیت وتړي او په امام پسې اقتداء وکړي. (صغیری ص۱۴۳)

مسئله : که څوک په امام پسې هغه وخت په جماعت کې شامل شی چه هغه د رکوع په حال کې وی. نو ده ته سنت داده چه تکبیرتحریمه ووایي او ترنامه لاندې لاس وتړي خو که یوازې تکبیرپه ولاړه ووایي اولاس ونه تړي هم لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۹۹ ج۲، بحرالرائق ص۳۲۰ ج۱)

مسئله : که چیرې امام په رکوع کې وی او یو سړی راشی په رکوع کې ورسره شرکت کوی ، نو د تکبیرتحریمه تر ویلو وروسته به بل تکبیر ووایي او په رکوع کې به ورسره شریک شی ، خو که دا دویم تکبیر ونه وایي همدا یو تکبیرتحریمه کفایت کولای شی ، لمونځ یې صحیح دی. او دغه رکعت یې پیدا کړی دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۹۸ ج۲، شامی ص۳۲۲ ج۱)

مسئله : مقتدیانو ته پکار ده چه هر رکن له امام سره یوځای اداء کړی بی له تعجیل او تاخیره . له تحریمه نیولی په ټولو ارکانو کې به یی مکمله توګه متابعت کوی ، نه به ذره ځنی مخکې کیږی او نه به ورځنی وروسته کیږی. مګرپه اوله ناسته او اخیره ناسته کې که چیري مقتدي التحیات پوره کړی وی ، امام پورته شی نو مقتدی به خپل پاتی تشهد پوره کوي بیا به ولاړیږی ، اما په نورو ارکانو کې که تسبیحات یا بل داسی څه پریږدی بی له دې چه تکمیل شی ، څه پروا نلری ، بنه دا ده چه د امام متابعت ټینګ کړی. (علم الفقه ص۹ج۲)

مسئله : حکم دادی چه که امام په رکوع کې وی نو یو شخص راشی او په رکوع کې ورسره شرکت کوی سمدستی به تکبیر تحریمه ووایی بیا په ولاړه انتظار کول لازمی نه دی رکوع ته دې ولاړشی هلته که امام په رکوع کې صرف پیدا کړي که څه هم د تسبیح ویلو موقع ورته مساعده نشی نو رکعت یی پیدا کړ لمونځ یی صحیح دی. او که د ده له رسیدلو څخه مخکې امام راپورته شی له رکوع څخه ، نو یې رکعت نه دی پیدا کړی .(آپ کی مسایل ص۲۹۱ج۲)

د رکوع او سجدې تسبیحات په زوره ویل

مسئله : په فرض لمانځه او نورو کې ثناء ، د رکوع او سجدې تسبیحات ، او په لمانځه کې نور اذکار په دومره لوړ آواز سره باید وویل شی چه د نورو د توجه د خرابولو سبب ونه ګرځی. بل څوک چې پر لمانځه ولاړ وی او یا په وظیفه مصروف وی، یا څوک په اعتکاف کې وی او یا هم څوک ویده وی ، که د دی خلکو د زور تکلیف او توجه

د اړولو باعث وګرځي نو دا ډول اذکار ویل که په لمانځه کې وي که له لمانځه د باندې ، ناسم عمل دی. او د ګناه موجب ګرځي.
(فتاوی رحیمیه ص۲۲ج۳ شامی ص۶۱۸ج۱)

په تکبیراتو کې د سهو مسائل

مسئله : له یوه رکن څخه بل رکن ته د تللو پرمهال مثلاً : له رکوع څخه سجدې ته د تلو پر وخت چې کوم تکبیرونه ویلی کیږي ، له دوی نه که یو پاتې شي په هیره نو سجده سهو وربا ندې واجب نه ده. البته د اخترونو په لمانځه کې په دویم رکعت کې که د رکوع تکبیر پاتې شي نو سجده واجب ده. مګر خو په اختر کې بیاد ازدحام لامله د سجده سهوې نه کول څه حرج نشته. (فتاوی عالمګیری ص۶۵ج۱، آپ کی مسایل ص۲۷۱ج۲)

مسئله : که یو سړی په تکبیر تحریمه سره لمونځ پیل کړي او قرائت هم ووایي خو وروسته شک ورته پیدا شي چې تکبیریې ویلی کنه ؟ او د دې شک په وجه بیا تحریمه ووایي او قرائت بیا شروع کړي خو دلته ورپه یاد شي چې لومړی ځل یې تکبیر تحریمه ویلی وو ، نو پردی باندې سجده سهو لازمه ده. (مسائل سجده سهوص ۷۰ بحواله مبسوط ص۲۳۲ج۱)

مسئله : که چیري امام په هیره پر اول یا پر دریم رکعت کښیني ، خو له شا مقتدي فتح ورکړي او یا خپله ورپه یاد شي نو امام چه ولاړیږي ، د همدې ولاړیدلو په وخت کې به تکبیر وایي. (کبیری ص۲۱۴)

د مسبوق او لاحق پیژندنه او په هغوی پوري اړوند مسائل

مسبوق هغه چا ته ویل کیږي چه د جماعت د لمانځه یو څه برخه او یا اکثره برخه ورځنی تیره وي . د مسبوق لپاره حکم دادی چې له ده څخه چې څومره حصه پاتې شوې وي هغه به د امام له سلام ګرځولو

وروسته اداء کوی. په دغه حالت کې دی د مقتدی غوندی نه بلکې د منفرد حکم لری. یعنی څرنګه چې منفرد (ثناء، تسمیه، تعوذ، قرائت) کولای شی همدارنګه به یې مسبوق هم کوی او د خطائي په صورت کې به سجده سهو کوی. (علم الفقه ص۹۶ ج۲)

مدرك: هغه چاته ویل کیږی چې له لومړی سره په جماعت کې شریک شی تر پایه پوری. او دې شخص ته مؤتم او مقتدی هم ویل کیږی. (علم الفقه ص۷ ج۲)

لاحق: هغه چاته ویل کیږی چې له امام سره له لومړی سره په جماعت کې شریک وی خو بیا د څه عذر په وجه یو څو رکعتونه او یا ټول رکعتونه ورڅنې پاتې شی مثلاً: د غفلت په وجه یا د ویری په وجه او یا د بې اودسی په وجه او داسی نور... او یا بې له عذره رکعتونه څینې پاتې شی، مثلاً: ترخپل امام وړاندی رکوع او سجده او یا بل رکن اداء کړی او یا یو مقیم شخص په مسافرینی لمونځ کوی او یا په صلوة الخوف کې اول یو یا دوه رکعته له امام سره کوی، دا لاحق بلل کیږی د ده حکم د مقتدی دی په باقې پاتې لمانځه کې قرائت نشی ویلای، نه به سجده سهو کوی. او نه یې فرض د اقامت په نیت تبدلیږی. د دغه سړی د مسبوق بالعکس لومړی به د هغه برخې قضاء راوړی چې له امام سره له اداء کولو څخه پاتې شویده. او که جماعت پاتې وی نو له امام سره به شرکت کوی. له لاحق څخه چه کوم رکعات پاتې دی په هغوی کې دی مقتدی ګڼل کیږی. او له امام سره چه څوک مقتدی قرائت نشی کولای، لاحق به یې هم نه کوی. بلکې ساکت

(خاموش) به اوسی. او که له ده څخه د سجده سهو ضروت وی، سجده سهو به نه کوی. (علم الفقه ص ٩٦ ج ٢)

مسئله : که چیري مقتدی په څلور رکعتی لمانځه کې له امام سره صرف یو رکعت پیدا کړی، نود امام له سلام ګرځولو وروسته به په لومړي دوه رکعتونو کې قرائت وایی او په وروستی یوه رکعت کې به صرف الحمد لله وایی. (فتاوی دارالعلوم ص ٢٨٢ ج ٢)

مسئله : که چیري یی له امام سره دوه رکعته پیدا کړل نو د امام له سلام ګرځولو وروسته به په پاتی دوو رکعتو کې « الحمد » او « سورة » دواړه وایی. (فتاوی دارالعلوم ص ٢٨٨ ج ٢، بحواله ردالمختار ج ١ ص ٥٥٧)

مسئله : که جیري یو رکعت څنی تیرشوی یعنی دری رکعته یی له امام سره موندلی وی. نود امام له سلام ګرځولو وروسته به ولاړ شی دغه رکعت به له « سبحانک اللهم » څخه پیل کړی سورة فاتحه اوبل سورة به ورسره پوره کړی. او که دوه رکعته څنی تیروی. نو به دغه دوه رکعتونه وروسته په دی ډول اداء کړی، لکه یوازی چې یی کوی، یعنی په اول رکعت کې به سبحانک اللهم ووایی بیا فاتحه اوبیا سورة، په دویم رکعت کې به صرف « الحمد لله » ووایی نه « سبحان » او که دري رکعتونه تیروی. نو هم به په اول کې « سبحان » ووایی.

بیا به فاتحه او بیا سورة ولولی او پرهمدې رکعت به قعده هم وکړی. او په دویم رکعت کې به سورة فاتحه او سورة ولولی او په دریم رکعت کې به یوازی فاتحه یعنی « الحمد لله » ووایی. او اخیری ناسته به وکړی. (آپ کې مسایل ص ٢٩٠ ج ٢)

مسئله : دغه پاتي رکعتونه د قرائت په اعتبار خو اول دی، مګر په ناسته کې د التحيات په لحاظ دا اخيری رکعتونه دی. نو که چيري له امام سره يو رکعت پيدا شي نو يو رکعت چه بل وکړي قعده کول ضروري دی. او پاتي نور دوه رکعتونه به په بله قعده سره اداء کوی.
(آپ کی مسايل ص۲۹۰ ج ۳)

مسئله : څوک چې د ماښام له دريو رکعتونونه له امام سره دوه رکعته پيدا کړی نو دغه به په قعده کې له امام سره صرف التحيات ولولی او بيا به خاموش کښيني بيا چه کله دغه پاتي يو رکعت پسی اداء کړی نو هلته به ټول څرڅه ولولی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۹۲ ج ۲، غنية المستملی ص۴۶۱)

مسئله : او که چيرې يو رکعت پيدا کړی بيا په نورو دوارو رکعتونو کې به ناسته کوي او التحيات وايی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۹۶ ج ۳، فتاوی رحيميه ص۳۲۲ ج ۲)

مسئله : څوک چه په څلور رکعتی لمانځه کې مثلاً : ماسپښين، ماز يګر له امام سره صرف يو رکعت پيدا کړی نو دغه سړی به امام له سلام ګرځولو وروسته خپل پاتي رکعتونه داسې اداء کړی چه ولاړ به شي ثناء او تعوذ به ووايی الحمدلله او سورة به ورپسې ووايې، رکوع به وکړی او بيا به سجده وکړی التحيات ته به کښيني ځکه چه د دې شفعی بل رکعت خو دغه دی شويدی له امام سره . له التحيات وروسته به پورته شي ، الحمد او سورة به ووايی ، رکوع او سجده به وکړی ، دا به يې دريم رکعت شي له سجدی وروسته به فوراً څلورم رکعت ته پورته شي او يوازی الحمدلله به ووايی. رکوع او سجده به وکړی دا يې څلورم رکعت شو ،تشهد ، درود شريف او دعاء به ووايی ، سلام به وګرځوی . (فتاوی دارالعلوم ص۲۹۷ ج ۳، ردالمختار ص۵۵۷ ج ۱)

مسئله : که څوک د مازیګر په لمانځه کې له امام سره یو رکعت
پیدا کړي نو د امام له سلام ګرځولو وروسته چې یو رکعت وکړي 24
قعده به کوي او بیا به دوه رکعته نور کوي په اخیره ناسته کې به
التحیات ، درود شریف او دعاء ولولي. سلام به وګرځوي.
(فتاوی دار العلوم ص۲۹۶ ج۳ بحواله ردالمختار ص۵۵۷)

مسئله : که چیرې له مسبوق څخه په رکعت کې کوم فرض پاتې شي
او د هغه فرض اعاده ونکړي په لمانځه کې ، نو به بیرته له سره لمونځ
کوي.(فتاوی دار العلوم ص۲۹۰ ج۳، بحواله ردالمختار ص۸۱۱ ج۱)

مسئله : که له چاڅخه د ماښام دوه رکعته تیرشوي وي صرف یو
رکعت له امام سره پیدا کړي نو هغه دوه رکعته به داسې کوي چه پر
دغه اول اول رکعت به کښیني یعنې قعده به کوي که دا ونکړي
نو ګویا واجب قعده یې پریښوده. سجده سهو وربانديی واجب ده. که
سجده سهو هم ونکړي نو لمونځ به دوباره کوي.
(فتاوی دار العلوم ص۲۹۷ بحواله ردالمختار ص۶۹۵ ج۱)

مسئله : که پر امام باندې سجده سهو واجب وه ، نو موړی سجده سهو
وکړي پر التحیات ناست وي بل څوک راشي په دې حالت کې اقتداء
پسې وکړي نو اقتداء یې صحیح ده. سجده سهو به دوباره نه کوي.
(شامی ص۵۲۶ ج۱)

مسئله : که چیرې څوک مسبوق وي (یعنې څو رکعته ځنې تیرشوي
وي بیا له امام سره شریک شي د امام له سلام ګرځولو وروسته خپل
پاتې لمونځ هم پوره کړي. او بیا وروسته دا معلومه شي چه د امام

لمونځ په څه وجه فاسد شوی دی. نو د دغه مسبوق لمونځ هم صحت نلري ځکه چه بنا یې اصلاً صحیح شوی نه ده.
(فتاوی دار العلوم ص٣١٩ ج٣ بحواله ردالمختار ص٥٥٣ ج١)

مسئله : د مسبوق لپاره حکم داده چه کله له امام سره شریک شی، ثناء او تعوذ به نه وایی او کله چه یی وروسته خپل پاتی لمونځ راګرځاوه نو هلته به ثناء او تعوذ وایی. که قرائت جهری وی که خفیه په دواړو کې همدا سی حکم دی. (فتاوی دار العلوم ص٣٩٢ ج٢ بحواله ردالمحتار ص٢٥٦ ج١)

مسئله : که څوک تنها لمونځ کوی او وخت هم د جهری لمانځه وی نو افضل داده چې په زوره قرائت وایی په دی شرط که نور و ته دا په زوره قرائت ویل تکلیف نه رساوه.

مسئله : که د تولو لمونځ قضاء شوی وی، نو په راګرځیدلو کې به یی امام په زوره قرائت وایی. (هدایه ص٧٢ ج١، شرح نقایه ص٨٢ ج١)

مسئله : که چیري مسبوق په هیره له امام سره سلام وګرځوی، که یو طرف ته وی که دواړو خواو ته نو پکار ده چه دی بیرته ولاړ شی او پاتی رکعتونه پوره کړی، په هغه سلام ګرځولو سره یی لمونځ نه فاسد یږی. (فتاوی دار العلوم ص٢٩٣ ج٢، ردالمختار ص٥٨١ ج١، فتاوی محمودیه ص١٢٠ ج٢،)

مسئله : که چیري مسبوق په هیره سلام وګرځوی، خو بل څوک یی ورپه یادکړی او بیا ولاړ شی نو په سجده سهو سره یی لمونځ صحت لری. په دی شرط چه د بل چا په وینا عمل نه بلکې پخپله یی په همدغه حالت کې ور یادکړی او بیا پر دغه خپله یادونه باندی عمل وکړی او ولاړ شی. یعنی که ده ته بل څوک دا ورپه یادکړی چه رکعتونه ثې څنې تیرکړی نو دی سمدستی ولاړ شی، مطلب یی دا شو چه د هغه

پروینایی عمل وکړ اوپه دی سره د ده لمونځ فاسدیږی. اوکه چیرې دی په دغه وخت کې چه دابل سړی یی وربه یادکړی ،په عین حال کې دی داسی لږفکر وکړی ګویاپخپله داوربه یادشود اوپه همدغه خپل یادیی عمل وکړ، نولمونځ یی صحیح دی خوسجده سهوبه کوی.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۹۲ ج۲، ردمختارص۵۸۱ج۱، فتاوی محمودیه ص۱۳۰ ج۲)

مسئله : مسبوق که په هیره سلام وګرځوی ، نوپرته له دی چې خبری وکړی یاد دعاء لپاره لاس پورته کړی ، د پاتی لمانځه لپاره به ولاړیږي خوکه د دعاء لپاره یی لاس پورته کړی وی اوپه عربی یی دعاء لوستل پیل کړی وی نولمونځ یی صحیح دی په اخیره کې به سجده کوی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۸۲ ج۲، ردالمختارص۵۰۶ج۱، باب الاستخلاف)

په مسبوق پسی اقتداء کول

مسئله : هغه سړی چه څو رکعتونه ځنې تیرشوی وی ، اوبیا د امام ترسلام ګرځولو وروسته د خپل پاتی لمانځه د پوره کولو لپاره ولاړشی ، اوپه دی حالت کې بل څوک راشی په ده پسی اقتداء وکړی نودا اقتداء یی صحیح نه ده. ځکه چه یوسړی هم مقتدی او هم امام کیدای نشی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۷۶ ج۲)

سوال : که چیرې پریوه ځای دوه ۲ نفره له اما سره په جماعت کې شریک شی او دواړه له سلام ګرځولو وروسته د پاتی لمانځه لپاره ولاړ شی خویوه ته پخپل لمانځه کې شک وی. نودا خپل ملګری ګوری (یعنی هغه ته فکرکوی) اود هغه په ځیرخپل رکعتونه پوره کوی ، نوپه دی صورت کې د دغه مسبوق سړی لمونځ صحت لری؟

خواب : په دغه صورت کې د ده لمونځ صحیح دی او را ګرځید لو ته یې ضرورت نشته. البته که هغه ملګری ته د خپل امام په سترګه ګوری یعنی د اقتداء په نیت لمونځ پسی پوره کوی ، نو بیا صحت نلری او لمونځ به را ګرځوی. (فتاوی رحیمیه ص۱۳۸ج۱،بحواله درالمختار مع شامی ص۵۵۸ج۱)

سوال : په حرم شریف کې د حج پرمهال اکثراً خلک د ډیروالی لامله په لارکې کې دریږی او هغه خلک چه مسبوق وی یعنی رکعتونه ځنی تیروی ، نو هغه پاتی لمونځ کول ډیر ورته مشکل وی ځکه چه دا مخکنی خلک د وتلو کوشش کوی ، او همدا راز نور هم داسی مقامات راځی ، نو سړی به څه چل کوی ؟

جواب : په داسی حالاتو کې که چیري سړی داسی وکړی چه له امام سره په اخیره قعده کې صرف التحیات تر عبده و رسوله پوری ولولی. او بیا ولاړ شی خپل پاتی لمونځ په چټکې سره پوره کړی نو څه حرج نشته ، لمونځ یې صحت لری.

خو که دومره وخت مخکې ولاړ شی چې د التحیات په اندازه نه وي کښېنستلی لمونځ یې فاسد دی. (کبیري ص۴۳۹،فتاوی رحیمیه ص۱۲۶،ج۱)

مسئله : د اخترونو او جمعی او داسی نور اجتماعی ځایونو کې که ځای ډیر تنګ وی نو د وروستی صف خلک د مخکې صف د خلکو پر شاګانو سجده لګولای شی. (شرح نقایه ص۷۹ج۱،کبیری ص۲۸۶)

یادونه : له دغو دوو پورتنیو مسئلو څخه دی هر وخت فایده وانه خیستله شی ځکه چه عامه خلک په یو دول سرګردانی کې را ایساریږی. محمد رفعت قاسمی غفرله)

پر مسبوق باندې د سجده سهوې حکم

مسئله : مسبوق که په هرحال کې له امام سره شرکت وکړي، که امام سجده سهو کوي، دی به هرومرو سجده سهو ورسره کوي يعنی امام که د دې مسبوق له ګډون څخه مخکې غلط شوی او که وروسته. خو که پر امام باندې سجده نه وي. پر مسبوق باندې هغه وخت سجده سهو لازمه شی چه دی د امام له سلام ګرځولو وروسته د پاتی لمانځه لپاره پورته شی. په هغه وخت کې به دی خپله جدا سجده سهو کوي ځکه چه په دغه وخت کې دی د منفرد (تنها لمونځ کوونکې) حکم لري. (فتاوی دار العلوم ص۲۹۱ ج۴، درمختار ص۶۸۳ ج۱، وغیره .....)

پر منفرد او مقتدي باندې د سجده سهو حکم

مسئله : د واجب د پريښودلو په وجه پر منفرد باندې هم سجده سهو واجبيږي او مقتدي باندې هم. مګر پر مقتدي باندې د خپلې غلطۍ له کبله نه بلکې د امام د خطايي په وجه ورباندې لازمه ده. يعنی که امام د خپلې غلطۍ په وجه سجده کوي نو پر مقتدي باندې لازمه ده چه د هغه پيروي به کوي. او پر مسبوق باندې لازمه ده، که څه هم مسبوق مقتدي بلل کيږي. خو هغه وخت به يې کوي چه خپل پاتی لمونځ پوره کوي، ځکه تر دې مخکې اداء کول يې بيا د امام مخالفت راځي.

(درمختار ص۶۸۳ ج۱، آپ کی مسایل ص۳۶۴ ج۲)

مقيم، مقتدي به په مسافر امام پسې سجده سهو څنګه کوي؟

مسئله : که چيرې يو مقيم په مسافر امام پسې د لمانځه اقتداء وکړي چه په دې حال کې له امام څخه داسې غلطي وشوه چه سجده سهو ورباندې لازمه شوه. نو اوس به دغه مقيم مقتدي څه کوي؟

په دی کې دوه قوله دی: یو داچې دی دې له خپل امام سره سجده سهو وکړی او د امام له سلام ګرځولو وروسته دی خپل پاتی رکعتونه پوره کړی.
دویم قول دادی چه دغه مقیم مقتدی به په سجده سهو کې د امام پیروی نه کوی بلکې هغه وخت چه خپل پاتی دوه رکعتونه هم پوره کړی بیا دی سجده سهو کوی. (درمختار ص۶۸۴ ج۱)

پر لاحق باندی دسجده سهوی حکم

مسئله : لاحق (هغه څوک دی چې له امام سره ئې په تکبیرتحریمه کې اشتراک کړی وی خو بیا د څه عذر په وجه له لمانځه وتلی او بیرته ورسره ګډ شوی وی ؛ دی ته لاحق وایی) نو دغه به سجده سهو د لمانځه په اخیره کې هم کوی، که څه هم یوځل یې له امام سره هم وکړی. څکه چه په لومړی سرکې ده داسی عزم کړی ؤ چې په ټولو رکانو کې به د امام پیروی کوی ، نو له امام سره سجده سهو به یې هغه اراده پوره کول وی او خپله جدا سجده به یې د سهوی (غلطی) د اصلاح په وجه وی. (درمختار ص۶۸۴ ج۱)

مسئله : که چیرې کوم سړی لاحق هم وی او مسبوق هم مثلاً د یو څو رکعتونو له تیریدلو وروسته له امام سره شریک شوی وی او له همدی شرکته وروسته یې څو رکعتونه له منځه ولاړشی ، نو هغه ته پکار ده چې لومړی خپل هغه رکعتونه اداء کړی چې له شرکته وروسته ورڅخه تیر شوی وی یعنی په هغو کې چې دی لاحق بلل کیږی. له دی وروسته که چیرې جماعت بیا هم باقی وو نو بیا دی په هغه کې شریک وی او که نه نو مخسل پاتی لمونځ دی پوره کړی ، خو په هغه کی به د

امام د متابعت خيال ساتي وروسته له هغه چي خپل هغه رکعتونه اداء کړي چي په هغوی کې دی مسبوق دی.

مثال : د مازيگر په لمانځه کې د يو رکعت له تيريدلو وروسته څوک له امام سره شريک شو خو له شرکته وروسته يې اودس مات شي ، دی د اوداسه لپاره ولاړشي په دغه حالت کې لمونځ ختم شي. نو دی به اول هغه دري رکعتونه اداء کوي چه له شرکته وروسته ځنی تيرشوي وي ، او بيابه هغه رکعت اداء کوي چه تر شرکت مخکې ورځخه تير شوي وي. اودغه دري واړه رکعتونه به د مقتدي غوندي اداء کوي يعنی قرائت به نه وايي او د دی ذری رکعتونو په اول رکعت کې به قعدء کوي ځکه چه دغه د امام دويم رکعت دی. او امام په دی کې ناسته کړی وه. بيابه په دويم رکعت کې هم ناسته کوي ځکه چې د غه دويم رکعت شو. او بيابه په دريم رکعت کې هم ناسته کوي ځکه چه دغه دامام څلورم رکعت دی. او امام پکې قعده کړی وه او بيايي سلام گرځولی وو. له دی وروسته به هغه رکعت چه د ده له شرکت ځخه مخکې ورځخه تيرشوي وو ، اداء کوي او په رکعت کې به هم ناسته کوي ځکه چه دغه رکعت د ده څلورم رکعت دی او بل دا چې په دغه رکعت کې به دی د مقتدي غوندي نه کوي ځکه چه په دی رکعت کې دی مسبوق دی يعنی د منفرد حکم لري. دلته به قرائت هم وايي.

(علم الفقه ص۹۷ ج ۲ ، ردمختار نماز مسنون ص۱۲۸)

مسئله : په صلوة الخوف کې لومړۍ ډله د لاحق حکم لري ، يعنی خپل پاتي يو يا دوه رکعته به بې له قرائت اداء کوي. او دويمه ډله بيا

د مسبوق حکم لري چې خپل پاتې رکعتونه به د منفرد غونډې اداء کوي. (نمازمسنون ص۸۲۷—۸۲۸)

همدارنګه که کوم مقیم شخص په مسافرامام پسې لمونځ کوي نو هغه سړی د امام ترسلام ګرځولو وروسته لاحق دی.

(بحواله مسلم ص۲۲۰ ج۱، اعلاء السنن ص۳۷۶)

که امام له سلام ګرځولو څوشیبې وروسته سجده سهو وکړي نو مسبوق به څه کوي؟

مسئله : که چیري پرامام سجده سهو واجب وه ، خوهیره یې وه ، دواړوطرفونوته یې سلام وګرځاوه ، په دې حال کې مسبوق دخپل پاتې لمانځه لپاره ولاړشی وروسته امام ته وریه یاد شي اوسمدستي سجدې ته ولاړي ، نومسبوق به په دغه حالت کې بیرته راوګرځي اوسجده سهو به له امام سره وکړي ، په دې شرط چې سجده یې کړې نه وي. که یې سجده کړې وه ،بیابه نه راګرځي ، خپل لمونځ به پوره کوي اوکه را وګرځي نولمونځ یې فاسدیږي. اوکه چیري یې سجده هم کړې نه وي خو بیاهم له امام سره سجده سهو کولوته را ونه ګرځي، بیایې هم لمونځ صحت لري خوپه اخیره کې به سجده سهو کوي.

(فتاوی عالمګیری ص۶۶ ج۱)

مسئله : که چیري یو مسبوق له امام سره سجده سهو ونکړي او دخپل پاتې لمانځه لپاره ولاړشي خوپه دغه پاتې لمانځه کې بیاله ده څخه هم کومه غلطي وشي نوپه اخیرکې یوه سجده کول ورته کافي دي. د اولې اوددویمې دواړو غلطیو لپاره. البته که دغه مسبوق سلام ته له انتظارکولو پرته ولاړشي ،ګنهګار دی. (فتاوی عالمګیری ص۶۶ ج۱)

که په لمانځه کې له خطاکیدلو وروسته د امام اودس هم مات سی؟

مسئله : که چیري یو امام په لمانځه کې سهوشی ،له دې وروسته حدث (بی اودسی) هم ورته ورسیږی ،او امام یو مسبوق مقتدی خپل خلیفه یانائب وګرځوی نوترسلام ګرځولو پوری دی دغه مسبوق لمونځ پوره کړی خو سلام به نه ګرځوی ،څه وخت چې دسلام ګرځولو وخت شی نو هغه به یو بل تن چه مدرک وی (یعنی له امام سره یی پوره لمونځ نیولی وی). هغه به مخ ته کړی ،هغه مدرک چې راشی که سجده سهو کوی ،د هغی خطا چې له امام څخه صادرشوي وه ،نودغه مسبوق به هم سجده سهو ورسره وکړی .بیابه خپل پاتی لمانځه ته ولاړ شی. (عالمګیری ص۶۶)

په لمانځه کې د بی اودسی بیان

په لمانځه کې که چیري څوک بی اودسه شی په حدث اکبر سره نولمونځ یی فاسد دی. او که په حدث اصغر سره بی اودسه شی نوله دووحالو به خالي نه وی یابه اختیاری وی او یابه غیراختیاري. که اختیاری وی نولمونځ فاسد دی. مثلاً څوک په لمانځه کې قصداً په قهقه سره وخاندی ،یاپه بدن کې د یو ځای په وهلو سره یی له بدن څخه وینه ووزی ، یا یی هوا ووزی عمداً او داسی نور... په دی ټولو صورتونو کې یی لمونځ فاسدیږی. ځکه چې دا ټول افعال دا نسان په اختیار سره له سړی صادریږی. او که غیراختیاری وی نو بیا دوه صورتونه دی یو دا چې نادرالوقوع وی لکه په قهقه سره خندل ،لیونی کیدل ،بې هوښې راتلل وغیره او بل دا چې کثیرالوقوع وي لکه د هوا وتل ،بولی ، نجاست مذی او داسی بل شی... نه د

نادرالوقوع په صورت کې لمونځ فاسديږي او که کثير الوقوع وي نو بيا نه فاسديږي. بلکې هغه سړي ته اختيار لري چې له بې اودسۍ وروسته اودس وکړي څپل لمونځ پسې پوره کوي او که اودس کوي بيا له سره لمونځ کوي. خو که داسې وکړي نو أفضل او بهتره دا ده.

په دې صورت کې دلمانځه د نه فساد څوشرطونه دي :

(۱)- يو رکن به د حدث (بې اودسۍ) په حالت کې ادا کوي نه.

(۲)- کوم رکن به د تللو په وخت کې اداکوي نه. مثلاً کله چې اوداسه ته ځي يا له اوداسه راځي ، د قرآنکريم تلاوت به نه کوي ځکه چې قرائت دلمانځه رکن دی.

(۳)- کوم داسې عمل به نه کوي چې دلمانځه سره منافي وي. او نه به داسې يو فعل کوي چې ځان ساتل ورڅخه ممکن وي.

(۴)- د بې اودسۍ له پېښيدو وروسته به له څه عذره پرته ديوه رکن د ادا کولو په مقدار توقف نه کوي. بلکې فورا به د اوداسه لپاره ځي. مګر که عذر وي ، سمدستي نشي تلای ، مثلاً صفونه زيات وي او دی خپله په لومړي صف کې تر نوروصفونو راتيريدل ورته ګران وي ، بيا که څه وځنډيږي ، څه حرج نشته.

(۵)- مقتدي به په هرحال کې او امام به په هغه صورت کې که چيري جماعت باقي وي ، لمونځ پر هغه ځای اداکوي چې اول يې شروع کړی وي.

(۶)- امام که يو داسې څوک د ځان خليفه کرځوي چې په هغه کې د امامت صلاحيت او ورتيا نه وي.

منفرد که چیري بې اودسه شي نو هغه ته پکار ده چه فوراً سلام وګرځوي او اودس وکړي او څومره چې ژر ممکن وي له اوداسه نه دې ځان وزګار کړي مګر اودس به د خپلو ټولو شرائطو سره کوي. او به که نژدې پیدا کیږي لیرې به نه پسې ځي. له اوداسه وروسته یې خوښه ده لمونځ پر هغه ځای کوي او که هغه ځای ته ورځي چې ترمخه یې پیل کړی وو.

مسئله : مقتدي ته په هر حال کې پکار داده چې خپل ځای ته ورشي اولمونځ تمام کړي که جماعت پاتې وي کنه ؟ که چیري امام مسبوق مقتدي پر خپل ځای خلیفه کړي نو هغه ته پکار ده چې څومره رکعتونه د امام پرذمه پاتې دي هغه پوره کړي او بیا یو مدرک خپل ځای ته ولاړ شي او د پاتې رکعتونو په ادا ینه کې مصروف شي.

مسئله : که چیري چاته په اخیره قعده کې له دې وروسته چې د التحیات په قدر کښینستی وی، لیونتوب ورپیښ شي یا حدث اکبر ورپیښ شي او یا عمداً حدث اصغر ورورسیږي. یا بې هوښه سي اَویا په قهقه سره وخاندي نو لمونځ فاسدیږي د دغه لمانځه راګرځول لازمي دي. (علم الفقه ۱۱۱ تر ۱۱۳ ج ۲)

(ددې مسلې د تفصیل لپاره د مؤلف یوبل ترتیب شوی کتاب (مسائل امامت) وګورئ. محمد رفعت قاسمي غفرله)

که امام سورة الناس ولولی نو مسبوق به کوم یو وایې ؟

مسئله : که یو سړی د ماښام په لمانځه کې په دویم رکعت کې شامل شو او امام په همدې دویم رکعت کې د الناس سورة (قل اعوذ برب الناس) ووایی نو په دې صورت کې مسبوق ته پخپل پاتې لمانځه کې اختیار ده چې له ټول قرآن شریف څخه چې کوم سورة وایی اوله کومه

ځایه یې وایي. ځکه چې د قرائت په سلسله کې دغه پاتې لمونځ د ابتداء په حکم کې وي. (فتاوی دارالعلوم ص۳۷۷ ج۳ بحواله درمختار ص۵۵۷ ج۱)

مسئله : د أحنافو مسلک دا دی چې مسبوق چې کوم رکعات د امام له سلام ګرځولو. وروسته اداء کوي، که څه هم ظاهراً په اخیره کې اداء کیږي. او د تشهد په لحاظ هغه اخیر دی اوله امام سره چې یې کوم رکعتونه پیدا کړیدی هغوی د تشهد په اعتبار اول دي. او د قرائت په اعتبار اخیر دی. (نمازمسنون ص۸۳۱، کتاب الفقه ص۲۰۱ ج۱)

دجماعت په راګرځولو کې دنوی لمونځ کونکي شرکت

مسئله : که چیري دکوم فرض دپاته کیدو په وجه لمونځ بیرته راګرځول کیږي، نو دا صحیح ده چې نوی لمونځ کوونکی په هغه کې ګډون وکړي ځکه چې اول لمونځ راګرځول باطل کیږي او که چیری دواجب د پاته کیدو په وجه لمونځ بیرته راګرزول کیږي نو اوس د نوی لمونځ کوونکی لپاره شرکت صحیح نه دی. ځکه چې فرض لمونځ مخکې ادا شوی دی. او دا صرف د تکمیل لمونځ دی.

(فتاوی محمودیه ص۲۶۸ ج۱۰، طحطاوی ص۱۳۲ ج۱، فتاوی دارالعلوم ص۵۱ ج۲، بحواله ردالمختار ۴۲۶ ج۱)

مسئله : که چیري کوم شخص (یاامام) پرذمه باندی سجده سهو لازمه وی خو هیره یې شي اداء نکړی نو لمونځ یې ناقص دی. راګرځول یې ضروری دی. خو د راګرځولو په صورت کې هغه لمونځ نفل دی او فرض لا له مخکی ادا شوی. دغه دریم ځل لمونځ یې د تکمیل لپاره ده نو همدا وجه ده چې که چیري دوباره دغه لمونځ په جماعت سره کیږ او په عین حال کې بل څوک راشی د فرض په نیت

پسې اقتداء وکړي نو ده لمونځ نه اداکيږي بيابه يې راګرځوي. ځکه چې په متنفل پسې د مفترض اقتداء صحت نلري.
(مسايل سجده سهو ص۴۷بحواله شامي ص۴۲۲،فتاوی رحيميه ص۱۳۶ج۱،فتاوی محموديه ص۲۱۷ج۲)

مسئله : : که چيري له اول ناقص لمانځه وروسته سمد ستي لمونځ راګرځوي نو د اقامت اړتيابيا نشته لومړی اقامت يې کافي دی. او که څه ځنډ وروسته يې راګرځوی نوبيابه تکبير يعنی اقامت ورته کوی. (فتاوی رحيميه ص۲۱ج۲،شامي ص۳۲۲ج۱)

مسئله : که بيا هم په دواړوصورتونوکې دويم ځل اقامت وکړي ،څه حرج نشته. (فتاوی دارالعلوم ص۱۱۰ج۲،بحواله ردالمختارص۳۷۱ج۱)

د دعاء فضائل او آداب

د آنحضرت ﷺ په معتبرواحاديثوکې د دعاء ډېر داسې فضائل اوآداب د تعليم په توګه بيان کړل شوي دي ،چې که څوک هغه تعليمات خپل کړي نو بې له شکه چې دا ډول دعاء د کاميابۍ اوفلاح کيلي ګرځي. مګرکه چيري څوک يو وخت دغه ټول ياځيني آداب پوره نه کړای شي نو پکار دا نه ده چې هغه به نو دعاء پريږدي بلکې دعاء په هروخت اوهرحال کې مسلمان بايد پرينږدی او هميشه له الله ﷻ د هغه د قبوليت اميد ولري.

د دعاء دغه آداب په بيلابيلو احاديثوکې بيان شوي دي. د ټولو احاديثو رانقلول د دې کتاب حجم زياتوی نوځکه موږ دلته صرف د يوه حديث مضمون اوخلاصه او د هغه کتاب پرحواله اکتفا کوو چې دغه حديث له سنده سره پکښې موجود دی.

(۱ - ادب: په خوراک، څښاک، اغوستلو او کتلو کې به له حرامو څخه ځان ساتي. (رواه مسلم، والترمزی عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه)
(۲ - په اخلاص سره دعاء کول، یعنی په زړه کې داسې پوهیدل چې له الله ﷻ پرته بل هیڅوک زما مقصد پوره کولای نشي. (مستدرک حاکم)
(۳ - له دعاء څخه مخکې یو نیک کار کول، او د دعاء په وخت کې د هغه داسې یادونه کول چې یا الله ما دغه فلاني عمل خاص ستا د رضاء په خاطر ترسره کړ، یا الله ته د همدې عمل په برکت زما کارونه را روغ کړې. او زما دعاء قبوله کړې. (مسلم، ترمذی، ابوداؤد)
(۴ - په پاک بدن او پاکو جامو او پاک ځای باندې دعاء کول. (سنن اربعه، ابنی حبان، متدرک حاکم)
(۵ - په اوداسه سره دعاء کول. (صحاح ستة عن ابی موسی الأشعری)
(۶ - د دعاء پر مهال قبلې ته مخ کول. (صحاح ستة عن عبدالله بن زیدبن عاصم رح)
(۷ - پر دوو څنګنو کښیناستل. (ابوعوانه، سعدبن وقاص رضی الله تعالی عنه)
(۸ - د دعاء په اول او اخیر کې د الله تعالی حمد او ثناء ویل.
(صحاح ستة عن انس رضی الله تعالی عنه)
(۹ - همدا راز د دعاء په اول او اخیر کې پر نبی کریم ﷺ درود شریف ویل. (ابوداؤد، ترمزی، نسایی، ابن حبان، مستدرک)
(۱۰ - د دعاء په وخت کې دواړه لاسونه غوړول. (ترمذی، مستدرک، حاکم)
(۱۱ - دواړه لاسونه تر اوږو پورې برابر پورته کول. (ابوداؤد، ترمذی، نسائی)
(۱۲ - په ادب او تواضع سره کښیناستل. (مسلم، ابوداؤد، ترمذی، نسائی)
(۱۴ - د خپلې عاجزۍ او محتاجۍ یادونه کول. (ترمذی)
(۱۵ - د دعاء په وخت کې آسمان ته پورته نه کتل. (مسلم)

(۱۶ - د الله تعالی اسماء حسنی او د هغه د سترو صفاتو په ذکر کولو.
(ابن حبان ،مستدرک)

(۱۷ - د دعاء په الفاظو کې د قافیه بندی له تکیلف څخه ځان ساتل.
(بخاری)

(۱۸ - دعاء که د نظم په بڼه وی نو له ترنم ویلو څخه یی ځان ساتل.
(حصن حصین)

(۱۹- د دعاء په وخت کې په انبیاء کرام ﷺ او نورو صالحو بندګانو سره توسل کول ،یعنی داسی ویل چې: یا الله د دغو مقبولو بندګانو په طفیل سره زما دعاء قبوله وګرځوی. (بخاری بزار،حاکم)

(۲۰ - دعاء په ټیټ آواز سره کول. (صحاح سته عن ابی موسی رضی الله تعالی عنه)

(۲۱ - په هغو دعاګانو سره د هر دعاء کول چې له آنحضرت ﷺ څخه منقول دی. ځکه چې آنحضرت ﷺ په دین او دنیا کې هیڅ داسی یو حاجت پری ایښی نه دی چې د هغه لاربښونه یی کړی نه وی. (ابوداؤد ، نسائی عن ابی بکرة الثقفی)

(۲۲ - په داسی الفاظو دعاء کول چې دیری دینی او دنیاوی حاجاتو ته شامل وي. (ابوداؤد)

(۲۳- په دعاء کې په لومړی ځان،بیا مور او پلار او بیا نو عام مسلمانان یادوی. (مسلم)

(۲۴ - که امام وی نو تنها د ځان لپاره به دعاء نه کوی بلکی د جماعت ټول شریکان به ورسره یادوی. (ابوداؤد، ترمذی،ابن ماجه)

روایت: دابوداؤد روایت چې وایی ،کوم امام چې په دعاء کې یوازی خپل نفس یادوی نو هغه خپل قوم سره خیانت وکړ. مطلب دا چې په

لمانځه کې به امام داسې دعاء نه غواړي چې يوازې تر ده پورې خاص وي مثلاً داسې ووايي « اللهم اشف ابنی » يعنې، ای الله! زما زوی ته شفاء ورکړې. يا داسې ووايي: «ارجع الی ضالتی» يعنې زما ورک شوی شی راپيدا کړه. بلکې داسې دعاء به کوي چې تولو مقتديانو ته شامله شي. لکه «اللهم اغفرلی وارحمنی» او يا داسې نور. « هذاما افاده شيخنا حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله، ولشراح الحديث فيه مقالات ياباها نسق الحديث والله اعلم»

(۲۵ - په عزم سره به دعاء کوي. (يعنې داسې به نه وايي چې الله! که ته غواړې زما کار پوره کړې. (صحاح ستة ص۲۲۸)

(۲۶ - په ډېر رغبت، مينه او شوق سره به دعاء کوي.
(ابن حبان ابوعوانه عن ابی هريره رض)

(۲۷ - څومره چې ممکنه وي د حضور د برابرولو کوښښ به کوي او د دعاء د قبوليت به ډېر اميدوار وي. (مستدرک)

(۲۸ - په دعاء کې به تکرار زيات کوي يعنې په څو څو واره به د خپل حاجت غوښتنه کوي چې لږترلږه درې ځله به هرومرو وي.
(ابوداؤد - زبن السنی)

فائده :- په يوه مجلس کې درې ځله دعاء مکرر کول او يا په دريو مجلسو کې دعاء تکرارول، دواړه دول دعاء صادق دي. مګر دا تکرار د انفراد په حالت کې خاص دی. او په جماعت سره دوعاء کول، بيا دويمه او دريمه دعاء کول لکه په ځينو خلکو کې چې دا ډول رواج دی. دا هيڅ ډول ثبوت نه له صحابه، نه له تابيعينو او نه له سلفو څخه لري. په دې توګه د دعاء التزام بدعت دی.

(۲۹ - په دعاء کې به الحاح او اصرار د ير کوی. (نسایی،حاکم،ابوعوانه)
(۳۰ - د کومی گناه یا صله رحمي د پریکولو دعاء به نه کوی. 25
(مسلم،ترمذی)
(۳۱ - د داسی شی دعاء به نه کوی چې هغه ناشونی وی. (مثلاً ښځه به داسی نه وایی چې زه دې نرشم اویا د لوړقدوالا سړی به نه وایی چې زه دې ټیټ شم او یا بلعکس او داسی نور- (نسایی)
(۳۲ - د کوم محال (ناشوني) شی دعاء به نه کوی. (بخاری)
(۳۳ - د دې دعاء به نه کوی چې الله تعالی رحمت تر خپل ځان پوری مخصوص کاندی. (بخاری،ابوداؤد،نسایی،ابن ماجه)

د دعاء د اجابت (قبلیدلو) وختونه

(یعنی ددعاء دقبلیدلو خاص وختونه)

لکه څرنګه چې مخکې هم وویل شول چې دعاء هروخت الله تعالی قبلوی او مسلمان باید همیشه ددعاء دقبولیت توقع ولری نا امیدی ونکړی. چې دا یوه لویه ګناه ده. مګردلته چې د کومو وختونو یادونه کیږی ،دا هغه وختونه دي چې په دې کې دعاء کول ښه فضیلت لری او دقبلیدلو یې ډیر زیات امید وی. نوپکار ده چې دا وختونه راځخه ضائع نه شی:

(۱ - شبقدر(دقدرشپه) د روژې مبارکې لس ورځو کې هغه طاق ورځي لکه ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷،او۲۹ ورځي شپې ،اوپه دوی کې بیاخاص د۲۷م شپه ډیر د اهتمام وړ شپه ده باید سړی ډیر محتاط واوسی یعنی ډیري دعاء ګاني وکړی .(ترمذی،نسائی،ابن ماجه ،مستدرک)

(۲ - د عرفات ورځ: چې دا هم د دعاء دقبولیت لپاره نهایت مبارکه او مخصوصه ورځ ده. (ترمذی)

(۳ - د جمعې شپه او ورځ: دا هم مبارک او د دعاء لپاره مخصوصه اهمیت لرونکې شپه او ورځ ده. (ترمذی،حاکم)

(۴ - د روژې مبارکې میاشت: د روژې مبارکې ټولې ورځې او شپې د خیر او برکت ځخه ډکې دی، په دې ټولو کې دعاء قبلیږي.

(بزارعن عباده بن الصامت رضی الله تعالی عنه)

(۵ - په هره شپه کې د شپې لومړی دریمه برخه (احمد ابو یعلی) وروستی دریمه برخه (مسند احمد) نیمه شپه (طبراني) د شپیلۍ وخت. (صحاح سته)

(۶ - د جمعه په ورځ یوه ګړۍ په صحیح احادیثو کې راځی چې د جمعې په ورځ داسې یوه ګړۍ شته چې په هغه کې که دعاء وغوښتله شی، قبلیږي مګر د دغی ګړۍ په تعین کې اقوال او روایات مختلف دی. د محققینو په نزد فیصله دا ده چې دغه ګړۍ د جمعې په ورځ ګرځي او راګرځي، کله یو وخت او کله بیا په بله شیبه کې راشي. خود نورو صحابه وو او تابیعینو له اقوالو څخه د دوو وختونو ترجیح ثابتیږي:

(۱ - یو هغه وخت چه امام خطبې ته کښیني او بیا له لمانځه څخه د فارغ کیدو تر وخته پوري. (مسلم عن ابی موسی الأشعری رح والنووی)

یادونه: مګر د خطبې په منځ کې که دعاء کوی نو په ژبه به یی نه وایی چه دا منع ده. بلکې په زړه کې به یی دعاء کوی. یا هغه دعاګانې چه خطیب یی کوی پر هغوی باندی په زړه کې آمین آمین وایی

اودویم دمازیگر وخت دی ، ترلمر لویدو پوری.

(ترمذی،احمدعن عبدالله بن سلام رح ورجحه الترمذی وغیره)

فائده : نو هرصاحب حاجت ته پکار ده چې دواړه وخته په دعاء کې مشغول و اوسی خکه چې د دومره لوی نعمت د ترلاسه کولو لپاره دومره لږ وخت ځان مصروف ساتل څه مشکل نه دی .(والله سبحانه وتعالی اعلم)

د دعاء د مقبولیت ځینی خاص حالات

(۱ - د آذان پرمهال . (ابو داؤد،مستدرک)

(۲ - د آذان او اقامت ترمنځ مهال. (ابوداؤد،ترمزی،نسائی،ابن ماجه)

(۳ - د حی علی الصلوة ،حی علی الفلاح نه وروسته د هغه چا لپاره دعاء کول چې په څه مصیبت کې گرفتار وی، ډیره مجرب او مفیده ده . (مستدرک)

(۴ - د جهاد په میدان کې د صف برابرولو پرمهال. (ابن حبان،طبرانی،موطا)

(۵ - د جهاد په ډگر کې د سختې جگړې په حالت کې . (ابوداؤد)

(۶ - له فرض لمانځه وروسته. (ترمذی،نسائی)

(۷ - د سجدې په حالت کې. (مسلم،ابوداؤد،نسائی،مگر په فرض لمانځه کې نه)

(۸ - د قرآنکریم د تلاوت وروسته . (ترمذی،اوخصوصاً د قرآن دختم نه وروسته، طبرانی،ابویعلی) او په خاصه توگه د تلاوت کوونکي دعاء د اوریدونکي په نسبت زیاته مقبوله وی. (ترمذی،طبرانی)

(۹ - د زمزم د اوبو څښلو پرمهال. (مستدرک،حاکم)

(۱۰ - مړي ته د حاضریدلو په وخت کې. یعنی څوک چې چا ته په داسی حالت کې ورشی چې هغه د ځکندن په حال کې وی. نو که دغه سړی دا مهال دعاء وکړی هم یې الله تعالی نه زدوي. (مسلم وسنن اربعه)

(۱۱ - دچرګ دبانګ کولو پرمهال. (بخاری،مسلم،ترمذی،نسائی)
(۱۲ - د مسلمانانو د اجتماع پرمهال. (صحاح سته عن عطیة الانصاریة)
(۱۳ - د ذکر په مجلس کې. (بخاری،مسلم،ترمذی)
(۱۴ -چې امام «ولاالضالین» وایی پر دا مهال.(مسلم،ابوداؤد،نسائی،ابن ماجه)
یادونه :- ظاهراً له دې نه د امام جزری هغه حدیث دی چې ابوداؤد په باب التشهد کې ذکر کړیدی«واذا قرأغیرالمغضوب علیهم ولاالضالین،فقولوا آمین. یحییکم الله تعالی» یعنی کله چې امام ولاالضالین ووایی نو تاسی آمین وایاست ،الله تعالی به ستاسی دعاګانې قبولې کړی. له دې نه معلومه شوه چې په دې ځای کې له دعاء څخه صرف آمین ویل مراد دی.
نورې دعاء ګانې مراد نه دی.(آمین هم په زړه کې سوکه ویل بهتردی
(۱۵ - د اقامت پروخت. (طبرانی،ابن مردویه)
(۱۶ - د باران اوریدو پرمهال. (ابوداؤد،ابن مردویه عن سهل بن سعدالساعدی) امام شافعی رحمه الله په کتاب الام کې فرمایی چې ما له ډیری صحابه او تابیعینو څخه داعمل اوریدلی دی چې دباران اورویدو پر وخت به یی په خصوصیت سره دعاء غوښتله.
(۱۷ - پربیت الله شریف باندی د نظرلګیدلو پر وخت. (ترمذی وطبرانی)
د سورة الانعام په دې آیة کریمه کې:
« واذاجاء تهم آیة قالوالن نؤمن حتی نؤتی مثل ماأوتی رسل الله الله أعلم حیث یجعل رسالته »
کړ چیرې دلته د دوو «الله» دنومونو تر منځ دعاء وشی ،هغه هم مقبوله وی. امام جزری رحمه الله فرمایی: چې ماد دې څو څو خله

تجربه کړیده اوله ډیرو نورو علماؤ څخه دا منقوله ده چې دا یو مجرب عمل دی.

د دعاء د قبلیدلو خاص ځایونه

په تولو متبرک مقاماتو کې د دعاء د مقبولیت زیات امید شته. حضرت حسن بصری رحمه الله د مکې او سیدونکو خلکو ته په یولیک کې لیکلی چې: په مکه مکرمه کې (۱۵) ځایونه د دعاء د مقبولیت لپاره مجرب دی: په «طواف» کې او له «ملتزم» سره (یعنی د بیت الله او حجر اسود ترمنځ چې کوم ځای دی) او په «میزاب رحمت» کې (یعنی د بیت الله شریف د پرناله لاندی) او په (بیت الله شریف کې دننه) او د «زمزم له څاه» سره او د صفا او مروه» د څوکو پرسر. او د «سعی» په میدان کې چې د صفا او مروه ترمنځ دی. او په «مقام ابراهیم» کې (یعنی د ابراهیم مقام ترشا او په «عرفات» کې او په «مزدلفه» کې په «منی» کې. او د دری واړه جمرو سره. (جمرات) هغه دری ډبری دی چې په منی کې نصب کړل شویدی، او حجاج کرام یې په شګو ولی. امام جزری رحمه الله فرمایی چې که د آنحضرت ﷺ په حضور کې (یعنی د هغه مبارک د مقدسې روضې سره دعاء نه قبلیږی نو بل به چیرې قبلیږی.

هغه خلک چې دعاء ئې زیاته مقبوله وی

«مضطر» یعنی د یو مصیبت ځپلې شخص دعاء ډېر ژر قبلیږی. (بخاری، مسلم، ابوداؤد)

«مظلوم» که څه هم فاسق او فاجر وی، دعاء یې نه ردیږی. (مسند احمد، بزار ابن ابی شیبه) بلکې مظلوم که کافر هم وی، دعاء یې نه ردیږی. (مسند احمد ابن حبان)

د پلار دعاء: یعنی د اولاد په حق کې د مور او پلار دعاء (ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه)

دعادل باچادعاء ، هم مقبوله وی. (ترمذی،ابن ماجه،ابن حبان) د نیک سړی دعاء هم مقبوله وی. (بخاری،مسلم،ابن ماجه) د هغه اولاد دعاء هم نه ردیږی چې د مور او پلار فرمانبردار وی.
د مسلمان مسافر دعاء هم به مقبوله وی .(ابوداؤد،ابن ماج،بزار) د روژتی سړی دعاء هم مقبوله وی چې د افطار (روژه ماتی) پرمهال دعاء وکړی (ترمذی،ابن ماجه،ابن حبان).
غایبانه دعاء: یعنی چې یو مسلمان د بل مسلمان لپاره په غائبانه توګه دعاء وکړی، الله تعالی یی قبلوی . (مسلم،ابوداؤد،ابن ابی شیبه).
د حاجیانو دعاء: د حج پرمهال چې تر خوخپل وطن ته بیرته راځی دعاګانی کوی ،قبلیږی. (جامع ابی منصور)
په یوه صحیح حدیث کې راځی چه نبی کریم ﷺ به د پریشانی او مشکلاتو پرمهال دعاء قنوت کاوه او دعاء به یی کوله. یعنی د سهار لمانځه په دویم رکعت کې تر رکوع وروسته امام په لوړ آواز سره دا دعاء لوستله او لمونځ کوونکو به آمین وایه. د دې دعاء لپاره نه تکبیر ویل کیږی او نه لاس پورته کیږی. له دعاء وروسته به تکبیر ووایی امام او مقتدیان به سجدې ته ولاړشی.
نوموړې دعاء په حصن حصین شریف او د احادیثو په نورو کتابونو کې هم موجوده ده. همدارنګه له اهل علم خلکو څخه یی هم معلومولاشی. بنده محمدشفیع عفی الله عنه فی یوم عاشوره سنة ۱۳۸۱هـ)

د اسقاط د حیلی شرعی حیثیت

دا چې فوت شوی (قضاء شوی)لمونځونه ،روژې، حج، زکوة او داسی نورو واجباتو او فرائضو ادا ینه یا کفاره څنګه کیږی چې

دهغې په وجه سړي له ګناه څخه خلاص شي، ددې ټول تفصيلي بحثونه دفقهي په کتابونوکې موجود دي. چې دهغوی لنډيز، اوخلاصه په مختصرډول دلته ذکرکيږي ترڅوعامه خلک ورڅخه ضروري استفاده وکړي.

په اوسني وخت کې ډيری داسي ښاري اوصحرايي خلک شته چې «دور» يا«اسقاط»ګرځول يې يو رسم ګرځيدلی دی، اوځينی ناخبره خلک بيا دا ګمان کوي چې په ديې سره سړی د ټول عمر له قضائي لمونځونو، روژو، حجونواوزکاتونوله مسؤلية خلاصيدای شي.او دا رسم داسي ضروري ګڼي لکه تجهيز اوتکفين يو دبرخاص فرض رکن چې وي. څوک چې يې نه کوي، هغه دبړند ګڼي او تورونه ورباندی لګوي.

بی له شکه چې دفقهاؤو په کلام کې د دوراواسقاط صورتونه ذکرشويدی. مګرهغه چې له څه شرايطوسره ذکرشويدی په هغوی باندی عوام نه پوهيږي اونه د هغوشرائطوڅه خيال ساتی. بلکې د فوت شده فرائضو او واجباتو په اړه ټول احکام نورله پامه غورځوی اويوازی دغه رسم د ټولوڅخه د خلاصون يوه ښه کاميابه نسخه ګڼي .په داسي حال کې که چيري دغه رسم ورواج بلکل کافی وګڼل شي او په يوڅو پيسو باندی دغه کارحاصيليدای شي، نوبياڅه اړتياده چې سړی په ژوندکې ددې عباداتو دا محنت او زحمت پرځان تيروی .په هرصورت نود دې مسئلې په اړه څه زمانه وړاندی ديوه سترعالم حضرت مولانامفتی محمدحسن صاحب چې دجامعه اشرفيه لاهور مهتمم اوبانی دی؛ د نومړي څخه دا پوښتنه وشوه چې هغه يې

دجواب دلیکلو دنده ماته وسپارله چې ما هم په ښه تفصیل او استدلال سره جواب ورته ولیکه ،او ډیره می دا مناسبه وګڼله چې دعوامو د اصلاح لپاره دیوې ورې رسالې په بڼه چاپ شی ،نوچونکه دلته یې هم له موضوع سره اړخ لګاوه او د خلکو د پوهاوی لپاره هم مناسب دی ؛ دا دی دلته یې لیکو:

الاستفتاء

د دې مسئلې په باره کې علماء کرام څه فرمایی چې زموږ په سیمه کې حیله رواج شوې ده ،هغه په داسی شکل چې له جنازې وروسته څه خلک دائره جوړه کړی ،د مړی وارث یو قرآن شریف او څه پیسی په دستماله کې غوټه کړی پرد دې خلکوئی ګرځوی. د کلی د مسجد امام چې دلته په خلکو کې ناست وی دا غوټه ور واخلی او دا الفاظ ووایی:

کل حق من حقوق الله تعالى من الفرائض والواجبات والكفارات والمنذورات بعضها اديت وبعضها لم تؤد الان عاجز عن ادائها واعطيتك هذه المنحة الشريفة على هذه النقودات فى حيلة الاسقاط رجاءً من الله تعالى ان يغفر له.

او د یو وبل په ملک کې یې ورکوی بیرته یې څنی اخلی څو درې څله پردی دائره باندې راوګرزی بیایې نیمې کړی نیمه برخه د کلی امام ته ورکړی اونیمه یې پرغریبانو تقسیم کړی. د یو مسجد امام چې زید دی ؛ هغه دا مروجه حیله پرېښوده او وایی چې د کتاب او شریعت له مخی د دې هیڅ ثبوت نشته لهذا دا بدعت دی.

د زید پردې کار باندې خلک زید ملامته وي له دې سره سره چې زید حنفي مذهبه دی خو خلک یې وهابي بولي او د دې حیلې پر جواز باندې د پلرونو او نیکه ګانو په عمل استدلال کوي نو آیا زید پر حق دی که پر باطل؟

د دې مروجه حیلې حکم څه دی زید د همدې رواج او التزام د ختمولو شرعاً حقدار او مصیب دی او که نه؟ دارنګه ځینې صورتونه داسې وي چې له مشترکې ترکې څخه روپۍ راوړلې کیږي په داسې حال کې چې ځیني وارثان موجود هم نه وي، او کله کله خو یتیمان هم په دې منځ کې وي، نو آیا دغه مال په دې شکل د حیلې لپاره راوړل کیدای شي که نه؟ او دغه ناست خلک یې اخیستلای شي که نه؟ «بینوا بالدلائل الشرعیة»؟

الجواب:- د دور یا اسقاط حیله ځینې فقهاء کرامو د داسې یو شخص لپاره جائزه بللې ده چې له هغه څخه څو لمونځونه، روژې او یا داسې نور عبادات اتفاقاً پاتې شوي وي خود قضاء راوړلو موقع یې نه وي موندلې او بیا یې د مرګ پر مهال وصیت کړی وي. ولې د ده ترکه مال دومره نه وي چې د ټولو فوت شویو لمونځو او روژو فدیه ورکړ څولای شي. داسې نه چې د هغه په ترکه کې مال موجود وي هغه مال وارثین را واخلي، سره تقسیم یې کړي. ویې خوري او څه لږ پیسې را واخلي دا حیله ور باندې جوړه کړي، خدای او خلکو ته فریب په ورکړي. په درمختار، شامي او د فقې په نورو کتابونو کې دا په صراحت سره ذکر شوي او ورسره یې د حیلې شرائط هم واضح کړي چې کومې پیسې چې چا ته د صدقې په توګه

ورکولی کیږي ؛ هغه به د دې روپو حقیقي مالک ګرځول کیږي یعنی هغه چې څه غواړي هغه په کولای شي ،داسې نه چې په یوه لاس کې ورکولی شي او په بل لاس کې یې فوراً څنې کش کړي اویوه لوبه یې څنې جوړه کړې وي. لکه دا نن سباچې یو عمومي رواج ګرځیدلی دی .دا یو لغوا او عبث حرکت دی ،په دې سره نه مړي ته کوم ثواب رسیږي اونه د هغه ذمه له فرائضو او واجباتو څخه خلاصه شوه ،نه یې کفاره ادا شوه. یوازې د دغه عمل سرته رسونکي ورباندې ګنهګار شوو.

د ابن عابدین په رسائل کې پردې مسئله: باندې یوه مستقله رساله لیکل شوې چې د «منة الجلیل» په نوم یادیږي ،په هغې کې راغلي چې :

«ویجب الاحتراز من ان یدیرها اجنبی الا بوکالة کماذکرنا وان یکون الوصی اوالوارث کما علمت ،ویجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصی عندد فع الصرة للفقیر الهزل اوالحیلة بل یحب ان یدفعها عازماً علی تملیکلهامنه حقیقة لا تحیلا ملاحظاً ان الفقیر انا ابی عن هبتها الی الوصی ١
کان له ذلک ولایجبر علی الهبة »

(ترمنة الجلیل فی اسقاط ماعلی الذمة من کثیروقلیل خاتمه رسائل ابن عابدین شامی ص۱۲۵ج۱)

خلاصه داچې د دې حیلې ابتدایي بنیاد ممکن دی چې د شریعت د صحیح قواعدو سره سم وي مګر دا نن سباچې څنګه رواج او التزام دی .دا بې له شکه چې ناجائز او نادرست عمل دی.

حتی چې د ډیرې مفاسدو باعث ګرځي چې څو یې په لاندې ډول ذکر کیږي

(۱)- ډیرځله دا تولې پیسې وي چې دغه پیسې ګرځولې کیږي دا د میت له متروکه مال څخه وي ، او وارثین اکثراً یاموجود نه وي

اوياخيني نابالغ ماشومان وي نو دا مشترکه سرمايه له اجازې پرته استعمالول حرام دي. په حديث کې راځي « لايحل مال امرء مسلم الابطيب نفسه منه » همدارنګه نابالغ خو که اجازه هم وکړي، د اعتبار وړ نه ده. شرعاً جواز نلري او ولي ته يې هم په دا ډول تبرعاتو کې د ماشوم له لورې د اجازې ورکولو اختيار نشته، بلکې په داسې ځايونو کې د هغه مال خرڅ کول حرام دي. د قرآنکريم صريح نص موجود دی:
«إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا»
ترجمه: کوم خلک چې د يتيمانو مال په ظلم سره خرڅ کوي، هغوی په خپلو نسونو(ګيډو) کې اور اچوي.
نوله دې نه ثابته شوه چې د داسې مال ورکول او اخيستل دواړه حرام دي.
(۲) که بالفرض دا شروط هم پرځای شوو مثلاً مال مشترک نه وی ياټول وارثين بالغان وي اوله ټولوځخه اجازه هم ترلاسه شوې وي نوپه دی صورت کې بيا دا معلومول آسانه نه دی چې آيا دغو ټولو په ښه خاطر اوخوښه سره ددې اجازه کړې، اوکه يی د سبا د پيغور څخه دځان ساتلو پخاطر دا کارکړی. که داسې وي نو د مذکور حديث د تصريح په آساس دا ډول اجازه کالعدام داسې ده، هيڅ اعتبار نلري.
(۳)- اوکه فرضاً دا خبره هم نه وي دا ټول مشکلات حل وي. نو بيا هم له مفاسدو څخه خالي کيدای نشي، مثلاً:
د حيلې فقهي صورت داسې دی چې چا ته اول ځل دغه قرآن اونقدی پيسې ورکولی شي، نودهغه ملک به يی ګرځوی يعنی په ښه وضاحت سره به ورته وايي چې اوس ته مالک مختارشوی، څه

چې دی زړه غواړي ورباندې کولای شي. بیایي هغه پخپله خوښه بې له کومه لحاظ د مړي له طرفه کوم بل شخص ته په همغه دول ورکړي او هغه يې مالک وګرځوي. او بیايي هغه همداسي دریم تن او هغه يې بیاځلورم ته په دې شکل پسې ورکړي، یعنې چې هریو یې داسې مالک وګرځي چې هغه که هر څه وغواړي ورباندې کولای شي، که وغواړي له ځان سره يې یوسي هم کولای شي مګر دا اوسنۍ مروج رسم داسې نه دی. اول خو کوم چاته چې ورکول کیږي نه هغه دا فکر کوي چې دا زما شوي او نه يې دا ورکونکي په دې خاطر ورکوي چې بس دا د همدې سړي چې دا پیسې يې ورته ورکړي، هغه له دې ځای ولاړ شي پرخپله مخه ځي، نو دا نور خلک به اجازه ورکړي، نه هیڅکله نه. نو په دې صورت کې تملیک صحیح نشو چې تملیک صحیح نه شو نو ګواکې فدیه ادا نشوه.

نو نتیجه دا شوه چې دا عمل بې کاراو بې فائدې عمل دی.

(۴)- په دغه مذکور صورة کې دا هم ضروري ده چې کوم سړی مالک ګرځول کیږي هغه به مصرف صدقه وي، صاحب د نصاب به نه وي. مګر دلته د دې هیڅ خیال نه ساتل کیږي. عموماً د مساجد و امامان چې صاحب نصاب هم وي، د هغوی په وسیله دا کار کیږي. په همدې وجه هم دا کاروبار غلط دی، مړي ته يې هیڅ ګټه نه رسیږي.

(۵)- او که بالفرض د مصرف صدقه په برخه کې هم صحیح انتخاب شوی وي، او هغوی ته مسئله: پوره معلومه وي. چې هغه د دې پیسو له ترلاسه کولو وروسته د هغه مالک مختار وبولي. او په دې

توګه یې دویم ،دریم ،څلورم ان تر اخیری شخص پوری ورسیږی نو اخیری سړی خوبی هرومرو مالک وی.
له هغه څخه بیرته اخیستل ،نیمایی امام ته ورکول او نیمایی نوره پرغریبانو ویشل ،دا د بل چا په ملک کې د هغه له اجازې پرته تصرف کول دی. چې دا یو ظلم او حرام عمل دی. د پورتنی حدیث د تصریح په استناد.
(۲)- او که فرضاً دغه اخیری شخص بیا له زړه څخه پخپله خوښه دغه پیسی بیرته دوی ته وسپاری او هغه یې تقسیم کړی د ده په خوښه. نو بیاهم دا دول حیله د هرمړي لپاره په هر وخت کې ضرورت ګرځول او دتجهیز او تکفین په درجه کې له واجباتو څخه شمیرل یعني دواجب په درجه کې هغوی ته اعتقاد لرل ،دا احداث فی الدین بلل کیږی. چې د شریعت په اصطلاح دې ته بدعت ویل کیږی. او هغه له خپل خان څخه په شریعت کې ترمیم او زیاتونه ده. نعوذبالله)
همدارنګه یو بل نقصان چې له دغی حیلې سره تړلی دی ، هغه دا چې په عوامو خلکو کې څینی جاهلان او ناخبره خلک د دې جرات کوی چې ټول عمر به نه لمونځ کوی ،نه به روژه نیسی ،نه به حج کوی ،نه به زکوة ورکوی او دا ګمان به کوی چې له مرګه وروسته به د څو پیسو په خرڅولو سره دا هرڅه بیرته ترلاسه کړی او له ګناه به بی خلاص وی.
چې دا نو په اصل کې د ټول دین د بنیاد د ړنګولو مترادف دی. الله تعالی دې مونږ ټولو مسلمانانو ته د دین او شریعت صحیح لاره راوښیی او د رسول کریم ﷺ د سنت طریقې اتباع دې رانصیب کړی.
محمدشفیع عفاالله عنه ۷ ربیع الاول سنة ۷۰هـ

د لمانځه، روژې، او نورو .. د فديې مسائل

مسئله : کوم سړي چې د لمانځه ، روژې ، حج يازکوة څه وصيت کړی وی نودا وصيت د هغه له ترکې څخه صرف يوه دريمه برخه جاری کول پر وارثانو لازم دی. که له دی څخه زيات وصيت وی يعنی که د يوی دريمې برخی څخه يی د زيات وصيت کړی وی نوبيا د ټولو وارثانو پر رضامندی او خوښی باندی موقوف دی. که چيرې هغوی ټول يا څېنی يی اجازه ونکړی نوله مشترکه ترکې څخه د هغه وصيت پوره کيدای نشی. اوکه چيرې په دې وارثانوکې کوم نا بالغ وی ، د هغه اجازه هم معتبرنه ده. د هغه پرحصه باندی د ميت هغه وصيت چه تر يوی د ريمې برخی يې زيات کړی وی ، اثرنشی غورځولای. (هدايه ،عالمگيری،شامی اوداسی نور......)

مسئله : که چا وصيت کړی وی او مال هم دومره ورڅخه پاتی شوی وی چې د هغه په دريمه برخه کې ټول وصيتونه پوره کيدای شی نو د وصی او وارثانو پرذمه واجب داده چې دغه وصيت به پوره کوی اوپه دی کې به کوتاهی نه کوی. يعنی که راولاړ شی چې د ميت مال هم موجود وی ، دوی د هغه د روژواو لمونځو لپاره د حيلې ميلې لاره جوړه کړی او مال يی پخپلو منځوکې سره وويشی نوګناه به يی د دوی پرذمه وی.

مسئله : د وصيت کولو په صورت کې به د واجباتو اوفرائضو د ادا ينی صورت داوی:

(۱)- د هری ورځی لمونځونه به د وترو سره شپږ حسابيږی اود هرلمانځه فديه به پاوکم دوه سيره غنم اويا د هغوی قيمت وی يعنی

دیوي ورځې د لمونځونو فدیه به لس نیم سیره غنم او یا د هغوی قیمت وي.
(۲)- د روژې فدیه هم پاوکم دوه سیره غنم یاد هغوی قیمت دی. د رمضان المبارک د روژو برسیره، که بله یعنی د نذر روژه وي د هغه هم فدیه شته.
(۳)- زکوة چې د څومرو کالو وي او د څومره مقدار مال وي، هغه به حساب کړی له هغه قراره به یې اداء کړي.
(۴)- که فرضی حج یې اداء نشو کړای نو د میت له مکان څخه دې د حج بدل لپاره څوک ولیږل شي چې ټول مصارف او خرچې به یې ضرور اداء کوي.
(۵)- که د چا قرض ورباندې وي نو د هغه دحق سره سم به یې ورته اداء کوي.
(۶)- څومره صدقة الفطر چې شوي وي، د هریوه په بدل کې به پاوکم دوه سیره غنم یا د هغه قیمت ورکوي.
(۷)- که قرباني ځیني پاتي شوي وي، نو د هغه کال په قیمت دې د یوې اوزې یا د غوایي د یوې حصې د قیمت اندازه ولګوي، صدقه دې کړي. (منة الجلیل)
(۸)- که سجده تلاوت ورځخه پاتي شوي وي، نو احتیاط په دې کې دی چې د هرې سجدې په بدل کې به پاوکم دوه سیره غنم یاد هغه قیمت اداء کوي.

(۹)- که د فوت شده لمونځونو یاروژو حساب معلوم نه وی نودې تخمینی حساب وکړی دا ټول احکام په هغه صورت کې دی چه په هغه کې میت وصیت کړی وی.

او د وصیت په اندازه یې مال پری ایښي هم وی. او که وصیت یې نه وی کړی اویایې د وصیت د ادایني مطابق مال نه وی پری ایښي، نوپر وارثانو باندی د هغه د فرائضو او واجباتو فدیه اداء کول لازم نه دی. مګر که پخپله خوښه د همدردۍ په وجه څه ورکړی په دې لاره کې، نود ثواب موجب هرو مرو ګرځي.


بنده محمدشفیع عفی الله عنه

. محرم الحرام ـــ کراچی


تمت بالخیر بفضل الله تعالی

۲۰ـ۲ـ۲۰۰۶

ستاسو د دعا محتاج د نور القرآن اداری خادم «ابوخالد»







مکتبه رحمانیه

[illegible] کندهار افغانستان